# شیخ زاید
# علمي - څېړنیز ژورنال

علمي، څېړنیزه، درې میاشتنۍ خپرونه

۱۴۰۳المریز کال، درېیمه ربعه، لیندۍ، پرله پسې۳۶مه گڼه

## ټولنیز علوم



**په دې گڼه کې لولئ:**

- په عامه اړیکو کې د مستند فلم **Documentary** استعمال
- ترکیب‌های هنری در اشعار پرتونادری
- د خوست ولایت په اورښتونو باندې د اقلیمي بدلون اغېزې
- د خوست په مرکزي لومړنیو ښوونځیو کې د تاوتریخوالي ډولونه او د هغوی د لاملونه مطالعه
- د ازمویني په اعتبار او ثبات باندې اغېزمن لاملونه

او داسې نور ...

شیخ زاید علمي - څېړنیز ژورنال ټولنیز علوم

۳۶

# Shaikh Zayed

Quarterly Academic & Research Journal 2024

*No: 36*

## In this Issue:

- Usage of Documentary in Public Relations
- Artistic Compositions in the Poems of Parto Nadri
- The impact of climate change on precipitation in Khost Province
- Study of types of violence and their causes in Khost central primary schools
- The factors influencing the validity and reliability of the exam

& ETC...



بسم الله الرحمن الرحيم

# شيخ زايد پوهنتون

# شيخ زايد علمي - څېړنيز ژورنال

---

د شيخ زايد پوهنتون علمي څېړنيزه درې‌میاشتينۍ خپرونه

**( ټولنيز علوم )**

د ۱۴۰۳ل (۱۴۴۶ ق) کال درېيمه ګڼه، لیندۍ ـــ پرله‌پسې ۳۶مه ګڼه

۳۶

# شيخ زايد پوهنتون

# علمي څېړنو معاونيت

# علمي مجلې آمريت

# علمي مجلې عمومي مديريت


**د امتياز خاوند: شيخ زايد پوهنتون**

**مسؤول مدير: پوهندوی دکتور سبحان الله شهاب**

**علمي مجلې عمومي مدير: نورمحمد انقلابي**

**علمي مجلې نشراتو مدير: رحيم الله راحل**

**متونو سمونې مدير: نعمت الله ذهين**

**برېښناليک: journals@szu.edu.af**



| کتنپلاوی | |
|---|---|
| پوهنوال  محمد شفيق مندوزی | حقوقو او سياسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال  عبدالخليل اقغاني | کرنې پوهنځی |
| پوهنوال زرولي صديقي | ټولنيزو علومو پوهنځی |
| پوهنوال محمد الله مندوزی | حقوقو او سياسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال صالح خان صالح | کمپيو ټر ساينس پوهنځی |
| پوهنوال عبدالتواب عزيزي | ښوونې او روزنې پوهنځی |
| پوهنوال امان الله ځدراڼ | حقوقو او سياسي علومو  پوهنځی |
| پوهنوال شفيع گل شفيقي | کرنې پوهنځی |
| پوهندوی دوکتور سبحان الله شهاب | ژبو او ادبياتو پوهنځی |
| پوهندوی سيد کمال شاه بنوري | شرعياتو پوهنځی |
| پوهندوی غازي جان محمدي | ښوونې او روزنې پوهنځی |
| پوهندوی نقيب الله عطيش | ژورنالېزم او عامه اړيکو  پوهنځی |
| پوهنمل گوهرشاه گوهري | کمپيوټر ساينس پوهنځی |



**پته: شيخ زايد پوهنتون، علمي څېړنو معاونيت، د علمي مجلې آمريت خوست- افغانستان**

**۰۰۹۳۷۷۷۷۹۱٦۵۳ / ۰۰۹۳۷۷۴۳۰۲۴۷۷**

## د علمي ـ څېړنيزې مقاله ليکلو لارښود

درانه څېړونکي دې د علمي مقالې د ليکلو پر وخت لاندې ټکي په پام کې ونيسي:

- ✓ مقاله بايد مخکې نشر شوې نه وي او نه هممهاله بلې مجلې ته لېږل شوې وي.
- ✓ د کتابتوني مقالې اړين توکي په ترتيب سره دا دي: عنوان، د ليکوال نوم او پته، لنډيز، کليدي کلمې، سريزه، موخې، کړنلاره او کارتوکي، اصلي متن، پايله، وړانديزونه، اخځليکونه او د طبعي علومو په علمي مقالو کې مناقشه هم اړينه ده.
- ✓ عنوان بايد مانا لرونکی او له موضوع سره بشپړ مطابقت ولري. د کلمو شمېر يې له (۱۵) څخه زيات نه وي، سايز يې بايد (۱۴) بولډ او د پاڼې په منځ کې وي.
- ✓ د ليکوال پېژندنه دې په دې ډول وي: د ليکوال علمي رتبه، بشپړ نوم، تخلص، پوهنتون، پوهنځی او څانګه. ورپسې دې لاندې ښي اړخ ته په (۱۱) سايز کې برېښناليک راوړل شي.
- ✓ لنډيز دې د (۲۰۰- ۲۵۰) کلمو پورې وي او د لنډيز عنوان دې (۱۲) بولډ وي.
- ✓ کليدي کلمې دې د الفبا په ترتيب له (۵- ۷) پورې راوړل شي.
- ✓ سريزه دې په بسم الله الرحمن الرحيم او د الله تعالی په ثنا او صفت پيل شي ورپسې دې د موضوع وضاحت، ستونزې، موخې، پخوانيو ليکنو ته کتنه، د څېړنې اهميت او تګلاره راوړل شي.
- ✓ د موخو ليکلو لپاره دې (SMART) ته پاملرنه وشي، يعنې موخې دې مشخصې، د اندازه ګيری وړ، د لاسرسي وړ، په واقعيت ولاړې او د وخت مطابق وي.
- ✓ د څېړنې اهميت او تګلاره کې دې واضح شي، چې کومې نيمګړتيا دغه څېړنې ته هڅولی يې؟ په کوم سبب زما څېړنه مهمه ده؟ کومو لوستونکو سره به مرسته وکړي او څه مثبت تغير پېښولی شي؟

- ✓ په تګلاره او کارتوکو کې دې خپل د لیکنې روش او تګلاره څرګنده شي او د میتود ډول دې واضح شي.
- ✓ په اصلي متن کې دې لۀ امانتدارۍ او د ماخذ لیکلو له سمې طریقې استفاده وشي. د قران کریم او نبوي احادیثو په ژباړه کې دې دقت وشي او په خنجري لیندیو ﴿﴾ کې دې ونیول شي. د مقالې د کلمو شمېر دې (۵۰۰۰ - ۶۰۰۰ ) کلمو پورې وي، لیکنه دې د لیکدود او ګرامر له مخې سمه وکښل شي، د پښتو لپاره (**Pashto Nazo**) ، د درى لپاره (**Bahij Zar**) د عربي لپاره (**Traditional Arabic** ) او د انګلیسي متن لپاره دې (**Time New Roman**) فونټونه وکارول شي .
- ✓ له منځپانګې بشپړولو وروسته دې پایله، مناقشه او نتیجه ګیري راوړل شي. په پایله کې دې هره نتیجه په ځان ته پراګراف کې راوړل شي.
- ✓ وړاندیزونه دې د پایلې، مناقشې او نتیجه ګیرۍ څخه په الهام راوړل شي.
- ✓ د انګلیسي (**Abstract**) د لیک سایز دې (۱۲) وي، د کلمو شمېر دې یې د (۲۰۰- ۲۵۰) وي. د (**Abstract**) لاندې دې (**Key Words**) راوړل شي، چې شمېر یې د (۵- ۷) پورې وي او د (**Abstract**) سر ته دې په انګلیسي ژبه د لیکوال بشپړ نوم، علمي رتبه، پوهنځی، څانګه، ګرځنده شمېره، برېښنالیک، د تقریظ ورکوونکي بشپړ نوم او د مقالې عنوان ولیکل شي.
- ✓ مأخذونه باید د الفبا په تورو ترتیب، شمېر یې له اتو کم نه وي، د ټولنیزو علومو ماخذونه دې د (**APA style**) کې او د طبیعي علومو ماخذونه دې د (**Vancouver Style**) کې راوړل شي.

| ګڼه | سرلیک | لیکوال | مخ |
|---|---|---|---|
| ۱ | پر استوګنځي حاکم اصول | پوهنوال محمد شفیق مندوزی | ۱ |
| ۲ | د خسارې جبران او د حیثیت اعاده | پوهنوال امان الله ځدراڼ | ۱۳ |
| ۳ | د ژبې د پرمختګ او وروسته پاتې والي علتونه | پوهنوال میاولي شاه میاخېل | ۲۷ |
| ۴ | په عامه اړیکو کې د مطبوعاتي کنفرانس اداب، اصول او اغېز | پوهنوال محمدخان نیازی | ۳۳ |
| ۵ | د جزايي مسؤولیت د کچې په ټاکلو کې اغیزناک لاملونه | پوهنوال عبدالرحمن رحیمي | ۵۱ |
| ٦ | د (تاریخ افغانستان در عصر گورگانی هند) نقد او څېړنه | پوهنوال زرولي صدیقي | ۷۱ |
| ۷ | د پښتو ادب په لرغونې دوره کې د سېمبول ځرک | پوهندوی دوکتور سبحان الله شهاب | ۸۳ |
| ۸ | د الهي غضب نښې او د خلاصون لارې یې | پوهنمل نقیب الله مشفق | ۹۳ |
| ۹ | د خوست په مرکزي لومړنیو ښوونځیو کې د تاوتریخوالي ډولونه او د هغوی د لاملونه مطالعه | پوهنمل دوکتور احسان الله احسان او پوهنمل سیدشاه ګل ویاړ | ۱۱۱ |
| ۱۰ | د ازموینې په اعتبار او ثبات باندې اغېزمن لاملونه | پوهنمل سیدشاه‌ګل ویاړ | ۱۳۱ |
| ۱۱ | د ټولنیزو افکارو په سمون کې د ولسي شاعرۍ رول | پوهنمل مشفق اصولي | ۱۴۱ |
| ۱۲ | د کاظم خان شیدا اواره ژوند او پر سبک یې اغېزې | پوهنمل فریدالله فرید | ۱۵۷ |
| ۱۳ | بررسی جغرافیای تاریخی استوپه توپ دره ولایت پروان | پوهنمل مولاجان رحماني | ۱٦۷ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۴ | ترکیب‌های هنری در اشعار پرتونادری | پوهنمل میرسبحان مجددي | ۱۷۵ |
| ۱۵ | د کاظم خان شیدا په اشعارو کې ذهني انځورونه | پوهنمل سیدمرجان سروري | ۱۸۱ |
| ۱٦ | په معاصر دور کې د ستراتیژیکو ارتباطاتو ارزښت | پوهنمل فاروق جان منګل | ۱۸۹ |
| ۱۷ | د خوست ولایت په اورښتونو باندې د اقلیمي بدلون اغېزې | پوهنمل عصمت الله زیار، پوهنیار نظیرګل صدیقي او پوهنمل سیف‌الله غروال | ۱۹۹ |
| ۱۸ | په خوست ولایت کې د لوړ ولور اغېزو څېړل | پوهنیار امیر محمد صابر، پوهنمل قدرت الله صدیقي او نامزد پوهنیار حفیظ الله باختر | ۲۱۳ |
| ۱۹ | په بلاغت کې د اسناد ډولونه | پوهنمل عبدالصمد روښان | ۲۳۵ |
| ۲۰ | د اسلامي شریعت په رڼا کې ټولنیزې اړیکې او د پیاوړتیا اساسات یې | پوهنیار محمد اسحاق شهزاد | ۲۴۹ |
| ۲۱ | په عربي ژبه کې د جملې د اجزاوو ځای (رتبه) | پوهنیار مسعود قائد | ۲٦۹ |
| ۲۲ | په عامه اړیکو کې د مستند فلم Documentary استعمال | پوهنیار واحدالله زیار | ۲۸۱ |

| | |
|---|---|
| **Abstracts in English** | **Page** |
| | **296** |

# پر استوګنځي حاکم اصول

پوهنوال محمد شفیق مندوزی، شیخ زاید پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه.
برېښنالیک: shafiqmandozy@gmail.com

**لنډیز**

استوګنځی د نړیوالو خصوصي حقوقو د بحث له موضوعاتو څخه مهمه موضوع ده، چې په نړیوالو خصوصي حقوقو کې زیات مسایل او موضوعات په ځانګړي توګه شخصي احوال د استوګنځي پر اساس حل او فصل کېږي. استوګنځی د قانون پر اساس یو شخص ته ورکول کیږي او د هغې لخوا یو امر دی، چې د یو شخص په قصد او اراده پورې اړه لري، څکه که چېرې یو شخص چې په نوموړي ځای کې قرار ولري او دا قصد وکړي، چې د تل لپاره به په نوموړي ځای کې اوسیږي؛ نو نوموړی ځای د شخص د استوګنځي په توګه پېژندل کېږي، چې دا نظر د مختلفو هېوادونو لخوا د منلو وړ ګرځېدلی دی او عملاً استفاده ترې کېږي. سربېره پر دې د شخص اړیکه د خپل متبوع دولت سره د استوګنځي د ځای څخه پرته په پام کې نیول کیږي. استوګنځی د اشخاصو د مادي تقسیم (لیدلو وړ) عامل دی او په هغه ځای پورې اړوند دی، چې شخص هلته استوګن وي او په دې مناسبت سره استوګنځی د دولت په ایجاب سره د یوه معین ځای سره تړاو پیدا کوي او په دې صورت کې یوه غیر مستقیمه اړیکه د دولت سره پیدا کوي. د دې اړیکو درلودل، ارزښت او پایښت په دې څېړنیزه کتابتوني مقاله کې په اجمالي ډول د مطالعې لاندې نیول شوي دي.

**کلیدي کلمې:** استوګنځی، اصول، تکالیف ، ولي، وصي

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم ! الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین.**

استوګنځی یوه حقوقي اړیکه ده، چې بعضې سیاسي ځانګړتیاوې د شخص او استوګنځي تر منځ د دولت په واسطه تنظیمیږی او په دې وسیله سره اشخاص نه یواځې چې یو تبعه ( اوسیدونکی) وي بلکې د هغو اوسیدونکو د ټولګې څخه شمېرل کېږي، چې په معینه او مشخصه

حوزه کې اقامت لري. اشخاص د استوګنځي په واسطه خپل حقوق لاسته راوړي؛ نو ځکه ضروري ده، چې د یوه وګړي او محل ترمنځ اړیکه موجوده وي، چې وګړي د همدغې اړیکې پر اساس تل موجود حساب شي، که چېرته نور اشخاص په نوموړي فرد کوم حق ولري او د خپل حق غوښتنه وکړي؛ نو باید په هغه ځای کې دعوه اقامه کړي، استوګنځی په ارثي مسئلو کې هم ډېر د توجو وړ دی، ځکه چې په اکثرو هېوادونو کې د پورتنیو ذکر شویو مسئلو حل د استوګنځي قانون تابع ګڼي.

له بله پلوه په بین المللي سطحه د خصوصي بین المللي حقوقو د منازعاتو د حل په هکله ډېر مهم او اساسي رول لوبوي، لکه مخکې چې ذکر شول هر کله، چې د شخصي احوالو په موضوع کې د تابعیت د اختلاف یا د قوانینو د تعارض له مخې ټکر منځته راشي؛ نو په دې صورت کې استوګنځي (د اوسیدلوځای) ته اعتبار ورکول کېږي، لکه څرنګه، چې استوګنځی به یا په داخل د خپل هیواد کې وي او یا به د متبوع هیواد څخه بهر وي، چې ذکر شوې برخې به مونږ په دې څېړنیزه کتابتوني مقاله کې د استوګنځي په پېژندنه او په هغه باندې د حاکمو اصولو په ضمن کې د مطالعې لاندې ونیسو.

## د څېړنې موخې

د دې مقالې د څېړنې موخه د اوسیدلو ځای او په هغه باندې د حاکمو اصولو پیژندل دي او لوستونکي به وپوهیږي، چې د حقیقي او حکمي اشخاصو اړیکه د یوه دولت او قلمرو سره ډېره مهمه ده، چې د نوموړي اړیکې په اساس اشخاص د یوه دولت او د هغه ځای د حمایت څخه برخمن کېږي او د هغې قلمرو نافذه قوانین ورباندې پلي کېږي، لکه څنګه چې څرګنده ده چې دولتونه د خپلو خاصو اصولو او معیارونو په اساس چې د دوی ملي منافع په کې شاملې وي حقیقي او حکمي اشخاصو ته د اوسیدلو ځای ورکوي.

لوستونکي به په دې وپوهېږي، چې حقیقي او حکمي اشخاص له استوګنځي پرته په داخلي او نړیواله سطحه اړتیاوې او ضروراتونه نه شي پوره کولای؛ نو د دې اړتیاوو او ضرورتونو د پوره کولو په خاطر باید دوی د یوه دولت او استوګنځي سره اړیکې وساتي او دغه اړیکې باید د اصولو، قواعدو او مقرراتو په بناء باندې استوارې وي؛ نو په دې اساس اشخاص چې په خپل منځ کې او همدارنګه په نړیواله او داخلي سطحه د اړیکو تنظیم کول او د اړتیاوو پوره کول غواړي؛ نو باید چې معین استوګنځی ولري.

همدارنګه د دې کتابتوني مقالې په اساس به لوستونکي په دې وپوهېږي، چې د مدني او داخلي حقوقو له حیثه استوګنځی د خصوصي حقوقو د موضوعاتو له یوې برخې څخه ګڼل کېږي، ځکه اصولاً استوګنځی په شخصي احوالو پورې اړوند دی او د شخص له وضعیت څخه بحث کوي. د یادونې وړ ده چې د ژوند لپاره داخلي استوګنځی او د یوه هېواد په داخل کې د منطقې تعیین د شخص ارادې پورې تړاو لري، په دې مفهوم سره استوګنځی پر شخص نه دی تحمیل شوی (مګر د بعضو حالاتو په استثناء سره) بلکې کولای شي هر هغه ځای چې شخص یې د خپلو چارو لپاره مهم مرکز ګڼي، په خپله اراده انتخاب کړي او په پایله کې یې له مدني حقوقو څخه برخمن او هلته خپل تعهدات او قانوني مسئولیتونه ترسره کړي.

**د کار مواد او میتود**

دا کتابتوني څېړنیزه مقاله ده او د هغه مأخذونو او منـــابعو څخه په کې استفاده شوي ده، چې په نړیوالـــــه او داخلي سطحه معتبر ګڼل کېږي. او بله دا چې زما لیکنه په پښتو ژبه کې ده؛ نو دپښتو ژبې ټول ادبیات په نظر کې نیول شوي دي او هم په دې لیکنه کې روانه او ساده ژبه کارول شوي ده.

څرنګه چې زما د لیکنې موضوع (پر استوګنځي حاکم اصول) ده؛ نو کوشش شوی دی، تر څو په ډېره لنډه توګه د استوګنځي پېژندنه او په هغه حاکم اصول چې د اشخاصو او هم د دولتونو لپاره اړین وي، په هر اړخیزه توګه وڅېړل شي.

**د استوګنځي پېژندنه**

د افغانستان د مدني او د مدني محاکمو د اصولو قوانینو کې استوګنځی د اوسیدلو په محل او د اقامت په ځای هم یادېږي، په لغت کې هغه ځای ته ویل کېږي چې یو شخص پکې اوسیږي. په مشخص ډول ویلی شو چې استوګنځی د (استوګنې) او (ځای) له کلمو څخه ترکیب شوی چې په لغت کې د اوسیدلو ځای ته ویل کیږي (مدنی،۱۳۸۴ ل، ص. ۱۵۸).

په حقوقي اصطلاح کې علماوو د استوګنځي لپاره کوم واحد تعریف نه دی کړی، له دغه اختلاف سره سره موږ د څو تعریفونو څخه په لاندې ډول یادونه کوو:

د فرانسې مدني قانون په لسمه ماده کې وايي، چې استوګنځی د شخص د اصلي مرکز څخه عبارت دی. (عمید، علی، ۱۳۷٦ ل، ص. ۱۰۹)

یا استوګنځی هغه ځای دی، چې یو شخص په هغه ځای کې واقعي، ثابت او دایمي استوګنه ولري او د مهمو امورو مرکز یې هلته وي (د تابعیت قانون،۱۴۲۱،ص:۳۵۲).

د حقوقو د علم په واسطه سره استوګنځی هغه ځای دی چې د شخص قانوني مقر تشکیلوي.

همدارنګه د شخص او استوګنځي تر منځ اړیکه په قانون پورې اړه لري، چې شخص همیشه هلته مستقر وي او همیشنی تړاو ورسره ولري، حتی په هغه مواردو کې چې شخص غایب وي یا فوت شي نوموړي اړیکه تر یوه حده پورې باقي پاتې کیږي، ځکه چې مونږ په قوانینو کې وینو، چې د غایب ( تري تم ) او متوفی امور هغې محکمې ته راجع ( حواله ) کیږي چیرته چې د نوموړي شخص د استوګنې ځای وي (ناصح، ۱۳۹۷ ل، ص. ۱۱۷).

محمد نصیري په خپل کتاب نړیوالو خصوصي حقوقو کې استوګنځی دا ډول تعریفوي، چې استوګنځی یوه حقوقي اړیکه ده، چې بعضې سیاسي خواص د شخص او استوګنځي تر منځ د دولت په واسطه تنظیمیږی او په دې وسیله سره اشخاص نه یوازې دا چې یو تبعه (اوسیدونکی) وي بلکې د هغو اوسیدونکو د ټولګې څخه شمیرل کیږي چې په معینه او مشخصه حوزه کې اقامت ولري (قانون اصول محاکمات مدنی، ۱۳۶۹ ل، ص. ۸۰).

د افغانستان مدني قانون د (۵۱ مې) مادې په لومړی فقره کې د اوسیدلو ځای داسې تعریف شوی دی، چې د اوسېدلو ځای هغه دی، چې شخص په هغه کې په عادي توګه سکونت لري، اګر که نوموړی سکونت دایمي وي او یا موقتي وي) همدا قسم د نوموړې مادې په دویمه فقره کې وایي، یو شخص کولی شي، چې د یوه څخه زیات د اوسېدلو ځایونه ولري.

د نوموړي تعریف پر اساس د شخص استوګنه په یوه ځای کې د دوو حالتونو درلودونکې ده، لومړی دا چې یو شخص په یو ځای کې استوګنه کوي او د مهمو امورو مرکز یې هم هلته وي، د مثال په توګه، یو شخص په کابل کې تجارت کوي او ورسره په همدې کابل کې مېشت هم وي.

دویم دا چې د استوګنې ځای د یوه شخص په یو ځای او د مهمو امورو مرکز یې په بل ځای کې وي، د مثال په توګه، د یوه شخص تجارت په کابل کې وي او استوګنه یې په جلال اباد کې وي؛ نو دلته امکان لري چې د استوګنځي په تعیین کې اختلاف رامنځ ته شي (نصیری، ۱۳۸۳ ل، ص، ۴۳).

د حقوقو د تحصیل د ډول قانون په اوومه ماده کې د اوسېدو د ځای په اړه داسې راغلي دي، چې «د دې قانون د حکمونو له مخې د اوسېدو ځای عبارت دی له: ۱ـ هغه ځای چې یو کس

هلته له يو کال څخه زيات ژوند کوي. ۲ـ هغه ځای چېرې چې يو شخص غير مؤقتي رسمي دنده ولري. ۳ـ هغه ځای چېرې چې يو شخص سوداګريز او مسلکي فعاليت ولري. ۴ـ نور هغه ځايونه چې د دولتي قوانينو لخوا د يو کس د اوسيدو ځای په توګه چمتو شوي وي» (قانون طرز تحصيل حقوق، ۱۳۸۷ ل، ص. ۱۰۲).

د افغانستان د مدني محاکماتو د اصولو قانون مدني دعوو ته رسيده ګي کول د هغې محکمې واک ګڼي، چېرې چې د مدعی عليه قانوني استوګنځی د هغې په حوزه کې موقعيت لري، نوموړي قانون په دې هکله داسې صراحت لري، چې « د دې فصل د نورو مادو د احکامو په نظر کې نيولو سره، مدني دعوې د مدعي عليه د سکونت په محل کې حل او فصل کيږي، که چيرې مدعي عليه د اوسېدلو متعدد ځايونه ولري، د هغې مدعی عليه دعوو ته په کتو سره په هغه محکمه کې رسيده ګي کېږي، چې مدعي عليه د استدعا پر مهال په هغه قضايي حوزه کې اوسيږي». همدارنګه د دې قانون اوومه ماده د قانوني استوګنځي تعريف داسې کوي: «قانوني استوګنځی هغه ځای ته ويل کيږي، چې انسان په خپله خوښه د دايمي استوګنې لپاره ټاکلی وي» (قانون اصول محاکمات مدنی، ۱۳٦۹ ل، ص. ۲۹۱).

**د استوګنځي اهميت**

په شخصي احوالو کې خصوصًا د اشخاصو په حقوقي وضعيت او اهليت معلومولو برخه کې په نړيواله او داخلي سطحه د فوق العاده اهميت څخه برخمن دی، چې اشخاص د اوسېدلو د ځای په وساطت خپل حقوق لاسته راوړي؛ نو ځکه ضروري ده، چې د يوه وګړي او محل ترمنځ اړيکه موجوده وي، چې وګړي د همدغی اړيکې په اساس تل موجود حساب شي، که چېرته نور اشخاص په نوموړي فرد کوم حق ولري او د خپل حق غوښتنه وکړي؛ نو بايد په هغه ځای کې دعوه اقامه کړي، استوګنځی په ارثي مسئلو کې هم ډېر د توجو وړ دی، ځکه چې د اکثره هيوادونو قوانين د استوګنځي تابع ګڼي.

همدا قسم په نړيواله سطحه هغه مسايلو ته چې خصوصي وي او بهرنی عنصر په کې موجود وي، د هغه د حل په هکله ډېر مهم او اساسي رول لوبوي، لکه مخکې چې ذکر شول هر کله، چې د شخصي احوالو په موضوع کې د تابعيت د اختلاف يا د قوانينو د تعارض له مخې ټکر منځته راشي؛ نو په دې صورت کې استوګنځي ( د اوسيدلوځای) ته اعتبار ورکول کېږي، لکه څرنګه، چې مخکې هم دې خبرې ته اشاره شوې وه، چې ممکن د اوسېدلو ځای د هيواد په

داخل کې او یا د خپل متبوع هېواد څخه بهر د بل هېواد په قلمرو کې قرار ولري یعنې نړیواله جنبه ولري ( مندوزی، ۱۴۰۲ ل، ص. ۱۲۹).

د پورته ذکر شویو حالاتونو اهمیت په لاندې عنوانونو کې په اجمالي ډول مطالعه کوو.

## استوګنځی د نړیوالو خصوصي حقوقو له حیثه

هغه مهال چې د شخص د اوسېدو ځای او متبوع هېواد سره توپیر ولري، په دې صورت کې د هغه استوګنځی نړیوال ګڼل کېږي، دا چې شخص یو معین سیاسي حاکمیت پورې تړاو لري او یا بل شخص په یوه معین دولتي محل پورې تړاو ولري، د خصوصي حقوقو له قلمرو څخه بهر دی ځکه چې نوموړي شخص ته د اوسېدو د ځای تعیین او یا هغه ته استوګنځی ورکول د دولتونو په وسیله د منافعو او مصالحو په اساس د حاکمیت لاندې حوزو او د حکومت په قلمرو کې ترسره کېږي. په همدې بنسټ ځینې هېوادونه لکه مهاجر منونکي هیوادونه د استوګنځي (اقامتګاه) قانون پر شخصي احوالو باندې حاکم ګڼلی دی، یعنې د شخصي احوالو قانون یې د اقامتګاه په اساس تعیین او مشخص کیږي (قانون تابعیت، ۱۴۲۱، ص. ۳۴۵).

## استوګنځی د داخلي حقوقو له حیثه

د مدني او داخلي حقوقو له حیثه استوګنځی د خصوصي حقوقو د موضوعاتو له یوې برخې څخه ګڼل کیږي، ځکه اصولاً استوګنځی په شخصي احوالو پورې اړوند دی او د شخص له وضعیت څخه بحث کوي، د یادونې وړ ده چې د ژوند لپاره داخلي استوګنځی او د یوه هیواد په داخل کې د سیمې تاکل د شخص ارادې پورې تړاو لري، په دې مفهوم سره استوګنځی پر شخص نه دی تحمیل شوی (مګر د بعضو حالاتو په استثناء سره) بلکې کولی شي هر هغه ځای چې شخص یې د خپلو چارو لپاره مهم مرکز ګڼي په خپله اراده انتخاب کړي او په پایله کې یې له مدني حقوقو څخه برخمن او هلته خپل تعهدات او قانوني مسئولیتونه ترسره کوي (ابراهیمی، ۱۳۸۳ ل، ص. ۱۵۲).

## د استوګنځي عملي ګټې

مخکې مو یادونه وکړه، چې استوګنځی د نړیوالو خصوصي حقوقو د مهمو موضوعاتو څخه شمېرل کېږي، دلته یې عملي ګټې په اجمالي توګه په لاندې ډول مطالعه کوو.

الف ـ د شخصیه احوالو په مواردو کې: ډېر شمېر هېوادونه د اشخاصو د وضعیت او اهلیت په اړه هغه قانون ذیصلاح ګڼي چې شخص پکې اوسېږي. دې سیستم ته انګلیس-امریکایي سیستم وایي چې تقریباً نیمې نړۍ منلی دی.
ب ـ د محاکمو د صلاحیت د تعیین له حیثه: د استوګنځي موضوع د محاکمو د صلاحیت د تعیین له حیثه تل د توجه وړ وه او ده، یعنې دعوې ته د رسیدګي صلاحیت هغه محاکم لري، چې هلته د شخص استوګنځی وي.
ج ـ د صلاحیت لرونکي قانون د تعیین له حیثه: د ځینو هېوادونو له جملې څخه په فرانسه کې د دې سره سره چې په شخصیه احوالو کې اصولاً شخص د متبوع هېواد د قانون تطبیق منلی؛ خو په ځینو مواردو کې لکه طلاق او نسب په هغه صورت کې چې طرفین د مختلفو هېوادونو تابعیت لرونکي وي، د مشترک استوګنځي قانون ورباندې تطبیق کېږي همدارنګه د منقولو اموالو په ترکه کې د استوګنځي قانون د اعمال صلاحیت لري.
د ـ د حقوقو څخه برخمن کېدل او یا د تعهداتو ترسره کول هم په اکثرو حالاتو کې د استوګنځي سره اړیکه لري (نصیری، ۱۳۸۳ ل، ص. ۸۱، ۸۲).

## په استوګنځي (اقامتګاه) حاکم اصول

استوګنځی یوه حقوقي او مادي اړیکه ده، چې مختلف آثارات لري او د نړیوال نظم د عواملو څخه شمېرل کېږي؛ نو باید چې په اصولو باندې تکیه ولري او هېوادونه یې په داخلي او نړیواله سطحه په صحیح او حسن ډول اجراء کړي. هغه اصول، چې د استوګنځي لپاره ضروري دي، په لاندې توګه یې مطالعه کوو.

لومړی اصل ـ هر شخص باید استوګنځی ولري. (د استوګنځي د لزوم اصل)
دویم اصل ـ هر شخص باید یو استوګنځی ولري. ( د استوګنځي د وحدت اصل)
دریم اصل ـ استوګنځی د تغییر وړ دی. (د استوګنځي د بدلون اصل) (نصیری، ۱۳۸۴،ص:۱۱۹).

## په استوګنځي باندې د حاکمو اصولو دلایل

پر استوګنځي باندې د حاکمو اصولو دلایل په دې معنا دي، چې هر شخص باید هرو مرو یو استوګنځی ولري او هیڅوک پرته له قانوني استوګنځي څخه خپل ژوند ته ادامه ورنه کړي، ځکه چې هر شخص د جامعې او ځان پر وړاندې د یو سلسله حقوقو او وجایبو درلودونکی دی، د

دې لپاره چې نوموړي حقوق او وجایب په سمه توګه د اجرا مرحلې ته ورسېږي؛ نو باید د یو لړ حاکمو اصولو درلودونکي و اوسيږي، چې په لاندې ډول یې مطالعه کوو.

**۱ـ هر څوک باید استوګنځی ولري ( د استوګنځي د لزوم اصل )**

د شخص شخصیت د هغه له حقوقو او تکالیفو څخه معلومېږي، هر شخص د یو لړ حقوقو او تکالیفو لرونکی دی او د دې حقوقو او تکالیفو اجراء او اعمال د دې غوښتنه کوي، چې هغه (شخص) ته د مراجعې او لاسرسي امکان پیدا شي او دا کار د استوګنځي محل (اقامتګاه) څخه پرته د تحقق وړ نه دی. بناءً هر شخص باید د استوګنې محل (استوګنځی) ولري، د قانون له حیثه د استوګنځي نه لرونکي افراد شتون نه لري؛ ځکه چې هر شخص د تولد سره سم استوګنځی تر لاسه کوي، چې هغه د متولد (ولي) یا (وصي) د استوګنې ځای دی.

کله کله د دې اصل سره سره د استوګنځي نه لرونکي اشخاص هم لیدل کېږي، چې د حقوقي اړیکو د انحلال له عواملو څخه دي، مثلاً شخص په خپله غاړه تعهدات واخلي او د تعهداتو د اجراء وخت را رسیدلی وي؛ خو د مقابل لوري د اوسیدلو معین محل شتون نه لري؛ تر څو هغه ته اشخاص او قانوني مراجع لاسرسی ولري، په دې صورت کې د استوګنې د محل نه لرونکي افراد د بې تابعیته افرادو په څیر ستونزې جوړوی. البته هغه افراد چې استوګنځی(د اوسیدلو ځای) یې مجهول وي او هغه افراد چې استوګنځی ونه لري کوم توپیر نه لري معمولاً د استوګنځی مجهول والی هم د استوګنځي نه لرونکو افرادو تر عنوان لاندې راځي، چې دا ډول افرادو ته Adomide ویل کېږي چې د Apatirde معادل ده (نصیری، ۱۳۸۳ ل، ص.۱۲۰).

بناءً هر شخص باید د استوګنې محل (استوګنځی) ولري، د قانون له حیثه د استوګنځي نه لرونکي افراد شتون نه لري ځکه چې هر شخص د تولد سره سم استوګنځی تر لاسه کوي چې هغه د متولد (ولي) یا (وصي) د استوګنځی دی، چې د افغانستان د مدني قانون د ( ۵۲ مې) مادې او د مدني محاکماتو اصولو قانون د (۸۴ مې) مادې په اساس په ماشوم تحمیل کېږي، چې وروسته د معین عمر په رسیدو سره د اجباري استوګنځي په ځای شخص ته قانوني استوګنځی ورکول کېږي (ارفع نیا، ۱۳۸۳، ص. ۱۶۹).

له پورتني اصل څخه دوه پایلې لاسته راځي، چې هره یوه یې په خپل وار سره قاعده تشکیلوي، چې په لاندې ډول ورڅخه یادونه کوو.

**لومړی ـ** هر شخص باید د تولد په اساس سره د معین استوګنځي درلودونکی شي.

**دویم ـ** هیڅ شخص باید استوګنځی له لاسه ورنه کړي؛ تر څو چې بل استوګنځی یې لاسته نه وي راوړی.

د لومړی قاعدې د اجراء په صورت کې معمولاً د دولتونو په قوانینو کې د والدینو یا د قانوني سرپرست لکه د قیم استوګنځی یې چې د ماشومانو لپاره پیشبیني شوي دي.

د دویمې قاعدې د اجراء په صورت کې بعضې عوامل دي، چې باید وپېژندل شي.

لومړی، دا چې د استوګنځي ترک کول باید ساده نه وي، دویم دا چې هغه لاملونه چې په یوه ځای که له منځه ځي باید په بل ځای کې استقرار پیدا کړي، مثلاً که چیرې د یوه شخص استوګنځی په دې باندې متکي وي، چې دی هلته اوسېږي او یا د فعالیت مرکز یې هلته وي، که چېرې د ده مسکن او د فعالیت مرکز د هغه ځای څخه انتقال شي، طبعاً د نوموړي شخص استوګنځی هم د تغییر وړ دی (مدنی، ۱۳۸۴ ل، ص.۱۲۰).

**۲ـ هر شخص باید یواځې یو استوګنځی ولري( د استوګنځي د وحدت اصل )**

لکه څرنګه چې مضاعف تابعیت په نړیواله سطحه ستونزې راولاړوي د استوګنځیو تعدد هم په نړیواله کچه ستونزې پیدا کوي، همدا قسم د دوه ګونو او یا زیاتو استوګنځیو لرونکي اشخاص دولتونو او هم مراجعینو ته ستونزې راولاړوي ځکه د شخص متعددو استوګنځیو ته دولتونو رسیده ګي او هم د مراجعینو تګ راتګ د کار د تآخیر سبب ګرځي، په همدې بنسټ شخص باید یو واحد استوګنځی ولري.

په هر صورت د دوه ګونو استوګنځیو پېښې په داخلي او نړیواله سطحه نادرې نه دي، بعضې هېوادونه د واحد استوګنځي اصل نه لري؛ نو خلک کولای شي، چې څو استوګنځي ولري، د افغانستان د مدني قانون د ( ۵۱ مې) مادې دویمې فقره په دې اړه داسې صراحت لري، چې (یو شخص کولای شي چې د یوه څخه زیات استوګنځي ولري (ناصح، ۱۳۹۷ ل، ص، ۴۳).

په اوسني وخت کې ډېر خلک پیدا کېږي، چې مختلف فعالیتونه کوي او د نوموړیو فعالیتونو لپاره مختلف مرکزونه لري او یاد مرکزونه هم ردیفه وې؛ نو مونږ نه شو کولای، چې د هغې مهم مرکز تشخیص کړو؛ نو د مهم مرکز د نه تشخیص په سبب سره ستونزې پیدا کېږي، د افغانستان مدني قانون په همدا ډول موضوعاتو کې د استوګنځي او د مهم مرکز د تشخیص په اړه کوم صراحت نه لري، مګر د فرانسې قضایي رویه په دې ډول مواردو کې د ظاهري استوګنځي څخه ګټه پورته کوي، په دې معنا، چې دریېم شخص ووایي چې د نوموړي شخص دغه استوګنځی

دی، پاتی دې نه وي چې که چېرې درېیم شخص حسن نیت (ښه نیت ) ولري اګر که ذکر شوی محل د هغه واقعي استوګنځی هم نه وي، د نوموړي شخص استوګنځی تلقي کیږي (قانون اصول محاکمات مدنی، ۱۳۶۹ ل، ص، ۱۳۴).

**۳ـ استوګنځی یو همیشنی او تلپاتې امر نه دی او د تغییر وړ دی( د استوګنځي د تغییر اصل)**

هر شخص کولای شي، چې د خپلې ارادې سره سم خپل استوګځی انتخاب کړي او یا په خصوصي تړونونو کې یو محل د استوګنځی لپاره انتخاب کړی. اصولاً هر شخص کولی شي، چې د خپل ژوند په دوره کې خپل استوګنځي ته بدلون ورکړی (البته پرته د استوګنځی د اجباري بدلون څخه).

همدارنګه شخص کولی شي، چې خپل استوګنځی له یوه محل څخه بل محل ته انتقال کړي په دې شرط چې د خپلو چارو مهم مرکز هم ورسره انتقال کړي؛ خو د استوګنځي د بدلون (تغییر) لپاره باید دوه عامله شتون ولري:

۱ ـ شخص باید د استوګنځي د تغییر لپاره قصد ولري؛ تر هغه مهال چې شخص د استوګنځي د تغییر لپاره قصد او تصمیم ونه نیسي د هغه استوګنځی په خپل محل کې پاتې کیږي.

۲ ـ د استوګنځي د تغییر لپاره د قصد شتون تر څنګ شخص باید د خپلو چارو مهم مراکز هم ورسره انتقال کړي (درانی، ۱۳۹۹ ل، ص. ۱۲۱).

**پایله**

د نوموړي کتابتوني څېړنې په بهیر کې لاندې پایلې ته ورسیدم ، چې په اوسنۍ نړۍ کې په حقوقي، مدني، فرهنګي، فامیلي او نورو مسئلوکې د اوسیدنې ځای مهم رول لوبوي او د نړیوالو خصوصي حقوقو ډېرې قضیې خصوصاً په هغه هېوادونو کې چې د کامن لا حقوقي سیستم یې منلی دی. د متبوع هېواد قانون په نسبت د اوسیدنې د ځای قانون په ښه شکل ورته رسیده ګي کولای شي او د مسئلو په حل او فصل کې په تولیزه توګه ورڅخه استفاده کوي.

استوګنځی د واک لرونکي محکمې په معلومولو کې مهم دی، ځکه چې محاکم دوې مهمې برخې لري، چې یوه برخه یې موضوعي صلاحیت دی، چې موضوع ته په کتو سره د محاکمو واک تعینوي او بله برخه یې حوزوي صلاحیت دی، چې په دې صورت کې د هرې محکمې د رسیده ګي د صلاحیت ساحه او قلمرو معلوم دی، چې په دغه قلمرو کې، چې هر څوک ژوند کوي د هغوی موضوعاتو ته همدغه محکمه د رسیده ګي واک لري؛ نو د همدې له مخې وایو،

چې هر څوک په همدې ساحه کې اوسيږي يعنې استوګنه ولري، د هغوی موضوعاتو د حل او فصل لپاره د هغه محل محکمې د رسيده ګۍ واک لري. همدا قسم د استوګنځي په اړه درې ګوني اصول، چې عبارت دي له ( د استوګنځي د لزوم اصل، د استوګنځي د يووالي اصل او د استوګنځي د بدلون اصل) د دلايلو په وړاندې کولو سره ذکر شوي دي. همدارنګه د استوګنځي ډولونه، چې په مجموع کې له عامه يا حقيقي استوګنځي او خاصه يا قراردادي استوګنځي څخه عبارت دي، له جزياتو او ويشنو سره يو ځای د بحث لاندې نيول شوي دي.

همدارنګه د واک لرونکي قانون د تعيين له پلوه د ځينو هېوادونو له جملې څخه لکه فرانسه د دې سره سره چې په شخصي احوالو کې اصولاً د شخص د متبوع هېواد د قانون تطبيق منلی؛ خو په ځينو مواردو کې لکه طلاق او نسب په هغه صورت کې چې اړخونه د مختلفو هېوادونو تابعيت لرونکي وي د مشترکې استوګنځي قانون وړاندې تطبيق کيږي، همدارنګه د منقولو اموالو په ترکه کې د استوګنځي قانون د اعمال صلاحيت لري.

## وړانديزونه

۱ـ دولتونه د مناسبو استوګنځيو په پيدا کولو کې د خلکو ستونزې او احساسات درک کړلی شي.

۲ـ په استوګنځي کې بايد د حقيقي اشخاصو حقوقي وضعيت ته پوره پاملرنه وشي.

۳ـ دولتونه بايد په استوګنځي باندې د حاکمو اصولو څخه استفاده وکړي.

۴ـ که چېرې بعضې اشخاص متعدد استوګنځي ولري، دولتونه د هغې لپاره ځانګړي قوانين او اصول په نظر کې ولري.

## منابع

ابراهيمی، سيد نصرالله.(۱۳۸۳ هـ ش). حقوق بين الملل خصوصی. (چ.۱). تهران: نشرات سمت.

ارفع نيا، بهشيد.(۱۳۷۳ هـ ش). حقوق بين الملل خصوصی.ج۱.(چ.۴). تهران: موسسه نشراتی آگاه

درانی، احمدګل واثق.(۱۳۹۹هـ ش). خصوصي بين المللي حقوق.(چ.۱). افغانستان: يار خپرندويه ټولنه

عميد زنجانی، عباس علی.( ۱۳۷٦هـ ش). فقه سياسی.ج.۳(چ.۱).تهران:انتشارات امير کبير

مدنی، سید جلال الدین.(۱۳۸۴هـ ش).حقوق بین الملل خصوصی.(چ.۴).تهران: انتشارات جنگل

مدنی، سید جلال الدین.(۱۳۸۸هـ ش).حقوق بین الملل خصوصی.(چ.۵).تهران: انتشارات جنگل

مندوزی، محمد شفیق.( ۱۴۰۲هـ ش). نړیوال خصوصي حقوق ۱ او ۲. ننګرهار: یار خپرندویه ټولنه

ناصح، ولی محمد. (۱۳۹۷هـ ش). حقوق بین الملل خصوصی. افغانستان.کابل: انتشارات سعید

نصیری، محمد(۱۳۸۳ هـ ش). حقوق بین الملل خصوصی.(چ.۱۱). تهران: نشرآگاه

نصیری، محمد(۱۳۸۴ هـ ش). حقوق بین الملل خصوصی. ج ۱،۲(چ.۲). تهران: نشرات آگاه

وزارت عدلیه( ۱۴۲۱هـ ق). قانون تابعیت. منتشره جریده رسمی شماره۷۹۲. افغانستان. کابل

وزارت عدلیه.( ۱۳۶۹هـ ش). قانون اصول محاکمات مدنی. منتشره جریده رسمی شماره۷۲۲. افغانستان. کابل

وزارت عدلیه.(۱۳۷۸هـ ش). قانون طرز تحصیل حقوق. مجموعه قوانین افغانستان.(ج.۲). منتشره جریده رسمی شماره۷۸٦. افغانستان. کابل

# د خسارې جبران او د حیثیت اعاده

پوهنوال امان الله ځدراڼ، شیخ زاید پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه.
**بریښنالیک:** amanullah.zadran@gmail.com

**لنډیز**

په دې لیکنه کې د کتابتوني میتود او روش څخه ګټه اخېستل شوې ده او هڅه شوې ده، چې د جبران خسارې او د حیثیت اعادې ترمنځ توپیرونو وپېژندل شي او په دې برخه کې شته ستونزو ته حل لارې په ګوته شي. که چېرې د یو شخص وقار، عزت او حیثیت ته صدمه ورسیږي، متضرر کولی شي، چې د خپل وقار او حیثیت د اعادې لپاره د قضایي ارګانونو څخه د حیثیت اعاده وغواړي، دې ته په عام عرف کې د حیثیت اعاده وایي، چې د افغانستان د قوانینو له نظره ورته د خسارې جبران، په تېره بیا د معنوي خسارې جبران اصطلاح کارول کېږي او کله چې یو څوک پر جرم باندې مرتکب شي، له ځینو حقوقو څخه محرومېږي او د ځینو معاملاتو د اجراء اهلیت له لاسه ورکوي؛ نو د خپل مرتکبه جرم مجازاتو تېرولو سربېره هغه موده به هم بشپړه کېږي چې په قوانینو کې پیش بیني شوې ده، چې دې ته جزایي د حیثیت اعاده وايي.

د نوموړې موضوع د ښې څېړنې لپاره مې هم د خسارې جبران، د هغې ډولونه، د جبران خسارې طریقې ورپسې د حیثیت اعادې په څېړنه کې، د حیثیت اعادې ډولونه څېړلي دي او دې پایلې ته ورسېدم،کله چې شخص ته د بل چا لخوا معنوي زیان ورسېږي؛ دې ته عرفي د حیثیت اعاده ( د خسارې معنوي جبران ) وايي او کله چې په خپله د جرم مرتکب شي او خپل حیثیت ته په خپله صدمه ورسوي، د مجازاتو له تېرولو سربېره هغه موده چې قانون کې ټاکل شوې ده بشپړه شي، شخص کولای شي، د معاملاتو ترسره کولو اهلیت یې د لاسه ورکړی دی او یا د ځینو حقوقو له ګټې اخیستنې څخه محروم شوی دی، بېرته یې ترلاسه کړي، چې دېته زمونږ د قوانینو له نظره د حیثیت اعاده وايي.

**کلیدي ټکي:** د خسارې جبران، د حیثیت اعاده، د حیثیت قانوني اعاده، د حیثیت قضایي اعاده، زیان.

**سریزه**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ! **الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین.**

د حیثیت اعاده ( د خسارې معنوي جبران ) په هغه مواردو کې منځته راځي، کله چې د یو بېځایه اتهام په اساس د شخص وقار، شان او حیثیت ته زیان ورسېږي او د هغه په نسبت به د ټولنې لید لوری تغییر وکړي، د دې لپاره چې د اتهام نسبت ورکولو آثارو د دوام مخنیوی وشي، د حیثیت اعاده ( د خسارې جبران ) مطرح کېږي. په دې ځای کې د حیثیت اعادې مفهوم دا دی، چې شخص ته بېرته د هغې حیثیت ورگرځول دي. ځینې بېلگې یې عبارت دي له: توهین، افتراء، قذف او داسې نورو څخه او زیانمن کس کولای شي، چې د حیثیت اعاده ( د خسارې جبران ) وغواړي.

جزایي د حیثیت اعاده هغه وسیله ده، چې پر بنسټ یې د جزایي محکومیت آثار مرفوع کېږي او محکوم علیه خپل پخواني یا اصلي حالت لاسته راوړي. د حیثیت اعاده په واقعیت کې د محکوم علیه بېرته ورگرځېدل هغه اهلیت ته دي، چې د جرم د ارتکاب په اساس یې له لاسه ورکړی و.

د جرم په ارتکاب سره، د ټولنې نظم اخلالېږي او عامه اذهان د جرم د مرتکب پر وړاندې، مخدوش کېږي. یا په بل عبارت د خلکو احساسات جریحه داره کېږي او د جرم مرتکب پر وړاندې د مجازاتو د تطبیق غوښتنه کوي. کله چې شخص خپل محکومیت تېر کړي او د جرم له ارتکاب څخه څه موده تېره شي، د خلکو احساسات تسکین مومي. په ټولنه کې چې کومه کرکه او نفرت د جرم د مرتکب پر وړاندې رامنځته شوي وو، فراموشي ته سپارل کېږي یا له خلکو څخه هېرېږي؛ نو محکوم علیه ته د دې زمینه او فرصت برابرېږي؛ ترڅو د هغې د ژوند بده خاطره او جرمي سابقه د هغې د ژوند له پاڼو څخه لېرې شي او د یو عادي انسان په حیث په ټولنه کې خپل ژوند ته ادامه ورکړي؛ ځکه د محکوم علیه شخص د ژوند په صفحه کې د جرمي سابقې د موجودیت په صورت کې، د محکومیت د مودې تېرولو سربېره، کومه عقده چې نوموړي سره پیدا کېږي، ممکن د نوموړي لپاره د بیا ځلې د جرم د ارتکاب زمینه مساعده شي؛ نو له دې امله د حیثیت اعاده او د خسارې جبران د څېړنې مهم والی احساسېږي، چې دلته به مونږ د خسارې جبران په تېره بیا د معنوي خسارې جبران او ورپسې به د حیثیت اعاده او د هغې ډولونه مطالعه کړو.

## د څېړنې موخې

د دې مقالې د څېړنې موخه د حیثیت اعادې اصطلاح په خپل ځای کې کارول دي، همدارنګه د جبران خسارې او د حیثیت اعادې په توپیر او د حیثیت اعادې په ډولونو باندې پوهېدل دي. کله چې د شخص حیثیت، وقار او آبرو ته ضرر ورسېږي، متضرر د مرتکب پر وړاندې د حیثیت اعادې اصطلاح کاروي؛ خو د دې اصطلاح کارول ناسم دي؛ په داسې حال کې چې په عامه عرف او حتی مطبوعاتو کې هم په پورته ناسمه بڼه کارول کېږي، چې زموږ د هېواد افغانستان د قوانینو له نظره د خسارې جبران اصطلاح ورته کارول کېږي او کله چې شخص پخپله د جرم مرتکب وګرځي او خپل حیثیت ته زیان ورسوي، یعنې شخص له ځینو حقوقو څخه محرومېږي او د ځینو معاملاتو د ترسره کولو اهلیت له لاسه ورکوي او تر هغې له دې حقوقو او اهلیت څخه ګټه نشي پورته کولای؛ ترڅو چې د جرم مرتکب مجازات تېر کړي نه وي او د مجازاتو له تطبیق څخه وروسته هغه موده چې په قوانینو کې قید شوې، هغه بشپړه نه کړي، یعنې شخص یا قضایي د حیثبت اعاده او یا قانوني د حیثیت اعاده شي.

د څېړنو له موخو څخه یوه د موضوع جذابیت دی او ومې غوښتل د دې مقالې په اساس د حیثیت اعاده او د خسارې جبران خلکو ته معرفي کړم.

## کړنلاره او د کار توکي

دا کتابتوني څېړنیزه مقاله ده او د هغه مأخذونو او منـــابعو څخه استفاده شوې ده، چې په نړیوالـــــه او داخلي کچه د اعتبار څخه برخمن دي او بله دا چې زما لیکنه په پښتو ژبه کې ده؛ نو د پښتو ژبې ټول ادبیات په نظر کې نیول شوي دي او هم په دې لیکنه کې روانه او ساده ژبه کارول شوې ده.

کوشش مې کړی دی هره موثقه او دقیقه سرچینه مې چې ترلاسه کړې ده، په یو نه یو ډول مې د خپلې څېړنې په بشپړولو کې ګټه ورڅخه پورته کړې ده، دا معنا چې خپل انساني نهایي کوشش مې کړی دی؛ ترڅو موضوع له هره اړخه وڅېړل شي او لوستونکي ورڅخه بشپړه ګټه پورته کړي.

د خسارې جبران او د حیثیت اعاده په لاندې ډول توضیح کوو:

## د خسارې جبران

د خسارې او د زیان جبران د مضره اعمالو په وړاندې د جبران تر ټولو عام ډول دی، د افغانستان په مدني قانون کې مضره اعمالو عمومي حکمونه د ۷۷۶ څخه تر ۷۸۹ مادو پورې د زیان رسوونکي فعل برخې لاندې له خورا سخت څخه تر نرم ډول پورې تشریح شوي دي ( سان، ۲۰۱۴، ص: ۲۱۸ ).

کله چې یو شخص بل کس ته زیان ورسوي، مرتکب مکلف دی چې زیانمن ته تاوان ورکړي. که څه هم تاوان د خطا یا غلطۍ له امله وي، بیا هم مسؤول کس باید تاوان ورکړي. مهمه دا ده چې تاوان باید جبران شي؛ مګر مخکې له دې چې متضرر زیان د چا لخوا جبران شي، زیان رسوونکی شخص باید مسؤول وګڼل شي. کله چې یو څوک مسؤول وپېژندل شي؛ نو په دې صورت کې د ضرر رسولو قصد شتون یا نشتون د هغه تاوان په اندازه چې پرې واجب دی یا د تاوان ټوله اندازه چې په هغه واجب ده اغېزه نه کوي ( کریمي، ۱۴۰۰، ص: ۲۱۸ ).

**د ضرر تعریف:** ضرر په لغت کې د اذیت په معنا دی او په اصطلاح کې بل ته په مطلق ډول زیان رسول دي، که دا زیان په مال، حقوقو او یا اشخاصو کې وي. د ففهاوو له نظره هر هغه څه ته چې شریعت اجازه ورکړې ده، هغه ته ضرر نه ویل کېږي، د بیلګې په ډول قصاص، دیت، حدود او تعزیرات( تأیب، ۱۳۹٦، ص : ۵۵ ).

**د ضرر ډولونه**

ضرر لاندې ډولونه لري:

۱- مادي ضرر: مادي زیان هغه تاوان ته ویل کېږي، چې په پیسو سره د اټکل او اندازه کولو وړ وي. د جزا په حقوقو کې، مادي یا مالي زیان هغه زیان دی چې د جرم د ترسره کولو په پایله کې د مجني علیه شتمنیو او مالونو ته رسیږي او یا د مالونو او دارایي د ارزښت د کموالي سبب ګرځي( فرهیخته، ۱۳۷۷، ص:۲۴٦ ).

۲ - جسماني خساره: د جرم د ارتکاب په نتیجه کې دا زیانونه کیدای شي د ټپي کیدو، معیوبیت یا قطع کېدو، ناروغۍ او د دایمي یا لنډمهاله معلولیت یا د مجني علیه د مړینې لامل شي( جعفري لنګرودي، ۱۳۷۸، ص: ۴۱٦ ).

۳ - ممکن الحصول منافع: دا ډول منافع د مضره فعل د واقع کېدو پر مهال شتون نلري او د هغې تحقق راتلونکي پورې تړاو لري، یعنې که مضره عمل واقع نشي؛ نو هغه ګټه به حتمي شخص ته رسیږي( ستانکزی، ۱۳۸۷، ص: ۱٦٦ ).

۴ - معنوي ضرر: معنوي زیان هغه تاوان ته ویل کېږي، چې د مادي زیان برعکس، په پیسو سره اندازه او ارزول کیدی نشي. معنوي زیان هر هغه عمل دی چې د افرادو وقار، حیثیت، عفت او آزادی ته زیان رسوي. داسې جرمونه شته چې خلکو ته مادي زیان رسوي، لکه د انسان د بدن، ژوند، روغتیا او کرامت

پر وړاندې جرمونه، کله ناکله ضرر یو غیر مادي اړخ هم لري، لکه د افرادو عزت او وقار ته زیان رسول، لکه قذف، بد رد ویل، توهین او داسې نور...

د هغې د جبران په هکله، محکمه کولی شي د مالي زیان په اړه د حکم صادرولو سربېره، د نورو وسیلو په واسطه د تاوان د لېرې کولو امر وکړي، لکه ښښنې او عذر باندې د شخص ملزمول او په ورځپاڼو او جریدو او داسې نورو کې د حکم درجول( ستانکزی، ۱۴۰۰، ص: ۵۵ ).

## د خسارې د جبران لارې چارې

۱- رد مال ( د مال بیرته ورگرځول): هغه څوک چې په ناقانونه توگه یې پیسې اختصاص کړې دي، کوم زیان او خساره یې چې متضرر ته رسولې ده، د جبران خسارې سربېره مال به هم بېرته مالک ته سپاري. د بېلگې په ډول د مدعي علیه له تصرف څخه د مال خارجول دي او مدعي ته د هغې تسلیمول دي، لکه له مجرم څخه د سرقت په جرایمو کې مسروقه مال اخیستل( دانش، ۱۳۹۹، ص : ۱۱۳ ).

۲- په نقدي ډول د خسارې جبران: دا ډول د خسارې جبران په نقدي ډول ترسره کېږي. په دا ډول د خسارې جبران کې د خسارې د جبران اندازه په محکمه کې د مدعي د غوښتنې پر بنسټ د مدني قانون د احکامو مطابق ټاکل کېږي.

۳- د محکمې مصارف: د متهم او د حق العبد مسؤول په نسبت د محکمې د حکم سربېره، هغه مصارف، چې مدعي د دعوی د تعقیب په برخه کې کړي دي، لکه د مدافع وکیل د نیولو مصارف هم باید په نظر کې ونېول شي( غلامي، ۱۴۰۰، ص: ۱۸۹ ).

۴- بدني خسارې جبران: لکه دیت. په دې رابطه د افغانستان مدني قانون وایي: « که څوک پر نفس باندې د ضرر رسوونکي فعل ارتکاب کوونکی شي لکه قتل، زخم، وهل او د اذیت نور ډولونه؛ نو کوم ضرر یې چې رسولی د هغې د تعویض په ورکولو مکلف دی.»

۵- د معنوي خسارې جبران: لکه د متضرر څخه د بخښنه او معذرت غوښتنه همدارنگه د معنوي ضرر په مقابل کې د پیسو سنجول کیدل او اخیستل کیدی هم شي. د معنوي خسارې په دې هکله د افغانستان د مدني قانون ۷۷۸ مادې لومړۍ فقره داسې وایي: « تعویض ورکول د معنوي ضرر سنجول ته هم شامل دی» (مدني قانون، ۱۳۵۵، ماده، ۷۷۸. ص: ۸۵ ).

**د معنوي خسارې ډولونه:** معنوي ضررونه په دوه ډوله دي.

الف- د افرادو فردي او شخصي حقوقو، آزادیو، شرافت، حیثیت ته صدمه رسول، چې دې ته معنوي سرمایه هم وایي.

ب- د روحي درد، خفګان او صدمې په نتیجه کې، همدارنګه د شغلي، هنري، علمي علایقو څخه محرومېدل، دیني ارزښتونو ته زیان رسېدل، یعنې په عمومي ډول اخلاقي احساس ته صدمه رسېدلې وي، چې د معنوي احساس برخه نومېږي( مهدي، ۱۳۹۷، ص: ۵۵ ).

**د حیثیت اعاده:** په لغوي لحاظ د حیثیت اعادې کلمه له دوو عربي کلمو څخه، چې د حیثیت او اعادې څخه ترکیب شوې ده، چې حیثیت د عزت او اعتبار په معنا دی او اعاده د بېرته ورګرځېدلو په معنا ده او د حیثیت اعاده د هغې اهلیت ته ورګرځېدل دي چې د کوم علت پر بنسټ یې له لاسه یې ورکړی و.

او په عربي ژبه کې د حیثیت اعادې معادله کلمه رد الاعتبار او اعاده الاعتبار او د انګلیسي معادل یې Rehabilitation چې د حیثیت او یا د اعتبار اعادې په معنا دي( سلطاني، ۱۳۹۱، ص: ۸۴ و ۸۵ ).

په حقوقي ادبیاتو کې د حیثیت اعاده په واحد مفهوم سره نه ده کارول شوې، د ایران هېواد په حقوقي متونو او مقرراتو کې نوموړې کلمه په دوو مواردو کې کارول شوې ده.

الف – هغه تدبیرونو ته وایي، چې پر بنسټ یې که یو شخص شان او حیثیت ته د بل شخص لخوا که په قصدي او یا غیر قصدي ډول صدمه رسېدلې وي، بېرته وروګرځي. په دې حالت کې د حیثیت اعاده د یوه اجرائیوي ضمانت په ځانګړي ډول د معنوي خسارې په بڼه ظاهرېږي؛ ځکه د شخص د حیثیت ساتنه د اسلامي موازینو او د اساسي قوانینو پر بنسټ لوړ او اساسي ارزښت دی.

ب – د حیثیت اعادې بل مفهوم: هغه حقوقي تأسیس دی، چې پر بنسټ یې د شخص جنایي محکومیت له منځه ځي، تبعي مجازات یې سقوط کوي او د جنایي محکومیت د زوال سبب کېږي او شخص ته د هغې د قانوني موقعیتونو حقوق شخص ته بېرته ور وګرځوي؛ نو د حیثیت اعادې څخه ګټه پورته کول د جنایي دوسیې د زوال سبب کېږي، د محکومیت پخواني آثار له منځه ځي او د یو عادي وګړي په توګه چې هېڅ جرم یې نه وي ترسره کړی او د خپلو ټولو ټولنیزو، سیاسي حقوقو د اجراء اهلیت ترلاسه کوي (احمدي، ۱۳۸۸، ص: ۲۰ ).

زمونږ ګران هېواد افغانستان کې د حیثیت اعاده په دوو عرفي او حقوقي معناوو سره کارول کېږي، په عامه عرف کې ځینې وخت پرته له کوم علت څخه د شخص عزت او حیثیت ته صدمه ورسېږي، د خلکو په اصطلاح کې حیثیت یې هتک شوی دی یا حیثیت یې له منځه تللی دی، یعنې شخص پرته له دې چې

کوم جرم یې ترسره کړی وي، د هغې پر عزت او حیثیت تجاوز شوی دی؛ اما په حقوقي حیثیت اعاده کې، شخص جرم ترسره کړی دی او منتظر دی، چې د وخت په تېریدو  د هغه حیثیت اعاده شي.

د عرفي حیثیت اعاده په قذف، افتراء، د اشخاصو توهین او ښکنځل او دې ته ورته نورو جرایمو کې واقع کېږي.

د بېلګې په ډول د اشخاصو د توهین او ښکنځلو په جرم کې د جزا کود ( ۷۰۲ ) ماده داسې صراحت لري:

( ۱ ) « که چېرې یو شخص بل ته د داسې کار ( امر ) نسبت ورکړي، چې د هغه له امله یې اعتبار یا حیثیت جریحه دار شي، که څه هم چې په یوې ټاکلې واقعې د استناد متضمن نه وي، د ښکنځلو د جرم مرتکب پېژندل کېږي، د دې فصل له حکمونو سره سم مجازات کېږي.

( ۲ ) هغه شخص چې بل په ناخوښو الفاظو مخاطب کړي د ښکنځلو د جرم مرتکب پېژندل کېږي.

د توهین یا ښکنځلو د جرم مجازات:

۷۰۳ ماده: « ( ۱ ) هغه شخص چې بل ته له علني وسایلو څخه په استفادې ښکنځلې وکړي، له لسو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانیو په نغدي جزا محکومېږي.

( ۲ ) هغه شخص چې بل ته د تیلفون یا ایمیل یا فکس یا الکترونیکي وسایلو یا مکتوب د استولو په واسطه توهین یا ښکنځلې ورته وکړي، له پینځو زرو تر شلو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

( ۳ ) هغه شخص چې حکومت یا ملي شورا توهین کړي، د دېرشو زرو افغانیو په نغدي جزا محکومیږي.»

( د جزا کود، ۱۳۹٦، ماده ۷۰۲، ص: ۵۳۷ ).

**جزایي د حیثیت اعاده**

هغه څه چې د جزا قانون د حیثیت اعاده ګڼي د مجرم په عمل پورې اړه لري. د عرفي حیثیت په اعاده کې د بې ګناه انسان حیثیت ته زیان رسېږي، خو د جزایي حیثیت په اعاده کې شخص د هغه جرمي عمل په مقابل کې چې ترسره کړی دی، د دې سبب شوی دی، چې حیثیت ته یې صدمه ورسېږي. دلته هېڅ بهرنی عامل د هغه د حیثیت د سلب سبب نه دی ګرځېدلی او یوازې هغه پخپله د دې لامل شوی دی. په حقیقت کې دا شخص د جرم په نتیجه کې له یو لړ ټولنیزو حقوقو څخه محرومېږي، یعنې د قانون په حکم حقوقي اهلیت له لاسه ورکوي، د حیثیت اعاده د اهلیت او د حقوقو د بیا اعاده ده. د جرمي حیثیت اعاده، یا د ټولنیزو حقونو بیا ترلاسه کول دي، کله چې مجرم شخص د خپل جرم او د قانون لخوا په ټاکل

شوي وخت کې د مجازاتو له تېریدو وروسته حیثیت بېرته ترلاسه کولی شي او بیرته د اهلیت څښتن کېږي( رسولي، ۱۳۹۷، ص: ۵۸۴ ).

**د حیثیت اعادې ډولونه**

د حیثیت اعاده کله د محاکمو د حکم پر اساس او هم کله د قانون د حکم پر اساس ترسره کېږي، پر دې اساس ویلی شو چې د حیثیت اعاده پر دوه ډوله ده چې د قضایي حیثیت اعادې او د قانوني حیثیت اعادې څخه عبارت دي او هر ډول یې تر بحث لاندې نیسو:

**لومړی- د حیثیت قضایي اعاده**

ځېني وخت د شخص د حیثیت اعاده د محاکمو او قضاتو له طریقه ترسره کېږي، د دې لپاره چې د قضایي حیثیت اعادې باندې ښه پوه شو، لاندې موضوعات تر بحث لاندې نیسو:

د حیثیت، قضایي اعاده هغه ده، چې د ټاکل شوې مودې تر تېریدو وروسته د حیثیت د اعادې لپاره د محکوم علیه له لوري عریضه محکمې ته وړاندې کېږي او د محکمې د حکم له صادریدو څخه وروسته او د قضاء د حکم پر بنسټ د شخص پخواني د جنایي قضیې محکومیت ټول آثار او نتایج په کامل ډول له منځه ځي او داسې انګېرل کېږي چې شخص اصلاً د کوم جرم مرتکب شوی نه دی( دانش، ۱۳۹۸، ص: ۱۲۹).

**د قضایي حیثیت د اعادې شرطونه**

د دې لپاره چې شخص د حیثیت قضایي اعاده شي، د دریيو شرطونو تحقق ضروري ګڼل کېږي.
- په لومړي قدم کې د محکوم علیه شخص د حیثیت د اعادې لپاره عریضه وړاندې کوي.
- په دویمه مرحله کې د محکوم علیه مرتکبه جرم جنحه او یا جنایت وي.
- په دریيم قدم کې د مجازاتو د تنفیذ له بشپړیدو وروسته باید ټاکلې موده تېره شوې وي.

کله چې د مجازاتو د تنفیذ څخه وروسته، هغه ټاکل شوي موده هم تېره شي او د دې مودې په جریان کې بل جرم هم ترسره نشي او د دې مشخصې مودې له تېریدو مخکې قضایي د حیثیت اعاده نشي ترسره کېدی او دا مشخصه موده د جزایي اجراآتو قانون پر بنسټ په لاندې ډول ټاکل شوې ده:
۱- د جنحې په جرم کې درې کلونه.
۲- د جنایت په جرم کې شپږ کلونه( دانش، ۱۳۹۸، ص: ۱۳۱ ).

که چېرې شخص متکرر مجرم وي، د دې شخص د حیثیت اعاده د جنحې یا جنایت جرم اړونده موده دوه برابره په نظر کې نیول کېږي.

- د حیثیت قضایي اعادې ردول: که محکمې ته معلومه شي چې د حیثیت اعادې عارض د حیثیت اعادې شرطونه نه دي تکمیل کړي، د محکمې له خوا د شخص د حیثیت قضایي اعاده ردیږي، چې په دې حالت کې د یو کال د ختمېدو څخه مخکښې شخص نه شي کولی بیا د قضایي حیثیت اعادې مطالبه وکړي.

- د حیثیت، قضایي اعادې منل: بل هغه حالت دی، کله چې محکمه د حیثیت قضایي اعادې ته رسېدنه کوي او په دې جریان کې محکمې ته دا معلومه شي، چې د حیثیت اعادې شرایط د شخص لخوا تکمیل شوي او شتون لري؛ نو محکمه د شخص د حیثیت د اعادې قرار صادروي او بله مهمه موضوع دا ده کله چې محکمه د شخص د حیثیت د اعادې د رد او یا د منلو قرار صادر کړي، دا قرار قطعي او نهایي دی او لوري په دې ارتباط اعتراض نه شي کولی (رسولي، ۱۳۹۷، ص: ۵۵۱).

**د قضایي حیثیت اعادې لغوه کېدل**

د حیثیت قضایي اعاده د مشروطه خلاصون او د مجازاتو د تنفیذ د تعلیق په شان په ځینو حالاتو کې لغوه کېږي، چې پر بنسټ یې د هغې حقوقي اعتبار له منځه ځي او لغوه کېدل یې د څارنوال د غوښتنې پر بنسټ ترسره کېږي او په لاندې دوو حالتونو کې تر بحث لاندې نیسو:

لومړی حالت: که چېرې د حیثیت اعاده د محکمې د قرار پر بنسټ ترسره شوې وي او وروسته محکمې ته معلومه شي چې پر محکوم علیه یوه بله پریکړه هم صادره شوې ده یعنې نوموړی شخص بل مخکنی محکومیت هم لري، یعنې د هغه محکومیت سربېره چې شخص پرې د حیثیت اعاده ترلاسه کړې ده، پخوا پر بل جرم باندې هم محکوم شوی وي؛ نو په داسې حالت کې محکمه کولی شي د حیثیث قضایي اعادې د لغوې حکم صادر کړي.

دویم حالت: که چېرې محکمه د حیثیت قضایي اعادې په تړاو قرار صادر کړي؛ خو وروسته معلومه شي چې شخص یو بل جرم هم ترسره کړی دی او د دې جرم په تړاو په مجازاتو باندې د شخص محکومیت د قرار له صدور څخه وروسته ترسره شوی وي؛ لیکن دا چې د هغه جرم د قرار له صدور څخه وړاندې ارتکاب شوی دی؛ نو د شخص د حیثیت اعاده لغوه کېږي. که هم د جرم ارتکاب او هم د شخص محکومیت د حیثیت اعادې له قرار څخه وروسته ترسره شوی وي، په داسې مواردو کې د شخص د حیثیت قضایي اعاده نه لغوه کېږي( دانش، ۱۳۹۸، ص: ۱۳۵ ).

**دویم- د حیثیت قانوني اعاده**

د حیثیت قانوني اعاده د قانون د حکم پر بنسټ ترسره کېږي، نه د محکمې د حکم پر اساس، د مجازاتو د تنفیذ د پای له نېټې څخه او د خصوصي عفوې د رامنځته کېدو له نېټې څخه او یا هم د مشروط خلاصون پر مطلق خلاصون باندې د اوښتلو له نېټې څخه د یوې ټاکلي مودې په تېریدو سره ترسره کېږي. یعنې د حیثیت قانوني اعادې څخه مطلب دا دی، چې قانون د جرایمو لپاره یو مشخصه موده ټاکي، چې د دې مودې له تېریدو څخه وروسته شخص بیا د حیثیت اعاده کېږي. په دې توګه د عریضې ترتیبول او محکمې ته مراجعه کول او د ځانګړو شکلیاتو ترسره کولو ته اړتیا نه لېدل کېږي( صالحي، ۱۳۹۸، ص: ۲۹۹ ).

د حیثیت قانوني اعادې د رامنځته کېدو لپاره ضروري ده چې د مجازاتو تنفیذ هم پای ته ورسېږي او هم د مجازاتو له تنفیذ څخه وروسته د یوې مودې تېریدل په نظر کې نیول شوي؛ ترڅو شخص په دې موده کې باید پر کوم جرم باندې مرتکب نشي. د افغانستان د **۱۳۹۳** هـ ش کال د جزایي اجراآتو قانون پر بنسټ دا موده په لاندې توګه ده:

۱- د جنحې په جرم کې پینځه کلونه.

۲- د جنایت په جرم کې لس کلونه( رسولي، ۱۳۹۴، ص: ۲۸۸ ).

البته، د حیثیت قانوني اعادې په اړه ویلی شو چې:

۱ - د افغانستان د **۱۳۹۳** هـ ش کال د جزایي اجراآتو په قانون کې د حیثیت د قانوني اعادې لپاره کوم ځانګړي شکلیات او اجراآت په نظر کې نه دي نېولي؛ نو د نوموړي قانون له مخې معلومه نه ده چې د حیثیت قانوني اعاده د مشخصې مودې په بشپړېدو سره په خپله پرته له ځانګړو شرایطو له ترسره کولو د قانون په حکم ترسره کېږي او یا د کومې بلې مرجع تائید هم اړین ګڼل کېږي؟ که چیرې د حیثیت اعاده په خپله ترسره کېږي؛ نو د شخص جنایي دفتر به څنګه پاکېږي، چې آیا د بلې مرجع اجراآتو او تأیید ته اړتیا ولري او که نه؟

۲- د جزایي اجراآتو قانون د حیثیت د قانوني اعادې د لغوې مواردو په ارتباط هم سکوت اختیار کړی دی، له دې سکوت څخه داسې معلومېږي چې د پخوانیو جرایمو په ارتباط د حیثیت قانوني اعاده د لغوې وړ نه ده( دانش، ۱۳۹۸، ص: ۱۳۷ ).

## د حیثیت اعادې حقوقي آثار او پایلې

د حیثیت قضایي اعاده او هم د حیثیت قانوني اعاده لاندې حقوقي پایلې لري:

۱ - د حیثیت اعادې په نتیجه کې د شخص مخکنی محکومیت له منځه ځي او محکومیت یې د جنایي دفتر څخه لېرې کېږي.

۲ - د حیثیت اعادې په نتیجه کې د شخص تبعي او تکمیلي مجازات متوقف کېږي، یعنې له هغو حقوقو او امتیازاتو څخه، چې مخکښې شخص ترې محروم و، د حیثیت له اعادې وروسته دا محرومیتونه منتفي کېږي او له ټولو حقوقو او امتیازاتو څخه استفاده کولی شي.

۳ - د حیثیت د اعادې حکم د ثالثو اشخاصو حقوقو ته زیان نه رسوي، هر هغه څه چې شخص یې په اداء کولو باندې مکلف وي، باید د هغې مستحق ته یې ورکړي( رسولي، ۱۳۹۴، ص: ۵۵۱ ).

## پایله

د دې کتابتوني علمي مقالې په اوږدو کې دې پایلو ته ورسیدو چې:

۱- که چېرې د یو شخص وقار، عزت او حیثیت ته صدمه ورسیږي، متضرر کولی شي، چې د خپل وقار او حیثیت د اعادې لپاره د قضایي ارگانونو څخه د حیثیت اعاده وغواړي، دې ته په عام عرف کې د حیثیت اعاده وايي، چې د افغانستان د قوانینو له نظره ورته د خسارې جبران په تېره بیا د معنوي خسارې جبران اصطلاح کارول کېږي او کله چې یو څوک پر جرم باندې مرتکب شي، له ځینو حقوقو څخه محرومېږي او د ځینو معاملاتو د اجراء اهلیت له لاسه ورکوي؛ نو د خپل مرتکبه جرم مجازاتو تېرولو سربېره هغه موده به هم بشپړوي چې په قوانینو کې پیش بیني شوي ده، چې دې ته جزایي د حیثیت اعاده وايي.

۲- کله چې یو شخص بل کس ته زیان ورسوي، مرتکب مکلف دی چې زیانمن ته تاوان ورکړي. که څه هم تاوان د خطا یا غلطۍ له امله وي، بیا هم مسؤول کس باید تاوان ورکړي. مهمه دا ده چې تاوان باید جبران شي؛ مگر مخکې له دې چې متضرر زیان د چا لخوا جبران شي، زیان رسوونکی شخص باید مسؤول وگڼل شي. کله چې یو څوک مسؤول وپېژندل شي؛ نو په دې صورت کې د ضرر رسولو قصد شتون یا نشتون د هغه تاوان په اندازه چې پرې واجب دی یا د تاوان ټوله اندازه چې په هغه واجب ده، اغېزه نه کوي.

۳- ضرر هر هغه نیمگړتیا او نقصان دی چې د شخص پر مال یا مالي حق یا جسم یا حیثیت یا شهرت یا شخصي عواطفو په ناحقه او غیر ارادي ډول د بل اړخ لخوا رامینځته کېږي.

۴- معنوي ضرر: معنوي زیان هغه تاوان ته ویل کېږي، چې د مادي زیان برعکس، په پیسو سره اندازه او ارزول کېدی نشي. معنوي زیان هر هغه عمل دی چې د افرادو وقار، حیثیت، عفت او آزادۍ ته زیان رسوي. داسې جرمونه شته چې خلکو ته مادي زیان رسوي، لکه د انسان د بدن، ژوند، روغتیا او کرامت په وړاندې جرمونه، کله ناکله ضرر یو غیر مادي اړخ هم لري، لکه د افرادو عزت او وقار ته زیان رسول، لکه قذف، بد رد ویل، توهین او داسې نور.

۵- جزایي د حیثیت اعاده یوه قانوني قاعده ده چې په پایله کې یې د اشخاصو د جزایي قطعي محکومیت څخه رامنځته شوی عدم صلاحیت له منځه ځي یعنې د مجرم څخه اخېستل شوی صلاحیت بېرته ورکول کېږي. د دې قاعدې څخه د ګټې اخېستنې شرط دا دې چې محکوم په ټاکلي موده کې پر جرم د لاس نه پورې کولو په صورت کې په ټولنه کې یو ځل بیا د نورمال ژوند تېرولو لپاره د خپل وضعیت اصلاح په ثبوت ورسوي.

٦- جزایي د حیثیت اعاده پر دوه ډوله ده چې د قضایي حیثیت اعادې او د قانوني حیثیت اعادې څخه عبارت دي. د حیثیت قانوني اعاده، د حیثیت قضایي اعادې برعکس، د قانون د حکم پر بنسټ ترسره کېږي او د حیثیت قضایي اعاده د محکمې د حکم پر بنسټ ترسره کېږي.

**وړاندیزونه**

۱- دا چې د افغانستان د **۱۳۹۳** هـ ش کال د جزایي اجراآتو په قانون کې د حیثیت د قانوني اعادې لپاره کوم ځانګړي شکلیات او اجراآت په نظر کې نه دي نېول شوي او معلومه نه ده چې د حیثیت قانوني اعاده د مشخصې مودې په بشپړېدو سره په خپله پرته له ځانګړو شرایطو له ترسره کولو د قانون په حکم ترسره کېږي او یا د کومې بلې مرجع تائید هم ضروري دی؟ که چېرې د حیثیت اعاده په خپله ترسره کېږي؛ نو د شخص جنایي دفتر به څنګه پاک کېږي، چې آیا د بلې مرجع اجراآتو او تأیید ته اړتیا ولري او که نه؟ که چېرې په راتلونکي کې قانون تعدیل کېده، د دې نقیصې رفع باید په نظر کې ونېول شي.

۲- همدارنګه بله نیمګړتیا چې د **۱۳۹۳** هـ ش د جزایي اجراآتو قانون کې شتون لري هغه دا ده، چې د جزایي اجراآتو قانون د حیثیت د قانوني اعادې د لغوې مواردو په هکله هم سکوت غوره کړی دی، له دې سکوت څخه داسې معلومېږي چې د پخوانیو جرایمو په تړاو د حیثیت قانوني اعاده د لغوې وړ نه ده. هیله ده، چې تقنیني ارګان د حیثیت د قانوني اعادې د لغوې مواردو د حل په خاطر په راتلونکي کې اقدام وکړي.

۳- د جزايي اجراآتو په قانون کې د متکرر مجرم په تړاو د حیثیت په قانوني اعاده کې، د حیثیت قضایي اعادې په څېر، د متکررو مجرمانو لپاره باید د نوموړي مودې دوه چنده یعنې د جنحې لپاره لس کلونه او د جنایت جرم لپاره شل کلونه په پام کې ونیول شي. البته که چېرته په دې ډول مواردو کې دا دوه چنده موده په پام کې ونه نیول شي. د متکررو مجرمانو د حیثیت په قضایي اعاده کې، د عادي مودې دوه برابره په پام کې نېول هم په خپله بې معنی ګرځي.

## مأخذونه

احمدي، حسین. ( ۱۳۸۸ هـ ش ). بررسي فقهي و حقوقي مسؤولیت و مصونیت قاضي. ( چ،۱ ). مشهد: مؤسسه نشر اسلامي.

تأیب، برکته الله. ( ۱۳۹۶ هـ ش ). فقهي قواعد. ( چ،۴ ). جلال آباد: حکمت خپرندویه ټولنه.

جاکسون، سان. جونز، چیرس. ( ۲۰۱۴ ). مباني حقوق وجایب افغانستان. کابل: پروژه تعلیمات حقوقي ( ALEP ) افغانستان.

جعفري لنګرودي، محمد جعفر. ( ۱۳۷۸ هـ ش ). ترمینولوژي حقوق. ( چ،۱۰ ). تهران: کتابخانه ملي ایران.

دانش، حفیظ الله. ( ۱۳۹۸ هـ ش ). د جزایی محاکماتو اصول. ج،۲. ( چ،۱ ). کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه.

دانش، حفیظ الله. ( ۱۳۹۹ هـ ش ). د وجایبو حقوق. ( چ،۱ ). جلال آباد: مسلم خپرندویه ټولنه.

رسولي، اشرف. ( ۱۳۹۴ هـ ش ). شرح و توضیح قانون اجراآت جزایي. ( چ،۲ ). کابل: انتشارات سعید.

رسولي، اشرف. ( ۱۳۹۷ هـ ش ).اصول محاکمات جزایي. ( چ، ۱ ). کابل: انتشارات سعید.

ستانکزی، پرویز. ( ۱۴۰۰ هـ ش ). اصول محاکمات جزایي. ( چ،۱ ). کابل: انتشارات نوی مستقبل.

ستانکزی، نصرالله. واصل، عبدالاقرار. نجیب، ظل الرحمن. رامز پور، ابوالاحرار. فریده، قادري. حکیمي، بریالی.( ۱۳۸۷ هـ ش ). د حقوقي اصطلاحاتو قاموش. ( چ،۱ ). کابل: پروژه عدلي و قضایي افغانستان.

سلطاني، عباسعلي. ( ۱۳۹۱ هـ ش ). مباني فقهي نهاد اعاده حیثیت. مشهد: دانشګاه فردوسي مشهد.

صالحي، محمد شفیع. ( ۱۳۹۸ هـ ش ). اصول اجراآت و محاکمات جزایي. ( چ،۱ ). کابل: انتشارات حامد رسالت.

عدلیې وزرات. ( ۱۳۵۵ هـ ش ). مدني قانون، حق. کابل: ټ۲، لومړی کتاب، پرله پسې ګڼه ۳۵۳.

عدلیې وزرات. ( ۱۳۹٦ هـ ش ). د جزا کود. کابل: پرله پسې ګڼه ۱۲٦۰، د عامه اړیکو او د نشراتو ریاست.

غلامي، حمیدالله. ( ۱۴۰۰ هـ ش ). شرح قانون اجراآت جزایي. ج.۱. ( چ.۱ ). کابل: مؤسسه انتشارات مدیقصو.

فرهیخته، شمس الدین. ( ۱۳۷۷ هـ ش ). فرهنګاو فرهیخته واژه ها و اصطلاحات سیاسي- حقوقي. ( چ.۱ ). تهران: انتشارات زرین.

مهدي، ناصر. ( ۱۳۹۷ هـ ش ). خسارات معنوي و طرق جبران آن. تهران: دانشکده حقوق دانشگاه ملي تهران.

نیا، کریمي. ( ۱۴۰۰ هـ ش ). مطالعه تطبیقي ضرر در حقوق ایران و افغانستان. تهران: وزارت فرهنګ و ارشاد اسلامي.

# د ژبې د پرمختګ او وروسته پاتې والي علتونه

پوهنوال میاولي شاه میاخېل ، شیخ زاید پوهنتون، د ژبو ادبیاتو پوهنځی، پښتو څانګه.
برېښنالیک: miawalishah@gmail.com

**لنډیز**

ژبه د تاریخ په اوږدو کې له یوې ټولنې نه بلې ته علمي پرمختګونه او لاسته راوړنې انتقالوي او د راتلونکو نسلونو د علمي پرمختګونو لامل ګرځي، د ځمکې پر مخ چې کوم انسانان ژوند کوي په مختلفو ژبو باندې خبرې کوي، په نننۍ نړۍ کې ۷۰۰۰ زرو پورې ژبې شتون لري، چې د هغوی له جملې څخه یې د ګوتو په شمار ژبې د یو شمېر عواملو پر بنسټ پر مختللي دي، د دغې مقالې په لوستلو سره اوس موږ کولی شو، چې د ژبې د پر مختګ او وروسته پاتې والي پر علتونو پوه شو، دغه څېړنه کتابتوني ده، د څېړنې مواد او وسایل معتبر، باوري او نوي چاپ شوي کتابونه او بریښنایي پاڼې دي، چې ګټه ترې اخېستل شوې ده. که چېرې د ژبې ویونکي په یو شمېر مواردو کې، لکه:( د ژبې اړیکې له ټکنالوجي سره، دژبې ویونکو په اساس علومو کې نوې اختراعګانې ، قوي اقتصاد، پرمختللې ټکنالوجي، دیني او کلتوري قوانینو لرل، ولسي ملاتړ، سیاست، اړیکې، متون، سوادګري ...) کې ښه وي، یعني پرمختګ یې کړی وي، نو د ژبې د پرمختګ سبب کیدلی شي.

(د ژبې پرمختګ او وروسته پاتې کېدو علتونه) تر سرلیک لاندې مقاله کې د ژبې ارزښت پېژندنه، همدارنګه د ژبې د پرمختګ او وروسته پاتې کېدو لاملونه د یو شمېر سرلیکونو لاندې، لکه: ( د ژبې اړیکې له ټکنالوجي سره، دژبې ویونکو په اساس علومو کې نوې احتراعګانې ، قوي اقتصاد، پرمختللې ټکنالوجي، دیني او کلتوري قوانینو لرل، ولسي ملاتړ، سیاست، اړیکې، متون، سوادګري ...) په ګوته شوې او ټول هغه موارد تشریح شوي، کوم چې د ژبې د پرمختګ سبب شوي دي او هغه لاملونه هم نښاني شوي، چې د هغې په وسیله ژبه پرمختګ نشي کولی.

**کلیدي کلمې:** اړیکې، ژبه، ژبې پرمختګ، وروسته پاتې والی، لاملونه

## سريزه

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ! الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين وعلى اله واصحابه اجمعين.**

**وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلَائِكَةِ فَقَالَ أَنْبِئُونِي بِأَسْمَاءِ هَؤُلَاءِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ. سورة بقرة ۳۱ ايات شريف. و قال النبى صلى الله عليه و سلم**

ادم علیه السلام ته يې ټول نومونه وښودل، بيا يې هغه ملايکو ته وړاندې کړل؛ نو ويې ويل: ما د دوی په نومونو خبر کړئ که تاسو (په خپله خبره کې) رښتيني ياست.

هغوی وويل: ته پاك يې، مونږ ته هېڅ علم نشته پرته له هغه نه، چې تا مونږ ته راښودلي دي، بېشکه، خاص ته ښه عالم، ښه حکمت والا يې.

ژبه د خپل ټولنيز ماهيت او ارزښت له مخې يوه کارنده وسيله ده، چې وګړي پرې له يو او بل سره خبرې اترې کوي او په خپلو کې پرې يو بل پوهوي راپوي، ژبه د يوې ټولنې د وګړو د تاريخي، فرهنګي او ټولنيز ارزښت د ساتلو وسيله ده، چې د ټولنې مادي، معنوي، کلتوري، سياسي او... لاسته راوړنې پرې خوندي وي، له يوې ټولنې نه بلې ته د هغوی علمي پرمختګونه او لاسته راوړنې انتقالوي او د راتلونکو نسلونو د علمي پرمختګونو لامل ګرځي، په دې مقاله کې د ژبې د پرمختګ او ورسته پاتې کېدو پر څرنګوالي خبرې شوې دي، همدارنګه د ژبې د پرمختګ په برخه کې يو شمېر عواملو، لکه: ( د ژبې اړيکې له ټکنالوجي سره، د ژبې ويونکو په اساس علومو کې نوې اختراعګانې ، قوي اقتصاد، پرمختللې ټکنالوجي، ديني او کلتوري قوانينو لرل، ولسي ملاتړ، سياست، اړيکې، متون، سوادګري ...) يادونه شوې ده، چې د يوې ژبې د پرمختګ او وروسته پاتې والي سبب ګرځي.

د دغې څېړنې اړتيا او ستونزه په دې کې وه، چې موږ ځان ته معلومه کړو، چې د ژبې پرمختګ او وروسته پاتې والی وپېژنو، او هغه لاملونه هم وپېژنو چې د يوې ژبې د پرمختګ او وروسته پاتې والي سبب کېږي ځکه يو شمېر کسانو سره په اړونده برخه کې ستونزې وې او زه يې دغې څېړنې ته وهڅولم او د هغو لوستونکو سره به مرسته وکړي چې په يادو برخوکې يې ستونزې لرلې او همدرنګه د دې څېړنې اهميت په دې کې و، چې د ژبې او ژبني پرمختګ پر ماهيت او څرنګوالي پوه شو او دندې يې وپېژنو او هغه پيچلتيا چې په ياده برخه کې موجوده وه، د څېړنې په جريان کې هغې ته ځواب وويل شو او اړوند موارد په روښانه ډول معلوم شوي دي، دغه څېړنه کتابتوني ده، د څېړنې مواد او وسايل معتبر، باوري او نوي چاپ شوي کتابونه او بريښنايي پاڼې دي، چې ګټه ترې اخېستل شوې ده.

## د څېړنې موخې

۱ –دژبې ارزښت پېژندنه ، ۲- د ژبې د پرمختګ او وروسته پاتې والي علتونو پېژندل ، ژبې او ادب اړيکې له ټکنالوژۍ سره ۳- د هغو ژبو پر څرنګوالي پوهيدنه، چې بېساری پرمختګ يې کړی.

**د څېړنې تګلاره**

د (د ژبې د پرمختګ او وروسته پاتې والي علتونه) تر سليک لاندې د مقالې مېتود تشريحي او ډول يې کتابتوني دی ، د موضوع د بشپړې روښانتيا له پاره هڅه شوې، چې د ياد سرليک اړوند معلومات له بېلا بېلو نويو او د باور وړ منابعو څخه راټول شي، له تحليل او تشريح څخه وروسته لوستونکو لپاره ټول هغه موارد په ګوته کوي، چې د ژبې پرمختګ او وروسته پاتې کېدو سبب کېدلی شي.

**د ژبې د پرمختګ او وروسته پاتې والي علتونه**

په دې لويه ارته ځمکه کې چې کوم انسانان ژوند کوي په مختلفو ژبو باندې خبرې کوي، په نننۍ نړۍ کې ۷۰۰۰ زرو پورې ژبې شتون لري، چې د هغوی له جملې څخه يې د ګوتو په شمار ژبې پر مختللې دي، لکه: انګليسي، چينايي، فرانسوي، جرمني، هسسپانوي، روسي او عربي. دا ځکه چې د همدغو ژبو وګړو په ډېر زيار او کوښښ سره نوې اختراعګانې، قوي اقتصاد، پرمختللې تکنالوجي او همدارنګه د طبابت په برخه کې د قوي درملو او واکسيننو منځته راوړل همدا لاملونه دي، چې ژبو يې په بې ساري ډول پرمحتګ کړی دی. کومې ژبې چې پر مخ ځي يا پر مختګ کوي ځولا ملونه لري، چې په لنډ ډول بايد ورته نغوته وکړو.

**د ژبې او ادب اړيکې له ټکنالوژي سره**

ژ به او ادبيات د انسان د فردي او ټولنيز ژوند يوه مهمه برخه ده، په نننۍ نړۍ کې به ډېره ګرانه وي چې زموږ د ژوند کومه برخه دې د معاصرې ټکنالوژۍ له اغېز لرې پاتې وي، پخوا چې معلوماتي ټکنا لوژي په افغانستان کې نه وه دود شوې، حتی زموږ د ادبياتو له اوسنۍ دورې مخکې په ټولو دورو کې دا ډول اسانتياوې نه وې، نو د شاعرانو شعرونو او د ليکوالو ليکنې تر ټولنې پورې نه رسيدلې، خپل ټولنيز اغېز او پيغام يې نه شو خورولی، ډېر ديوانونه او شعرونه د شاعرانو په ژوند نه دي چاپ شوي. نن چې موږ د نړيوال جال(انټرنېټ) په برکت د خواله او ټولنيزو رسنيو په زمانه کې ژوند کوو، نو د شاعر تازه ليکل شوی شعر او کيسه شېبه وروسته په ويبپاڼه او خواله شبکه د هغه سلګونو او زرګونو مينه والو ته رسېږي. دا په اديبانو پورې اړه لري چې معلوماتي ټکنالوژي او نورې اسانتياوې څنګه د خپلې ژبې او ادب د غوړيدا او پرمختګ په ګټه کاروي، نن چې پښتو ژبه د کمپيوټر او بريښنايي وسايلو ژبه ده، نو ژبه او ادب هم بايد په دې وسايلو کې خپل مينه وال او مخاطبين ورک نه کړي، بايد له ژوند سره موازي مزل وکړي او له خپلې اصيلې ښکلا سره اړيکه هم هېره نه کړي. (رحماني، ۱۳۹۵ ل، ص. ۴۰)

**لومړی:** هغه ژبه پر مخ تللی شي چې ديني، مذهبي او کلتوري قوانين يې په خپله ژبه وي، لکه عربي ژبه موږ او تاسو ټول د دې شاهدان يو چې د عربي ژبې د پرمختګ غټ لامل همدا دی، لوی او ستر

آسماني کتاب قران غظیم شان په عربي ژبه باندې راغلی، د احادیثو لو ی کتابونه د مذاهبو فقهي مسایل د نړۍ ټول مسلمان ملت له هغوی استفاده کوي او د ژوند په چارو کې يې عملي کوي، وګړي يې پر خپله لیک او لوست پرې کوي او په اسلامي نړۍ کې هم دیني زده کړې په همدې ژبه مروجې دي.

**دویم اقتصاد:** د نړۍ پر مخ چې کوم زبر ځواک هېوادونه موجود دي او خپل اقتصاد يې غښتلی کړې او کوم بل هیواد ته يې د فقر لاس نه دی اوږد کړی، د ډېر کار او زيار په نتيجه کې يې خپلې اړتیاوې پوره کړې دي، د ژوند ټول سهولتونه يې د خپلو وګړو له پاره مهيا کړي دي، لویې، لويې فابريکې، لکه د موټرو، د تعمیراتي سامان الاتو فابریکې او همدارنګه نور، نوځکه به يې ژبې هم پرمختګ کوي. لکه اوسني وخت کې چین او انګلیستان هېوادونه، ژبې يې څومره د پرمختګ په حال کې دي. او بل دا چې زیات نفوس درلودل هم د پرمختګ یو لامل کیدای شي. (وحدت، ۱۳۹۸ ل، ص. ۲۵)

**درېيم احتراعګانې:** د تکنا لوجۍ کوم پرمختللي وسایل چې موږ په ورځني ژوند کارو او ښه ګټه ترې اخلو، په دغو احتراعګانو کې چې کوم هیوادونه لاس لري عبارت له انګلستان، جرمني، فرانسه، روسیه او د امریکا متحده ایالات دي، د همدغو ممالکو ژبې د نړۍ له سترو پرمختللو ژبو څخه ګڼل کېږي، کله چې نوی شی کشف کړل شي، د خپلې ژبې نوی ویی(لغات) ورته پیداکوي، چې بیا نورو ژبو ته همغه لغات ور دننه کېږي، لکه زموږ د هېواد ملي او رسمي پښتو او دري ژبو ته راغلي وییونه دي، مثال موبايل، کمپیوټر، فیسبوک، ټویټر، ګوګل او داسې نور.

**څلورم ولسي ملاتړ:** که موږ د ګران هېواد دوه رسمي او ملي ژبې پښتو او دري ته ځیر شو د نړۍ د نورو ژبو څخه ډېرې په ټيټه کچه کې قرار لري، دا ځکه چې کومې کړنې د یوې ژبې د پر مختګ لامل کېږي، هغه مو نه دي ترسره کړي، یواځینۍ د پښتو ژبه وه چې د ویونکو په ملا تړ ژوندۍ پاتې شوه، په اوسني وخت کې ورته پاملرنه شوې، د ځینو لیکوالانو، ادیبانو او ژباړونکو له خوا آن په ګوګل کې يې شاملیدل نه هیردونکې خدمت بللی شو.(9 : https: shariat daily.com ).

د کابل پوهنتون پښتو څانګې استاد ښاغلي عبدالسمیع وحدت په خپل یو اثر(تولیدي فونولوجي) کې هم یو شمېر لاملونه په ګوته کړي دي، چې د ژبې په وده کې رول لري، لکه: استعمار، سوداګري، اړیکې، مذهب، دولت، متون، تکنالوجي، چې ځینې په دې ډول تشریح کوي

((**استعمار:** په شمالي امریکا کې لومړني مېشت شوي استعمار چیان انګلیسان ول، نو له دې امله د هغوی ژبه (انګریزي) د متحدوایالاتو ژبه وګرځیده، همدغسې په لاتیني امریکا هسپانویان لومړني مېشتېدونکي یرغلګر ول، نو د هغوی ژبه (هسپانوي) هم له دې لارې د جنوبي امریکا په ډېرو هېوادنو کې حاکمه شوه.))

**سوداګري:** امریکایي، برتانوي او کاناډایي سوداګران د نړیوالې سوادګرۍ ډېره برخه په لاس کې لري، نو همدا ده چې، د نړۍ په ډېرو سیمو کې انګریزي پرمختګ کوي او د ډېرو هېوادنو دویمه ژبه ګرځېدلې ده. (ملال، ۱۳۹۱ ل، ص. ۲۱)

**پنځم سیاست:** په حقیقت کې د ژبني سیاست عملي کول انفرادي او د عامو خلکو کار نه دی، دا حکومتونه دي، چې د علمي بنسټونو په مرسته ژبو ته تګلارې او سیاستونه ټاکي او د همدې سیاستونو پر بنسټ ژبې له نویو تحولاتو سره مخ کېږي، ځینې ژبې ودې کوي او ځینې ژبې له منځه ځي. ( امیري، ۱۴۰۲ ل، ص. ۴۶)

**شپږم سفرونه:** کله چې له هېواده بهر هر سفر کېږي، په ژبني لحاظ یو لړ پایلې لري، یوه یې دا ده، چې یوه ژبه ژباړل کېږي، زده کېږي، یا در باندې تپل کېږي، ویلی شو، چې بهر ته سفر په تدریجي ډول او د وخت په تېرېدو سره پر ژبه د یوه اغېزناک عامل په توګه اوړي، که اوس مهال له انګلیسي څخه نړیواله کار اخېستنه روانه وي، نو دې ژبې ته به په همدې ډګر کې هم ځانګړی پام اوړي، شواهد هم همدا وایي؛ هغه کسان چې نړیوال سفرونه کوي، نو د کاري ناستو، پوهنیزو غونډو، نړیوالو هوکړه لیکونو کې، سپورتي پېښو کې، نظامي ښکلاکونو اوپه نورو رسمي راغونډېدوکې مجبور دي، چې د مېشتېدنې او لېږد را لېږد په برخه کې د خپلو ستونزو د هواري لپاره انګلیسي ته مخ واوړوي (ښمر، ۱۳۹۷ ل، ص. ٦٧).

**پایله**

د دې مقالې د پایلې په توګه ویلی شو: د ژبو ترمنځ د ښه والي او بد والي خبره یا د ژبو د پرمختګ او وروسته پاتې کیدو مسولیت تر ډېره بریده خپلو ویونکو ته ور ګرځي، که چېرې د ژبې ویونکي په یو شمېر مواردو کې، لکه:( د ژبې اړیکې له ټکنالوجي سره، د ژبې ویونکو په اساس علومو کې نوې احتراعګانې ، قوي اقتصاد، پرمختللې ټکنالوجي، دیني او کلتوري قوانینو لرل، ولسي ملاتړ، سیاست، اړیکې، متون، سوادګري ...) کې ښه وي، یعني پرمختګ یې کړی وي، نو د ژبې د پرمختګ سبب کیدلی شي او که چېرې د یادو مواردو برعکس حالت رامنځ ته شي، نو د ژبې د وروسته پاتې کیدو حالت سره مخامخ کېږي. اوس موږ ته د ژبې د پرمختګ هغه لاملونه را معلوم شول، کوم چې د ژبې په وده کې رول لري، نو په کار ده، چې د خپلې ژبې پر وړاندې بې پروایي او ناغیرې ونه شي او د یوه مهم ارزښت او هویت په توګه یې د پرمختګ او پیاوړتیا هڅې وکړو، دا هم معلومه شوه چې په دې لویه ارته ځمکه کې چې کوم انسانان ژوند کوي په مختلفو ژبو باندې خبرې کوي، په نننۍ نړۍ کې ۷۰۰۰ زرو پورې ژبې شتون لري، چې د هغوی له جملې څخه یې د ګوتو په شمار ژبې پرمختللي دي، لکه: انګلیسي، چینایي، فرانسوي، جرمني، هسسپانوي، روسي او عربي، د یادو ژبو د پرمختګ لاملونه هم په

ګوته شوي دي. لکه د دوی د ډېر زیار او کوښښ سره نوې اختراعګانې، قوي اقتصاد، پرمختللې تکنالوجي او همدارنګه د طبابت په برخه کې د قوي درملو او واکسینونو منځته راوړل همدا لاملونه دي، چې ژبو یې بې ساري ډول پرمختګ کړی دی.

**وړاندیزونه**

۱ – ژبو او ادبیاتو پوهنځی په ځانګړي ډول پښتو څانګه دې سیمینارونه جوړ کړي او هغه موارد دې په ګوته کړي، چې ژبې، ادب او رسنیو تر منځ اړیکې ښکاره کوي.

۲- استادان دې په اړونده برخه کې محصلینو ته کورنۍ دندې ورکړي، تر څو محصلین ښه پوهه تر لاسه کړي.

۳- د ژبو اودبیاتو پوهنځی اړونده څانګو استادان دې هم په یاده برخه کې خپل معلومات راټول او د مقالو په بڼه دې یې چاپ کړي.

**مأخذونه**

امیرزی، شفیق.(۱۴۰۲). وړمه(علمي څېړنیز ژورنال)، شپږشپیتم کال، پرله پسې(۱۲۸۹) ګڼه.
رحماني، ګل رحمن. (۱۳۹۵). زرلټون. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه
ښکلی، اجمل.(۱۳۹۶). ادبستان. ننګرهار: کلاسیک خپرندویه ټولنه.
ښمر، ایمل.(۱۳۹۷). یو ویشتمه پېړۍ کې او د ژبو پایښت(تېزس) . کابل پوهنتون: ژبو او ادبیاتو پوهنځی.
کرګر، محمد اکبر.(۱۳۹٦). فرهنګي بحثونه. میهن خپرندویه ټولنه، پېښور.
محبوب. محبوب شاه.(۱۳۹٦). پښتو ژبدود. جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.
ملال، حمدالله. (۱۳۹۱). د رسنیو ادره. خوست: حسین احمد چاپ خانه.
وحدت، عبدالسمیع.(۱۳۹۸). تولیدي فونولوجي. کابل: پکتوس کتابپلورنځی.
https: shariat daily.com

# په عامه اړیکو کې د مطبوعاتي کنفرانس اداب، اصول او اغېز

پوهنوال محمد خان نیازی، شیخ زاید پوهنتون، د ارتباطاتو او ژورنالیزم پوهنځی د عامه اړیکو ځانګه.
برېښنالیک: belalahmad2020@gmail.com

**لنډیز**

مطبوعاتي کنفرانس د رسنیو له مختلفو بڼو جوړېږي چې په خبري او اطلاعاتي ډګر کې ساری نه لري، چې نوښتګرو خدماتي، تولیدي ادارو مسئولین او مبتکر کسان ي تر سره کولی شي، مطبوعاتي کنفرانس د وخت له سپما سره ځانګړی خبري ارزښت، اصول او اداب لري، مختلفې ادارې او سیاسیون یې د سیاسي پېښو او دریځ څخه د خبرېدا په خاطر د رسنیو له لارې په داسې حال کې چې مسلکي سیاسیې څېرې، متجرب خبریالان او د بهرنیو هېوادو نو سفیران ورسره وي دایروي، دوی له دې لارې خپل دریځ، نوښت او غوښتنې هېواد والو او نړی والو ته د رسنیو د مختلفو بڼو له لارې رسوي. هدف مو له دې مقالې څخه په اداري چارواکو له لوري د مطبوعاتي کنفرانسونو له لارې د خپلو فعالیتونو خپرول دي، ځکه مسئولین زیات مهم کارونه، ترسره کوي، نوښتونه کوي، ستونزه دا ده چې د نه پاملرنې له کبله یې کړنې تر خلکو نه رسېږي، دلته مهمه دا ده چې ملي کارونه چې ټولنه تراغېز لاندې راولي باید تر خلکو ورسېږي، څو هغوی د ادارو له کړنو خبر او باوري شي. پوښتنه مو داده چې ولې په ادرو کې مهمې کړنې تر سره کېږي خلک او ځینې وخت د ادارې داخلې عوام هم نه وي خبر؟ ستونزه څه ده ! خبرې نه شي کولی که یې په چل نه پوهېږي؟! میتود: د مقالې میتود کتابتوني بڼه لري ځکه ما د مختلفو مسلکي عالمانو له اثارو ګټه اخیستې، که چیرې اداري د مهمو مسایلو په اړه مطبوعاتي کنفرانس دایر کړي له داخلي او خارجی عوامو سره به هیڅ شک او شبهه پیدا نه شي، د څېړنې موندنې ښیي چې! هغه ادارې او مسلکي خلک چې په خپل کار، مدیریت او اداره کې ځیرک او پنځوونکي وي هغوی په مناسب وخت کې له خپلو کړنو څخه د خبرېدا په خاطر له مطبوعاتي کنفرانس څخه ګټه اخلي او هغه څوک چې په اداره کې ناست وي پلان او تدبیر ورسره نه وي نه په خپله پوهېږي او نه هم خلک هغه ډول اغېزمنولی لکه څنګه چې لازم دی، که مسئولین، امیران او اداري مشران له رسنیو سره ښې اړیکې ولري، د خپلو چارو لپاره رسنی وکاروي، ترتیب او تنظیم یې کړي هغه څه چې دوی غواړي تر ټولنو یې ورسوي تر سره کولی شي. نتیجه: که اداري مسئولین د مطبوعاتي کنفرانس پر جوړښت او تنظیم باندې حاکم وي، د ژبي فصاحت او بلاغت ولري کولی شي چې له نوښتونو او کړنو ټول خلک خبر او اغېزمن کړي ځکه هغه څه چې دوی ترسره کړي، خلک خبر شوي او ترې متاثره شوي دي.

**کلیدي ټکي**: اداب، ارزښت، اغېز، جوړښت، نتیجه، نوښت ،مطبوعاتي کنفرانس.

**سریزه**

**بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ! الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین.**
**قال تعالی ج فی کتابه المجید ( الرَّحْمَنُ، عَلَّمَ الْقُرْآنَ، خَلَقَ الْإِنسَان، عَلَّمَهُ الْبَيَانَ) القران،الرحمن،ایه.۴) (اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ، الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ،عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ.**

ژباړه: رحمان خدای ج هغه ذات دی چې قران یې ښودلی دی هغه چاته، چې اراده یې د ښودلو وه، خدای هغه ذات دی چې انسان یې پیدا کړی دی او بیا یې دې انسان ته بیان ښودلی دی(خبرې) چې د زړه رازونه پرې ادا کېږي) ولوله اې محمده ص قران په داسې حال کې چې رب ستا کریم ذات دی، هغه ذات چې ښودلی یې دی(خط انسان) ته په قلم سره پوه کړی یې دی انسان په هغه څه چې مخکې پرې نه پوهېده) (په پښتو ژبه د قرات تفسیر، دویم ټوک ۱۹۰۸م).

اوسنۍ نړۍ د سیالي او رقابت نړۍ ده، هر څه په رقابت او سیالي سره تر سره کېږي، نو هر یو غواړي چې د رقابت او سیالي په ډګر کې له نورو په چارو کې وړاندې او غښتلی وي، څو له خپلو کړنو، افکارو، نظریاتو، معلوماتو او نوښتونو تولیداتو او خدماتو څخه زیات خلک خبر کړي، د همدې هدف لپاره مطبوعاتي کنفرانس دایروي او د رسنیو مسئولین، سیاسي کار پوهان او ځیرک متجرب خلک رابولي؛ مطبوعاتي کنفرانس په رسنیو کې اصلاً د خبري ژانرونو ځانګړې بڼه او د مخامخ ارتباط بهترین ډول دی چې؛ د عامه اړیکو او مختلفو ملي، شخصي نړۍ والو ادارو او سازمانو له خوا جوړېږي، څو له خپلو کړنو، سیاسي دریځ، اقتصادي وړتیا او پرمختګ څخه نړۍ خبره کړي د همدې موخې لپآره د مختلفو رسنیو(تلویزیون، رادیو، ورځپاڼو، مجلو...) خبریالان راغواړي، څو خپل تر ملي نړۍ والو سازمانونو، ادارو او حکومتونو یې ورسوي، په همدې موخه په دې علمي مقاله کې د مطبوعاتي کنفرانس د جوړښت په اصولو، ادابو ځانګړتیاوو په اړه علمي مسلکي معلومات لیکل شوي دي؛ چې د عامه اړیکو مسلکي غړي، ژورنالستان او د ذکر شوي ډګر مینه وال ترې علمي، مسلکي او عملي ګټه اخیستلی شي.

څرنګه چې د عامه اړیکو اداري مسئولین، حکومتي،ګوندي سیاسي مشران، د شخصي ادارو څښتنان او د ملي او نړۍ والو سازما نونو مدیران غواړي چې د خپلو تولیدي، خدماتي ملي او نړۍ والو موضوعاتو په اړه خپل دریځ، نظر او فکر د رسنیو پر مټ تر نورو ورسوي، له مطبوعاتي کنفرانس څخه ګټه پورته کوي، ځکه پر مټ یې په کم وخت کې د نړۍ تر لرې پرتو تنابونو خپل پیغام رسولی شي.

## موخې

د دې مقالې موخې عبارت دي له:

- ټولې ادارې به د مطبوعاتي کنفرانس په ارزښت، اغېز او ګټه پوی شي.
- ادارې به د مطبوعاتي کنفرانس اداب او اصول وپېژني، تنظیم او اداره وکولی شي.
- ادارې به عملا په چارو کې له مطبوعاتي کنفرانس څخه ګټه پورته کړي.
- د ادارو غړي به چارو کې د وخت د ضایع کېدو مخه ونیسي.
- د ادرې غړي به له مختلفو پوښتنو او د دوی په اړه له بهرنیو افکارو خبر شي.

د لیکنې میتود: مطبوعاتي کنفرانس په رسنیز ډګر کې واضح او روښانه تاریخ لري، له همدې کبله دا موضوع خورا لرغونې او د ادارو له عصري جوړښت سره یو ځای را منځ شوې، له همدې کبله د مقالې د لیکلو میتود کتابتوني دی او ورسره زموږ د څو لسیزو مسلکي تجربې دي چې د ژوند او مسلک په ډګر کې مو تر لاسه کړې دي.

ارزښت: د مطبوعاتي کنفرانس ارزښت فوق العاده زیات دی، په کم وخت کې یې پیغام تر لرې پرتو سیمو، خلکو، ادارو او ټولنو پورې رسېږي، همدارنګه، د خپلو کړنو، پلانونو او نوښتو نو په اړه د مختلفو رسنیو له استازو سره مشوره کولی شي، له مسلکي متجربو خلکو سره بلدېږي، له نوښتونو او خدماتو یې په کمو مصارفو زیات خلک خبرېږي، د خپلو چارو په اړه د مختلفو متجربو ژورنالستانو او مسلک پوهانو تجربې ګوري، نظریات یې اوري او په مناسب وخت او ځای کې ترې ګټه پورته کوي (شینواری،۱۳۹۲ش،ص ص.۲۰-۲۱).

## په عامه اړیکو کې د مطبوعات کنفرانس اداب او اصول

دعامه اړیکو په وسیلو کې هره وسیله ځان ته ځانګړنې، اداب، وړتیاوې، ارزښت او ښېګړې لري، له همدې کبله د ډله ییزو رسنیو د هرې بنې او برخې کارونه ځانګړې موخې، تکتیک، ارزښت او اغېز لري، همدا علت دی چې ملي او نړۍ والې ادارې، د عامه اړیکو مدیران، مسئولین او حکومتي منصوبین د وخت د نه ضایع کېدو لپاره هڅه کوي چې د خپلو چارو او کړنو د خبربدا په خاطر له مطبوعاتي کنفرانس څخه ګټه واخلي؛ مطبوعاتي کنفرانسونه د ادارو له خوا د مختلفو اهدافو د تر لاسه کولو لپاره جوړېږي، خو د ارتباطاتو او ژورنالیزم پوهانو د مطبوعاتي کنفرانسونو د جوړېدو لپاره لاندې مهم موضوعات په ګوته کړي، چې په اړه یې ادارې کولی شي ذکرشوی کنفرانس دایر او له جوړښت څخه یې فوق العاده ګټه پورته کړي. په مطبوعاتي کنفرانس کې د رسنیو مختلفې بڼې، ډلې، ادارې، د خبري اژانسونو نامتو

مسلکي غړي او ژورنالستان را غونډل کېږي، رسمي دعوت نامې، لیکونه او معلومات ورکول کېږي، څو د موضوعاتو په تړاو دقیق او کره معلومات تر ټولې نړۍ، سیمې او ټولنې ورسېږي، عموما په لاندې چارو کې له مطبوعاتي کنفرانس څخه ګټه اخیستل کېږي.

- دسیاسي نظریاتو د خپرېدو په خاطر: څرنګه چې په نړۍ کې مخلف سیاسي ګوندونه، ادارې او سازمانونه شتون لري، هره اداره غواړي چې د مختلفو ملي او نړۍ والو مسایلو په اړه خپل سیاسي دریځ څرګند کړي، ښه ارزانه، غښتلې او پیاوړې لار یې د مطبوعاتي کنفرانس جوړول او د مختلفو رسنیو، اژانسونو او مطبوعاتي ادارو رابلل دي څو یې د موضوعاتو په تړاو له دریځ څخه ټوله نړۍ خبره شي، د سورې د ولس مشر تښتېدل، د سورې پرخاوره د حزب التحریر واکمېدل، د اسرایلو ظالمانه تعرض او دې ورته پېښې هغه څه دي چې د نړۍ مختلف مشران، سیاسي څېرې او حکومتونه به یې په اړه خپل دریځونه څرګند کړي دبیګې په ډول په همدې ورځو کې د سورې د بدلونو  نو په اړه حالات او د نړۍ والو سیاسي دریځونه وڅارئ.
- د موضوعاتو د رد او غبرګون په خاطر: نړۍ د مختلفو پېښو شاهده ده، هر هېواد او حکومت ځانګړې موخې او ګټې پالې، کیدای شي د دوی ګټې د ځینو نورو هېوادونو او حکومتونو لپاره خطر یا زیان وي، نو په همدې اساس سیاسي مشران د موضوع د تردید په خاطر د مطبوعتي کنفرانس تابیه نیسي او خپل نظر څرګندوي، څو د پېښو په تړاو، نړۍ وال له خپل سیاسي دریځ څخه خبر کړي، د منځني ختیځ، فلسطین او، اوکراین په اړه د امریکا د نوي ولس مشر ټرمپ ځانګړي نماینده خلیل زاد او نورو نړۍ والو مشرانو متضاد دریځونه ښې  بېلګې بللی شو.
- د ناڅاپي پېښو او موضوعاتو په خاطر: په نړۍ کې د انساني ناروا غوښتنو او ظالمانه کړنو له کبله په ثانیه کې سلګونه پېښې را منځ ته کېږي، ولې ځینې یې دومره خطرناکې وي، چې حکومتي چارواکي او مسئولین لازم ګڼي چې په اړه یې ملت خبر شي، څو د ځان ساتنې او ژغورنې په خاطر تدابیر ونیول شي، د ورته مسایلوڅخه د خبرېدا په خاطر ضروري دی چې مطبوعاتي کنفرانس تشکیل او د رسنیو پر مټ د مشرانو غږ تر هر کور، کلي، جیب او غوږه ورسېږي، کرونا یې ښه بېلګه وه چې رسنیو یې د مخنیوي لپاره د ټول بشریت لپاره لومړی او ساینس پوهانو یې دویمه او ډاکټرانو  یې دریمه درجه چوپړ ترسره کړ.
- د عامه افکارو د لاس ته راوړنې په خاطر: څرنګه چې د حکومت لپاره د ملت شتون لازم دی، نو سیاسي مشران ډېری وخت هڅه کوي، چې د سیاسي پایښت، بقا او ملاتړ په خاطر عامه افکار

له ځان سره ولري، ځکه دوی خپله سیاسي پالیسي د عامه افکارو په شتون کې پلې کوي او ځینې وخت ټولنه د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره ډال گرځوي، نو د مهمو موضوعاتو په اړه چې غواړي د عوامو رضایت تر لاسه کړي، مطبوعاتي کنفرانس رابولي او د رسنیو له لارې خپل فکر تر عوامو رسوي او له ځان سره یې همغږي کوي، د د سورې د ظالم حکومت مخالف ازادي د سالار غږ پر خپل ملت  ځومره زخمونه پټی کړل چې! چې د هېواد ټول پ،هنتونونه او مکتبونه دې خپلو علمي کړنو ته دوام ورکړي، ټول مامورین دې خپلو چارو ته لاړ شي هیڅوک دې له چا څخه انتقام نه اخلي، خلک له خوښي څخه د ښار کوڅو ته را غلل همدغه د ټونې د عامه افکارو لاس ته راوړنه ده.

- د تبلیغاتو د مخنیوي په خاطر: ننني نړۍ د تبلیغاتو نړۍ ده، متل دی چې رښتیا راځي دروغو به وطن وران کړی وي، د همدې موخې لپاره چې عوام د مضرو تبلیغاتو ښکار نه شي، د ځینو هغو مسایلو په اړه چې په ټولنه کې د بې  ځایه تبلیغ زمینه سازي ورته کېږي، ځیرک او هوښیار حکومتي چارواکي هڅه کوي، چې عوام له دې ډول ناکاره تبلیغاتو څخه خبر کړي، د دې لپاره چې ژر دا موضوع ټول ملت ته ورسېږي، مسئولین ټولې رسنۍ  مطبوعاتي کنفرانس ته را بولي او د شویو تبلیغاتو په اړه خپل دریځ څرگندوي، د مخنیوي هڅه یې کوي، د ایران او اسرائیلو تر منځ د بالستیک توغندیو د استعمال او یو بل ته هڅول د غربي رسنیو تبلیغات زموږ لپاره ژوندۍ تبلیغاتي بېلگې دي.
- د منفي او بې ځایه فشارونو د مخنیوي په خاطر: ځینې وخت سیاسیون د یو  بل، تر منفي اغېز لاندې راولي ځو د مقابل لوري اغېز ومني، په ځانگړي ډول په انتخاباتي کمپاینونو او سیاسي مسایلو کې کې زیات را منځ ته کېږي، د افغانستان ، فلسطین او، اوکراین پر سر د امریکا د سیاسي مشرانو ترمنځ کړ کېچ یې ښه بېلگه ده ځکه  دوی یو پر بل پړه اچویځکه دوی یو دبل ماتې او خپلې ملي گټې د عامه افکارو د را خپلولو په خاطر  تر سره کوي، په داسې حالاتو کې سیاسي مشران د رسنیو لپاره مطبوعاتي کنفرانسونه چمتو کوي او خپل سیاسي فکري هوډ تر خپلو پلویانو رسوي ځو مقابل طرف مایوس او خپل نظر تر هدف وړ ټولنې ورسوي په پایله کې پر عامه افکارو د منفي تاثیر مخه نیسي ښه بیلگه یې زموږ لپاره په ۲۰۱۴م کال کې د خارجي ځواکونو د وتلو پرېکړه وه، چې د رسنیو له لارې مختلف کمپاینونه ، بحثونه، مناظرې او کنفرانسونه کېدل ولې افغان ملت او سیاسیونو یې هېڅ پروا ونه لرله، ځکه کله چې امریکایان نه وو موږ چا ساتلو؛ اوس چې امریکا نشته څوک مو ساتي، الحمد لله ځومره امن دی.

- د نېکو اړيکو د جوړېدو او پايښت په خاطر: دا عصر د رسنيو د ځواک او واک عصر دی، هر حکومت ورته ضرورت لري ځکه د پوهاوونو په وينا( موږ له رسنيو پرته هيڅ يو ) همدا رسنۍ دي چې زموږ اواز تر لرې پرتو ملتونو، سيمو هېوادونو او حکومتونو رسوي، نو له همدې کبله سياسيون او مسئولين مجبور دي چې له رسنيو سره ښې اړيکې ولري، نو ځينې وخت د ښو روابطو او دوستانه فضا د رامنځته کېدو په خاطر دولتي چارواکي رسنۍ را دعوتوي او يو دوستانه مطبوعاتي کنفرانس جوړوي، دلته ممکن سياسيون مختلفې موخې ولري خو مهم دا ده چې ژورنالستان يې تر اغېز لاندې را نه شي او خپل رسنيز مسئوليت ته متوجه وي ځو هغه اسلامي، ملي، بشري او مسلکي رسالت چې لري د بې ځايه تبليغاتو او شخصي ګټو ښکار نه کړي او هم د اداري بې باوري له لاسه ورنکړي، ځکه هر ژورنالست ديوې ټولنې او عقېدې غړی دی، د مسلک اخلاق او اداب دا سپارښتنه ورته کوي چې هيڅکله د ټولنې له معنوياتو سره په ټکر کې واقع نه شي، ځکه موږ د ټولنې ريښتيني نماينده ګان يو نه دښمنان، خاينان او مفسدين، د ګران هېواد افغانستان په اړه د نړۍ د مختلفو زيرځواکونو،ګاونډيانو او لرې پرتو ملتونو سره زموږ د حسنه اړيکو په اړه که زموږ حکومتي چارواکي مطبوعاتي کنفرانسونه داير کړي سفيران، سياسيون او رسني را دعوت کړي دابه يې په زړه پورې بيلګه وي.
- دنويو تو ليداتو او نوښتونو د ښودنې په خاطر: انساني ژوند ورځ تر بلې پېچلی او غښتلی کېږي، د ژوند د ضرو رتونو د پوره کولو او د وخت د غوښتنو په خاطر انسانان مختلف مشکلات لري چې د حل په تړاو يې هڅې کوي، د حل مناسبې لارې لټوي ځو انسانيت له غمه خلاص کړي، د سرطان د واکسين اختراع د روسي ساينس پوهانو يو نه هېرېدونکی غنيمت او نوښت دی، د داسې موضوعاتو لپاره د مطبوعاتي کنفرانس را غوښتل او دا پيغام نړۍ ته رسول يو لوی نعمت دی؛ نو ځينې وخت د نويو نوښتونو او اختراعاتو د خپرېدا او رسونې په خاطر مطبوعاتي کنفرانس جوړېږي چې له همت، عظمت او هڅو يې ټوله نړۍ خبره شي، ځکه په نړۍ کې ځينې داسې مغلق مسايل را منځ ته کېږي، چې که ټولنه ترې ناخبره پاتې شي زيان مومي (افتخار،۲۰۱۵م،ص،۲۴۹).
- د اداري له کړنو څخه د خبرېدا او رازونو د افشا په خاطر: هر انسان په خپل کار کې مصروف دی د ځينو چارې د نورو لپاره غنيمت او د ځينو لپاره مسئوليت بلل کېږي، هر هغه مامور چې په خپل کار کې ښه وځلېږي همت او هڅې يې د نورو لپاره يو ارزښتمن کار بلل کېږي، چې د لا غوړېدا او هڅېدا په خاطر يې مسئولين مطبوعاتي کنفرانسونه جوړوي، ځو خلک خبر او

مامور لا د کار متې راونغاړي، ولې ځینې دا سې هم وي چې، له خپل مسئولیت او شتون څخه یې ناوړه ګټه اخیستې وي ټولنې ته یې د ګټې په ځای زیان اړولي وي، په داسې دواړو حالاتو کې مسئولین مجبورېږي چې مطبوعاتي کنفرانس چمتو او رسنۍ را وغواړي څو د خپلو کارونو د ستاینې په اړه ټولنه او چارواکي خبر کړي او هم هرهغه څوک چې له واک او صلاحیت څخه ناوړه ګټه اخلي د مجازات او مکافات لړۍ عملي کړي، ځکه همدا رسنۍ دي چې ظالمو واکدارانو له ظلم او وحشت څخه د نړۍ هر کونج په څو دقیقو کې خبروي.

په هر حال مطبوعاتي کنفرانس د ټولو (تولیدي، خدماتي او ایډیالوژیکو) ادارو لپاره خورا مهم دی چې چمتو کول یې زیات ارزښت، زحمت، ځیرکتیا او کار ته اړتیا لري او پر مخ وړل یې ځانګړې وړتیا، ځیرکتیا او علمي، مسلکي ویښتابه او کره تجربو ته اړتیا لري چې هر څوک له دې عهدې نه شي وتلی او نه یې هم کنترولولی شي (نیازی، ۱۴۰۲ش،ص.۹۷).

## د مطبوعاتي کنفرانس د جوړښت اصول

د رسنیو هره برخه ځانګړي ارزښتونه، اخلاق او اصول لري چې په عملي کولو سره یې رسنیز فعالیت غښتلی کېږي، رسنیز باور، د پوهښن ساحه او پلویان یې زیاتېږي، حکومتونه او مسئولین د خپلو قوانینو، اصولو، مقرراتو د پلي کېدا، د ټولنې د خبرېدا په خاطر هڅه کوي چې له رسنیو سره نه شلېدونکې اړیکې ولري، د ذکر شویو مو خو لپاره ځینې وخت مطبوعاتي کنفرانسونه چمتو کوي څو د پېښو او خوځښتونو په اړه خپل دریځ څرګند کړي، د ژورنالیزم او ارتباطاتو پوهانو د مطبوعاتي کنفرانس لپاره یو لړ ځانګړي مهم اصول ټاکلي چې د مطبوعاتي کنفرانس د جوړښت په وخت کې باید په نظر کې ونیول شي، ځکه د ذکر شویو اصولو په نظر کې نیولو سره د کنفرانس ارزښت، اغېز زیاتېږي، د پوهښن کار یې اسانه کېږي، ژورنالستانو او د رسنیو استازیو ته سهولت برابرېږي او بالاخره هغه څه چې اداره یې غواړي لاس ته راځي، چې په لنډ ډول یې ستاسو حضورته وړاندې کوم.

- مناسب ځای: د مطبوعاتي کنفرانس د جوړېدو لپاره لومړی ګام د مناسب ځای شتون دی، ځکه رسنۍ زیاتې مصروفې دي د وخت د نه ضایع کېدو، د ځای د ژر پیدا کېدو لپاره لازم دی چې په مشهو، معلوم او پراخ ځای کې جوړ شي څو خبریالان له ترافیکي ستونزو سره مخامخ نه شي، د هر ډول تخنیکي مسلکي وسایلو وړل او استعمال ممنوعیت ونه لري، په موجوده عصر کې (پریس کلب) مهم ځایونه دي ځکه دوی خاص د همدې موخې په خاطر جوړ شوي دي څو وکولی شي ځینې خبریالان له خپل مرکزي دفتر سره مستقیما اړیکې ولري، په ژوندی بڼه راپور ورکړي، دا

ډول ځای برابرول د ادارې او رسنیو د خبریالانو لپاره ځانګړی ارزښت او اغېز لري، ځکه چې کنفرانس په رسنیو کې ښه رسنیز کېدای او ځلېدای شي.(نیازی،۱۴۰۲ش،ص.۹٦).

- د مناسب وخت ټاکل: له مناسب ځای وروسته، په مطبوعاتي کنفرانس کې دو یم د مناسب وخت ټاکل دي، ځکه د رسنیو لپاره وخت مهم عنصر دی او هغه اداره چې کنفرانس یې جوړ کړی، د هغو لپاره هم وخت زیات ارزښتمن دی، ځکه د دواړو اړخونو موخه د کنفرانس د موضوعاتو خپرول او پروخت تر خلکو رسول دي، د مسلکي عالمانو د قول مطابق د اونۍ په اوسط ورځو (یکشتبه، دوشبنبه او سه شنبه) دسهار له (۱۱بجو څخه د مازدیګر تردرېیو بجو) پورې وخت د مطبوعاتي کنفرانسونو لپاره مناسبې ورځې دي، ځکه د اونۍ په سر او اخر کې پر ادارو د کارونو بوج وي، په ذکر شویو ورځو او وختونو کې دوی کولی شي له ژوندیو رپوټونو سره ځینې یې خبري سرویسونو ته هم بشپړ معلومات ورکړي، څو په یو وار له رسنیو څخه د موضوع په تړاو زیات خبرونه، راپورونه او معلومات خپاره شي، که چېرې په نا مناسب وخت کې مطبوعاتي کنفرانس دایر شي ممکن اغېز یې کم او لږ خلک یې پیغامونه واوري ځکه په نا مناسب وخت ډیری رسنۍ او خلک مصروف وي نه شي کولی چې رسنیو ته مخه کړي.
- د دعوت نامو لېږل: درېیم ګام د رسنیو مختلفو ادارو، سفارتونو، سیاسیي ګوندونو ، موسسو، نامتو سیاسي وکړو، کره مسلکي پوهانو عالمانو، رسنیزو ادارو، ژورنالستانو او شخصیتونو ته د دعوت نامو چمتو کول او لېږل دي، په دعوت ناموکې د مطبوعاتي کنفرانس موضوع، ځای، وخت او د کنفرانس د ادارې مکل معلومات او ادرس پکې لیکل شوی وي له ټاکلې ورځې مخکې تولو ته رسېدلې وي، که ضرورت وي، تلیفون کول هم ځینو هغو مصروفو ادارو او شخصیتونو ته چې مهم وي لازمي ګڼل کېږي، څو د رسنیو ادارې پر ټاکلي وخت مسلکي ژورنالستان او تخنیکي همکاران ور ولېږي؛ ځکه دا ډول کنفراسونه د نویو ژورنالستانو لپاره له متجربو او غښتلیو ژورنالستانو سره یو مسلکي، رقابتي ډګر دی، دلته ځینې پوښتنې په هغو وړ او باتجربه ژورنالستانو پسې لیکل کېږي چې د مطرح کولو وړتیا یې لري (نیازی، ۱۴۰۳ش، ص ص. ۳۳-۳۷).
- د میلمنو د ځانګړي لست چمتو کول: د نامتو ژورنالستانو، مسلک پوهانو، تجربه لرونکو او مشهرو خلکو د لېست چمتو کول اداره په دې اطیمناني کوي چې زموږ په را غوښتل شویو خلکو کې د نظر، وړتیا او کار خلک شامل دي، دوی کولی شي زموږ پیغام تر موخو ورسوي، غوښتل شوي خلک باید څو ورځې مخکې د موضوع په تړاو خبر کړل شي، د تلفون شمېرې او ایمل درسونه یې له ځان سره ثبت کړل شي څو د ضرورت په وخت خبرې ورسره وشي، ځکه دا ډله خلک مختلفې

کره مشورې اداري ورکوي، له را پېښېدونکو ستونزو مو خلاصوي نو له دوی سره اړیکې خورا مهې او لازمې وي.

- د ژورنالستانو لپاره د ناستې ځانګړی ځای: عموما په مطبوعاتي کنفرانسونو کې د ژورنالستانو بیرو بار زیات وي، نو د کنفرانس د اداري لپاره لازم دی چې د ناستې لپاره داسې مناسب ځای ولري چې له هر ډول مهمو او ضروري وسایلو سره نژدې او، وصل وي، له مسئولینو څخه په اسانۍ پوښتنې وکړ شي، د هغوی غږ واوریدل شي، ځواب ورکړل شي، کېدای شي ځینې رسنۍ په ژوندی بڼه راپور خپروي، نو لازم دی چې هیڅ ستونزه ونه لري لنډه دا چې ژورنالستان له ټولو اسانتیاوو څخه برخمن وي، او دا د مطبوعاتي کنفرانس د جوړېدونکې اداري مسئولیت دی چې اسانتیاوې برابرې کړي.
- پر ټاکلي وخت د کنفرانس پیل: په رسنیزو ادارو کې، د خبري موضوعاتو ارزښت په وخت، تازه والي او د خبري موضوع په ارزښت پورې تړاو لري، ځکه وخت په رسنیز ډګر کې مهم عنصر ګڼل کېږي، نو د کنفرانس اداري ته لازم دی چې په ټاکلي وخت کار پیل کړي څو د رسنیو مسئولین خپل رپوټونه تر مرکزي ادارو د خپرېدا لپاره پر ټاکلي وخت ورسوي که پر خپل وخت پیل نه شي ممکن رسنۍ منفي رپوټ خپور کړي چې دا بیا د اداري لپاره یو منفي ټکی دی، همدارنګه په دې عصر کې  خبري موضوعات زښت زیات دي، که وخت ضایع شی ممکن د زیاتو مهمو خبري موضوعاتو فرصت او خبرونه له لاسه ورکړي او نورې هغه اداري چې دوی سره مثبت مسلکي رقابت لري مخکې شي (افتخار،۲۰۱۵م،ص.۲۵۱).
- دموضوع مناسب وضاحت: د پیغام د انتقال لپاره د ژبې فصاحت، په موضوع حاکمیت او رسنیو ته وړاندې کول ځانګړي مهارت، وړتیا، تجربې او خوږې با حکمته ژبې ته اړتیا لري، که  هر ډول ترتیبات او مراسم ونیول شي چې دا برخه کمزورې وي، اداره خپل هدف نه شي تر لاسه کولی، حضرت موسی علیه السلام  د الله پیغمبر و د ژبې فصاحت یې نه درلود نو الله ج ته دعا  او زارۍ کولې چې! یا الله ورور هارون راته وزیر کړه، ځکه هغه له ما څخه په ژبه کې ښه فصاحت او بلاغت لري، څرنګه چې د الله یو استازی ته د ژبې فصاحت مهم او ضروري وو نو  نو د مطبوعاتي کنفرانس لپاره چې کار یې د معلوماتو، وړاندې کول، خلکو ته رسول، د هغوی قناعت حاصلول او پښتنو ته ځواب ورکول دي زیات مهم او لازم دي. ځکه د موضوع په تړاو وضاحت لازمي عنصر دی، د اداري پیغام باید داسې روښانه او ځلانده وي چې د ټولنې هرډول وګړي یې په معنی او مفهوم پوی شي.

- پوښتنو ته مناسب وخت: مطبوعاتي کنفرانس د سوال او ځواب ورځ ده، د عامه اړیکو مسئول (PRO) باید خپله مسلکي ژبنیزه او تجربوي وړتیا دلته په ډاګه کړي، د هر چا پوښتنې ځواب کړي، په مطبوعاتي کنفرانس کې خبریالان زیات او مرکه کېدونکی یو کس دی، نو مهمه ده چې پوښتو ته مناسب ځوابونه ورکړل شي، څو هر خبریال له شک او شک پرته په ټولو پوښتنو او ځوابونو باندې پوی شي، که چېرې سوال او ځواب واضح نه وي د پوښتنو رش جوړېږي، بالاخره د دواړو اړخونو د وخت د ضایع کېدو باعث ګرځي.
- د تحریری موادو چمتو کول: د مطبوعاتي کنفرانس د ورکوونکې ادرې لپاره مهم ګام د کنفرانس د موادو (بروشر، پمپلېټونو، چارټونو، بینرونو، رسالو، معلوماتي پاڼو او مطبوعاتي اعلامو) چاپول دي څو د کنفرانس ټول حاضرین له چاپي موادو برخمن شي، دا ځکه مهم دي چې ممکن ځینې پوښتنې، شکونه ولري، ژورنالستان کولی شي چې له چاپ شویو موادو څخه معلومات ترلاسه کړي، د کنفرانس په منځ او پای کې بیا ضرورت نه پیدا کېږي چې له ادارې بې ځایه پوښتنې وشي، مطبوعاتې اعلامیې په مطبوعاتي کنفرانسونو کې د رسنیو پر غږو ویشل کېږي، د رسنیو نماینده ګان ځینې اړین معلومات ورڅخه اخلي او په خبري رپوټونو کې یې خپروي، په ځانګړي ډول هغه ارقام، شواهد او موضوعات چې خورا دقت او ثقت ته اړتیا لري د رسنیو مسئ،لین یې له چاپ شویو موادو څخه تر لاسه کوي.
- د په زړه پورې چاپېریال برابرول: د رسنیو کار تل له ستونزو ډک وي، ځکه د ژوند په مختلفو اړخونو کې مصروف وي څو د ټولنې د ارمانونو او غوښتنو د پوره کولو پیغامونه تر مسئو لینو ورسوي، چې په دې برخه کې چاپیریال هم ځانګړی ارزښت او اغېز لري،که د مطبوعاتي کنفرانس د جوړولو اداره د رسنیو د نماینده ګانو د خوښي او خوشحالي په خاطر داسې ځانګړی چاپیریال برابرکړي، چې ټولو ته په زړه پورې وي، دا نو بیا په کنفرانس کې ځانګړی اغېز او ارزښت لري، ځکه خبریالان له دا ډول چاپیریال سره د زړه له کومي مینه لري او تل هڅه کوي چې دا ډول ماحول ته ځان ورسوي.
- د تخنکي اسانتیاوو ارزونه: څرنګه چې په مطبوعاتي کنفرانس کې د رسنیو له هرډول وسایلو څخه کار اخیستل کېږي نو ادارې ته لازم دي چې د وسایلو د ځای پر ځای کولو، د اواز د ثبتولو، خپرولو، په ژوندی بڼه د لېږلو او نور ټول هغه مسلکي او تخنیکي اړخونه په نظر کې ونیسي چې د دوی د پیغامونو او معلوماتو په خپرولو، او لا غښتلي کولو کې مهم کردار اداکولی شي، په دې کار سره اداره څو ګټې کوي، خپل پیغام تر هدف وړ خلکو پر وخت رسوي، راغلي

میلمانه خوښ ساتي، د بیا راتلو لپاره زړه ښه کوي، پر اداره یې باور زیاتېږي او بالاخره د یو صمیمي دوست حثیت غوره کوي.

- د مناسبې ورځې ټاکل: ژوند پېچلی دی ځینې اداري پرته له دې چې څوک خبر کړي یا مشوره ورځخه وغواړي په خپل سر یو پروګرام پیلوي، دا ډول کړنې د ادارې او مربوطه خلکو تر منځ ستونزې را منځ ته کوي، له همدې کبله د مطبوعاتي کنفرانسونو لپاره د مناسبو ورځو ټاکنه یو بل مهم اصل دی چې پاملرنه یې لازم ګڼل کېږي، ځکه چې په ځینو ورځو کې چې ځانګړې وي د مطبوعاتي کنفرانس لپاره لازمې نه دي، لکه دعا شورى، ازادي، اخترونو او داسې نورې ملي او مذهبي ورځې د مطبوعاتي کنفرانس لپاره مناسبې نه دي، ځکه په دې ورځو کې حکومتي، دولتي مسئولین، مختلف مذهبي علمي وګړي او مهم سسیاسیون او رسنۍ په ځانګړو مسایلو مصروف وي، نه شي کولی مطبوعاتي مسئلې داسې خپرې کړي لکه څرنګه چې لازم دي، ځکه دوی په بل ځانګړي پروګرام کې مصروف دي، چې ممکن له کنفرانس څخه عالي او مهم وي، له همدې کبله لازم دی چې کنفرانس په داسې ورځو کې باید جوړشي چې زیات مهم خلک ګډون پکې وکړي او د ادارې موخه تر لاسه شي.
- د خوښي او ساعتیري پروګرام جوړونه: رسنۍ او سیاسیون، ملي او نړۍ والې ادارې تل یو له بل سره په ارتباط کې وي، د دې لپاره چې اړیکې یې لا غښتلې او پایښت ومومي، ښه خبره دا ده چې د مطبوعاتي کنفرانس جوړوونکې اداري د رسنیو د مسئولینو او نماینده ګانو لپاره د خوښي او تفریح ځانګړی پروګرام برابر کړي څو په خپل منځ کې د خوښي وړ ساعتیري شیبې ولمانځي په دې پروګرام سره د ادارو، ژورنالستانو او رسنیو د نماینده ګانو تر منځ مینه، اخلاص او همدردي پیدا کېږي، یو له بل سره مشورې او افکار تبادله کېږي، تجربې یې سره شریک کېږي، همدارنګه کولی شي زیات داسې مسایل سره مطرح کړي چې له دې مخکې نه وي سره پرې غږېدلي.

### د ژورنالستانو لپاره د مطبوعاتي کنفرانس اداب

مطبوعاتي کنفرانس د ژورنالستانو لپاره د روزنې، تجربو او نوښتونو ډګر دی، په دې ځای کې د رسنیو تر منځ د رقابت ځانګړی ډګر هم دی ځکه دلته د ژورنالستانو تر منځ دښو پوښتنو، مسلکي تجربو او نوښتونو ځانګړی روزنتون دی چې هریو د خپلې تجربې او مسلک په رڼا کې له ادارې څخه ځانګړې پوښتنې کوي، د دې لپآره چې ژورنالستان د کنفرانس ټول راز او تر لاسه او خپل

هدف ته ورسېږي نو لازم دی چې لاندې اداب چې د ژورنالیزم د مسلک پوهانو له خوا ټاکل شوي جدي مراعات کړي (افتخار، ۲۰۱۵م، ص. ۲۵۳).

- ✓ د مناسبو پوښتنو مطرح کول: په مطبوعاتي کنفرانس کې موضوع معلومه وي نو د خبریالانو لپاره لازم دی چې مناسبې پوښتنې مطرح کړي که پوښتنې یې نا مناسبې وي د اداري مسئولینو له خوا ځواب نه ورکول کېږي.
- ✓ دپوښتنې لهجه باید نرمه وي: ژبه د انساني روابطو افضل نعمت دی په ځای کارونه یې د وړ خلکو کار دی، څرنګه چې په کنفرانس کې مختلف مسلکي خلک وي نو خبریال ته لازم دی چې د پوښتنو لهجه یې خورا نرمه، غښتلې او پسته وي څو د مرکه کېدونکي زړه را خپل کړي او پوښتنو ته یې مناسب ځواب ووایي ځکه خوږه ژبه زړونه خپلوي او په ژبه کې له حکمت څخه کار اخیستنه د ځانګړي کمال خاوندان کولی شي هرڅوک له دې برخې برخمن نه دي.
- ✓ د موضوع مطابق پوښتنه: څرنګه چې د کنفراس موضوع معلومه وي نو لازم دی چې د موضوع مطابق پوښتنې مطرح کړل شي، ګټه به یې دا وي د ټولو خبریالانو پوښتنې به ځواب، د تکراري پوښتنو او وخت د ضایع کېدو مخه به ونیول شي، د موضوع مطابق پوښتنې او د وړ زایو پیدا کول په رسنیو کې د خاصو ځیرکو او متجربو خلکو کار دی نه د هر چا.
- ✓ دلنډو او جامع پوښتنو مطرح کول: ښې مسلکي پوښتنې هغه دي چې لنډې با معنی او جامع وي څو له هر اړخه اداري او خبریالان راضي وساتل شي، ځکه په دلایلو ولاړې پوښتنې ځانګړی مهارت او تجربه غواړي.
- ✓ د نوبت مراعاتول: څرنګه چې خبریالان په کنفرانس کې زیات وي نو د پوښتنو د مطرح کولو نوبت خورا مهم دی، د ګډ وډې مخه نیول کېږي، د هر چا پوښتنې ته غوږ نیول کېږي او ټولو هغو پوښتنو ته ځواب ویل کېږي، چې مهمې وي.

دا چې مطبوعاتي کنفرانسونه د ادارو او رسنیو دواړو لپاره مهم، اغېزمن او ارزښتمن من دی نو ژورنالستانو، نویو خبریالانو او د رسنیو کارکوونوکو ته لازمه ده چې لاندې اړین ټکي په پام کې ونیسي (وفا،۱۳۸۸ش،ص.۸۳).

مطبوعاتي کنفرانسونه داوږدو او پیچلو پو ښتنو ځای نه وي، پوښتنې باید لنډې، د قیقې مسلکي او ژورې وي.

خبریال نه یوازي دا چې، د خپلې پوښتنې ځواب ته غلی وي، بلکې د نورو خبر یالانو د پوښتنو ځوابونو ته به هم د قیق متوجه وي، څو د موضوع په تړاو له کنفرانس څخه ښه معلومات تر لاسه او رپوټ یې کړي (جمالزی،۱۳۸٦ش، ص، ص.۵۵-۵٦).

- ✓ خبریال باید پوه وي، چې په خپله مطبوعاتي کنفرانس د موضوع یو ځانګړی اړخ دی چې ممکن اداره او رسنۍ ورڅخه په ټاکلو او مهمو هغو برخو کې چې د د دوی پالیسي یې ایجابوي وکاروي ولې، دیادولو وړ ده چې مطبوعاتي کنفرانس به هغه وخت بنسټیز ارزښت ولري چې د یو پراخه نظر په چوکاټ کې برابرشي.(برهمند،۱۳۹٦ش،ص.۲۴٦).
- ✓ دا هم باید په یاد ولرو چې، د کنفرانس روحیه د خبریال په ذهن کې وي، نه د مصاحبه کېدونکي د وینا په اقتباس، نه د راډیو او ټایپ په ثبت او نه د قلم په کښل شویو انځورونو کې، هرڅومره چې، خبریال د دغې روحیې د را ایستلو او د کاغذ پرمخ د لیکلووړتیا ولري، په همغه اندازه به یی رپوټ غښتلی او په زړه پورې وي، د پوهاند هاله په وینا: همدا ځای دی چې تجربه، مسلک ته ژمنتیا، ژبنۍ وړتیا کاري غښتلتیا او مسلکي ځیرکتیا د کار او عمل په ډګر کې واک درکوي چې د کنفرانس موضوعاتو ته مثبت او ګټور اړخ ورکړی او داسې راپور چمتو کړی ستاسو د لا بري باعث وګرځي).
- ✓ مخکنۍ مطالعه: د پوښتنو په تړاو مخکې له مخکې مطالعه کېږي، مسلکي وړتیا په دې ځای کې ژورنالست ته داسې اړخونه ور په ګوته کوي چې ځینو ورته پام نه وي، ځکه د ادارې له خوا موضوع دوی ته مخکې له مخکې ورکول شوې وي نو تکړه، باتجربه او نوښتګر خبریالان زیات وخت له پوښتنو څخه پوښتنې را پیدا کوي او د موضوع مختلف اړخونه له مسئولینو څخه پوښتي، چې د ژورنالستانو دا کړنه بې سارې او د نویو خبریالانو لپاره د زده کړې مهم سنګر بلل کېږي، په مطبوعاتي کنفرانسونو کې باتجربه، زړه ور، مسلکي ژورنالستان ښې پوښتنې مطرح کوي، د استاد هاله په وینا ذکر شوې پوښتنې بیا د دوی په نوم ثبېږي، نوي خبریالان د پوښتنې کولو جرئت نه لري، بلکې د نورو خبریالانو له پوښتنو څخه استفاده کوي، همدارنګه د دوی د مسلکې روزنې لپاره مناسب ځای دی، ځکه دوی د نورو خبریالانو له پوښتنو څخه په زړه پوري مواد راټولوي اوجا لب رپوټ ترې جوړوي.

په مطبوعاتي کنفرانسونوکې د مطبوعاتو، راډیواوتلویزیون خبریالان، په عین وخت کې یو له بل سره هم رقابت او هم همکاري کوي، د ګډې موخې تعقیبول یانې د ګډو پوښتنو وړاندې کول او د یوشان ځوابونو لاسته راوړل، دوی یوله بل سره نږدې کوي، دوی له خاصو تکتیکونو څخه په

کاراخیستلو سره د کنفرانس بشپړانځور خلکو ته وړاندې کوي، د خبريالانو د غه یوځای او ګډ عمل د دې باعث ګرځي، چې په رپوټ کې د موضوع د ډېر لږکمی راشي، ولې د اوسنۍ نړۍ اقتصادي، سیاسي، فرهنګي او ملي پالیسیو ته په کتو خبريالان د خپلې رسنيزې ادارې د پالیسي مطابق خبري زاوې او اړخونه را اخلي ځکه ذکر شوې رسنۍ د ادارې پالیسي پالي او ځینې وخت مسلکيي اخلاق او اصول له پښو لاندې کوي او موضوع ته ځانګړی لوری ورکوي(د فلطسین او اسرایلو د جګړې رپوټونه چې نړۍ والې رسنۍ( بی بی سي. سی ان ان او الجزیره) یې خپروي، ژوندۍ بېلګې دي، که په دقت ورته ځیر شی پوی به شی چې په څومره مهارت سره غربي رسنۍ د مظلوموانسانو پر اوازونو بالبنت ږدي او د ظالمانو لوری پالي.

### د مطبوعاتي کنفرانس ځانګړتیاوې

موږ مخکې وویل چې مطبوعاتي کنفرانس د اطلاعاتي ژورنالیزم له ډلې څخه حسابېږي او د مرکې ځانګړې بڼه ده، دا چې مرکه څو بڼې لري او هره یوه یې بېلابېلې ځانګړتیاوې لري، د دې لپاره چې په ځانګړتیاوو یې پوی شو لنډ یې توضیح کوو، څو یې د مرکې له بڼو سره توپیر په ګوته شي.

- د شریکانو له کبله: دا معلومه خبره ده چې په مطبوعاتي کنفرانس کې یو مرکه کېدونکی او نور ټول شریک خلک خبريالان وي؛ ولې د مرکې په نوور بڼو کې دا بڼه مختلفه وي، مرکه یو کس کوي پوښتونکي ښه ډېر وي.
- د خپرېدا له کبله: مطبوعاتي کنفرانس خبر او موضوعات د ټولو رسنیو له خوا په یو وار خپرېږي ممکن د رسنیو له خوا مختلف راپورونه پرې جوړ شي، د موضوع مختلفې برخې او زاویې روښانه شي، ځکه هره رسنۍ یې د خپلې پالیسي مطابق د کنفرانس تول اړخونه، اغېز موخې او ارزښت ته په کتو خبرونه خپروي، ممکن ځینې یې په ژوندۍ بڼه خپور کړي، حال داچې د مرکې نورې بڼې ممکن د یوې رسنۍ له خوا خپره شي، هلته فقط یو رسنۍ له چا سره مرکه کوي، نو له همدې کبله د مطبوعاتي کنفرانس اغېز د مرکې د نورو بڼو په نسبت زیات موثر اوغښتلی دی.
- دځوابونو له کبله: په مطبوعاتي کنفرانس کې ځواب ویونکی یو کس (اداري مسئول) وي د پوښتنو ځوابولو ته پابند، مجبور او ژمن وي، ځکه اداري خبريالان د ځانګړې موخې لپاره را دعوت کړي وي، حال دا چې د مرکې په نورو بڼو کې د رسنیو اداري خلک راغواړي یا ورپسې ورځي چې د خبريالانو پوښتنو ته ځواب ووایي، یعنې مسئله بالکل سرچپه دی (افتخار، ۲۰۱۵م، ص.۲۵۴).

- ژوندۍ بڼه: په دې معنی چې مطبوعاتي کنفرانسونه د ځینو رسنیو له خوا په همغه لحظه په ژوندۍ بڼه خپرېږي، د مرکې کولو لپاره زیات ضرورت نه لیدل کېږي، ټول اورېدونکي، لوستونکي او لیدونکي هر شی په ژوندۍ بڼه ویني، حال دا چې د مرکې په نورو بڼو کې زیات اختلاف او توپیر لیدل کېږي.
- بلنه: په مطبوعاتي کنفرانس کې رسنۍ او ژورنالستان را بلل کېږي، دعوت نامې ورلېږل کېږي، حال داچې د رسنیو په نورو بڼو کې رسنۍ مسلکي خلک رابولي، کور، یا دفتر ته ورپسې ورځي، څو مقابل شخص مرکې کولو ته وهڅوي چې د موضوع په تړاو معلومات ورکړي (نیازی،۱۴۰۲ش،ص ص ۹۶-۹۷).
- د جوړښت له کبله: مطبوعاتي کنفرانس د ادارې له خوا د ځانګړو مراسمو، موضوعاتو او معلوماتو لپاره چمتو کېږي، ټولو رسنیو ته ځانګړې ځای او وخت ورکول کېږي، احترام یې کېږي، ولې د مرکې په نورو بڼو کې یوکس غوښتل کېږي فقط د موضوع په تړاو پوښتنې ترې مطرح کېږي او ځوابېږي.
- چاپي لنډ معلومات ورکول: هره اداره چې مطبوعاتي کنفرانس رابولي نو د ژورنالستانو لپاره ټول هغه موضوعات، معلومات او اطلاعات چې په اړه یې مطبوعاتي کنفرانس جوړ شوی په چاپي بڼه مخکې له مخکې چمتو کوي او ژورنالستانو ته یې په واک کې ورکوي، څو د ضرورت په وخت کې له هغو څخه مناسب، دقیق او کره ارقام واخلي، که کوم ځای کې ستونزه وي، د کنفرانس په جریان کې له مسئولینو پوښتنه کوي څو یې قناعت حاصل شي ،ولې د مرکې په نورو برخو کې خبریالانو ته څوک چاپي لنډ معلومات نه ورکوي بلکې په شفاهي توګه ورسره غږیږي، که څوک د لیکلو پوښتنو ځواب غواړي هغه هم بیا پوره او کره نه وي، دلته اداره په خپله لېواله ده چې په ټولو هغو برخو کې چې دوی غواړي کنفرانس ورکړي مکمل معلومات په لیکلې بڼه ورکوي، ځکه اداره هیله لري، چې په تړاو یې خبر او راپور یې هېڅ نیمګړتیا ونه لري، هغه څه چې دوی کړي د خلکو تر غوږونو رسوي.

مناقشه: دا چې مطبوعاتي کنفرانس د ادارو لپاره غوره کار دی ولې یې ځینې ادارې نه تر سره کوي؟ دلته څو علتونه دي چې باید ذکر شي، هغه اداري مسئولین چې په خپلو چارو کې نیمګړي وي هغوی د دې وړتیا نه لري چې مطبوعاتي کنفرنس رابولي هغه هم  لاندې څو علتونه لري.

- اداري، مدیریتي ، مسلکي ضعف لري.
- په خپل اداري کار کې به نوښت نه لري.
- د خپل کړي کار نظم او دسپلین نه شي برابرولی.
- په اداري فساد به مبتلا وي.
- مسلکي وړتیا به نه لري فقط ناست او امضا به کوي.
- له خپل صلاحیت او مسئولیت څخه به یې ناوړه ګټه اخیستې وي.
- د خپل کړي کار د ارایې وړتیا به نه لري.
- د ژبې او ځواب وړتیا به نه لري.

که چېرې اداري مسئولین پورته ستونزې ونه لري نو باید له خپلو ټولو ملي کړنو خلک خبر کړي څکه د ده چوکۍ ملي دی او په اسلامي نظام کې مسئول خادم دی نه حاکم باید ملت ته ځواب ووایي.

**پایله**

ننۍ نړۍ د ارتباطي تکنالوجیکي وسایلو له کبله د یو کلي بڼه غوره کړې، هره اداره او حکومت د پرمختګ هیله لري غواړي له خپلو نوښتونو، پیغامونو او کارونو زیات خلک خبر کړي، له همدې کبله د عامه اړیکو مدیرانو، مشرانو او مسئولینوته لازم دی چې له خپلو، نوښتونو، کړنو، تولیداتو او خدماتو خلک خبر کړي، تولیدات ، معلومات او اطلاعات یې پر وخت تر ټولنو ورسېږي، همدا علت دی چې د نړۍ سیاسیون، د مختلفو افکارو، عقایدو مبلغین، نظامي چارواکي، مسئولین، ساینس پوهان، اقتصاد پوهان، مفکرین او مخترعین له خپلو نظریاتو څخه د نړۍ ملتونه د څو ثانیو په درشل کې د مطبوعاتي کنفرانس له لارې خبروي، د مطبوعاتي کنفرانس ځانګړی ارزښت دا دی چې په کم وخت کې د رسنیو د مختلفو بڼو له لارې پیغامونه د نړۍ تر لرې پرتو هېوادونو او ملتونو رسوي، مسئولین یې د ژورنالستانو پوښتنو ته قناعت بښونکی ځوابونه وایي، څو د خلکو شک او ګومانونه ورک شي.

## نتیجه

مطبوعاتي کنفرانس د خپلې ادارې له خدماتو، تولیداتو او نوښتونو، د هېواد او نړۍ د سیاسي پېښو او مسایلو په مورد د سیاسیونو، حکومتي چارواکو او مسئولینو له دریځ څخه د هېواد والو او نړۍ والو خبرول دي، نو لازم دی چې د ذکرشویو مهمو موضوعاتو په تړاو ذکرشوي خلک خپل پیغام د مطبوعاتي کنفرانس له لارې د نړۍ د ټولو ملتونو تر غوږونو ورسوي ځکه نن د نړۍ ټول ملتونه د نوې تکنالوجي له برکته سره تړلي او د نویو نوښتونو او خوځښتونو په اړه یو له بل څخه مشوره، لاس نیوی او ملاتړ کوي چې د همدې موخې لپاره د افکارو د تبادلې او پیغامونو د ژر انتقال لپاره مطبوعاتي کنفرانس بهترین فرصت او لاس ته راوړنه ده، او له بل اړخه هر هغه اداره، مسئول او چارواکی چې اړتیا ونه لري، په چارو کې نوښت ونه لري، ویښې او ځیرک نه وي، د نړۍ د پېښو او حالاتو په اړه پوره او کره سیاسي دریځ ونه لري هغوی نه شي کولی چې مطبوعاتي کنفرانس دایر کړي ځکه دوی د ټولنې پوښتنې او غوښتنې نه شي ځوابولی.

## وړاندیزونه

داچې ژر خپلې چارې، پیغامونه، افکار، نوښتونه او غوښتنې تر خلکو ورسوو نو لازم دی چې لاندې وړاندیزونه په غوږ کې ونیسو.

۱. د دې لپاره چې د خدای رضا او کار مو تر پروخت تر منزله رسېدلی وي کار باید اهل کار ته وسپارل شي څو د نوښت خاوندان او د مطبوعاتي کنفرانس له لارې یې تر نورو خلکو ورسوو.

۲. څرنګه چې مشوره د اسلام اصل دی نو لازم دی چې په اداره کې د خپلو لا س لاندې کسانو مشورو ته غوږ ونیسو څو اصل ستونزې درک او د حل مناسبه لار ورته ولټول شي، پایله به یې زموږ د کړنو برې وي.

۳. د مذهبي او ملي ګټو د ساتنې ، پلنې او بډاینې په خاطر له ښکېلو اړخونو سره مناسب ارتباطات ساتل مهم دي څو اصل موخه چې خدای پالنه او د هېواد رغونه ده تر سره کړو، هر ګام چې اخلو د ملت غوښتنې او سپارښتنې په نظر کې ونیسو.

۴. دا چې رسنۍ د تبلیغاتو وزرونه دي لازم دی چې د خپلو ټولو ارزښتونو په رڼاکې ځانګړې اړیکې ورسره وساتو او خپل کړي کارونه د ټولنې د اطمنان په خاطر تر دوی ورسوو.

**مأخذونه**

افتخار،محمدحسین.(۲۰۱۵م)،(کمونیکیشن سټډیزپارټ ۱. لاهور: لیت پبلکشن.

بدر،محمد.سعید.(۲۰۱۳م). ابلاغیات پارټ ۲. لاهور: مکتبه دانیال.

برهمند نیلوفر،نظری میهن،(۱۳۹٦ش)،کاربرد مصاحبه واقعه مدار دررفتار اطلاع یابی سلامت:نشریه انسان واطلاعات.

جمالزی، عبدالله(۱۳۸٦ش)، د ویندویي فن، ببنور: دانش خپرندویه ټولنه.

شینواری، محمد اصف،(۱۳۹۲ش)، دمطبوعاتي مرکې ارونه، ننګرهار: ختیځ خپرندویه ټولنه.

ملکزی،عبدالرشید.(۱۳۹۸ش). ټولنیزه ارواپوهنه. جلاآباد:ختیځ ختیځ خپرندویه ټولنه.

نیازی، محمد خان.(۱۴۰۲ش)،د عامه اړیکو بنسټونه. کابل: حسین احمد چاپ خانه.

نیازی، محمدخان،(۱۴۰۳ش)،د ژورنالیزم غوره بنسټونه.

وفا، هدایت الله(۱۳۸۸ش)، نقش مطبوعات درتشکل افکار عامه.کابل: انتشارات مستقبل.

# د جزایي مسؤولیت د کچې په ټاکلو کې اغیزناک لاملونه

پوهنوال عبدالرحمن رحیمي، شیخ زاید پوهنتون، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، حقوقو څانګه.
**برېښنالیک:**Abdurahmanrahimi97@gmail.com

**لنډیز**

د جزایي مسؤولیت موجودیت یا عدم موجودیت، شدت او خفت او د جزایي مسؤولیت د کچې ټاکل په اسلامي شریعت او جزا قانون پورې اړه لري او ټول اړوند موارد او معیارونه یې د اسلامي شریعت او جزایي قوانینو له مخې تنظیمیږي. په ځینو حالاتو کې د جرم ارتکاب د جزایي مسؤولیت د کچې د لوړوالي لامل ګرځي لکه مشدده حالات، د جرمونو تعدد او د جرمونو تکرار. برعکس په ځینو حالاتوکې د جرم ارتکاب د جزایي مسؤولیت د ټیټوالي لامل ګرځي لکه قانوني عذرونه او قضایي مخففه حالات. د جزایي مسؤولیت د لوړوالي او ټیټوالي له دغو دواړو لاملونو څخه په قوانینو کې یادونه کیږي او د عدالت د ښه تطبیق، د جرم سره د جزا د تناسب، د مجرمیت پر وړاندې د اغیزناکې مبارزې، د مجرم د اصلاح او تربیې او ټولنیزو مصالحو د حمایې په موخه ور څخه استفاده کیږي. که هم، د جزایي مسؤولیت د کچې په ټاکلو کې اغیزناک لاملونه د حقوق جزا د ځینو مؤلفینو له خوا د خپلو ملي جزایي قوانینو له مخې څېړل شوي دي، خو په دغه علمي مقاله کې نوموړي موارد (مشدده حالات، مخففه حالات د جرمونو تعدد او تکرار، قانوني عذرونه، قضایي مخففه حالتونه) د افغانستان د (۱۳۹٦) هـ ل جزا کوډ له مخې په عصري او علمي توګه د کتابتوني تحقیق او زما د علمي او مسلکي برداشت له مخې څېړل شوي دي او د یادو مواردو په عملي تطبیق کې د ستونزو په هوارولو کې مرسته کولای شي.

**کلیدي ټکي:** جزایي مسؤولیت، د جرمونو تعدد او تکرار، قانوني عذرونه، قضایي مخففه حالتونه، مشدده حالات، مخففه حالات.

**سریزه**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ! الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین.**

په پخوانیو پېړیو کې د اسلامي شریعت پرته په جنایي ډګر کې د جرمونو او جزاګانو د قانونیت اصل، چې د جرمي عملونو په توصیف او د جزاګانو په تعریف او ټاکلو کې خورا اهمیت لري، شتون نه درلود. قاضیان د جرمي عملونو په تعریف او د جزاګانو په ټاکلو کې خپلواک وو نوموړی اصل د ۱۹ میلادي پېړۍ را وروسته د اسلامي شریعت په تعقیب په وضعي قوانینو کې منل شوی دی او نن ورځ ملي جزا

قوانینو سربېره په نړیوالو تقنیني سندونو کې هم د یوه معتبر اصل په حیث قبول شوی دی. د دې اصل له مخې قاضیان د قانوني پولو (لوړه پوله، ټیټه پوله) په درشل کې کولی شي د بېلابېلو لاملونو له امله د مجرم د جزایي مسؤولیت کچه وټاکي، د مشدده حالتونو په صورت کې کولی شي د مجرم جزا لوړه کړي؛ خو برعکس د مخففه حالتونو او قانوني عذرونو په صورت د مجرم جزا ټیټه یا له جزا څخه د مجرم پر معافیت حکم وکړي. په دې مقاله کې پر همدې موضوع بحث شوی دی، چې په ترتیب سره به د دوو جلا، جلا عنوانونو په ترڅ کې، لومړی د جزایي مسؤولیت د کچې د لوړوالي لامونه او دویم د جزایي مسؤولیت د کچې د ټیټوالي لاملونه د بحث لاندې ونیول شي.

**موخې**

د دې علمي مقالې څخه لاندې موخې په پام کې نیول شوي دي.

۱- د جزایي مسؤولیت د کچې د لاملونو تحلیل او پېژندنه.

۲- د جزایي مسؤولیت د کچې د لاملونو ترمنځ د توپیرونو او ګډو نقطو پېژندنه.

۳- د جزایي مسؤولیت د کچې د لاملونو په عملي تطبیق کې د ستونزو هواری.

۴- د جزایي مسؤولیت د کچې په ټاکلو کې د محکمو او قاضیانو د واکونو پېژندل او توضیح.

**د کار مواد او میتود**

د مقالې په ترتیب کې د معتبرو علمي کتابونو، مقالو او قوانینو څخه ګټه اخیستل شوې ده او همدارنګه د مقالې مواد د کتابتوني څېړنې په بڼه راټول شوي دي. لیکنه تر ډېره حده د موضوع د اړونده موادو څخه د عمومي برداشت په اخیستنې سره په روانه ژبه او د صفحې د منځنیو ماخذونو په ذکر کولو سره د توصیفي تحلیلي څېړنې په بڼه ترتیب شوې ده.

**لومړی مطلب- د جزایي مسؤولیت د کچې د لوړوالي لاملونه**

لکه څرنګه چې پوهیږو له هر جرم څخه ټولنیز نظم مختلېږي، له دې امله هر هغه جرم چې په زیاته اندازه ټولنیز نظم مختلوي او د ټولنې لپاره د زیاتې اندیښنې لامل ګرځي مقنن د نوموړی جرم جزا لوړوي او په قانون کې د هغې لپاره د شدیدو جزاګانو وړاندوینه کوي. سربېره پر دې د جرمونو د تعدد یا د جرمونو د تکرار په حالت کې هم مقنن، مجرم د ټولنې عامه نظم ته جدي ګواښ ګڼي او د اصلاح او تربیې او له جرم څخه د راګرځیدو په موخه پر هغه د شدیدو جزاګانو وړاندوینه کوي. بناً د جزایي مسؤولیت د کچې په لوړوالي کې درې لامونه خورا مهم دي، یو مشدده حالات، دویم د جرمونو تعدد او درېیم د جرمونو تکرار حالت. د موضوع د ښې روښانتیا په موخه هر حالت حالات په جلا، جلا عنوانو کې په ترتیب سره؛ په لومړي عنوان کې مشدده حالات او په دویم عنوان کې د موضوع د نسبي مشابهت له مخې د جرمونو تعدد او تکرارحالتونه تر بحث لاندې نیسو.

**الف- مشدده حالات**

لکه څرنگه چې وړاندې يادونه وشوه په ځينو حالتونو کې د جرم له ارتکاب څخه په زياته اندازه ټولنيز نظم گډوډيږي؛ نو له دې امله د جزايي مسؤوليت د کچې د لوړ والي غوښتنه کوي. په عمومي توگه په قوانينو کې مقنن د عمومي مشدده حالاتو تر عنوان لاندې له دغو حالتونو څخه يادونه کوي او په ټولو جرمونو کې په پام کې نيول کيږي؛ خو د هغې ترڅنگ ځيني داسې حالتونه هم شته چې د جزايي مسؤوليت د کچې د تشديد لامل گرځي (ترافيکي جرمونه) او په ټولو جرمونو کې په پام کې نه نيول کيږي؛ بلکې په ځينو خاصو جرمو کې د جزايي مسؤوليت د تشديد لامل گرځي. دغه دواړه حالتونه په لاندې توگه جدا جدا مطالعه کوو.

**لومړی- عمومي مشدده حالات**

عمومي مشدده حالات هغه حالات دي، چې يواځې د قانون د حکم پر بنسټ پلي کيږي. ( وليدي، ۱۳۸۲، ص. ۴۷۲).

يا په بل عبارت عمومي مشدده حالات هغه لاملونه دي چې تقريباً په ټولو جرمونو يا د جرمونو په ټاکلې ډله کې د اجرا وړ دي او اصولاً د جرمونو د تکرار او د جرمونو د تعدد په حالاتونو کې تر سترگو کيږي. (شامبياطي،۱۳۷۸،ص. ۴۵۲).

د افغانستان د ۱۳۹٦ جزا کوډ په (۲۱۷ ) ماده کې عمومي مشدده حالتونه داسې تعريف شوي دي: ( د جزايي مسؤوليت عمومي مشدده احوال له هغو احوالو او اوضاعو څخه عبارت دي، چې د هغو شتون د مرتکب د جزا د شدت سبب کيږي).

د افغانستان ياد کود د (۲۱۷) مادې سره جوخت (۲۱۸) مادې هغه موارد هم تصريح کړي دي چې د جزا د شدت لامل گرځي؛ نوموړې ماده داسې يادونه کوي: ( د جزايي مسؤوليت عمومي مشدده احوال عبارت دي له.

۱- په دني يا منحطه انگيزه د جرم ارتکاب.

۲- د مجنی عليه د جسمي يا رواني کمزورتيا څخه په گټې اخيستنې سره د جرم ارتکاب.

۳- په وحشيانه ډول د جرم ارتکاب يا د مجنی عليه مثله کول.

۴- له دندې يا موقف يا نفوذ څخه په گټې اخيستنې سره د عامه خدمتونو د مؤظف لخوا د جرم ارتکاب.

۵- هغه شخص له خوا د جرم اتکاب چې د مجنی عليه د جسمي، رواني، آزادۍ د تماميت په ساتنه او د مال ساتنې ته مؤظف وي.

٦- د مجنی عيله د اقتصادي حالت له ضعف څخه په گټې اخيستنې سره د جرم ارتکاب.

۷- د هغه شخص په واسطه د جرم ارتکاب چې د جرم د ترسره کولو په قصد يې مخدر يا مسکره توکي استعمال کړي وي.

۸- د نژادي، قومي، ديني، مذهبي، جنسي، سمتي تعصباتو، ټولنيز موقف يا سياسي فکر په سبب د جرم ارتکاب.

۹- نور هغه حالات چې په دې قانون کې پیشبیني شوي دي(جزا کوډ، مادې ۲۱۸،۲۱۷، ۱۳۹٦، ص. ۱۹۳-۱۹۵).

**په عمومي مشدده حالتونو کې د جزا د څرنګوالی په هکله د افغانستان د جزا کوډ دریځ**

لکه چې یادونه وشوه عمومي مشدده حالتونه د جزا د شدت لامل ګرځي. دا چې دغه شدت به په کومه کچه وي دلته یواځې د افغانستان د جزاکوډ له مخې په نوموړې موضوع باندې بحث کوو. د افغانستان د جزا کوډ په عمومي مشدده حالتونو کې د جزا څرنګوالی د جزا نوعیت ته په کتو سره په پام کې نیولی دی، یاد قانون په (۲۱۹) ماده کې په دې هکله داسې یادونه کوي: که چېرې په جرم کې مشدده عمومي احوال شتون ولري، محکمه په دې قانون کې درج شوې جزا ته په پام ، په لاندې ترتیب سره حکم کوي

۱- په هغه صورت کې چې د جرم جزا (۱) درجه داوام حبس وي د (۱) درجې دوام حبس په اکثر حد مجازاتو.

۲- په هغه صورت کې چې د جرم جزا (۲) درجه دوام وي، په اوله درجه دوام حبس.

۳- په هغه صورت کې چې د جرم جزا طویل یا متوسط حبس وي، د نوموړې جزا له اکثر حد څخه په زیاته جزا، په دې شرط چې د مجازاتو مجموع د اصلي مجازاتو د اکثر حد له یو نیم چند څخه تجاوز ونه کړي(جزا کوډ، ماده، ۲۱۹ ، ۱۳۹٦، ص. ۲۰۱).

۴- په هغه صورت کې چې د جرم جزا قصیر حبس وي د قصیر حبس په اکثر حد.

**دویم- اختصاصي مشدده حالات**

اختصاصي مشدده حالات هغه حالات دي چې د ځانګړو جرمونو په هکله پلي کېږي ( شامبیاتي، ۱۳۷۸، ص. ۴۵۳).

د مثال په توګه د افغانستان د جزا کوډ د ( ٥٦٦) مادې له مخې په ترافیکي جرمونو کې لاندې حالات مشدده حالتونه دی او مرتکب د مرتکبه جرم د پیشبیني شویو جزاګانو په اکثر حد محکومېږي.

۱- د چلونې د جواز نه لرل.

۲- په عمدي صورت د ترافیکي مقرراتو نه رعایت، په هغه صورت کې چې د شخص د فوت یا ټپي کیدو یا معلولیت تمام شي(جزا کوډ، ۱۳۹٦، ماده ٥٦٦، ص. ۵۲۵، ۵۲٦). یا د سقط جنین په جرمونو کې، د یاد کوډ د (۵۷۴) مادې له مخې که چېرې د جنین اسقاط د ښځې په عقیم کیدو تمام شوی وي؛ نو مرتکب یې د همدې فصل د پیشبیني شوي جزا په اکثر حد محکومېږي(جزا کوډ، ماده ۵۷۴، ۱۳۹٦، ص. ۵۳۰).

**د عمومي او اختصاصي مشدده حالتونو د رعايت په هکله د محکمې مکلفيت**

د ياد کوډ د (۲۱۰) مادې له مخې محکمه مکلفه ده د جزا د ټاکلو پر وخت په دې قانون کې درج پر عمومي مشدده احوال برسيره، د هرجرم مشدده احوال په هغه پورې له مختصو حکمونو سره سم رعايت کړي(جزا کوډ، ماده ۲۱۰، ۱۳۹٦، ص. ۱۹۱).

**ب- د جرمونو تعدد او تکرار**

د موضوع د ښه وضاحت په منظور په ترتيب سره لومړی د جرمونو په تعدد او بيا د جرمونو په تکرار بحث کوو.

**لومړی- د جرمونو تعدد**

د جرمونو تعدد هغه مهال مطرح کېږي چې يو شخص په څو جرمونو مرتکب شوی وي؛ خو دا جرمونه د عنوان او موضوع له پلوه سره توپير ولري يا ونه لري او له وړاندې نوموړی شخص مجازات شوی نه وي يا د محکمې له خوا په قطعي حکم محکوم شوی وي؛ خو محکمې تر دې چې حکم شوې جزا ورباندې پلې شي، د بل جرم مرتکب شي(شامبياتي، ۱۳۸۷، ص. ۴۵٦).

دجرمونو تعدد د جزاگانو د شديدوالي لامل گڼل کېږي او د جرمونو د تعدد په صورت کې مجرم ته د هرجرم پر وړاندې جدا، جدا متناسبه جزا ورکول کېږي( شامبياتي، ۱۳۷۸، ص. ۴۵۵).

همدارنگه د جرمونو په تعدد کې د وخت ټاکل هم اړين نه دي، کيدلی شي څو جرمونه په لنډ وخت کې ترسره شي يا په بېلابېلو وختونو کې بېل بېل جرمونه ترسره شي( وليدي، ۱۳۸۲، ص. ۴۷۹).

**د جرمونو د تعدد ډولونه**

د جرمونو تعدد د هغوی د خپل منځي تړاو او ارتکاب له مخې په مادي او معنوي تعدد ويشل کېږي، چې هرډول يې په لاندې توگه بېل، بېل مطالعه کوو.

**۱- د جرمونو مادي يا واقعي تعدد**

د جرمونو مادي تعدد هغه مهال منځته راځي چي يو شخص داسې څو بېل، بېل جرمونو ترسره کړي چې د هرجرم د ارتکاب پر وړاندې په قوانينو کې جدا، جدا جزا ټاکل شوې وي، پرته له دې چې دا ټول عملونه يو ځانگړی جرمي وصف ولري، په دې معنا چې دا هرعمل بېل، بېل مستقل جرم وي او يو د بل سره توپير ولري (شامبياتي، ۱۳۷۸، ص. ۴٦۰).

د جرمونو مادي تعدد درې حالتونه لري چې دا هرحالت بېل، بېل د بحث او مطالعې لاندې نيسو

**لومړی حالت:** يو شخص يو ډول جرم په څو ځلې ترسره کوي لکه: څو ځلي سرقت ( رحيمي، ۱۳۹۸، ص. ۳٦).

**دويم حالت:** يو شخص د يوې مشخصې موخې لپاره څو جدا جدا جرمونه ترسره کوي لکه: يو سړی چې د پيسو د لاسته راوړلو په موخه د دوکه ماري د وسايلو په وړاندې کولو سره د خپل دوست څخه چک ترلاسه کوي او هغه لاسليکوي او بيا د دغه جعلي چک په ذريعه د بانک څخه پيسې راوباسي. لکه چې ليدل کېږي دلته نوموړي سړي څو جرمونه ترسره کړي دي ( جعل او د بانک څخه د پيسو راويستل) چې هر يو بېل بېل جرم دی او په قانون کې ځانګړې جزا لري؛ خو ترسره کوونکی يې د يوې مشخصې موخې لپاره چې د پيسو لاسته راوړل دي ترسره کوي( رحيمي، ۱۳۹۸، ص. ۳٦).
**درېیم حالت:** شخص څو جرمونه، چې بيلابيلې بڼې لري ترسره کوي؛ خو قانونګذار د دغو ټولو جرمونو ارتکاب يو ځانګړی جرم ګڼي لکه: يو ډرايور چې د جواز پرته د غير عمدي قتل مرتکب وګرځي (رحيمي، ۱۳۹۸، ص. ۳۷).

**۲- د جرمونو معنوي تعدد**

کله چې يو واحد عمل د بېلابېلو جرمي بڼو درلودونکی وي يا يوه واحده کړنه چې څو جزايی بڼې لري، دغه حالت ته معنوي تعدد وايی. يا په بل عبارت فاعل يو دی او عمل هم يو دی، ولې د دغه عمل څخه لاسته راغلې پايلې بېلې بېلې دي لکه: هغه ډرايور چې د موټر چلولو په بې پروايي کې ټکر کوي او په پايله کې د قتل او ټپي کيدو د جرمونو مرتکب ګرځي. د شک پرته چې ډرايور يواځې يو جرم ترسره کړی او هغه د موټر په چلولو کې د هغه بې احتياطي ده؛ خو د هغې په پايله کې يې نور جرمونه هم ترسره کړي دي (قتل او ټپی کيدل) او د دغو جرمونو لپاره په قانون کې جدا جدا جزاګانې ټاکل شوي دي( رحيمي، ۱۳۹۸، ص.۳۸).

**د جرمونو د تعدد په صورت کې د جزاګانو څرنګوالی**

څرنګه چې د جرمونو د ارتکاب او ارتباط له پلوه د جرمونو تعدد توپير لري؛ نو له دې امله د جرمونو د تعدد په صورت کې د جزاګانو څرنګوالی هم توپير لري. په عمومي توګه د متعددو جرمونو د جزاګانو په هکله لاندې درې حل لارې شتون لري.

**لومړی حل لار - د ټولو ارتکابي جرمونو د جزاګانو يوځايوالی (تجمع)**

د دې لارې غوښتنه داده چې په مجرم باندې ټولې هغه جزاګانې پلي کړای شي چې د دغو ټولو جرمونو لپاره ټاکل شوې دي( عوده، ۱۳۸۴، ص. ٦۳۳).
دغه نظريه د جرم د (عيني) تګلارې او د مجرم د ازادې ارادې او اخلاقي مسؤوليت سره همغږې لري، په دې معنا چې که له يوې خوا ترسره شوی عمل او ټولنې ته رسيدلی زيان په پام کې ونيول شي، لازمي ګڼل کېږي چې بايد تر سره شوي جرمونه د هغو د پايلو په پام کې نيولو سره يو پر يو د محاکمې او مجازاتو لاندې ونيول شي. له بله پلوه د فکر او ارادی ازادی هم ايجابوي چې مجرم د هر ځلي ارتکابي

جرم پروړاندې ځانګړی جزایی مسؤولیت لري او جلا، جلا جزاګانې باید ورباندې پلي شي( صانعي، ۱۳۸۲، ص. ۷۷۱).

د ځینو حقوقپوهانوپه باور د دغې حل لارې عیب دا دی چې د جزاګانو په اړه یې افراطي تګلاره غوره کړې ده، ځکه د دغو ټولو جزاګانو پلي کیدل کیدای شی د شدت نهایی حد ته ورسیږي د بیلګې په توګه حبس یوه موقتي جزا ده؛ خو که په مجرم باندې د متعددو جرمونو حبس پلی شي؛ نو دایمي حبس ترې جوړیږي. همدارنګه که په هر جرم باندې د مجرم مال مصادره شي؛ نو د مجرم ټوله شتمني به مصادره شي( عوده، ۱۳۸۴، ص. ۶۳۳).

همدارنګه ځیني حقوقدانان په دې باور دي، چې په ډېرو حالاتو کې د جزاګانود پلي کیدو تعدد شونی نه دی د مثال په توګه دایمي حبس نشو کولای د موقتي حبس سره یو ځای کړو، همدارنګه نشو کولای د اعدام جزا د حبس د جزا سره یو ځای کړو، مګر په هغه صورت کې چې لومړی د حبس جزا پلي شي او ورپسې د اعدام جزا؛ خو له شک پرته دغه وړاندیز به د عقل او انصاف او ټولنیز عرف څخه لیري وي. همدارنګه که چېرې مجرم د لومړني جرمي عمل له مخې نیول شوی او محاکمه شوی وی شونې وه د جزا په پلي کیدو سره به اصلاح او تربیه شوی و او دوباره به یې په جرمي عمل لاس نه پورې کاوه. له دې امله دا به انصاف نوي چې د جرمونو د کشف او تعقیب د دستګاه عیب د مجرم پر غاړه ور واچول شي او هغه دې د متعددو جرمونو پر جزا محکوم کړل شي( صانعي، ۱۳۸۲، ص. ۷۷۱).

**دویمه حل لاره- تر ټولو د شدیدې جزا پلې کیدل**

دغې لارې ته د جب لاره وایي او د جب معنا داده چې ترټولو درنده جزا پر تطبیقي جزاګانو غالبه شي. د دې لارې پر بنسټ پر مجرم باندې د خپلو ټولو جرمونو هغه جزا پلي کېږي چې تر ټولو جزاګانو درنه وي(عوده، ۱۳۸۴، ص. ۶۳۳).

د دې لارې عیب دا دی چې د لومړۍ لارې پر خلاف تفریطي بڼه لري، مثلاً که چېرې څوک په لسو جرمونو مرتکب شوی وي یواځې هغه جزاورباندې پلي کېږي چې د نورو نهو جزاګانو په پرتله درنه وي( عوده، ۱۳۸۴، ص. ۶۳۳).

**درېیمه لاره- د شدید جرم د مجازاتو پلې کیدل**

د دې لارې غوښتنه داده چې که چېرې یو شخص څو جرمونه ترسره کړي وي، یواځې د هغو د جملې څخه د شدید جرم په جزا محکومېږي. دغه تګلاره او تصمیم د هغې نظریې څخه الهام اخلي چې د جزاګانو اصلي موخه د مجرم اصلاح او ټولنیزه دفاع ګڼي او دا لاره د جرمونو د تعدد په هکله هم صدق

پیدا کوي. د مثال په توګه که چېرې د جزاګانو د پلي کېدو موخه یواځې د مجرم اذیت او د هغه څخه غچ اخیستل وي؛ نو بیا د جرمونو د تعدد په هکله د جزاګانو یو ځای والی منطقي ښکاري؛ خو که د جزایي نظام اصلي موخه د مجرم اصلاح او د ټولنې حمایه وي؛ نو د مجرم د جرمي سابقې، د هغه د ټولنیزو او رواني لاملونوپه پام کې نیولو پرته چې د مجرمیت باعث یې ګرځیدلي دي د اوړدو جزاګانو پلي کیدل به کومه مطلوبه پایله ونلري(صانعي، ۱۳۸۲، ص. ۷۷۲).
دغه لاره چې د جزا حقوقو د تحقیقي او ټولنیزې دفاع د مکتبونو له نظرونو څخه الهام اخلي، ځیني اروپایي هیوادونه د هغې د جملې څخه فرانسه هم تعقیبوي(صانعي، ۱۳۸۲، ص. ۷۷۲).

## د جرمونو د تعدد په صورت کې د جزا د ځرنګوالی په هکله د افغانستان د جزا کوډ دریځ

د جرمونو او جزاګانو د تعدد په هکله په عمومي توګه د افغانستان د (۱۳۹۶) کال د جزا کود حکمونه او د (۱۳۵۵) د جزا قانون حکمونه یو ډول دریځ لري په دې معنا چې د جزا په نوي کود کې د جرمونواو جزاګانو د تعدد په هکله تقریباً هماغه جزاګانې په پام کې نیول شوي دي چې د ۱۳۵۵ د جزا په قانون کې په پام کې نیول شوې وې. همدارنګه، د جرمونو دارتکاب او تړاو له مخې د (۱۳۵۵) جزا قانون او د (۱۳۹٦) جزا په کود کې له هغو درېو واړه لارو څخه پیروي شوې چې د هغوی په اړه مو وړاندې یادونه وکړه.
د جزا قانون پرخلاف د جزا په نوي کود کې د جرمونو تعدد او د هغې جزاګانې د مشخصو عنوانونو په ترڅ کې په دوو برخو ویشل شوې دي، چې یو یې مادي تعدد دی او بل یې معنوي تعدد دی. د مادي تعدد اړوند جرمونه هم په دوو برخو ویشل شوي دي چې یو یې هغه مادي تعدد دی چې جرمونه یې یو د بل سره تړاو لري او بل هغه مادي تعدد دی چې جرمونه یې یود بل سره تړاو نلري. دا دی د موضوع د وضاحت په منظور په لومړي عنوان کې د جرمونومادي تعدد اوپه دویم عنوان کې د جرمونو معنوي تعدد د جزا کود د حکمونو له مخې بېل، بېل د بحث او مطالعې لاندې نیسو.

### ۱- د جرمونو مادي یا واقعي تعدد جزا

د افغانستان د جزا کود د جرمونو مادي تعدد، د جرمونو د خپل منځني تړاو له مخې په دوو برخو ویشلی دی. یو هغه مادي تعدد دی چې جرمونه یې یو له بل سره تړاو لري او بل هغه مادي تعدد دی چې جرمونه یې یو له بل سره تړاو نلري. دا دی دلته د هغې د هر ډول جزا د جدا جدا عنوان لاندې مطالعه کوو.

**يو- د تړاو لرونکو جرمونو مادي تعدد جزا**

د افغانستان د جزا کود د هغو جرمونو په هکله چې د بېلا بېلو کړنو پر بنسټ د يوې مشخصې موخې لپاره ترسره کېږي او تجزيه ونه مني، د تعدد د مجازاتو دويمه تګلاره يعنې ترټولو د شديدې جزا د پلي کيدو لاره منلي ده. نوموړي قانون پخپله (۷۳) يمه ماده کې په دې هکله داسې صراحت لري. ( که چېرې د متعددو جرمونو ارتکاب د متعددو افعالو په پايله کې صورت موندلی وي او د واحدې موخې تامين نوموړي جرمونه پداسې ډول سره جمع کړي وي چې تجزيه ونه مني محکمه له جرمونو څخه د هر يوه په پيشبني شوي جزاګانو حکم کوي او يواځې د محکوم بها تر ټولو شديدې جزا په تنفيذ تصريح کوي . دغه امر د تبعي، تکميلي جزاګانو او تاميني تدابيرو د تنفيذ خنډ نه کېږي) (جزا کوډ، ۱۳۹۶، ص. ۱۰۷).

د تړاو لرونکو متعددو جرمونو د جزا په هکله د افغانستان د جزاکود دريځ مناسب ښکاري، ځکه دغه جرمونه له يوه پلوه متعدد جرمونه دي او په حقوقي لحاظ د متعددو جرمونو ترسره کول خطرناک او مشدده حالت ايجابوي. له دې امله هغه اصل چې جزا بايد د جرم د شدت سره متناسبه وي په همدې تګلاره کې مراعات شوی، ځکه په نوموړي تګلاره کې د شديدې جزا د پلي کيدو وړاندوينه شوې ده. د بله پلوه داچې په تړاو لرونکومتعددو جرمونو کې د بېلا بېلو جرمونو موخه د يوې مشخصې پايلې ترلاسه کول دي؛ نو داسې انګيرل کېږي چې په حقيقت کې شخص يواځې يو جرم ترسره کړی، په همدې خاطر مناسبه ګڼل شوې چې مجرم د جرم پايلې ته په کتو سره محکوم وپيژندل شي او د هرجرم د ارتکاب په تړاو بېلې بېلې جزاګانې ورباندې پلي نشي(رحيمي، ۱۳۹۸، ص. ۳۹).

**دوه- د تړاو نه لرونکو جرمونو مادي تعدد جزا**

د افغانستان د جزا کود د تړاو نلرونکو جرمونو د مادي تعدد په هکله د جرمونو د تعدد د جزاګانو لومړۍ تګلاره په پام کې نيولې ده. په دې معنا چې که چېرې يو شخص په داسې جرمونو لاس پوري کړي چې د مشخصې موخې په اړه د يو له بل سره تړاو ونلري ؛نو د دغو ټولو جرمونو په هکله به نوموړی شخص بېل، بېل محاکمه کېږي او د هر جرم د محکوميت جزا به يو پر بله پسې ورباندې پلي کېږي. د جزا کود (۷۵) يمه ماده په دې هکله ليکي:(هغه شخص چې د دوو يا له هغو څخه د زياتوجرمونو مرتکب شي اوله هغوی څخه د يوه په هکله د قعطي حکم له صادريدو د مخه، د هغې موخې وحدت چې نوموړي جرمونه سره جمع کړي، شتون ونلري، له نوموړو جرمونو څخه د هر يوه په پيشبني شوو جزاګانو

محکومېږي او محکوم بها جزاګانې یوه په بله پسې پر هغه باندې تطبقېږي؛ خوداچې پدې قانون کې بل ډول پیشبني شوي وي) (جزا کوډ، ۱۳۹۶، ص. ۱۰۹).

د افغانستان د جزا کود دریځ د تړاو نلرونکو جرمونو په هلکه له دوو لیدلورو څخه مناسب ښکاري:

لومړی- په دې تګلاره کې له یوه پلوه د جزاګانو پر اخلاقي موخه باندې، چې په عمومي توګه په اوسني وخت کې هم جزاګانې نوموړې موخه تعقیبوي او یوه مهمه موخه ده ټینګار شوی، ځکه مجرم د هرجرمي عمل پروړاندې د ازادې ارادې له مخې اخلاقي تقصیر او جزایي مسؤولیت لري او باید د دې هر تقصیر پروړاندې پر مجرم جزا پلې شي لکه چې الله تعالی په قران کریم کې فرمایي: :(مَنْ يَعْمَلْ سُوءاً يُجْزَ بِهِ) [النساء سورة ، ایت ۱۲۳] ژباړه: چا چې بد عمل وکړ هغه ته به د دغه بد عمل جزا ورکولی شي (عثماني، چاپ نېټه نه لري، ص. ۱۸۲).

دویم- دا چې نوموړې تګلاره د نقدي جزا د تعدد په صورت کې د ټولې شتمنۍ د منځه تللو لامل نه ګرځي که څه هم د افغانستان د ۱۳۵۵ جزا قانون (۱۶۰) مادې د متعددو نقدي جزا ګانو، چې په هره اندازه تعدد پیداکړي پر پلي کیدو حکم کړی دی. نومړی قانون په دې هکله داسې لیکي: (نقدي، تبعي، تکمیلي او امنیتي تدبیرونو جزاګانې چه په هره اندازه متعد دې شي د تنفیذ وړ دي) د جزا قانون دغه نقیصه د ۱۳۹۶ د جزا په کود کې له منځه تللي ده لکه چې په دې هکله د نوموړي قانون (۱۴۲) مه ماده داسې لیکي ( محکمه کولای شي په خپل تشخیص یا د څارنوال په غوښتنه د دې قانو په ۱۴۱ ماده کې د درج شوو شرایطو او احوالو په رعایت سره د بیشبیني شوي نغدي جزا اکثر حد تر دوه چنده پوري پورته بوزي، پدې شرط چې د نغدي جزا د اکثر حد پورته بیول، د محکوم د ټولې شتمنۍ په له منځه وړلو تمام نشي) (جزا کوډ، ۱۳۹۶، ص. ۱۴۷).

له دغو خوبیو سره سره ددغې تګلارې نقص او عیب دادی چې په ځینو حالاتو کې د دې تګلارې له مخې د متعددو جزاګانو پلي کیدل شوني نه دي لکه لومړی د اعدام جزا او ورپسې د حبس جزا پلي کیدل او یا دا چې د متعددو جزاګانو پلي کول د عدالت او انصاف غوښتنه نده لکه لومړی د حبس جزا پلي کول او ورپسې د اعدام د جزا ، چې طبعاً دغه کار له یوه پلوه د ټولنیز عدالت پرخلاف عمل دی او له بله پلوه د جزا اصلاحي موخه چې اصلاً د همدې موخې لپاره جزاګانې پلي کېږي نه ترلاسه کېږي(رحیمي، ۱۳۹۸، ص. ۳۹).

**۲- د جرمونو معنوي تعدد جزا**

د افغانستان د جزا کود د جرمونو د معنوي تعدد په هکله د تعدد د جزاګانو درېيمه حل لاره غوره کړې ده په دې معنا چې که د يوه واحد فعل له ارتکاب څخه متعدد جرمونه منځته راشي د دغو ټولو جرمونو څخه د هغه جرم پر جزا حکم کېږي چې د نورو جرمونو په پرتله يې جزا شديده وي. د جزا کود (۷٦) يمه ماده په دې هکله داسې وضاحت لري. ( که چېرې د واحد فعل له ارتکاب څخه، متعدد جرمونه منځته راشي، مرتکب د هغه جرم په جزا محکومېږي چې جزا يې تر ټولو شديده وي. په هغه صورت کې چې بيشبيني شوي جزاګانې يوه د بلې ممثلې وي محکمه له هغوی څخه په يوې حکم کوي) (جزا کوډ، ۱۳۹٦، ص. ۱۰۹).

د جرمونو د معنوي تعدد په هکله د جزا کود دريځ د لاندې دلايلو له مخې معقول ښکاري.

لومړی داچې په دغه دريځ کې د جزاګانو اخلاقي موخه چې يوه مهمه موخه ده په پام کې نيول شوې ده، ځکه مجرم په حقيقت کې يواځې يو ځل جرمي عمل ترسره کړې او په حقوقي لحاظ د همدغه يو ځلي جرمي عمل پر وړاندې يو ځلي اخلاقي تقصير او جزايي مسؤوليت لري، نه څو ځلي( رحيمي، ۱۳۹۸، ص. ۴۰).

دويم دا چې په دغه دريځ کې د جرمي عمل څخه رامنځته شوي پايلې هم په پام کې نيول شوي دي، چې په حقيقت کې د مجرم جزايي مسؤوليت ټاکي، ځکه مجرم د خپل جرمي عمل د پايلو په تناسب مسؤول دی. د دې ترڅنګ د جزاګانو اصلاحي موخه د دې غوښتنه کوي چې په مجرم باندې بايد داسې جزاګانې پلي شي چې د هغې د اصلاح او نوي تربيې لامل وګرځي نه داچې د جزاګانو په پلي کيدو سره د مجرم څخه غچ واخيسل شي. په حقيقت کې د جزاګانو اصلاحي موخه هم د جزا په کود په ښه توګه په پام کې نيول شوې ده د مثال په توګه که چېرې موږ يو کس د داسې واحد جرمي عمل پر وړاندې چې د بيلا بيلو جرمي عملونو زيږنده وي بېل بېل مجازات کړو؛ نو دا مجازات به په حقيقت کې د مجرم څخه د غچ اخيستنې پرته بله کومه معنا ونلري؛ خو که د مجرم شخصيت او دده د جرمي عمل څخه رامنځته شوي پايلې په پام کې ونيول شي او پرمجرم باندې د ټولو جرمونو پر وړاندې يواځې د هغه جرم جزا چې تر نورو شديده وي پلي شي لرې به نه وي چې نوموړې جزا به د مجرم د اصلاح او تربيې لامل وګرځي

(رحيمي، ۱۳۹۸، ص. ۴۰).

ترټولو شديده جزا، د جزاګانو د لوړ حد په شدت پورې تړاو نلري. که چېرې جزاګانې د لوړ حد په اعتبار سره برابرې وي، بايد حد اقل ته مراجعه وشي. په هغه صورت کې چې د کومې جزا حد اقل شديد وي

هماغه جزا شدیده ده. کچېرې له دې پلوه هم برابرې وي، په هغه صورت کې محکمه د پیشبیني شویو جزاګانو څخه په یوه حکم صادروي[1] ( اسناد ومصوبات سیمینار عالي قضایي، ۱۳۹۵، ص. ٦٧).

**د جرمونو د تعدد په صورت کې د جزا د ځرنګوالی په هکله د اسلامي شریعت دریځ**

اسلامي شریعت د جرمونو او جزاګانوتعدد د نزول له وخته منلی دی؛ خو هغه یې د تداخل او جب په نظریو سره مقید کړی دی.

د تداخل نظریه: په اسلامي شریعت کې د تداخل معنا داده چې د ځینو جرمونو جزا په ځینو نوروکې ور دننه کړل شي او د ټولو جرمونو لپاره یوه جزا وټاکل شي او دا جزا په مجرم داسې پلي شي لکه یو جرم یې چې کړی وي. د تداخل نظریه د دوواصولو له مخې پلي کېږي.

**لومړی اصل:** که چېرې متعدد جرمونه د یو ډول څخه وي لکه: متعد دې غلاګانې یا متعد دې زناګانې؛ نو د دغو جرمونو جزاګانې تداخل پیداکوي او په ټولو جرمونو یوه جزا پلي کېږي. که د دې جزا د پلي کېدو وروسته یې د دغه ډول بل جرم تر سره کړ؛ نو د دې جرم مستقله جزا به ور باندې پلي کېږي. د تداخل د اصل په هکله مهمه خبره داده چې په دې اصل کې د جزا پلي کېدو ته اعتبار ورکول کېږي، نه د حکم صدور ته. له دې امله که یو شخص د حکم د پلي کیدو وړاندې هر څومره جرمونه ترسره کړي د هماغې حکم جزا لاندې راځي چې تر اوسه ورباندې پلي شوې نده. د راجح رایې له مخې ټول هغه جرمونه د یوه ډول څخه ګڼل ګیږي چې موضوع یې یوه وي باک نلرې که متشکله عناصر او جزاګانې یې یو دبله سره جدا وي لکه: عادي غلا او قطاع الطریقي یا حرابه چې موضوع یې یوه ده یعنې دا یو ډول جرم( غلا) ده. یا لکه: د محصن او غیر محصن زنا کار جزا چې دواړوته زنا ویل کېږي او دواړه دیو ډول (زنا) لاندې راځي. په دا ډول حالاتو کې هغه جزا پلي کېږي چې په خپل ډول کې تر ټولو درنه وي.

د دې اصل بنسټ داده چې جزا د زجر او تادیب په موخه روا شوې ده او کله چې یوه جزا د دغو دواړ موخو لپاره بسنه کوي؛ نو د جزاګانو تعدد بې اړتیا تعذیب دی او بې اړتیا عذابونه د عدالت خلاف کار دی، ځکه هره جزا د دې لپاره روا شوې چې مجرم اصلاح او تربیه شي او د جزا د پلي کېدو وروسته بیا جرم ترسره نه کړي.

**دویم اصل:** که متعدد جرمونه له یو ډول څخه نوو، بیا هم په دې شرط د تداخل پر بنسټ د ټولو جرمونو پر وړاندې یوه جزا پلي کېږي چې د هغو ټولو جرمونو د جزاګانو موخه یوه وي یعنې د یوې موخې او

[1] - د جزا کوډ (۷۳- ۷۸) موادو ته مراجعه وشي

مصلحت لپاره وضعه شوي وي. د مثال په توگه که څوک مرداره يا وينه يا د خنځير غوښه وخوري په درې واړو جرمونو باندې يوه جزا لازمېږي، څکه چې جزاگانې يې د يوې موخې او غرض لپاره وضعه او روا شوې دي، چې هغه دفرد او ټولنې د روغتيا او سلامتی د ساتنې څخه عبارت دي.لکه چې وړاندې موهم يادونه وکړه د جزاگانو په تداخل کې د جزا تنفيذ اړين دی نه د حکم صدور؛ نو د جزاگانو تداخل هغه مهال اعتبار لري چې پلي شوي نوي. په هر صورت که متعددجرمونه د يو ډول څخه نوو او جزا يې هم د يوې موخې او غرض لپاره نوه وضعه شوې د مثال په توگه يو شخص لومړی غلا کوييبيا زنا وکړي او ورپسې د قذف په جرم مرتکب شي؛ نو په دې صورت کې د جزاگانو تداخل نشته او په هر جرم بېله، بېله جزا پلې کېږي(عوده، ۱۳۸۴، ص. ٦۳٦).

د جب نظريه په اسلامي شريعت کې د جب معنا دا ده چې د يوې جزا په پلي کيدو سره کومه چې د مجرم د منع لپاره کافي گڼل کېږي په هماغه جزا باندې اکتفا او نورو جزاگانو څخه ډډه وشي او دا معنا يواځې د قتل په په صورت کې ممکنه ده نه په نورو جزاگانو کې، څکه چې ددغې جزا پلي کيدل د نورو جزاگانو د پلي کيدو مخه نيسي او قتل يواځينۍ جزا ده چې نورې جزاگانې له منځه وړي او د پلي کيدو مخه يې نيسي(عوده، ۱۳۸۴، ص. ٦۳۷).

**دويم- د جرمونو تکرار**

د جزايي مسؤوليت د شدت بل لامل د جرمونو د تکرار حالت دی او دا هغه حالت ته وايي چې مجرم د نوي ارتکابي جرم وړاندې نوره جرمي عملونه هم ترسره کړي وي. د تکرار حالت لپاره دا شرط اړين دی چې مجرم به د نوي ارتکابي جرم وړاندې د بل جرم په هکله په قطعي حکم محکوم شوی وي او جزا به ور باندې پلې شوې وي(شامبياتي، ۱۳۸۲، ص. ۴٦٦).

يا په بل عبارت د جرمونو تکرار هغه حالت دی چې شخص څو جرمونه ترسره کړي وي او د هر يوه جرم وروسته محاکمه او مجازات شوی هم وي(دانش، ۱۳۹۳، ص. ۲۸، ۲۹).

د افغانستان د ۱۳۹٦ جزا کوډ د (۷۹) مادې له مخې د جرمونو تکرار حالت هغه مهال رامنځته کېږي چې يو شخص د جنايت يا جنحې په جزا محکوم شوی وي نوموړې ماده په دې هکله داسې ليکي: ( شخص هغه وخت متکرر مجرم پېژندل کېږي چې د جنحې يا جنايت د ارتکاب له امله په جزا محکوم شوی وي او د قطعي حکم له صادريدو وروسته او د حيثيت د اعادې د مخه، د بل عمدي جنحې يا جنايت مرتکب شي) (جزا کوډ، ۱۳۹٦، ص. ۱۱۱).

**د جرمونو تکرار حالت او د جرمونو د تعدد حالت ترمنځ توپیر**

د تکرار جرمونو حالت له دي امله چې شخص له وړاندې د جرم په اړه یو یا څو ځلې په رسمي توگه محاکمه او مجازات شوی وي او د جزاگانو له پلي کیدو څخه په لازمه توگه تنبیه شوی وي او بیا هم په جرمي عمل لاس پوري کوي، د جرمونو د تعدد د حالت په پرتله خطرناک حالت دی او جزا یې هم شدیده ده( صانعي، ۱۳۸۲، ص. ۷۶۹).

**د جرمونو د تکرار حالت د جزایي مسؤولیت د ټاکلو په هکله د افغانستان د جزا کوډ دریځ**

لکه چې وړاندې مو یادونه وکړه د افغانستان د جزا په کوډ کې د جرمونو تکرار حالت یواځې د (جنایت او جنحې) په جرمونو کې منل شوی دی او په دې هکله یې د جزایي مسؤولیت د ټاکلو په هکله دوه بېل، بېل حالتونه بیان کړې دي چې په ترتیب سره په لاندې توگه ترې یادونه کوو.

**خاص تکرار حالت:** د جزا کوډ د (۸۰) مادې له مخې خاص تکرار حالت هغه دی چې مجرم د قطعي حکم او حیثیت اعادې وروسته بیا د مماثلې جنحې یا جنایت (مماثل جرمونه د افغانستان د جزا کود په (۸۱) ماده کې تعریف شوي دي) مرتکب شي. په دې حالت کې د یاد کوډ (۸۳) ماده لومړی بند متکرر مجرم په لاندې جزا محکوموي: (په خاصو تکراري جرمونو کې مرتکب په هغو مجازاتو چې د اصلي جرم د مجازاتو د اکثر حد له دوه چنده څخه زیات نه وي محکومېږي) (جزا کوډ، ۱۳۹۶، ص. ۱۱۲).

**عام تکرار حالت:** د خاص تکرار حالت پرخلاف عام تکرار حالت هغه دی چې مجرم د قطعي محکومیت او حیثت اعادې وروسته د بلې مماثلې جنحې یا جنایت مرتکب شوی نه وي. په دې حالت کې د یاد قانون (۸۳) مادې دویم بند د متکرر مجرم جزا داسې تصریح کوي: ( په عامو متکررو جرمونو کې مرتکب د اصل جرم د مجازاتو د اکثر حد د یو نیم چند په مجازاتو محکومېږي) (جزا کوډ، ۱۳۹۶، ص. ۱۱۳).

**دویم مطلب- د جزایي مسؤولیت د کچې د ټیټوالي لاملونه**

لکه چې د نوم څخه یې چېرې دا هغه لاملونه دي چې جزایي مسؤولیت راټیټوي. د جزایي مسؤولیت د ټیټوالي لاملونه په ځینو مواردو کې د مقنن له خوا ټاکل کېږي او د بېلا بېلو دلایلو پر بنسټ د مجرم د جزایي مسؤولیت د ټیټوالي یا د جزا څخه د معافیت یا د جزا څخه د تبرئې سبب گرځي، چې د قانوني عذرونو په نامه یادیږي. د قانوني عذرونو ترڅنگ په ځینو مواردو کې د قانون په حدودو کې محکمو ته هم د دې واک ورکړل شوی وې چې په ځینو حالاتو کې د مجرم جزایي مسؤولیت راټیټ کړي او د

اصلي جزا څخه پر سپکه جزا حکم وکړي دا حالت په قوانينو کې د قضايي مخففه حالتونو په نوم يادېږي. دلته د موضوع د لا ښې روښانتيا په موخه دا هر حالت په لاندې توګه مطالعه کوو.

**الف- قانوني عذرونه**

لکه چې وړاندې مو يادونه وکړه قانوني عذرونه کله د جزا څخه د معافيت، کله د تخفيف او کله د تبرئې ( اباحت) لامل ګرځي ؛ نو د قانوني عذرونو دغه حالتونه په لاندې توګه جدا جدا مطالعه کوو.

**لومړی: هغه قانوني عذرونه چې د جزايي مسؤوليت د معافيت لامل ګرځي**

لکه چې د نوم څخه يې چې چېرې دا هغه عذرونه دي چې له جزا څخه د مجرم د معافيت لامل ګرځي. په عمومي توګه له جزا څخه معاف کوونکي عذرونه د جرم د شدت سره اړيکه نه لري بلکې د جنايي سياست او عامه مصلحتونو له مخي مقنن ځيني عملونه د جزا څخه معافوي(وليدي، ۱۳۸۲، ص. ۲۵۹).

له همدې امله د قانوني عذرونو په هکله کومه عامه قاعده شتون نه لري چې پر ټولو جرمونو پلي شي، بلکې د جنايي سياست له مخې د هر جرم لپاره د جزا ګانو څخه د معاف کوونکو قانوني عذرونو په عنوان يو ځانګړی حالت پژندل شوی دی(شامبياتي، ۱۳۷۸. ص. ۴۳۷).

د مثال په توګه: د افغانستان د جزا کوډ په ۷۲، ۴۹۴، ۵۳۹ ، ۵۱۹ ، ۸۷ مادو کې نوموړي حالات داسې تصريح شوي دي:

**۷۲ يمه ماده لومړی فقره:** ( د دې قانون په ۷۱ ماده کې درج شوی مجازات پر هغو اشخاصو نه تطبيقيږي چې په جرم کې له اتفاق څخه اړوندو مراجعو ته خبر ورکړي، په دې شرط چې خبرتيا د جرم له واقع کيدو څخه د مخه صورت موندلې وي) (جزا کوډ، ۱۳۹۶، ص. ۱۰۷).

**۴۹۴ يمه ماده:** ( که چېرې د شخص مخفي کول يا په اختفا يا له تعقيب څخه په تېښته کې مرسته د هغه د زوج، زوجې، اصول، فروعو، ورور يا خور له خوا صورت ومومي نه مجازات کېږي) (جزا کوډ، ۱۳۹۶، ص. ۴٦٦).

**۵۳۹ مه ماده:** ( هغه شخص چې ناريه وسله يا مهمات، چاودېدونکي مواد يا نوره وسله په خپل حيازت او کنترول يا تملک کې ولري؛ خو له افشا يا نيونې د مخه، په داوطلبانه ډول هغه تسليم کړي، له مجازاتو څخه معاف ګڼل کېږي) (جزا کوډ، ۱۳۹۶، ص. ۵۰٦).

۵۱۹ مه ماده لومړی فقره ۸۷يمه ماده لومړی فقره.

**دويم- هغه قانوني عذرونه چې د جزايي مسؤوليت د تخفيف لامل ګرځي**

لکه چې د نوم څخه يې چې چېرې دا هغه عذرونه دي چې له جزا څخه د مجرم د معافيت لامل نه ګرځي، بلکې د ټاکلو شرايطو لاندې په ځانګړيو جرمونو کې د جزا د ټيټوالي لامل ګرځي او د مقنن له خوايې وړاندوينه کېږي. د بېلګې توګه د افغانستان د جزا کوډ په (۸۷) ماده ۲ فقره او ۵۱۹ ماده ۲ فقره کې له نوموړو عذرونو څخه داسې يادونه کړې ده.

**۸۷ يمه ماده دويمه فقره:** ( که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوې همکاري او مرسته د جرم له ارتکاب څخه وروسته صورت موندل وي او زمينه داسې برابره کړي چې د جرمي ډلې د نورو غړو د نيولو سبب شي، محکمه د پيشبيني شوو مجازاتو په تخفيف حکم کوي) (جزا کوډ، ۱۳۹٦، ص. ۱۱٦).

**۵۱۹ مه ماده دويمه فقره:** (که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوې مرسته، د انسان د قاچاق د جرمونو له ارتکاب وروسته صورت موندلی وي او زمينه داسې مساعده کړي چې د جرمي سازمان شوې ډلې د نورو غړو په نيونه تمامه شي ، محکمه د هغه په هکله د پيشبيني شوو مجازاتو په تخفيف حکم کوي) (جزا کوډ، ۱۳۹٦، ص. ۴۹۲).

**درېيم- هغه قانوني عذرونه چې د تبرئيې (اباحت) لامل ګرځي**

دا هغه قانوني عذورنه دي چې له امله يې يو جرمي عمل خپل جرمی ماهيت له لاسه ورکوي او په مباح عمل باندې بدلېږي او مرتکب يې پر هيڅ ډول جزا يي او مدني مسؤوليت باندې نه متحمل کېږي. د افغانستان جزا کوډ په (۱۱۸) مه ماده کې د اباحت د اسبابو تر عنوان لاندې د نوموړو عذرونو څخه يادونه کړې ده، چې تر تيب سره په لومړی فقره کې يې د اباحت اسباب تعريف کړي دي او په دويمه فقره کې يې د اباحت ډولونه ذکر کړي دي.

**۱۱۸ ماده لومړی فقره:** ( جرمي عمل د اباحت د له اسبابو څخه د يوه د شتون په صورت کې جرم نه ګڼل کېږي او د مرتکب د جزايي مسؤوليت موجب نه ګرځي).

**۱۱۸ ماده دويمه فقره:** ( د اباحت اسباب په لاندې توګه دي:

۱- د مجنی عليه رضايت

۲- د د دندې ترسره کول

۳- د آمر د امر تعميل

۴- مشروع دفاع

**د معافيت لرونکي قانوني عذرونو او اباحت حالت ترمنځ توپير**

که څه هم د معافيت لرونکي قانوني عذرونه او د اباحت حالت دواړه قانوني عذرونه دي او په دواړو حالتونو کې د جرمي عمل پر مرتکب جزا نه پلي کېږي؛ خو د دوی ترمنځ لاندې توپيرونه شته.

**۱- د جرم له پلوه:** د معافيت لرونکو قانوني عذرونو په حالت کې جرم په خپل حالت پاتې کېږي او يواځې د مجرم جزايي مسؤوليت په قانون کې د ټاکلو ملاحظاتو له مخې له منځه ځي، په داسې حال کې چې د اباحت په حالت کې جرم او جزايي مسؤوليت دواړه له منځه ځي.

**۲- د مجرم کلمې د اطلاق له پلوه:** د معافيت لرونکو قانوني عذرونو په حالت کې د عمل مرتکب ته د مجرم کلمه کارول کيدای شي، ځکه هغه د خپل ارتکابي عمل پر بنسټ مجرم دی؛ خو يواځې جزا يې د قانوني ملاحظاتو پر بنست ببښل شوې ده، په داسې حال چې د اباحت په حالت کې د جرمي عمل مرتکب ته د مجرم کلمه نه کارول کېږي، ځکه چې د اباحت په حالت کې جرم په مباح عمل بدلیږي او مرتکب د هيڅ ډول جزايي او مدني مسؤوليت لرونکی نه دی.

**ب- قضايي مخففه حالات ( د جزايي مسؤوليت مخففه احوال )**

د مقنن لپاره به دا ناشوني وي چې د جرم پر وړاندې د هر مجرم جزايي مسؤوليت د هغه د تقصير له مخي وټاکي؛ نو قاضي ته د دې اړتيا شته چې د مجرم شخصيت، رواني حالت، اقتصادي حالت، د جرم د ارتکاب عوامل او داسې نور په پام کې ونيسي او د قانون په حدودو کې پر داسې متناسبه جزا حکم وکړي چې د هغه د اصلاح او تربيې لامل وګرځي. بناً قاضي ته د قانون په چوکاټ کې د دې واک ورکول شوی دی چې د جزاګانو ميزان راټيټ کړي.

دلته پوښتنه پيدا کېږي چې د هغو قانوني عذرونو چې د جزا د تخفيف لامل ګرځي او قضايي مخففه حالاتو ترمنځ توپير څه دی؟ په ځواب کې بايد ووايو چې که څه هم د هغو قانونو عذرونو چې د جزايي مسؤوليت د تخفيف لامل ګرځي او د قضايي مخففه حالاتو ترمنځ ګډه وجه د مقنن له خوا د هغې وړاندوينه او د جزا يي مسؤوليت د کچې را ټيټول دي؛ خو د دواړو ترمنځ توپير دا دی چې د جزايي مسؤوليت د تخفيف عذرونه، په ځانګړو جرمونو کې په پام کې نيول کېږي په داسې حال کې چې قضايي مخففه حالات د قانون په چوکاټ کې د محکمو په آزادانه تشخيص او قضاوت پورې تړاو لري او په ځانګړو جرمونو پورې تړاو نلري او قاضي مکلف دی چې په حکم کې د جزا د تخفيف دلايل هم ذکر کړي.

د افغانستان د جزا کوډ په (۲۱۳) ماده (۱) فقره کې د ( جزايي مسؤولیت مخففه احوال) تر عنوان لاندې نوموړي حالات داسې تعریف شوي دي: ( د جزايي مسؤولیت مخففه احوال له هغو حالاتو او اوضاعو څخه عبارت دي چې د هغو د یوه یا څو مواردو موجودیت د مرتکب د جزا د تخفیف لامل کېږي) (جزا کوډ، ۱۳۹٦، ص. ۱۹۳- ۱۹۵).

همدارنګه د یادې مادې په دویمه فقره کې هغه موارد چې د جزايي مسؤولیت د تخفیف لامل ګرځي ذکر شوي دي.

نوموړي حالات په لاندې ډول دي:

۱- د شریفانه انګیزې پر اساس د جرم ارتکاب.

۲- د روحي قوي حجان له امله د جرم آني ارتکاب چې د مجنی علیه یا ثالث شخص د غیر قانوني او تحریکوونکي عمل زیږنده وي.

۳- د مشروع دفاع پر وخت د جرم ارتکاب په هغه صورت کې چې د مشروع دفاع له حدودو څخه تجاوز صورت موندلي وي.

۴- د تهدید یا له مادي او معنوي قدرت څخه د راپیدا شوي اجبار یا وظیفوي اجبار له امله د جرم ارتکاب په هغه صورت کې چې د اکراه، د دندې د اجراء او امر د تعمیل د شرایطو له حدودو څخه تجاوز صورت موندلی وي.

۵- د ترسره شوي جرم له عواقبو څخه د مخنیوي لپاره د مرتکب کوښښ.

٦- له جرم څخه د رامنځته شوي وارده زیان داوطلبانه جبران یا د ضرر رفع .

۷- د لومړي ځل لپاره د جرم ارتکاب.

۸- د جرم پر ارتکاب د تورن اعتراف یا اقرار او د هغه د جدي ندامت څرګندول په داسې ډول چې د قضیې د واقعیت په تثبیت یا د جرمي شریکانو یا معاونانو په معرفی یا توقیف یا نیونه کې ، مرسته وکړي.

۹- د حاملې یا شیدې خوړونکي طفل لرونکي ښځې په واسطه د جرم ارتکاب.

۱۰- د مجنی علیه ابراء.

۱۱- د سن کبر د نارینه لپاره د اویا سن بشپړیدل او د ښځې لپاره د پنځه شپیته سن بشپړیدل.

۱۲- په دې قانون کې درج نور حالات او یا هغه حالات چې محکمه یې په جرم او تورن پورې له اړوندې اوضاع او احوالو څخه استنباط کوي..

د جنایت او جنحې په جرمونو باندې د قضایي مخففه حالاتو اغېز د جنایت او جنحې په جرمونو باندې د قضایي مخففه حالاتو اغېز په لاندې ترتیب سره په پام کې نیول شوی دی.

**یو**- د جنايت د جزا په ټاکلو کې د قضايي مخففه حالاتو اغیز د افغانستان د جزا کوډ په (۲۱۴) ماده کې د جنايت جرم لپاره قضايي مخففه حالات په یوه درجه تخفبف سره منل شوي دي، د مثال په توګه که د ارتکابي جرم جزا اعدام وي ۱ درجه دوام حبس ته، که د ارتکابي جرم جزا ۱ درجه دوام حبس وي ۲ درجه دوام حبس ته، که د ارتکابي جرم جزا ۲ درجه دوام حبس وي طويل حبس ته، که د ارتکابي جرم جزا طويل حبس وي متوسط حبس ته تخفيف مومي(جزا کوډ، ۱۳۹٦، ص. ۱۹٦).

**دوه- د جنحې د جزا په ټاکلو کې** د قضايي مخففه حالاتو **اغیز**

د ياد کوډ د (۲۱۵) مادې له مخې د قضايي مخففه حالاتو اغیز د جنحې د جرم په هکله په لاندې ترتیب سره په پام کې نیول شوی دی:

په متوسط حبس کې چې اقل حد ولري له اقل حد څخه لږ ته، د قصیر حبس اکثر حد دریو میاشتو حبس ته، د حبس او نقدي جزا په صورت کې له هغوی څخه یوې ته، د حبس یا نقدي جزا په صورت کې نقدي جزا ته تخفيف مومي(جزا کوډ، ۱۳۹٦، ص. ۱۹۷، ۱۹۸).

**پایله**

د دې مقالې څخه موږ دغې پایلې ته رسیږو چې د جرم او جزايي مسؤولیت ترمنځ تناسب ډېر اړین دی، که چېرې دغه تناسب شتون ونه لري موږ نشو کولی په ټولنه کې د جرمي کړنو مخه ونیسو او مجرمین اصلاح کړو او پر وړاندې یې ټولنه د مجرمینو د ناوړو کړنو څخه حمایه او پاکه کړو، ځکه چې د ځینو حقوقپوهانو په باور د شدیدو جزا ګانو په پلي کیدو سره د مجرم سره عقدې پیدا کیږي او د همدې عقدو له مخې بیا په جرمي عملونو لاس پوري کوي. برعکس د ځینو حقوقپوهانو په باور د سپکو جزاګانو پلي کیدل پر مجرم هیڅ اغیز نه کوي؛ نو لازمه او مناسبه ښکاري، چې د جزايي مسؤولیت کچه د مجرم د اخلاقي تقصیر په اندازه وټاکل شي. بناً هغه معیارونه چې په قوانینو کې د جزايي مسؤولیت د کچې د ټاکلو لپاره مشخص شوي دي او موږ په دې علمي مقاله کې تحلیل کړي دي ترڅو د مقنن د غوښتنې سره سم پلي شي، باید د محکمو او قاضیانو له خوا په جدي توګه په پام کې ونیول شي، ترڅو یادو موخو ته ورسیږو او انسانان په ټولنه کې د هر ډول اندیښنې پرته په ارامه او سوکاله توګه ژوند وکړي.

**وړاندیزونه**

جزايي مسؤولیت د جرمي کړنې د ارتکاب له امله رامنځه کیږي او همدا جرمي کړنه ده چې عملاً د انسانانو ژوند، ازادي ، مال او ابرو له خطر سره مخامخ کوي؛ نو د دې لپاره چې په ټولنه کې د دغې

منفورې پدیدې مخه ونیول شي اړینه ده چې اړونده ارګانونه لاندې ټکي په پام کې ونیسي: لومړی باید هیڅ مجرم بې د جزا له تطبیق څخه پاتې نه شي. دویم د جزایي مسؤولیت له مخې پر واقعي مجرمینو جزا پلې شي تر څو د جزا په تطبیق سره هغوی اصلاح او تربیه شي او پر بې ګناه او غیر مسؤولو کسانو باندې د جزا د پلي کیدو مخه ونیول شي او ټولنه ددوی د ناوړو عملو پر وړاندې حمایه او دفاع شي. دریم یادو موخو ته د رسیدا په موخه د جزایي مسؤولیت ډول او کچه په قوانینو کې د ټاکلو معیارونو له مخې معلومه شي ترڅو جزایي مسؤولیت د مجرم د اخلاقي تقصیر سره په انډول کې وټاکل شي. په دې توګه به موږ وکولی شو چې د جزا حقوقو په ډګر کې ډېر اړین اصول، چې هېڅ مجرم باید له مجازاتو پاتې نه شي، جزاګانې باید پر واقعي مجرمینو پلي شي او جزایي مسؤولیت باید د مجرم د اخلاقي تقصیر په اندازه وي پلي کړو او په ټولنه کې به تر ډېره بریده د جرمي او ناوړه عملونو مخه ونیسو.

**ماخذونه**

القران الکریم.

اسناد ومصوبات سیمینار عالي قضایی منعقده(۲۲-۲۵حوت ۱۳۹۵) با ضمایم، چاپ اول، انتشارات سعید.

دانش، حفیظ الله.(۱۳۹۳). نړیوال جزا حقوق دویم ټوک، کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه.

رحیمي، عبدالرحمن.(۱۳۹۸ش). د جرمونو او جزاګانو تعدد علمي مقاله، شیخ زاید پوهنتون علمي مجله، (۲۴) ګڼه.

شامبیاتي، هوشنګ.(۱۳۷۸). حقوق جزای عمومي، جلد دوم چاپ نهم، انتشارات ژوبین.

صانعي، پرویز. (۱۳۸۲). حقوق جزای عمومي، انتشارات طرح نو.

عثماني، محمد شفیع(چاپ نیټه نلري). تفسیرمعارف القرآن، ج۲، ژباړن مولوي نصیر احمد حقاني، مکتبه حنفیه کانسي روډ کوېټه

عوده، عبدالقادر. (۱۳۸۴). د اسلام جنایی تشریع او وضعي قوانین، ژباړن: عبدالهادي هدایت،دویم چاپ.پیغام نشراتي مرکز.

عدلې وزارت. (۱۳۵۵) د جزا قانون رسمي جریده، ۱۳ ګڼه، کابل: عدلیې وزارت.

عدلی وزارت. (۱۳۹۶). د جزا کود رسمي جریده، ۱۲۶۰کڼه کابل: عدلیې وزارت.

ولیدی، محمد صالح. (۱۳۸۲ش). بایسته های حقوق جزای عمومی. چاپ اول، تهران: چاپ خانه خورشیدی.

# د (تاریخ افغانستان در عصر گورگانی هند) نقد او څېړنه

پوهنوال زرولي صديقي، شيخ زايد پوهنتون، ټولنيزو علومو پوهنځی، تاريخ او جغرافيه څانګه.
برېښناليک: zarwalisedeqi@gmail.com

**لنډيز**

په علمي موضوعاتو کې يو هم د علمي اثارو د نقد موضوع ده، چې خورا اړينه او مُهمه ګڼل کېږي؛ ځکه چې طبيعي ده د يو تن د فکر او وړتيا اندازه او توان او د يو څو تنو د فکر او توان کچه سره توپير کوي، نو له دې امله د نقد په صورت کې د يو علمي اثر هغه مرموزې او مخفي برخې هم د صحت او اصلاح په موخه راښکاره کېږي او له مخې يې د يو ليکوال ليکنه او د هغې اړونده محاسن او معايب څرګندېږي، دلته يوه نقطه چې خورا مُهمه ده هغه دا چې نقد يوازې په منفي مانا سره اخيستل نه دي پکار، لکه څرنګه چې زموږ په ټولنه کې معمول دی؛ بلکې د نقد زياتې مانا ګانې دي او د څېړونکو له خوا د يوې ليکنې د لا پياوړتيا او اغېزمن تيا په موخه په يو سيستماتيکه توګه باندې ډېزاين شوی دی؛ خو په خواشينی سره، چې زموږ ټولنه، ليکوالان او څېړونکي لا د دې علمي شُکلا د مزاياوو سره زيات اشنا نه دي او چې کله څوک د چا په ليکنه د نقد له ليد لورې وګوري، مقابل لوری يې ښه نه ګڼي، په داسې حال کې، چې که چېرې موږ د نقد په ګټه او فايده باندې وپوهيږو؛ نو بيا به هر يو ليکونکی په داوطلبه توګه باندې خپله ليکنه او علمي اثر نقد ته وړاندې کوي او د منتقد څخه به ممنون او مشکور وي، له دې امله په دې ليکنه کې د هېواد د يو وتلي او مشهور مؤرخ، څېړونکي، اديب، شاعر او لوی استاد محترم مرحوم حبيبي ليکنه (تاريخ افغانستان در عصر ګورګانی هند) کتاب تر نقد لاندې نيولی او په دې کې به نقد د ارونو سره سم ياده پروسه د محترمو ځوانو ليکوالانو لپاره يو ښه بېلګه شي.

په دې نقدي څېړنه کې د نقد هر مورد ته کتل شوې او بيا د هغې اړونده غوښتنه په ياد تاليف تطبيق شوې او د هماغې برخې پايله يې په ګوته شوې ده.

په ټوليزه توګه ويلای شو، چې د څېړنې موندنه کې ليکوال د مغولو سره متقابل جهت لري او موضوعات يې هم په ياده برخه څرخي او که د تاليف محاسن او معايب سره پرتله کړو؛ نو په صراحت او ډاډ سره يې محاسن تر معايبو زيات دي او لوستل يې د تاريخ د مينه والو لپاره ګټور ګڼلی شو.

**کليدی کلمې:** افغانستان، تيمور، حبيبي، ګورګانيان، هند.

**سريزه**

**بسم الله والحمدلله والصلواة والسلام على رسول الله قال تعالى اعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم ان جاءكم فاسق بنباء فتبينو ان تصيبو قوماً بجهالة فتصبحو على ما فعلتم ندمين عن أَبِي هُرَيْرَة رضي الله**

**عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "المؤمن مرآة أخيه المؤمن، المؤمن أخو المؤمن حيث لَقِيَه يكُفُّ عنه ضَيْعَتَه ويَحوطه من ورائه" رواه الطبراني و خرج الترمذای**(زکی الدین،۱۴۰۵،حدیث شماره:۲۸)

د هند ارته او پراخه ځمکه چې یو مهال په جغرافیه کې د هند د نیمې قارې  په نوم سره مشهوره وه د تاریخ په اوږدو کې د ډېرى لوړو ژورو څخه تېره شوې ده او له دې امله یو له خورا لرغونو تمدنونو څخه ګڼل کېږي، چې په دې لړ کې یې یوه دوره د ګورګانیانو په نوم سره یادېږي، چې د ظهیرالدین محمد بابر له خوا په هند کې رامنځته شوه او تر دوه نیمو پېړیو یې دوام وکړ، د افغانستان در عهد ګورګانیان هند کتاب مؤلف د ګورګانیانو له دې لویې تاریخي دورې څخه په خپله دغه لیکنه کې په تفصیل سره یادونه کړې ده او یاده لیکنه یې په څو بابونو او هر باب یې بیا په څو څپرکو ویشلی دی، چې په اسانۍ سره ترې د یادې تاریخی دورې اړونده علمي، نظامي، عمراني، ادبي او هنري  کارونه څرګندیږي.په دې برخه کې یو بل خورا مُهم د پام وړ ټکی، هغه د دې لړۍ د افغاني ټبرونو سره د واک او قدرت په سر باندې جنجالونه وو، چې همېشه یې کوشش کاوه، چې خپل یاد دښمن وځپي او له منځه یې یوسي، چې په دې برخه کې د پیر روښان  او بیا د خوشحال خان خټک پاخونونه د پام وړ دي، همدارنګه سره له دې، چې افغانستان یوه برخه د دې امپراتورۍ برخه وه؛ خو په داخل کې د خپل داخلي نظم او واکمنۍ څخه برخمن و، چې یاده موضوع هم په همدې لیکنه کې ثابته او څرګنده ده.

**د کتاب لنډه پېژندنه**

تاریخ افغانستان در عصر ګورګانی هند د هېواد د وتلي علمي او تاریخي څېړې محترم مرحوم لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي لیکنه ده، چې په کال ۱۳۴۱لمریز کې یې په دري ژبه لیکلی او په کابل کې د انجمن تاریخ له خوا چاپ شوی دی.

دا کتاب په عنوان سره پیل کېږي او بیا د مؤلف مقدمه، اصل متن او په وروستیو کې یې ماخذونه او سرچینې راوړې دي، چې د کارول شوو سرچینو شمېر یې تر (۱۱۱) رسېږي.

دا کتاب په درې برخو وېشل شوی دی او هرې برخې ته یې د باب اصطلاح کاریدلې، چې په لومړي باب کې یې اووه څپرکي په دویم باب کې درې څپرکي او په دریېم باب کې بیا دوه څپرکي راوړل شوي او د کتاب په وروستیو کې بیا یو شمېر اړین انځورنه او د دې نسب لړۍ(شجرې) هم راوړل شوي دي.

د دې کتاب لومړی،  باب د دې لړۍ یعنې د هند د ګورګانیانو د باني محمدظهیرالدین بابر، همایون، جلال الدین محمد اکبر، جهانګیر، شاه جهان، عالمګیر اړونده موضوعات د نادرشاه افشار تر سوبې پورې، چې ډهلی یې ونیوه تشریح کوي.

په دویم باب کې بیا د دوی په وړاندې د هغه مهال د ملي پاڅونونو څخه یادونه شوي ده او ترڅنګ یې په هند کې د دې لړۍ ملکي او نظامي تشکیلات، عمراني او ودانیزې چارې په تفصیل سره بیان شوي دي.

په درېیم باب کې بیا د دې مهال د مشهورو علمي، ادبي، هنري، اداري او نظامي څېرو څخه یادونه شوې او هر یو یې معرفي شوی دی.

د کتاب د متن او محتوا اړونده موضوعات په زماني لحاظ (۲۴۰) کاله نیسي او د هغه مهال د لس کاله کم دوه نیمو پېړیو په اړه د اړینو او مُهمو تاریخي پېښو څخه معلومات وړاندې کوي.

دا چې نقد په دوه برخو وېشل کېږي(بهرنی نقد او داخلي نقد) او دا هره برخه بیا د راوي او روایت له مخې توضیح کېږي او بیا د همدې برخو هره برخه ځانته یو لړ ځانګړې موارد لري، چې په همدې لیکنه کې ټول په پام کې نیول شوي او عملاً ښودل شوي دي.

**الف: د راوي بهرنی یا ظاهري نقد**

د نقد په دې برخه کې لاندې موارد شتون لري

**۱- د کتاب د مؤلف شخصي او د کورني ژوند پېژندنه**

پوهاند عبدالحی حبیبي نورالله مرقده د مولانا عبدالحق زوی، د مولوي عبدالرحیم لمسی، چې مولوي عبدالرحیم بیا د دې مولوي حبیب ا لله زوی او د مولوي فیض الله لمسی دی.

نوموړی یعنې پوهاند عبدالحی حبیبي په کال ۱۲۸۹المریز، چې د ۱۹۱۰مېلادي کال سره سمون خوري د ګران هېواد افغانستان په کندهار ولایت کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې، د نوموړي نیکه محترم مولوي صاحب عبدالرحیم او د هغه والد صاحب مولوي حبیب الله د قندهار د مشهورو عالمانو او محققانو څخه ګڼل کېده او د محترم پوهاند صاحب تخلص( حبیبي ) د نوموړي همدې مشر نیکه حبیب الله ته منسوب دی.

دا کورنۍ د علم او پوهې له مخې هغه مهال په قندهار کې د خورا زیات قدر او مقام څښتنه وه، مولوي فیض الله د مولوي حبیب الله والد صاحب د احمدشاه بابا د واکمنۍ پرمهال د اشرف الوزراء شاولي خان په دربار کې د هغه د بچیانو استاد و او هغوی ته یې د هغه مهال مروجه علوم او فنون ورزده کول، نوموړي په پښتو، دري او عربي ژبو کې شعرونه هم ویل او یو کتاب یې په منطقو کې لیکلی، یو کتاب یې د قران کریم د تجوید په اړه لیکلی او یوه رساله یې د تحقیق التوبه په نوم سره لیکلی و. د نوموړي زوی عبدالرحیم اخوندزاده هم لکه د پلار د خپل وخت یو نامتو او جید عالم تېر شوی دی او نوموړي

بیا د امیرشیرعلي خان په دربار کې د درس ا و تدریس دنده په غاړه درلوده او په ځانګړي ډول د امیر د ولیعهد زوی عبدالله جان استاد و، دا ستر شخصیت په کال ۱۸۸۰م کې چې کله د قندهار ښار د امیرعبدالرحمن خان له خوا فتحه شو او نوموړي د خپل کاکا امیرشیرعلي خان سره د واک په سره زیات اختلاف او جنجال درلود؛ نو له دې امله یې د هغه ټول ملګري او دوستان څوک تبعید کړل او څوک یې ووژل، چې په دې لړ کې محترم عبدالرحیم اخوندزااده هم د امیرعبدالرحمن په امر ووژل شو، د مولوي عبدالرحیم وروسته د هغه زوی عبدالحق، چې په کندهار کې یې د محقق په نوم سره هم شهرت درلود د خپل وخت د لویو عالمانو او فاضلانو څخه و ګرځېده او محترم پوهاند عبدالحی حبیبي هم په دې لویه علمي کورنۍ کې را ستر شو او د دې علمي کورنۍ یو له خورا مثمرو او ګټورو علمي ښاخونو څخه شمېرل کېږي، چې بیا د هېواد او سیمې په کچه یې شهرت ترلاسه کړ. له قومي لحاظه دا کورنۍ د پښتنو په کاکړو پورې اړوند ده (رفیع،۱۹۸۵م،ص: ۱۲).

**د استاد حبیبي شخصي ژوند**

عبدالحی حبیبي په کال ۱۹۲۰م د شالیمار په لومړي ښوونځي کې شامل شو او په دې مکتب کې د شپږکلنۍ دورې تر بشپړیدو وروسته، په کال ۱۹۲۶م کې د معلم په صفت په همدې مکتب کې په دنده وګمارل شو او څه وخت وروسته بیا د افغان جریدې د مرستیال او مسؤل مدیر په دندو پاتې شو، د ۱۹۴۰م – تر ۱۹۴۱م په کابل کې د معارف وزارت د مشاور په صفت وټاکل شو او له ۱۹۴۴م- ۱۹۴۶م په کابل پوهنتون کې د ادبیاتو پوهنځي د مؤسس او لومړي رئیس په توګه خپلې دندې ته دوام ورکړ. له ۱۹۴۸م- ۱۹۵۱م کلونو کې ولسي جرګې ته د ټاکنو له طریقه د قندهار د خلکو د استازي په توګه د باور رایه ترلاسه کړه او بیا له ۱۹۵۱م- ۱۹۶۰م کلونو په منځ کې د هېواد د لوړو پوړو مقاماتو سره د یو لړ سیاسي ستونزو له امله په پاکستان کې سیاسي پناه اخیستلو ته اړ شو او هلته یې پناه واخیسته، نوموړي د خپل فطري وړتیا له مخې په کال ۱۹۶۶م کې د خپلو علمي، تاریخي او ادبي اثارو په وړاندې کولو سره و کړای شو، چې د پوهاند علمي رتبه ترلاسه کړي او په کال ۱۹۶۶م کې د هېواد د تاریخ انجمن د رئیس په توګه و ګمارل شو او بیا په کال ۱۹۷۲م کې د وخت د لومړي وزیر موسی شفیق د فرهنګي مشاور په توګه مقرر شو او په کال ۱۹۸۰م کې د اطلاعات او کلتور د وزارت د مشاور په توګه دنده ترسره کړه او با لاخره دا لویه او ستره علمي هستي په کال ۱۹۸۴م کې له دې فاني دنیا و کوچیده(هاشمي، ۱۳۷۹،ص: ۶۹).

## د استاد حبيبي دندې

استاد د خپل مسلک اړونده په عملي ډګر کې هم په بېلابېلو دندو پاتې شوی دی، نوموړي د افغاني، ایراني او هندي خپرندویه ټولنو سره کار کړی دی لکه سراج الاخبار، حبل المتین، ایرانشهر، ارمغان، الهلال، صور اسرافیل او د لرغونو دري اشعارو د مراکزو سره او په دې لړ کې یې د هغه مهال د مشهورو لیکوالانو د افکارو، لید لورو او لیکنو سره اشنا شو لکه محمود طرزي، سیدحسن تقي زاده، محمد قزویني، سیدکاظم، ایرانشهر، جمال زاده ایراني، جرجي زیدان مصري، سهیلي نعماني هندي، سلیمان ندوي او داسې نورو شخصیتونو سره په شناخت او معرفت کې یې د خپل علم او تجربې کچه لوړه کړه. او د دې ترڅنګ یې عربي، اردو، انګلیسي، اوستایي، سانسکریټ او لرغوني فارسۍ سره هم د مطالعې له مخې اشنایي پیدا کړه او له هغې څخه په استفاده کولو و توانیده او له مخې یې د مطالعې ساحه خورا پراخه شوه.

## د تاریخ په اړه د نوموړي لیکنې

په تاریخ کې حبیبي ډېرې زیاتې او په ټول پوره لیکنې لري، لکه افغانستان بعد از اسلام، تاریخ مختصر افغانستان، اندیشه جامی، تاریخ تجزیه شاهی شاهین افغان، تاریخ صنایع افغانستان، تاریخ خط و نوشت کهن افغانستان، هند تا عهد تیموریان، بلاد قدیم و تاریخی افغانستان، تاریخ افغانستان از آغاز دوره اسلامي، تاریخ سیاسي افغانستان، بابر در افغانستان، امیرکرور و دودمانش او تاریخ افغانستان در عصر ګورګانی هند، چې د دې لیکنې د نقد موضوع ده او له دې برسېره، په زیات شمېر کې علمي، څېړنیزې مقالې، ژباړې او ډېر علمي اثار لري.
په دې اړه څېړنپوه ځدراڼ لیکي: حبیبي ٥٦کاله د هېواد په علمي، څېړنیزو او کلتوري ادارو کې د پام وړ خدمتونه ترسره کړي دي او د چاپ شوو کتابونو شمېر یې (١١٥) ښودل شوی دی او د یوې څېړنې له مخې یې د کتابونو شمیر (١٣٢) او د (٨٠٠) په شمېر کې علمي مقالې لري، چې د هېواد دننه او د باندې په مشهورو جریدو کې خپرې شوې دي او په دې برخه کې لا یو شمېر ناچاپ هم پاتې دي، چې یاده موضوع لا څېړنې او پلټنې ته اړتیا لري(ځدراڼ،١٣٩٧،ص: ٤٨٣).

**۲- د راوي او روایت ترمنځ په زماني او مکاني لحاظ واټن**

داچې په هره لیکنه کې او بیا په ځانګړي ډول د نقد پرمهال د یوې لیکنې لپاره د هغه مهال پېښې، چې راوي یې نقل کوي، یو اصل هم د هغې سره د نوموړي د مهال او مکان له مخې واټن دی، چې لیکونکی یې ورسره لري.

داچې د حبیبي په شناخت او پېژندنه کې مو وویل، چې نوموړي په کال ۱۳۲۰لمریز کې پیدا شوی دی او دا لیکنه یې په کال ۱۳۴۱لمریز کې چاپ شوي؛ نو له دې امله نوموړی د یادې لیکنې د اړونده پېښو سره مستقیمه اړیکه نه لري؛ ځکه چې د یاد کتاب اړونده پیښې د (۹۱۰-۱۱۵۱) هجري قمري کلونه، چې ۲۴۹کاله کېږي رانیسي؛ خو په دې کتاب او لیکنه کې، نوموړي د یو شمېر داسې کتابونو څخه استفاده کړې ده، چې د یادې لیکنې لپاره د لومړي لاس منابعو په توګه ګڼل کېږي.

په دې اساس ویلای شو، چې لیکونکي د پېښو په مهال شتون نه درلود؛ نو د هغه لومړۍ درجه ارزښت څخه مستفید کېدای نشي، چې کومه لیکنه د پېښو پرمهال ثبت شي؛ خو د دغه زماني واټن له مخې یې بیا لیکنه د تعقل او تدبر د ځانګړتیاو لرونکي ده او په احساساتو ولاړه نه ګڼل کېږي؛ بلکې په منطقي توګه یې د هغه مهال اړونده پیښې په خپله دغه ټولګه کې ثبت کړي دي.

نوموړي په دې اړه یو اخلاقي تعادل هم مراعت کړی مثلاً د هغه مهال د ګورګاني سترو واکمنانو په اړه وایي: د دې لړۍ واکمنان پرته له شکه په هند کې د علم، صنعت او هنر له مخې د پام وړ خدمتونه ترسره کړي دي او په دې اړه یې پوره او ډېره شتمني په دې برخه کې په مصرف رسولې ده، چې نن یې دغه بېلګې د صنعت او ادب په برخه کې له سترو نوښتونو څخه ګڼل کېږي.

**۳- د لیکونکي او راوي د مخاطبینو اړونده تاریخي وضعیت او شرایط**

د یاد کتاب له سریزې څخه څرګندیږي، چې دا کتاب د تاریخ او تخصص د مینه والو لپاره لیکل شوی دی او مخاطبین یې یوازې هغه اشخاص دي، چې د یاد علم مسلکي لارویان او د تاریخ متخصصین دي؛ خو دا چې د وخت په دولتي مطبعه کې چاپ شوی دی؛ نو له دې امله ې د هغه مهال د نظام سیاسي وضعیت په متن او محتوا کې تر سترګو کېږي؛ مثلاً د یاد کتاب په ۱۳۴مخ کې لولو( دوره مغول در این سرزمین، جز خون و خشم جنگ و ستیز، چیزی را نمی بینیم، بنابران نویسنده تاریخ ملی افغان حق دارد، که بحکم این قضایا شاهنشاهان ګورګانی دهلی را کابوس های ظلم و وحشت و خونخواری در افغانستان بشناسد و دوره انها را از نقطه نظر ملیت و منافع ملی تاریخ و نامیمون و هولناک به قلم دهد(حبیبي، ۱۳۴۱،ص: ۱۳۴).

**ب: د روایت بهرنی یا ظاهري نقد**

د روایت په بهرني یا ظاهري نقد کې له لاندې مواردو څخه یادونه اړینه ګڼل کېږي

**۱-** د روایت اصالت د لیک، ژبې، کاغذ او د لیکنې میتود، چې ایا د هغه مهال د فرهنګ سره مطابقت لري؟

پورتني موارد هغه مهال زیات مهم او اړین دي، چې کله موږ په یوه خطي او قلمي نسخه باندې نقد کوو، په دې اړه د لیک ژبه، محتوا او د دې لیکنې میتود د حبیبي د لیکنې د مهال سره په تمامه مانا سره ورته دي او په دې اړه منتقد کوم تشویش او اندېښنه نه لري، چې یاده لیکنه دې د حبیبي اړونده نه وي.

**۲- د روایت معنوي نسبت د هغه مهال د نورو موازي روایتونو سره.**

دا چې په دې اړه باندې زیاتې لیکنې شتون لري او استاد حبیبي په خپله دې لیکنه کې له (۱۱۱) علمي اثارو څخه ګټه اخیستي ده؛ خو په دې اړه زه یوازې د څلورو منابعو په ترلاسه کولو و توانیدم، چې هغه خپله مطالعه کړم، چې په دې برخه کې یوه هم اکبر نامه ده، چې د ابوالفضل ابن مبارک علامی لیکنه ده، چې د اورنګزېب په وړاندې د مقاومت په اړه لیکي: افغانان در مقابل حکومت مغول مقاومت نمودند، بنابران شاه مجبور گردید و یکی از معتمدان خود محمدامین بخشی که صوبدار لاهور بود به حکمرانی کابل گماشت و برای مقابله با قوای افغانی ارسال داشت.(علامی، ۱۹۱۳م،ج،۱،ص: ۸۹).

خو په دې اړه بیا کتاب تاریخ افغانستان در عصر گورگاني هند داسې لیکي:

ایمل خان که یکی از سرداران معروف افغان بود علیه محمدامین خان صوبدار کابل تاخت های سخت نمود و تمام قوای مغول را منتشر ساخته و یا زنده دستگیر کرد، که از ان جمله خود محمدامین خان به مشکل جان به سلامت برد و عدۀ کثیری از اولاد و عائیله او بدست ایمل خان اسیر گردید(حبیبي، ۱۳۴۱،ص: ۱۲۵).

په دې اړه بل کتاب د جهانگشای نادری دی، چې د نوموړي لیکوال د نادر په لاس د کابل د سوبې په اړه لیکي:

: وقتیکه نادرشاه بعد از فتح قندهار بر غزنین حمله کرد باقرخان حاکم غزنی گریخت و این شهر در ۲۲صفرالمظفر سال ۱۱۵۱هجری به تصرف نادر درآمد و بعد از این به کابل تاخت، ولی کابل نیز مقاومت کرده نه توانست و در ۱۲ربیع الاول همان سال این جاه نیز تصرف گردد(استرآبادی،۱۳۷۷،ص: ۳۰۸).

چې همدا موضوع په ورته شکل سره د حبیبي په لیکنه کې هم منعکس کېږي:

تمام افغانستان به وسیله قوای نادر مفتوح و از تصرف شاهان مغولیه هند برآمد و بساط سلطنت پادشاهان گورگانی هند بعد از مرور ۲۴۰سال که بابر تاسیس کرده بود، در عهد محمدشاه از افغانستان برچیده شد.
د ابوالفضل علامي په اکبرنامه کې د کابل د سوبې نېټه (۹۱۰)هجري ښودل شویده (علامی،۱۹۱۳م،ج،۱،ص:۸۹)
خو حبیبي بیا یاده نیټه ۹۲۵هجری ذکر کړې ده.(حبیبي،۱۳۴۱،ص.۱۲٦).
خو دا ستونزه د زیاتو منابعو څخه د استفادې پرمهال لیدل کېږي او په دې اړه په زیاتو لیکنو کې ورته ستونزه شته؛ څکه چې یو مؤرخ او لیکونکي د یوې پېښې لپاره یوه نېټه لیکلې؛ خو بیا یاده پېښه د یو بل مؤرخ له خوا په بله نېټه ثبت شوې ده، چې دلته حبیبي یاده نیټه د فرشته د لیکنې په حواله سره راخیستې؛ خو دا ستونزه زیاته ده او په هره لیکنه کې شتون لري، له دې امله سطحي نیول کېږي.

### ۳- د روایت د اړونده ماخذونو او سرچینو څېړنه

لکه څرنګه چې وړاندې هم ترې یادونه وشوه، په دې کتاب کې استاد حبیبي له (۱۱۱) ماخذونو څخه استفاده کړې ده؛ خو د یو علمي اثر نقد ته په کتو، چې په دې اړه کومه ستونزه تر سترګو کېږي، هغه دا ده، چې د یادو زیاتو لیکنو مؤلفین خپله افغانان دي او هغوی په دې اړه لکه د حبیبي د خپلو نظرونو او اندونو څخه اغېزمن دي لکه تذکیرة الابرار والاشرار د اخون درویزه، مخزن اسلامي د اخون درویزه، تاریخ مرصع د افضل خټک، کلیات خوشحال د خوشحال خټک، د کاظم خان شیدا دیوان، تاریخ افغاني د شیخ امام الدین متی، شکرستان او بهارستان د میراحمدشاه رضواني، د عبدالقادرخان خټک دیوان، پټه خزانه د محمدهوتک او داسې نور...
په دې تالیفاتو کې لیدل کېږي، چې د یادو لیکنو مؤلفین د هند له مغولو کومه ښه خاطره نه درلوده؛ بلکې د هغوی یو ډول مقابل لوری ګڼل کېده او همیشه ورسره په جنګونو بوخت وو، لکه جهانګیر، اورنګزیب، شاه جهان څخه د نمونې په توګه باندې یادونه کولای شو، چې مستقیماً د پښتنو سره په جنګ کې ښکېل و او خوشحال خټک د اورنګزیب د واکمنې په مهال په ډهلي او رنتپهور کې بندي و او چې کله له زندان څخه ازاد شو او خپل وطن ته راغلی؛ نو د مغولو په وړاندې یې د جهاد اعلان وکړ؛ خو په دې لیکنه یعنې افغانستان در عصر ګورګانیان هند کې د خوشحال خټک له کلیات څخه هم استفاده شوې ده، چې نوموړې خپل زیات شعرونه د مغولو د ظلم او ستم په اړه ویلي دي او په همدې کلیات کې یې راوړې، داچې موږ د نقد په اصولو کې وایوو، چې باید په لیکنه کې د بې پلوۍ اصل مراعت شي، چې یاد مورد ته زیاته پاملرنه نه ده شوې.

**۴- د کارول شوو ادبیاتو او کلماتو په اړه د روایت څخه تر لاسه شوې فهم او مطلب**

دا لیکنه په دري ژبه ترتیب شوې ده او د لیکوال معمول او موروج سبک پکې په تمامه مانا سره مراعت شوی او له ورایه ښکاري، یو خو لیکوال په دري ژبه او یادو ادبیاتو کې پراخه لاس او مهارت لري او بل دا چې د لیکنې د ټولو ارونو سره لیکوال اشنا دی؛ نو له دې امله د لیکنې اړونده ټول ارونه مراعت شوي او حقوق یې په تمامه مانا سره محفوظ دي.

**۵- له روایت څخه د غیر واقعي چارو لرې کول**

لیکوال په دې اړه زیار ګاللی، چې د خپل روایت څخه هغه کړنې او چارې لرې کړي، چې د بېلابېلو منابعو له مخې یو د بل سره په ټکر کې دي، له دې امله نوموړي په اووم څپرکي کې پایلې او نقد ته ځانګړی کړی دی او په همدې څپرکي کې په دې اړه یو ځای کې لیکي:

که این ملت شیردل و سلحشور و دلاور تا اواخر دوره مغول در مقابل پادشاهان اقتدار طلب انها مقاومت کردند.....

او بیا د خوشحال خټک وصیت راوړي، چې وایي: ما په داسې یو ځای کې دفن کړئ، چې هلته د مغولو د خپو ګرد نه وي.

**ج: داخلي نقد**

داخلي نقد هم لکه د بهرني نقد د راوي او روایت له مخې څېړل کېږي او موارد یې عبارت دي له:

**۱- د راوي ارزونه**

داچې په دې برخه د نقد هغه اړخونه په پام کې نیول کیږی، چې په متن کې یې ذکر او یادونه شتون نه لري؛ بلکې د یو مؤرخ فهم او تحلیل معلومول یې اصلي هدف وي او دا ځکه چې په هره تاریخي لیکنه کې، که محض توصیفي هم و اوسي د مؤرخ فهم او فکر ورپکې لازماً مستور او مخفي وي (حضرتی،۱۳۸۸،ص: ۷).

د دې برخې د لاسپړنې او وېشنې لپاره لاندې موارد اړین دي:

**۱- د یو راوي د غوښتنو او تمایلاتو څخه فهم ، چې نوموړی یې د خپل متن څخه لري**

دا چې حبیبي د افغانستان له مؤرخینو څخه دی او پرته له شکه ورپکې د خپل هېواد او هېوادوالو سره مینه له ورایه څرګندېږي؛ نو له دې امله ویلای شو، چې نوموړي په خپله دې لیکنه کې د مغولو سره یو متقابل جهت لري او که هرڅومره وغواړي، چې په خپله دې لیکنه کې ځان او لیکنه بې طرفه کړي،

امکان نه لري، سره له دې، چې د هغه زیات تمرکز به د منابعو او ماخذونو په حواله سره وي؛ خو بیا به هم ورپکې د نوموړي فکر، میلان او مقصد نغښتی وي؛ نو په دې لیکنه د یو منتقد په توګه د نوموړي د کاملې بې طرفۍ څخه ملاتړ نه شو کولای.

نوموړی د اکبر پاچا د دورې په اړه لیکي: د روښاني خوځښت د خپلواکۍ غوښتلو په اساس، اکبر د دوی سره له غناده ډک چلند وکړ او په همدې لامل یې د پښتنو غرونه او رغونه تر اټک پورې په مسلسله توګه تر جنګ لاندې و نیول؛ تر دې چې دا سیمې یې د یادو مقابله کوونکو په وینو باندې سرې کړې.

په همدې اړه په یو بل ځای کې لیکي:
مغولو په حقیقت کې د دې سیمو په اوسیدونکو باندې زیات ظلم کاوه، چې نن د افغانستان په نوم سره یادېږي او زیاتوي، د اورنګزیب کارونه سم او د قناعت وړ وو؛ خو ټولنیزې چارې یې په کمال قساوت قلبۍ باندې ولاړې وې او په دې اړه یې د رحم هېڅ خیال نه ساته او زیات وینه تویونکی و. او په دې لړ کې په ځانګړي توګه بیا د افغانانو په وړاندې ډېر ظالم او سخت و او د افغانستان تاریخ نوموړي د یو وینه تویونکي او ظالم پاچا په صفت سره پېژني او د نوموړي دوره زموږ د هېواد د تاریخ لپاره یوه توره او د ظلم ډکه دوره ګڼل کېږي.(حبیبي،۱۳۴۱ص، ۱۲۹).

**۲- په متن کې د یو روایت له نقلو څخه د راوي موخه او مقصد**

په دې اړه د لومړي ځل لپاره کونتین اسکینر د ماکیاولي د نظریاتو په اړه دا معلومه کړه، چې د یو لیکونکي د متن د مقصد څخه وړاندې باید د لیکونکي مقصد څرګند شي، چې د دې متن له لیکول څخه یې لري او په دې اړه زیاتوي، تر هغې موږ د یوې لیکنې د متن په واقعي مفهوم او مقصد نشو پوهېدلی، چې ترڅو مو د هغې د لیکوال مقصد نه وي پېژندلی(اسکینر،۱۳۸۰،ص:۲۳).

دلته هم که په دې اړه ولیدل شی، د حبیبي مقصد د یادې لیکنې څخه دا دی، چې یو خو د افغانستان د هغه مهال شتون ثابت کړي، چې دا خاوره د افغانانو ټاټوبی و او دلته میشت و او بل دا چې د هند مغول د دې ځای اصلي هستوګن نه وو؛ بلکې دوی خو له منځنۍ اسیا څخه کابل ته او بیا له کابل څخه هند ته راغلل او د دې ځای په اصلي اوسیدونکو یې ظلم شروع کړ، چې د واک په وړاندې یې مانع نه شي.

**۲- د روایت ارزونه**

د روایت په ارزونه کې باید لاندې موارد په پام کې و نیول شي:

**۱-** د روایت واقعي مانا او د هغې پېژندل، چې ربښتیا د عقل سره سمون خوري او هم د عقلي تحلیل له مخې هغه ورک نقاط پیداکول، چې په متن کې شتون لري.

په دې اړه، چې کومه لیکنه د حبیبي په پام کې نیول شوې ده، په تمامه مانا سره ورپکې داسې څه نه ترسترگو کېږي، چې هغه دې د عقل سره په ټکر کې و اوسي.

۲- په روایت کې د هغو مفقودو برخو پیدا کول، چې په متن کې پټې وي او د لیکنې ټول محور هم په هغې څرخي.

په دې اړه چې د یادې لیکنې لپاره کومه موضوع اصلي محور دی، هغه د مغول ظلم او تجاوز دی،چې دا لړۍ له بابر څخه تر اورنگزیب په خپل سیاست کې د ظلم په اساس ولاړه وه.

**پایله**

تاریخ افغانستان در عصر گورگانیان هند د لیکنې نقدي څېړنه مو دې پایلې ته رسوي، چې یاده لیکنه کې د لیکوال د لیکنې اهداف او مقاصد شتون لري، منابع یې د همدې سیمې لیکوالانو ته منسوب دي، متن یې په تعقل او تدبر بناء دی، په متن کې یې د عقل خلاف مفاهیم شتون نه لري، د تاریخي لیکنې وړتیا لري، د خپل وخت یو منل شوی عالم او مؤرخ گڼل کېږي، ډېری علمي، څېړنیزې، ادبي، تاریخي لیکنې او چاپ اثار لري، مخاطبین یې د تاریخ د علم مینه وال دي، د کتاب چاپ یې د هغه مهال دولتي مطبعې ترسره کړی دی، په لیکنه کې د بېلابېلو منابعو څخه استفاده شوي ده او د موضوع په تړاو د هغوی ترمنځ ټکر یې له منځه وړی دی، له دې امله ویلای شو، چې په ټولیزه توگه یې محاسن او گټې د تاریخ د مینه والو لپاره زیاتې گڼل کېږي.

**وړاندیزونه**

۱- په تاریخي نقد د پوهیدلو لپاره دې علمي مقالې، سمینارونه او ورکشاپونه وړاندې شي.

۲- د علمي تاریخي نقد روحیه دې پیاوړې شي.

۳- د علمي تاریخي نقد لپاره دې بېلابېلې مشروع رقابتي برنامې په کار واچول شي.

**ماخذونه**

القران الکریم

استرآبادی، محمدمهدی ابن محمدنصیر(۱۳۷۷)، جهانګشای نادری، مصحح: انور عبدالله، تهران: انجمن اثار و مفاخر فرهنګي.

اسکینر، کونتین (۱۳۸۰)،ماکیاولی، ترجمه: عزت الله فولادوند، تهران: طرح نو.

ځدراڼ، محمدشریف(۱۳۹۷).پښتانه د تاریخ په بهیر کې (دمقالو ټولګه)، کابل:شمشاد هاشمي مطبعه.

حبیبي، عبدالحی (۱۳۴۱)، افغانستان در عصر ګورګانی هند، کابل: مطبعه دولتي

حضرتی، حسن (۱۳۸۸)، درآمدی بر نقد تاریخی، تهران: کتاب ماه تاریخ و جغرافیه.

رفیع، حبیب الله(۱۹۸۵م)، د منځنۍ اسیا د لوي علمي شخصیت پوهاند عبدالحی حبیبي ژوند او اثار،شپرمیاشتنی څیړنیز ژورنال، پېښور: د پېښور پوهنتون مطبعه.

زکی الدین ابی محمد عبدالعظیم ابن عبدالقوی المنذری(۱۴۰۵ق)، اربعون حدیثاً فی اصطناع المعروف،المملکة العربیه: الاوقاف و الشؤن الاسلامیه.

علامی، ابوالفضل بن مبارک(۱۹۱۳م)، اکبرنامه، لکهنو-هند: منشي نولکشور.

هاشمی، سید محی الدین(۱۳۷۹)، د افغانستان مشاهیر، لومړی ټوک، پېښور: د صبور اسلامي خپرونو مرکز.

# د پښتو ادب په لرغونې دوره کې د سېمبول ځرک

پوهندوی دوکتور سبحان الله شهاب، شیخ زاید پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو څانګه
برېښنالیک: subhanullah.shahab1364@gmail.com

**لنډيز**

سېمبول د نښې یا علامې په معنا دی، چې له ځان پرته د یوه بل څېز یا پدیدې ځرګندویي کوي. په ژبه، ادب او بیا په شعر کې هغه ویی (لغت) دی، چې د اصلي او ټاکلې معنا پر ځای یې یوه بله معنا راخپله کړې وي، لکه د سپینې کوترې څخه چې د سولې معنا اخېستل کېږي، د لمر څخه د یوې مو ضوع روښانتیا او له زمري څخه د توریالي او تکړه معنا اخېستل کېږي، له دې ځرګندونو څخه هدف دا دی، چې سېمبول داسې یوه نښه ده، چې په شعر کې د یوې ذهني مجموعې استازیتوب کوي او کله چې په یوه کلمه کې ورسره مخامخېږو؛ نو له هغه څخه د هغو معناوو درک اخلو، چې دغه کلمه یا مفهوم د هغو د نښې (سېمبول) په توګه ټاکل شوې ده. په دې توګه وینو چې سېمبول د شاعرانه انځورونو بشپړوونکی دی، چې د همدې لپاره شاعران له سېمبولونو څخه کار اخلي د لرغونې دورې د هغو شاعرانو شعرونه ته سر ورښکاره شوی دی، چې په اشعارو کې یې سېمبولونه کارولي دي. د دغې مقالې هدف د پښتو ادب لرغونې دوره کې د سېمبول ځرک معلومول دي او په دغه څېړنه کې له تشریحي مېتود ګټه پورته شوې ده او ډول یې کتابتوني دی، د دې څېړنې په بشپړولو کې دې نتېجې ته ورسېدو چې سېمبول د پښتو ادب د لرغونې دورې څخه شاعرانو په خپلو شعرونو کې کارولی دی، یعنې مخینه یې ډېره پخوانۍ ده.

**کلیدي کلیمې**: ادب، دوره، سېمبول، شاعر، شعر، لرغونې دوره

**سریزه**

**بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ! الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین.**

په لرغوني وخت کې انسانانو د هر شي لپاره قراردادي غږیز سېمبولونه وټاکل، چې د غږونو د یوې سېمبولیکې مجموعې په توګه مفهوم رساوه او بیا چې کله د غږونو دا مجموعې سره منظمې شوې ژبه یې رامنځته کړه، وروسته یو څه پرمختللو انسانانو د دغو غږونو لپاره انځوریز سېمبولونه (شکلونه) وټاکل؛ کله یې چې دا شکلونه سره یو ځای کړل نو ترې لیک جوړ شو، بیا انسانانو هنري او مذهبي سېمبولونه او نښې رامنځته کړې، چې د دوی د فرهنګ او تهذیب نښه شوه، په دې توګه وینو چې

سېمبولونه له ډېر پخوا وختونو څخه انسانانو سره مله دي او انسانان د هغو له رامنځته کولو، پرې پوهېدلو او ورڅخه د ګټې اخېستنې له منطق سره بلد دي.

په دې توګه سېمبول او سېمبول جوړونې يوازې په ليدني هنرونو کې نه؛ بلکې په شعر او ادبي آثارو کې هم خپل د پام وړ ځای ومونده. په دې ليکنه کې هڅه شوې ده، چې د لرغونې دورې د شاعرانو شعرونه له مطالعې لاندې ونيسو، تر څو هغه اشعار په نښه کړو، چې د سېمبول له کارونې څخه په کې ګټه پورته شوې ده او د مقالې د ليکلو اهميت هم په دې کې دی، چې لوستونکي او د ادب شاګردان به پر دې پوه شي، چې په پښتو اشعارو کې د سېمبول ارزښت څومره خوندور دی او سېمبول په پښتو ادب کې له پخوا زمانې څخه په شاعرۍ کې په ښه مهارت سره کارېدلی دی او د لرغونې دورې شاعرانو په دې برخه کې خپل استعداد ازمايلی دی، د دې ټولو خواوو سره په څنګ کې د لرغوني دورې شاعران هم په لنډه توګه معرفي شوي دي، د دوی په اشعارو کې په کارېدلي سېمبولونو بحث شوی دی.

## موخې

۱. په ادبياتو کې د سېمبول پېژندنه
۲. په شعر او شاعرۍ کې د سېمبول ارزښت
۳. په لرغونې دوره کې د شاعرانو په اشعارو کې د سېمبولونو په نښه کول

## کړنلاره او کار توکي

د دې څېړنې مېتود تشـــــريحي دی او ډول يې کتابتوني دی، چې لومړی د موضوع د ښې روښانتيا په موخه د سـېمبول په هکله معلومات وړاندې شـوي او بيا د پښـتو ادب د لرغوني دورې په اشـعارو کې سېمبولونه په نښه شوي او لنډ بحث پرې شوی دی.

## د څېړنې ارزښت

د دې څېړنې ارزښت په دې کې دی، د لرغونې دورې په شاعرۍ کې چې کوم سېمبولونه کارول شوي دي، د هغوی د استعمال ځايونه او د شاعرانو هدف او غايه ښودل شوې ده، له دې مخکې داسې کومه څېړنه په نظر نه ده راغلې، چې د علمي مقالې په شـکل وړاندې شـوې وي، کوښـښ شـوی چې لنډ مثالونه وړاندې شي او په مقاله کې د سيمبول هدف ښودل شوی دی.

## تېرو آثارو ته کتنه

سـېمبول په شـاعرۍ کې هغه کلمې دي، چې هر لوسـتونکی ترېنه د خپل فکر پر بنسـټ خپل مطلب اخېستلای شي. سېمبول يوازې د يوې معنا لپاره نه راوړل کېږي او نه کارول کېږي؛ بلکې له هغه څخه ګڼې معناوې مرادېدلای شي، ځينې وايي سـېمبولېزم هغه سـبک ته وايي چې هر څوک پکې يو شـی

ويني، سېمبوليک شعر بايد داسې وي، چې د عامو وګړو له پوهې څخه لرې وي، فقط يو څه اندازه د هغه په معنا پوه شي (همکار، ۱۳۹۶ ل).

د سېمبول اصطلاحي معنا د يو شي کردار، يا د يوې واقعې په مجازي توګه د خپل ځان څخه لرې د يو بل شي نماينده‌ګي کولو ته سېمبول وايي؛ ځکه چې د يوې کلمې مجازي مفهوم علامتي يا سېمبولي مفهوم وي، لکه: شمع د علم سېمبول دی، تله د عدل او انصاف سېمبول دی، پروانه د عشق سېمبول دی، ګنده بوټی د ملک دښمنه او اسلام دښمنه کسانو سېمبول دی.

د لغوي معنا پر خلاف په اصطلاحي معناوو کې سېمبول لويه معنا ښندي، چې زيات مفهوم افاده کوي، هر څوک ترې د خپلې پوهې په اندازه مطلب اخلي، که په لنډه توګه ووايو په اشعارو کې د سېمبول ښکلا څو چنده زياتېږي او يوه لويه مو ضوع په لنډو الفاظو کې راتلی شي (صلاح الدين، ۲۰۱۹ م، ص. ۸).

د پښتو شاعرۍ تاريخ ډېر لرغونی دی، د لرغوني ادب د شاعرانو د ژوند حالات، واقعات، او معلومات که مونږ ته لرو ډېر په لاس راغلي دي، هغه د محمد هوتک د تذکرې (پټې خزانې) او سليمان ماکو تذکره الاولياء برکت دی، چې له دې څخه مخکې د دغو شاعرانو احوال او څرک په بل ځای کې نه ليدل کېږي.

### امير کروړ ( ۱۳۹هـ ق)

د لاسته راغلو معلوماتو پر اساس د پښتو ژبې لومړی شاعر امير کروړ د امير فولاد سوري زوی دی. د ده څخه مخکې د بل کوم داسې شاعر شعري کلام په لاس نه دی راغلی؛ ځکه چې د پټې خزانې نه علاوه بل داسې کوم ماخذ په لاس کې نه لرو، چې له ده څخه مخکې د بل کوم شاعر څرک په کې لګېدلی وي او موږ پرې بحث وکړو. محمد هوتک په "پټه خزانه " کې د امير کروړ په هکله داسې معلومات وړاندې کوي:

"شېخ کټه متي زي غورياخېل په خپل کتاب لرغوني پښتانه کې، چې دی نقل که له " تاريخ سوري " څخه چې په بالشتان يې کتلی او موندلی و، شېخ کټه عليه رحمت هسې وايي چې په تاريخ سوري کې راوړي چې امير کروړ د امير پولاد سوري زوی و چې په کال ۱۳۹ ق، د غور په مندېش کې امير شو او "جهان پهلوان " يې باله (هوتک، ۱۳۳۹ ل).

کله چې امير کروړ د غور په منډېش کې مشر وټاکل شو، شاید چې په دې وخت کې يې عمر د دېرشو او څلوېښتو کلونو ترمنځ وي؛ څکه کله چې يو شخص د يوې علاقې مشر ـ ټاکل کېږي؛ نو د اصولو پر اساس بايد ذهني بلوغيت ته رسېدلی وي، چې په همدې وخت کې به يې دا (وياړنه) ويلي وي.

کله چې سړی دا وياړنه ګوري؛ نو پوهېږي چې په پښتو ادب کې د دې نه مخکې هم شاعري شوې ده، څکه چې په يوه ژبه کې لومړی شعر دومره پوخ او عالي نه وي؛ نو حتماً پښتو ژبې نوره شاعري درلوده؛ خو د وخت او حالاتو ناخوالو له موږ څخه نادرکه کړې ده؛ عبدالغفور لېوال وايي:

"دا لا دقيقه نه ده چې د پښتو شاعرۍ لرغونتيا کومې زمانې ته رسېږي؟ زما په نظر تر دې مخکې ، چې د غزل، قصيدې، رباعي، مثنوي او نورو فورمونو څرک پښتو ته را راسېږي ـ پښتو خپل شاعرانه کالبونه درلودل، چې د مشهورو ولســــــي فورمونو، لکه: (لنډيو، سروکو، نارو، غاړو تر څنګ شاعرانو خپل عواطف او احساسات په کې بيانول (ليوال، ۱۳۹۱ ل).

له نور بحث څخه تېرېږو دا چې زموږ مو ضوع په لرغوني شاعرۍ کې د سېمبول څرک ده؛ نو راځو خپلې اصلي مو ضوع ته. چې پيل يې له اميرکروړ څخه کوو، د امير کروړ سوري د وياړنې لومړي بيت کې وايي:

زه يم زمرى، پر دې نړۍ له ما اتل نشته
په هندو سيندو پر تخارو پر کابل نشته

(هاشمي، ۱۳۹۳هـ ش، ص. ۲۴)

"زمرى" د توريالتوب، تکړه‌والي، زړورتوب او د مېړانې لپاره د سېمبول په توګه کارول شوی دی، زمری د زورور، مشر او هوښيار سړي لپاره هم د سېمبول په توګه راغلی دی؛ که دې ته پاملرنه وکړو، زمري ته څکه د ځنګل پاچا ويل شوی، چې له يوې خوا په نور حيواناتو زورور دی، له بلې خوا په نورو حيواناتو کې هوښيار دی. کله چې په انسانانو کې دغه خوبۍ موجودې وي، نو خلک ورته د سېمبول په شکل بيا د زمري خطاب کوي.

**بېټ نيکه ( ۳۰۰ - ۴۰۰ هـ ق)**

په لرغوني ادبي دوره کې د امير کروړ نه وروسته، چې د کوم شاعر يادونه شوې ده، هغه بېټ نيکه دی، بېټ نيکه په لويه کې د پښتنو د مشهورې کورنۍ غرغښت او سړبن ورور دی، چې د ژوند زمانه يې د (۳۰۰ څخه تر ۴۰۰ هـــ ق) کال پورې ده، داسې ويل کېږي چې شاعري يې په پوخ عمر کې کړې ده، څکه چې د لاســته رغلی مناجات يې په سپينګيرتوب کې ويلي؛ سليمان ماکو په تذکرة الاولياء کې وايي:

"نقل کاندي چې ښېښی سپین بږیری شو؛ نو ده به هر کله څښتن ستایه او رب ته به یې درخواست کاوه، چې زما په کاله د سړبن او غرغښتي په کور کې کېږده ـ بادار قبول کړ، د ده درخواست او ډکه شوه زمکه د پښتونخوا، د ده په قول نقل کاوه شي چې ښېښي به ډېر تر ډېر راستنیده او د کسي ـ غره کې به ګرځېده په شپې (حبیبي،۱۳۶۱ ل، ص. ۱۸).

د بیټ نیکه مناجات د شکل او مضمون له پلوه د پښتو بدلو ته ورته دی او یو تکرارېدونکی کسر لري، چې په دې مناجات کې یې د سېمبول استعمال په ډېر زړه راښکونکي انداز سره کړی دی، لکه چې وایي:

| | |
|---|---|
| لویه خدایه لویه خدایه | ستا په مینه په هر ځایه |
| غر ولاړ دی درانوي کې | تږوله ژوی په زاری کې |
| دلته دي د غرو لمنې | زمونږ کېږدی دي پکې پلنې |
| دا وګړي ډېر کړې خدایه | لویه خدایه! لویه خدایه! |

(ماکو، سریزه: حبیبي،۱۳۶۱ ل)

د بیټ نیکه د دغې مناجات د دویم بیت په لومړي نیم‌بیتي کې (غر) د سېمبول په توګه کارول شوی، په دې بیت کې یې "غر" ځان مخاطب کړی دی، الله جل جلاله ته وایي چې زه درته لکه د غر په څېر محکم ولاړ یم، بې له تا، بې ستا له ذکر، بې ستا له غوښتنې هېڅا ته اړتیا نه لرم. دلته "غر" د محکم او قوي عزم په توګه د پاتې کېدو لپاره سېمبول راوړل شوی دی.

## شېخ اسعد سوري

شېخ اسعد سوري د محمد زوی و، دا شاعر په لرغوني دوره کې ډېر لوړ مقام لري او د (۴۰۰هـ ق) په شاوخوا کې ژوندی و، اسعد سوري په غور کې اوسېده او په (۴۲۵هـ ق) کال د (زمینداور) په (بغنین) کې وفات شو، د امیر محمد سوري سره یې اشنایي او دوستي لرله، هلته د سوري خاندان په پادشاهۍ کې ډېر عزتمند و، کله چې سلطان محمود په غور کې د امیرمحمد سوري سره جګړه وکړه او اهنګران یې محاصره کړه؛ نو په دې وخت کې شېخ اسعد سوري هم د اهنګرانو په کوټ کې و، په جګړه کې امیرمحمد د سلطان محمود له لوري ونیول شو او غزني ته یې د بندي په شکل بوت، دا چې امیر محمد سوري خورا زړور او عادل امیر و، د خپل غیرت له امله په بند کې مړ شو، شېخ اسعد د امیرمحمد سوري دوست او ملګری و، د ده په مړینه یې قصیده وویلې او د خپل زړه درد یې پکې څرګند کړ (یون، ۱۳۹۹ ل، ص. ۱۴۶).

د شېخ اسعد سوري د قصیدې څو بیتونه دلته راوړو او ګورو چې په دغو بیتونو کې څنګه سېمبولونه کارېدلي دي، لکه چې وایي:

د فــلــک لــه چــارو څــه وکــړم کــوکــار
زمــولــوي هــر ګــل چــې خــانــدي پــه بــهــار
(یون، ۱۳۹۹ ل، ص. ۱۴۶)

د شېخ اسعد سوري د قصیدې په اولني بیت کې د " فلک" نه هدف د الله ذات دی، شاعر د خپل یار امیر محمد سـوري په مرګ غمجن دی، وایي چې دا د الله کارونه دي او د الله جل جلاله په کارونو به څه چغې وکړم، د "ګل " څخه یې هدف د خپل دوست او ملګري امیر محمد سوري ښکلې ځواني ده او له "بهار" نه یې هدف ښایسته او ښکلی وخت دی، چې په دې توګه یې سېمبولونه کارولي دي.

هــر غــاټــول چــې پــه بــېــدیــا غــوړېــده وکــا
رېــژوي یــې پــاڼــې کــانــدي تــار پــه تــار
(ښتین، ۱۳۹۱ ل، ص. ۲۶)

په دویم بیت کې یې "غاټول" د ښـکلې ځوانۍ یا ډېر حسـن سـېمبول دی چې د شـاعر مطلب ترې د خپل یار ښایسته ځواني ده.

پــه دې ویــر د غــور وګــړي تــور نمــري شـــول
پــه دې ویــر رڼــا تــیــاره ســـولــه د ښـــار
(حبیبي، ۱۳۸۴ ل، ص. ۴۸۷)

په پورته بیت کې "تور نمري" د خفګان سـېمبول دی، چې د بند په حالات کې د درد او غم سـختیانې او بیا په بند کې مړ کېدل شېخ اسعد سوري د تور نمري سېمبول کارولی دی. همدا رنګه د همدې بیت په دویم نیم‌بیتي کې "رڼا" د خوشحالۍ او "تیاره"د خفګان او سېمبول دی.

نــه ښـــکـــارېـــږي هـغـه ســـور د ســـور پـه لـتـو
نـــه ځـــلـــېـــږي هـــغـــه لمـــر پـــر دې دیـــار
(هاشمي، ۱۳۹۲ ل، ص. ۴۴)

د پورته بیت په دویم نیم‌بیتي کې "لمر" د ښې ورځې سېمبول دی، چې د ښه او روښانه ژوند لپاره هم استعمالېږي. د اسعد سوري مطلب او هدف هم همدا دی چې امیر محمد سوري په غور کې نشته نو د ښې ورځې امید هم په غور کې نه دي پکار.

عبدالغفور لېوال په خپل کتاب "شعري سـېمبولونه" کې د ملا باز توخي د بدلې دوه بیتونه د سـېمبولي وضاحت سره په دې ډول وړاندي کړي دي:

پـه کـار مـې نـه دی ســـتا بـې مـخـه د جـنـت زیـړی ګـل
راســـه پـر څـنـګ، راســـه لـېـلـیٰ چـې سره وکـړو خـوالـه
زه د غـرو "بـاز" وم تـا بـنـدي کـړمـه قـفـس کـې پـر څـه
یـو وار مـې خـلاص کـه چـې بـیـا زده کـړم د وزر خـپـرول
(لیوال، ۱۳۹۵)

په لومړي بيت کې د جنت زېړی ګل د ژوند له ټولو ښو شرايطو لپاره په زړه پورې او نوی سېمبول دی او په دويم بيت کې "باز" سره له دې چې د شاعر نوم هم دی؛ خو دلته د ازادۍ، لوړ پرواز او له بند څخه د خلاصون سېمبول دی، ملا باز توخي خپل نوم د خپل ژوند لپاره د يوه په زړه پورې سېمبول په توګه کارولی، چې د الوتونکي تصور هم تداعي کوي.

## شيخ تېمن بابا

شېخ تيمن د کاکړ نيکه زوی د پښتو له پخوانيو شاعرانو څخه دی، چې عابد او زاهد سړی و، د پټې خزانې مؤلف وايي: زما پلار داود خان په بستان‌الاولياء کې د شېخ تيمن شعر لوستلی و او ما له خپله پلاره واورېده، دا شعر په پښتو قديمو اشعارو کې ښه عشقي نښه ده، د وزن، الفاظو او کلماتو له پلوه خالص او سوچه پښتو شعر ګڼل کېږي (يون، ۱۳۹۹ ل)

د شېخ تمن بابا د شعر په يوه برخه کې د سېمبول کارونه په ډېر ښه مهارت سره شوې ده؛ لکه چې وايي:

نه به بيا يم نه به بيا راسي
نه به تياره شپه زما رڼا سي
نه به شهۍ راته پخلا شي
بېلېږي پير يې اوس د يون راغی
(هېوادمل، ۱۳۷۹ ل، ص. ۵۴)

د شېخ تېمن بابا د سندرې د دې بيتونو د لومړي بيت په دويم نيم‌بيتي کې له "تياره شپه" څخه هدف سخت ژوند، د درد و غم نه ډک ژوند، په خفګانونو او پرېشانو کې راګېر ژوند دی، شاعر وايي چې دا به هله "رڼا" شي چې شهۍ (معشوقه) راشي، د شهۍ په راتلو سره به مې ژوند په رڼا شي، د "رڼا" نه هدف خوشحالي، اطمېنان، راحت، سکون او نور دي، په دې بند کې "رڼا" د ښه ژوند لپاره سېمبول کارول شوی دی.

## شېخ عيسی مشوانی

د شېخ عيسیٰ مشواني په شعرونو کې هم عرفاني سېمبولونه په نظر راځي، د اختيار او جبر په باره کې انسان يا غلام دی يا بادار، يا حاکم دی يا محکوم او د همدې تنازع څخه د يوې ناپېژندل شوې خپلواکۍ په لور حرکت کوي؛ خو هېڅکله هم نه ورسېږي؛ ځکه مرګ د خپلې خوښې د خپلواکۍ لنډه دی؛ خو بيا هم انسان په همدې ازمويل شوې لار مزل کوي (ليوال، ۱۳۹۱ ل، ص. ۹۲).

شېخ عيسیٰ مشواني په خپلو عرفاني اشعارو کې داسې سېمبولونه راوړي دي، چې عامو لوستونکو ته په کې فکر کول ستونزمن دی، لاندې بيتونه يې ګورو:

تــه خــو قــادر یــې پــه صـــفــتــونــو
کــلــه مــې نــور کــړې، کــلــه مــې نــار کــړې
عــیســـیٰ حـــیران دی پـــه دې شـــیــونــو
کــلــه مــې یــار کــړې، کــلــه اغــیــار کــړې
(هوتک، ۱۳۳۹ ل، ص. ۷٦)

عبدالغفور لېوال د پاس بیتونو سېمبولیک مفهوم په دې ډول بیانوي:
انســان که له نفس سره مبارزه وکړي ( نور) ته (الله نورالسـموت والارض ) ورنږدې کېږي او که د نفس ومني، نو شېطان الرجیم ته چې له اور (نار) څخه جوړ شوی دی، مېلان مومي، خاورین (خاکي) انسان د خپل ایمان، علم او اعمالو د څرنګوالي او څومره‌والي له نظره د نور او نار تر منځ په نوســان (انســاني خواهش) کې دی (لیوال، ۱۳۹۱ ل، ص. ۹۲).

**ښکارندوی غوري**

ښکارندوی د غور اوسېدونکی و او د غور تر څنګ په غزني او بُست کې هم اوسېدلی دی، د پلار نوم یې احمد و، د سـلطان شـهاب الدین غوري او سـلطان غیاث الدین غوري معاصر و، د ژوند زمانه یې شپږمه هجري پېړۍ ښودل شوې ده، د لرغونې دورې له شاعرانو څخه دی. د ده له قصیدې څو بیتونه را اخلو او سېمبولونه پکې ګورو، لکه چې وایي:

د پســـــــــرلي ښـــکلونکي بیـا کـړي ســـینـګـارونـه
بــیــا یــې ولــونــل پــه غــرونــونــو کــې لالــونــه
(هوتک، ۱۳۳۹ ل، ص. ۵۰)

په پورته بیت کې "پسرلي " او " سینګارونه" سېمبولونه دي، پســـرلی د ښکلي ژوند لپاره د سېمبول په توګه کارول کېږي، د "پســرلي" ضد "خزان او مرګ" سېمبول دی؛ نو ویلی شو چې په دې بیت کې د پســـرلي " سینګارونه" شنه‌کېدل او زرغونېدل سېمبول دی، په دویم نیم‌بیتي کې " لالونه " د سوروالي سېمبول دی، د اور د غرغرو لپاره هم دا سېمبول کارول کېږي.

مځکــه شـــنــه، لاښـــونــه شـــنــې، لمنې شـــنې ســـوې
طـــیـــلســـــــان زمـــردي واغـــوســــتــــه غـــرونـــه
(هوتک، ۱۳۳۹ ل، ص. ۵۰)

په دې بیت کې" مځکه شنه "او " لمنې شنې " سېمبولونه دي، یعنې د ځمکې د زرخېزه‌کېدو، د غرونو د لمنو شنه کېدو او ابادېدو سېمبولونه دي.

د نـېســـان مشـــاطـې لاس د مـــچـــېـدو دی
مـــرغـــلـــرو بـــانـــدې وښـــکـــلـــل بـــنـهـــونـــه
(هوتک، ۱۳۳۹ ل، ص. ۵۰)

په دې بیت کې "نېسان "او "مشاطې" د سېمبول په توګه راوړل شوي دي، لکه څنګه چې "مشاطه " د ښکلو جینکو سنګار او ښایست برابروي، سر او زلفې ورته د ښادۍ په مناسبت سموي، همداشان "نیسان" هم بڼونه، غرونه او رغونه سینګاروي. "مرغلره" د باران کېدو پر وخت سېمبول دی.

هـــر پـــلـــو د ګـــلـــو وږم دی لـــونـــلـــی
تـــه وا راغـــلـــه لـــه خـــتـــنـــه کـــاروانـــونـــه
(هوتک، ۱۳۳۹ ل، ص. ۵۲)

په پورته بیت کې " ختن " ســـېمبول دی، ختن له چین سره نږدې د یو ځای نوم دی چې په هغې کې لوی لوی ځنګلونه دي، په دې ځنګلونو کې ډېرې زیاتې هوســـۍ دي، چې د هوســـۍ د نافې (نوم) نه هلته ډېر زیات مشک وباسي، په دې وجه شاعر د پسرلي په راتلو سره د " ختن " سېمبول کارولی دی.

لـــه مـــړو خـــاورو یـــې اغـــلـــې ګـــل راویـــوســـت
وچ بـــېـــدیـــا او غـــر یـــې کـــړلـــه جـــنـــتـــونـــه
(هوتک، ۱۳۳۹ ل، ص. ۵۲)

په دې بیت کې "ګل " د ځمکې د زرخېزه‌کېدو یعنې شینوالي او "وچ بېدیا" د شاړو دښتو او سپېره غرونو سېمبول دی.

د زلـمـــا ټـــاپـــې راغـــلـي دي پـــه جـــنـــډیـــو
لـــکـــه پـــېـــغـــلـــه غـــوټـــۍ کـــانـــدي مـــکـــېـــزونـــه
(هوتک، ۱۳۳۹ ل، ص. ۵۲)

په پورته بیت کې " زلما" او" پېغله " د ځوانۍ سېمبولونه دي، کله کله داسې هم ویل کېږي چې " غوټۍ پېغله " شوه، یعنې غوټۍ غوړېدو ته نږدې شوې ده.

**پایله**

د دې مقالې په لیکلو سره به د ادب مینوال وپوهېږي چې سېمبول په شاعرۍ کې څومره زیات ارزښت لري او په دې به هم وپوهېږي چې سېمبول د لرغونې دورې شاعرانو په خپلو شعرونو کې کارولی دی، یعنې مخینه یې ډېره پخوانۍ ده، کوښښ شوی چې د لرغونې دورې د شاعرانو شعرونه لوستل شوي او

بیا په هغې کې هغه شاعران انتخاب شوي دي، چې په شاعرۍ کې یې د سېمبول څرک تر سترګو کېږي، بیا همغه شعرونه په نښه شوي او په مقاله کې ځای پر ځای شوي دي، په هره بېلګه کې د استعمال ځای، هدف، تاریخي پسمنظر او وضاحت ورکړل شوی دی، دا علمي مقاله به د ادبیاتو شاګردانو، استادانو او عامو لوستونکو ته یو فکر ورکړي، چې په شاعرۍ کې د سېمبول کارول یو ارزښتمن کار دی او له دې سره په څنګ کې به د دې مقالې په لوستلو سره د ژبو او ادبیاتو پوهنځي محصلان او عام لوستونکي سېمبول وپېژني او د لرغوني دورې د شاعرانو د شعرونو په دې برخه کې به هم پوهاوی تر لاسه کړي.

**وړاندیزونه**

۱. په لرغوني دوره کې د کمو شاعرانو شعرونه لاس‌ته راغلي دي؛ خو په همدې کمو اشعارو کې په فکري لحاظ ډېرې داسې خواوې شته، چې سپړنې او شننې ته اړتیا لیدل کېږي، نو وړاندیز مې دا دی چې ادبپوهان او شعر پوهان یې سپړلو ته توجه وکړي.

۲. د پښتو څانګې استادان دې محصلانو ته د لرغوني دورې د شاعرانو په پېژندنه او د دوی د اشعارو په بېلابېلو اړخونو کورنۍ دندې ورکړي، تر څو هغه خواوې چې سپړل شوې نه دي، وسپړل شي.

۳. کوښښ دې وشي چې د نړۍ او په خاصه توګه د هندوستان مشهورې کتابخانې وپلټل شي، که خدای تعالی وکړي چې د پښتو ادب د لرغوني دورې د شاعرانو او لیکوالو په هکله څه نوي معلومات تر لاسه شي، په دې کار به د پښتو ادب لرغوني دوره بډایه شي.

**ماخذونه**

حبیبي، عبدالحی. (۱۳۸۴ ل). د پښتو ادبیاتو تاریخ (لومړی او دویم ټوک. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه

رښتین، صدیق الله. (۱۳۹۱هـ ش). پښتو ادب تاریخ. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

هاشمي. سید اصغر. (۱۳۹۲ ل). بولـله له پیله تر خوشحاله. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

صلاح الدین (۲۰۱۹ م). پښتو جدید غزل کې علامت نګاري. پېښور: پېښور یونیورسټي.

لیوال، عبدالغفور. (۱۳۹۵هـ ش). شعري سېمبولونه. کابل: صدف مطبعه. (۷۵ مخ)

هاشمي، سیداصغر. (۱۳۹۳هـ ش). د پښتو نظم تاریخ. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

همکار، محمدابراهیم. (۱۳۹۶هـ ش). بیان پوهنه. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

هوتک، محمد. (۱۳۳۹هـ ش). پټه خزانه. کابل: د پوهنې وزارت د دارالتألیف ریاست.

هېوادمل، زلمی. (۱۳۷۹هـ ش). د پښتو ادبیاتو تاریخ. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

یون، محمد اسماعیل. (۱۳۹۹هـ ش). ادب تاریخ. کابل: مازیګر کتاب پلورنځی.

# د الهي غضب نښې او د خلاصون لارې یې

پوهنمل نقیب الله مشفق، د شیخ زاید پوهنتون، شرعیاتو پوهنځی، فقه او قانون څانگه.
**برېښنالیک**: Mushfiqkhosti@gmail.com

**لنډیز**

په انسانانو باندې الله تعالی بې شمېره نعمتونه کړي دي، خو که څوک د الله تعالی د امرونو څخه سرغړونه وکړي؛ نو د الله تعالی د نعمتونو څخه محرومېږي او د الهي غضب لاندې راځي، له دې امله مې اړینه وبلله، چې د الهي غضب نښې او د هغې څخه د خلاصون لارې خپلو مسلمانانو ورونو ته روښانه کړم؛ ترڅو مسلمانان د الهي غضب د لامل کېدو څخه ځانونه وساتي.

غضب د الله تعالی د صفتونو څخه دی او الله تعالی ته په داسې شان ثابت دی، چې د هغه له شان سره مناسب وي. د الله تعالی د غضب ډېرې نښې دي، لکه: گناهونه کول، د خلکو په نظر کې بد راتلل، په بې لاریتوب کې ښکیلتیا او توبه نه ویستل، د ایمان والاو سره ملگرتیا بده گڼل او له شریعت څخه لېرې والی.د الله تعالی یو گڼل، د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیروي کول، امر بالمعروف اونهي عن المنکر کول، دعاء کول، غوصه پرېښودل، شکر، صدقه او تقوا اختیارول د الله تعالی د غضب څخه د خلاصون لارې دي.

دغه څېړنه کتابتوني ده، نو د معلوماتو په راټولو کې مې د قرآن کریم، نبوي سـنتو او د فقهې له معتبرو کتابونو څخه گټه اخیستې ده او د آیاتونو د ژباړې لپاره مې د کابلي تفسیر څخه گټه اخیستې ده.

د دې لپاره چې د الهي غضـب څخه په امن وو، اړینه ده، چې: الله تعالی یو وگڼو، د رسـول صـلی الله علیه وسلم امرونه ومنو او تقوا اختیار کړو.

**کلیدي کلمې:** اتباع، د الهي غضب څخه د خلاصون لارې، توحید ، د غضب نښې، غضب

**سریزه**

**بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ! الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین.**

څرنگه چې رحمت د الله تعالی له صفتونو څخه یو صفت دی، په همدې توگه غضب هم د الله تعالی یو صفت دی، الله تعالی د انسانانو د پیدایښت سره سم انسانانو ته لارښوونې کړې دي، په ښو کارونو یې ورته امر کړی او له بدیو څخه یې منع کړي دي، نو که څوک د الله تعالی امرونه پرځای کوي؛ الله تعالی وربانډې رحم کوي او که سرغړونه ورڅخه کوي؛ د الله تعالی له غضب سره به مخ کېږي. دا چې الله تعالی موږ ته په لمانځه باندې امر کړی دی؛ نو موږ هره ورځ پنځه وخته لمونځ کوو، د دې لمونځونو په هر رکعت کې موږ ته لارښوونه شوې ده، چې موږ به د الله تعالی څخه د سمې لارې غوښتنه کوو او د الله تعالی د غضب څخه به پناه غواړو، که موږ د لمونځونو د اداء کولو څخه غافل شو، نو له دا ډول

دعاګانو څخه به محروم شو؛ خو دا چې بې دینه خلک وخت پر وخت کوښښ کوي، چې ځینې کمزوري مسلمانان چې د اسلام دین په اړه یې پوهه کمه ده، په مختلفو بهانو سره د اسلام دین د ځینو احکاماتو په اړه شکمن کړي او ذهنونه یې ورخراب کړي، چې ځینې یې د الهي غضب په اړه هم غلط تبلیغات کوي؛ نو ما وغوښتل چې د الهي غضب نښې او له هغې څخه د خلاصون لارې په دې مقاله کې راجمع او ترتیب کړم؛ تر څو خلک د الهي غضب څخه ځانونه وژغوري.

**موخې**

- د الهي غضب پېژندل
- د الهي غضب د نښو په اړه د خلکو خبرول
- د الهي غضب څخه د خلاصون لارې خلکو ته ورپېژندل

**کړنلاره او د کار توکي**

دا، چې لیکنه مې کتابتوني ده؛ نو په همدې اساس مې هڅه کړې، چې په لومړي قدم کې معلومات په قرآن کریم کې پیداکړم، له دې وروسته مې د نبوي سنتو څخه معلومات را جمع کړي دي، لومړی مې کوښښ کړی چې حدیث په صحیحینو کې پیدا کړم، که کوم حدیث په صحیحینو کې شتون ونه لري، نو د احادیثو له نورو معتبرو کتابونو څخه مې را نقل کړی دی، همدا راز د اخلاقو او ادابو معتبرو کتابونو ته مې مراجعه کړې ده، د هرې وینا نسبت مې خپل ویونکي ته کړی، د قرانکریم ایاتونو د ژباړې لپاره مې د کابلي تفسیر څخه ګټه اخیستې ده، دا چې مقاله په پښتو ژبه ده؛ نو د خپل توان په اندازه مې د پښتو ژبې د لیک دود ټول معیارونه په نظر کې نیولي او تطبیق کړي دي.

**د غضب لغوي پېژندنه:** ابن فارس وايي: (غ ض ب) هغه ماده ده، چې په شدت او قوت دلالت کوي او هغې سختې ګټې(ډبرې) ته هم ( غضبة ) وايي، چې غره کې وي، خلک وايي: (رجل غضوب) سخت طبیعته او بد اخلاقه سړی، د هغې مشک په اړه هم استعمال شوی، چې د سختې څرمنې څخه جوړ شوی وي (ابن فارس، ۱۳۹۹هـ، ص.۱۹۴) .
یو شمېر لغت پوهانو او ځینو نورو علماوو غضب په بېلابېلو عبارتونو سره تعریف کړی دی، چې الفاظ یې مختلف؛ خو مقصد یې یو دی، د غضب معنا باندې لویان او ماشومان بې له تکلیف څخه پوهېږي او ذهن یې پرې خلاصېږي، لکه مناوي وايي:(والغضب كيفية نفسانية وهو بديهي التصور) (المناوي، ۱۳۵۶هـ، فیض القدیر شرح الجامع الصغیر،ص:۲۰۲) .
ژباړه: غضب یو نفساني حالت او کیفیت دی، چې تصور یې بدیهي دی (پوهیدل پرې اسانه دي).

**د غضب اصطلاحي پېژندنه**

غضب د الله تعالی د صفتونو څخه دی او الله تعالی ته په داسې شان ثابت دی، چې د هغه له شان سره مناسب وي.

غضب چې کله د مخلوق په هکله راشي؛ نو علماء يې په لاندې ډول تعريفوي.

امام جرجاني رحمه الله وايي: الغضب تغيّر يحصل عند ثوران دم القلب ليحصل عنه التشفّي في الصّدر (جرجاني، ۱۴۰۵هـ، ص.۱۶۲) .

ژباړه: غضب هغه تغير دی، چې د زړه د وينې د راپاريدو په وخت کې منځ ته راځي، د دې لپاره چې په چا سينه يخه کړي.

امام راغب اصفهاني رحمه الله وايي: هو ثوران دم القلب عند إرادة الانتقام (الاصفهاني، ۱۴۱۲هـ، ص.۳۷۴) .

ژباړه: د انتقام په موخه د زړه د وينې په جوش راتللو ته غضب يا غوصه وايي.

يو تعريف يې داسې هم شوی دی: دا هغه نفساني کيفيت دی، چې د انتقام په موخه د روح د حرکت اثر په بدن باندې وشي.

**د غضب نښې**

د الله تعالی د غضب ډېرې نښې دي، غواړم چې ځينې يې په دې ځای کې په ترتيب سره ذکر کړم:

**۱- ګناهونه کول**

د الله تعالی د غضب ډېرې نښې دي، چې يوه يې هم ډېر ګناهونه دي، په دې اړه علماء داسې وايي:

أن يتجه العبد في حبه الى ما يبغضه الله تعالى، كما أنه يبغض ما يحبه الله تعالى. (المديني، ۱۴۳۸هـ، ص.۳)

ژباړه: انسان هغه څه ته مخه کړي، چې الله تعالی ورسره بغض کوي (ګناهونو کې اخته شي) او چې الله تعالی د څه سره مينه لري، دی د هغې سره بغض لري.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي چې: (مَا ظَهَرَ فِي قَوْمٍ الرِّبَا وَالزِّنَا، إِلَّا أَحَلُّوا بِأَنْفُسِهِمْ عِقَابَ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ) (ابن حنبل، ۱۴۲۱هـ، ص.۳۵۸) .

ژباړه: په هېڅ قوم کې د سود او زنا عمل نه ښکاره کېږي، مګر که ښکاره کوي يې، نو په خپل ځان باندې د الله تعالی عذاب را نازلوي.

سعيد القحطاني ويلي دي: (المعصية توجب القطيعة بين العبد والرب، وإذا وقعت القطيعة بين العبد وربه انقطعت عنه أسباب الخير، واتصلت به أسباب الشر، فأيّ فلاح، وأيُّ رجاء، وأيُّ عيش لمن انقطعت عنه

أســـباب الخیر، وقطع ما بينه وبين وليّه ومولاه الذي لا غنى له عنه طرفة عين (قحطاني، چاپ کال نه لري، ص. ۷۶) .

ژباړه: ګناه د الله تعالی او بنده تر منځ پرېکون راولي،کله چې د بنده او رب تر منځ پرېکون راشي؛ د خير ټول اسباب ترې پرې شي او ټول د شر اسباب ورسره پيوست شي، بيا به کومه کاميابي وي؟ کوم د اميد ځای به وي؟ کوم ژوند به وي؟ د هغه چا لپاره چې د خير اسباب ورڅخه پرې شي، د بنده او د هغه د مولا ترمنځ فاصله راشي، چې د سترګې د رپ په اندازه ترې بې پروايي نه کېږي.

## ۲ - د خلکو په نظر کې بد راتلل

د الله تعالی د غضب يوه نښه د خلکو په نظر کې بد راتلل دي، چې د انسان د عمل او فساد په نتيجه کې رامنځ ته کېږي، په دې اړه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ اللهَ إِذَا أَحَبَّ عَبْدًا دَعَا جِبْرِيلَ فَقَالَ: إِنِّي أُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبَّهُ، قَالَ: فَيُحِبُّهُ جِبْرِيلُ، ثُمَّ يُنَادِي فِي السَّمَاءِ فَيَقُولُ: إِنَّ اللهَ يُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبُّوهُ، فَيُحِبُّهُ أَهْلُ السَّمَاءِ، قَالَ ثُمَّ يُوضَعُ لَهُ الْقَبُولُ فِي الْأَرْضِ، وَإِذَا أَبْغَضَ عَبْدًا دَعَا جِبْرِيلَ فَيَقُولُ: إِنِّي أُبْغِضُ فُلَانًا فَأَبْغِضْهُ، قَالَ فَيُبْغِضُهُ جِبْرِيلُ، ثُمَّ يُنَادِي فِي أَهْلِ السَّمَاءِ إِنَّ اللهَ يُبْغِضُ فُلَانًا فَأَبْغِضُوهُ، قَالَ: فَيُبْغِضُونَهُ، ثُمَّ تُوضَعُ لَهُ الْبَغْضَاءُ فِي الْأَرْضِ)** (مسلم، چاپ کال نه لري، ج.۴، ص. ۱۵۷) .

ژباړه: له ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی فرمايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: کله چې الله تعالی د چا سره مينه وکړي، جبريل عليه السلام راوغواړي، ورته ووايي: زه د فلاني سره مينه کوم، ته هم ورسره مينه وکړه! نو هغه هم ورسره مينه وکړي، بيا جبريل عليه السلام په اسمان کې اواز وکړي چې: الله تعالی د فلاني سره مينه کوي، زه هم ورسره مينه کوم، تاسو هم مينه ورسره وکړئ؛ نو اسمان والا هم ورسره مينه وکړي او په ځمکه کې يې هم قبوليت کېښودل شي( د خلکو په نظر کې ښه راشي). او کله چې د يو بنده سره بغض وکړي، جبريل عليه السلام راوغواړي، ورته ووايي: زه د فلاني سره بغض کوم، ته هم ورسره بغض وکړه! جبريل عليه السلام ورسره بغض وکړي، هغه په اسمان کې اواز وکړي چې: الله تعالی د فلاني سره بغض کوي، تاسو هم ورسره بغض وکړئ؛ نو هغوی هم ورسره بغض وکړي او په ځمکه کې يې هم بغض کېښودل شي( د خلکو په نظر کې بد راشي).

**۳ - په بې لاريتوب کې ښکيلتيا او توبه نه ويستل**

د الله تعالی د غضب بله نښه په بې لاريتوب کې ښکيلتيا او توبه نه ويستل دي، لکه علماء پدې اړه وايي: **ان يتمادى في الضلال والعصيان والاذناب، فينتقل بين المعاصي والآثام، فلا يتوب منها فيموت على ذالک** (مدني، ۱۴۳۸هـ، ص.۴) .

ژباړه: د غضب نښه دا ده چې سړی په گمراهۍ، گناهونو او نافرمانۍ کې داسې ښکيل شي، چې د گناهونو او نافرمانۍ ترمنځ گرځي راگرځي، توبه ترې ونه باسي او په همدې حال کې مړ شي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «بَادِرُوا بِالْأَعْمَالِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ، يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا، أَوْ يُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا، يَبِيعُ دِينَهُ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا»** (مسلم، چاپ کال نه لري، صحيح مسلم، ج. ۱، ص: ۱۱۸) .

ژباړه: له ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: نېکو اعمالو کې تلوار وکړئ مخکې له دی چې داسې فتنې راشي، لکه د تورې شپې تيارې، سړی به سهار د ايمان په حالت کې وي، ماښام به د کفر په حالت کې وي، يا به ماښام سړی د ايمان په حالت کې وي، سهار به د کفر حالت کې وي، خپل دين به د دنيا په لږ سامان خرڅوي.

انسان چې کله د خپل رب نافرماني وکړي، الله تعالی ورته کم عذاب متوجه کړي، که بنده الله تعالی ته متوجه شي او مرسته ترې وغواړي، الله تعالی ورسره مرسته او کومک وکړي، که بنده دغه حالت ته دوام ورکړي، دغه عذاب معمولي وگڼي، گناه زياته کړي او په دې حالت کې وي، يا خو الله تعالی ته راوگرځي، توبه وباسي او يا په دې سرکشۍ کې همداسې ښکېل پاتې شي، د توبې په حالت کې الله تعالی ورته ښښنه کوي او يو غوره شخصيت ترې جوړوي او د ښکېلتيا په صورت کې يې الله تعالی د تل لپاره د عذاب کور ته بيايي او په خپل رحمت سره ورته له عذاب څخه آرام نه وربښي، د الله تعالی په غوصه کې مبتلا وي، په گناه او گمراهۍ کې راگير وي او شيطان يې ملگری وي (الجوزي، ۱۴۰۶هـ، التذکرة في الوعظ، ص:۶۶) .

**۴- د ايمان والاو سره ملگرتيا بده گڼل**

دالله تعالی د غضب بله نښه داده، چې د ايمان والاو سره به ملگرتيا بده گڼې او د بې لارې او گناهگارو طرف ته به دې ميلان وي.

مسلمان ته په کار دي، چې د ديندارو او خيرخواه خلکو سره کښېني؛ ځکه همدوی سم خلک دي او ډېر هوښيار په خلکو کې هغه څوک دی، چې د الله تعالی په امر عمل کوي او د الله تعالی د نهې څخه

ځان ساتي، او کم عقل خلک هغه څوک دي، چې د الله تعالی نافرماني کوي، الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَا تَطْرُدِ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ﴾ (قرآن کریم، الانعام، آیت: ۵۲).

ژباړه: هغه څوک له خپلې خوا څخه مه شړه، چې خپل رب سبا او بيګا رابلي او د الله تعالی رضا يې اراده وي.

شاعر وايي:

**وَأَهْلَ الشِّرْكِ بَايِنْهُم وَفَارِقْ ‎ ‎ ‎ وَلا تَرْكَنْ إِلَى أَهْلِ الضَّلالِ**

ژباړه: د مشرکينو څخه جدا شه او دوی پرېږده او د بې لارې خلکو لور ته مه ورکږېږه.

عبدالرحمن بن محسن پخپل کتاب کې ويلي دي: (**الجلوس مع الذين يطيعون الله نعمة من الله على عبده والجلوس مع المنافقين والمكذبين نقمة على العبد نعوذ بالله من مجالسة أهل الضلال والبدع والأخلاق المنحرفة وأهل الملاهي والمنكرات فالواجب هجرانهم والابتعاد عنهم والتحذير منهم، واهجر أيضًا أقران السوء واقطع المودة والصلة بينك وبينهم وواصلها بينك وبين الصالحين** (السلمان، **چاپ کال نه لري، مفتاح الافکار للتأهب لدار القرار**، ص: ۳۳).

ژباړه: د الله تعالی حکم ته غاړه اېښودونکو خلکو سره ناسته پاسته په بنده باندې د الله تعالی نعمت دی او د منافقانو او دروغجنو سره ناسته پاسته په بنده باندې د الله تعالی عذاب دی، موږ په الله تعالی سره د بې لارو، بدعتيانو، بد کارو، بې ګټې او بدو کارونو کوونکو د ناستې څخه په الله تعالی سره پناه غواړو؛ نو په بنده باندې لازم دي، چې د دا ډول خلکو څخه لېرې شي او ځان ترې منعه کړي؛ تاسو هم د بې لارو، بد اخلاقو او بد کارو خلکو سره دوستي او ملګرتيا پرې کړئ او د نيکانو او صالحانو سره اړيکې ټينګې کړئ.

**۵- له شريعت څخه لرې والی**

د الله تعالی له غضب بله نښه دا ده، چې مغضوب عليهم د الله تعالی له شريعت څخه لرې وي او عمل پرې نه کوي.

د الله تعالی د شريعت څخه د لرې والي موخه دا ده، چې په بېلابېلو طريقو د شريعت څخه لرې پاتې کېږي، چې يو څو يې د نمونې په ډول ذکر کوم:

الف- (**حکم بغير ما انزل الله**) کوي، فيصلې طاغوتي نظامونو ته وړي، د هغه قانون پر ځای، چې روح الامين( جبريل عليه السلام) نبي صلی الله عليه وسلم ته د دې لپاره راوړی دی، چې د خلکو تر منځ شخړې پرې هوارې شي، د يو لعين قانون د رامنځ ته کولو هڅه کوي.

دا د الله تعالی د غضب نښه ده، چې څوک د قرآن څخه په بل څه باندې پرېکړې کوي، هغه لاره د قرآن څخه غوره وبولي، دا ډول کړنه د ايمان سره منافي ده، بلکې دا کفر، ظلم او فسق دی، چې د دې خبرې تصديق د سورت مائدة په ايتونو کې شوی دی، په غير ما أنزل الله باندې جاهلان پرېکړې کوي او د ما انزل الله د حکم څخه تېرېدنه د الله تعالی د عذاب د نازليدو سبب دی، چې له ظالمانو څخه نه واپس کيږي (**عدد من المتخصصين باشراف صالح بن عبدالله امام وخطيب الحرم المكي**، چاپ کال نه لري، ج. ۴، ص. ۱۰) .

الله تعالی فرمايي: ﴿ **وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَلا تَتَّبِعْ أَهْواءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَنْ يَفْتِنُوكَ عَنْ بَعْضِ ما أَنْزَلَ اللَّهُ إِلَيْكَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ أَنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُصِيبَهُمْ بِبَعْضِ ذُنُوبِهِمْ وَإِنَّ كَثِيراً مِنَ النَّاسِ لَفاسِقُونَ* أَفَحُكْمَ الْجاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْماً لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ** ﴾ ( **قرآن كريم، المائدة، آيت: ۴۹-۵۰**) .

ژباړه: د دوی تر منځ فيصله په هغه څه کوه، چې الله تعالی نازل کړي دي، د دوی د خواهشاتو تابعداري مه کوه، او له دې څخه ځان وساته چې تا په فتنه کې واچوي، د بعضې هغه څه نه چې الله تعالی نازل کړي دي،که دوی وګرځيدل؛ نو پوهه شه، الله تعالی غواړي چې د ځينو ګناهو له امله ورته عذاب ورسوي او ډېر له خلکو څخه فاسقان دي، آيا د جاهليت فيصلې لټوي، د الله تعالی څخه څوک ښې فيصلې والا دی.

ب - په ژوند کې اتباع الرسول پرېښودل او خواهش پسې تلل، د خواهش پرستی تعريف په لاندې ډول دی:

**الهوى: ميل النّفس إلى ما تستلذّه من الشّهوات من غير داعية الشّرع (عدد من المتخصصين باشراف صالح بن عبدالله امام وخطيب الحرم المكي، چاپ کال نه لري، نضرة النعيم في مكارم أخلاق الرسول الكريم، ص: ۹)** .

ژباړه: د شهواتو څخه هغه څه ته ورکږېدل، چې نفس خوند پرې اخلي او شريعت يې نه غواړي.

خواهش پرستي انسان د حيواناتو په قطار کې راولي، دنيا کې يې شرمندګی ته اوآخرت کې عذاب ته راکاږي (**عدد من المتخصصين باشراف صالح بن عبدالله امام وخطيب الحرم المكي**، چاپ کال نه لري، نضرة النعيم في مكارم أخلاق الرسول الكريم، ص: ۹) .

**ج** - د الله تعالی د حدودو ( پولو ) ماتول، يعنې هغه څه چې الله تعالی يې په کولو کلک امر کړی وي او له ماتولو څخه يې کلکه منعه کړې وي؛ د دې ماتول او ژمن ورته نه پاتې کيدل د الله تعالی د شريعت څخه د لرې والي بل ډول دی.

حدیث کې راځي: (عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «اتَّقُوا الظُّلْمَ، فَإِنَّ الظُّلْمَ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَاتَّقُوا الشُّحَّ، فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، حَمَلَهُمْ عَلَى أَنْ سَفَكُوا دِمَاءَهُمْ وَاسْتَحَلُّوا مَحَارِمَهُمْ) (مسلم، چاپ کال نه لري، صحیح مسلم، ص: ۲۵۷۸) .

ژباړه: د جابر بن عبد الله رضي الله عنهما روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: له ظلم څخه ځانونه وساتئ! ځکه دا د قیامت په ورځ باندې تیارې دي او له بخل څخه ځان وساتئ! ځکه پدې باندې مخکني خلک تباه شوي دي، دغو کړنو دوی دې ته وهڅول، چې وینې یې توی کړې او خپل محارم یې روا وګڼل.

د - د فرایضو په کولو کې سستي، چې علماء یې په اړه داسې وایي:

( **أن يتهاون في اداء الفرائض فلا يحافظ عليها ولا يؤديها، ومن ذالک تهاونه في اداء الصلوات الخمس، فيضع حقوق الله تعالى، ومن بعدها حقوق عباده، فلا يبالي بمصير ذالک في الدنيا والاخرة**) ( المديني، ۱۴۳۸هـ، ص.۴) .

ژباړه: چې سړی د فرایضو په ادا کولو کې سستي کوي، ساتنه یې نه کوي او نه یې ادا کوي، چې د دې له جملې څخه یو هم پنځه وخته لمانځه په اداء کولو کې سستي کول دي، نو د الله تعالی حقوق ضایع کړي او بیا د بندګانو حقوق هم ورسره ضایع کړي، د دې دنیوي او اخروي پایله نه سنجوي او هیڅ باک نکوي.

ه - هغه صفات په ځان کې راوستل چې د الله تعالی خوښ نه وي، چې یو عالم ترینه داسې تعبیر کوي: (**أن يتصف بالصفات التي يكرهها الله من غش، وكذب، وخيانة، ونميمة، وغيبة**) ( المديني، ۱۴۳۸هـ، ص.۴) .

ژباړه: چې سړی داسې صفات په ځان کې راولي، چې الله تعالی یې بد ګڼي، لکه: دوکه، دروغ، خیانت، چغلي او غیبت.

و - چې څوک امر بالمعروف، نهې عن المنکر او خیرخواهي بده ګڼي، چې علماء یې په اړه وایي: **ان يكره أن يأمره أحد بالمعروف أو ينهاه عن المنكر او ينصحه، فيبغض النصيحة والناصح.**

ژباړه: چې یو انسان دا بده وګڼي، چې یو څوک یې نېکیو ته وبلي او د بدیو څخه یې منعه کړي او یا ورته نصحیت وکړي، نو د نصحیت کوونکي او نصحیت سره بغض او کینه کوي.

الله تعالی فرمایلي دي: ﴿**وَإِذَا قِيلَ لَهُ اتَّقِ اللَّهَ أَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْإِثْمِ فَحَسْبُهُ جَهَنَّمُ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ**﴾ ( **قرآن کریم، البقرة، آیت: ۲۰۶**) .

ژباړه: کله چې ورته وويل شي: له الله تعالی څخه ووېرېږه! نو دی د ګناه په کولو سره غرور ( عار او ننګ ) نيسي؛ نو ده لره د اور عذاب کافي دی او دا ډېر بد بستر دی.

ز - کبر کول، خلک سپک ګڼل، شهرت غوښتل ، د خلکو تر منځ ځان لوړ ګڼل، ځان ښودل، ريا کاري کول، د بندګۍ له درجې څخه پورته کېدل، خواهش پسې تلل، د خپل خواهش لپاره دوستي کول، چې موخه او هڅه يې د شهوت لپاره وي، تر دې چې د خواهش څخه يې اله (معبود) جوړ کړی وي، د آخرت څخه غافل او د دنيا لپاره لالهانده وي ( المدني، ۱۴۳۸هـ، ص.۵) .

الله تعالی فرمايي: ﴿ **مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهُ فِيهَا مَا نَشَاءُ لِمَنْ نُرِيدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهُ جَهَنَّمَ يَصْلَاهَا مَذْمُومًا مَدْحُورًا** ﴾ ( قرآن كريم، بني اسرائيل ، آيت، ص. ۱۸ ) .

ژباړه: هرڅوک چې په خپل عمل سره فقط دغه دنيا غواړي؛ نو چا ته چې زموږ اراده وي، مونږ به په تلوار سره ده ته په دې دنيا کې هومره ورکړو ، چې زموږ خوښ وي، بيا به موږ ده ته د دوزخ عذاب مقرر کړو، چې په هغه کې به به ملامت کړل شوی او شړل شوی ننوځي.

### د الله تعالی د غضب څخه د خلاصون لارې

د الله تعالی د غضب څخه د خلاصون مختلفې لارې دي، زه غواړم چې ځينې يې په دې ځای کې په ترتيب سره ذکر کړم.

### ۱- د الله تعالی يو ګڼل

د الله تعالی د غضب څخه د خلاصي ډېرې لارې دي، چې په هغې کې يو توحيد دی، په توحيد سره انسان د الله تعالی له غضب څخه ژغورل کيږي.

توحيد په لغت کې: له ( وحد يوحد توحيدا ) باب تفعيل مصدر دی د ( و ح د ) له مادې څخه اخېستل شوی دی، انفراد او يووالي ته وايي، ابن فارس وايي: له دې څخه ( الوحدة ) هم دی او ( واحد ) هم دی (ابن فارس، ۱۳۹۹هـ، معجم مقاييس اللغة،ص:۹۰).

الله تعالی فرمايي: ﴿**قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُوحى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلهُكُمْ إِلهٌ واحِدٌ فَمَنْ كانَ يَرْجُوا لِقاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صالِحاً وَلا يُشْرِكْ بِعِبادَةِ رَبِّهِ أَحَداً**﴾ ( قرآن كريم، فصلت، آيت: ۱۸ ) .

ژباړه: ورته ووايه ای پيغمبره! زه ستاسو په شان يو انسان يم، ماته وحي کيږي، چې بېشکه ستاسو يو معبود دی، نو څوک چې د الله تعالی سره د ملاقات اميد لري؛ نو نيک عمل دې وکړي او هيڅوک دې د خپل رب سره په عبادت کې نه شريکوي.

بل ځای کې الله تعالی فرمايي: ﴿قُلْ إِنَّمَا يُوحى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلهُكُمْ إِلهٌ واحِدٌ فَهَلْ أَنْتُمْ مُسْلِمُونَ﴾ ( قرآن کریم، الانبياء، آیت: ۱۰۸) .

ژباړه: ورته ووایه ماته وحې شوې ده، چې ستاسو الله او معبود یو دی، آیا تاسو غاړه ایښودونکی یاست.

حدیث کې راځي: (عَنْ ابْنِ عُمَرَعَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسَةٍ عَلَى أَنْ يُوَحَّدَ اللَّهُ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَصِيَامِ رَمَضَانَ وَالْحَجِّ فَقَالَ رَجُلٌ الْحَجُّ وَصِيَامُ رَمَضَانَ قَالَ لَا صِيَامُ رَمَضَانَ وَالْحَجُّ هَكَذَا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) (مسلم، چاپ کال نه لري، ج.۱، ص. ۱۶).

ژباړه: له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: اسلام په پنځو شیانو باندې بناء دی: د الله تعالی یو ګڼل، لمونځ کول، زکاة ورکول، روژه نیول، او حج کول، نو یو کس وویل چې: حج او د رمضان میاشت روژه؟ هغه په ځواب کې وویل: نه، همداسې مې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي: چې روژه نیول او حج کول.

(سئل الزّهريّ عن قول النّبيّ صلّى الله عليه وسلّم «من قال لا إله إلّا الله دخل الجنّة» فقال: «إنّما كان هذا في أوّل الإسلام قبل نزول الفرائض والأمر والنّهي» قال الترّمذيّ: ووجه هذا الحديث عند بعض أهل العلم: أنّ أهل التّوحيد سيدخلون الجنّة، وإن عذّبوا بالنّار بذنوبهم فإنّهم لا يخلّدون في النّار) (عدد من المتخصصين باشراف صالح بن عبدالله امام وخطيب الحرم المكي، چاپ کال نه لري، ج. ۴، ص. ۱۳۳۷) .

ژباړه: له زهري څخه د نبي صلی الله علیه وسلم د دې قول په اړه (من قال لا اله الا الله دخل الجنة) پوښتنه وشوه، هغه وویل: دا د اسلام په اول کې د فرایضو، امر او نهې د نزول څخه مخکې و، امام ترمذي رحمة الله وایي: د دې حدیث توجیه داسې ده، توحید والا به جنت ته داخلیږي، که څه هم، چې په ګناهونو ورته عذاب ورکړل شي، او په جهنم کې به همېشه لپاره نه وي.

د توحید ډېرې ګټې دي، چې ځینې له هغې څخه په لاندې ډول دي:

لومړی: په دې سره د سینې پراخوالی راځي، ځکه دا د الله تعالی سره د ادب د لوړو درجو له جملې څخه دی.

دویم: چا چې په صحیح معنا باندې په ځان توحید عملي کړ، جنت ته به بغیر له حساب او عذاب څخه داخل شي.

درېیم: توحید د خلود في النار( جهنم کې همیشه اوسیدلو) مخنیوی کوي، کله چې په زړه کې توحید موجود وي؛ نو جهنم ته د دایمي دخول مخه پرې نیول کیږي.

څلورم: په توحید سره ګناهونه معاف کیږي.

پنځم: په توحيد سره د دنيا او آخرت غمونه له منځه ځي.

شپږم: په توحيد سره انسان له شيطان څخه ژغورل کېږي.

اووم: د حاسد شر پرې دفعه کيږي.

اتم: د توحيد والاو شفاعت به رسول الله صلی الله علیه وسلم کوي.

نهم: د توحيد والا د الله تعالی سره لويه مرتبه لري.

لسم: په توحيد سره انسان ته هدايت او پوره امن په دنيا او آخرت کې ورکول کېږي.

يوولسم: توحيد د الله تعالی د رضا او ثواب اساسي سبب دی.

دولسم: د ظاهري او باطني اعمالو او د ثواب دار مدار په توحيد سره دی.

ديارلسم: په توحيد سره د خير کارونه اسانه کېږي او د شر کارونو څخه سړی ژغورل کېږي او د مصيبتونو مخه پرې نېول کېږي.

څوارلسم: په توحيد سره د موحد مال او وينه ساتل کيږي.

پنځلسم: کله چې د چا په زړه کې توحيد کامل شي، الله تعالی د هغه په زړه کې ايمان ښاسته کوي، کفر، فسوق او عصيان ورته بد ښکاره کوي.

**شپاړسم:** په توحيد سره انسان ته د مصيبتونو زغمل آسانېږي او مشکلات ترينه لرې کېږي.

اوولسم: په توحيد سره سړی د بنده له غلامۍ څخه خلاصېږي او دا حقيقي شرف او عزت دی.

اتلسم: توحيد چې په زړه کې متحقق او ثابت شي اعمالو باندې ورته دوه چنده ثواب ورکول کېږي (**عدد من المتخصصين باشراف صالح بن عبدالله امام وخطيب الحرم المكي**، چاپ کال نه لري، ج. ۴، ص. ۱۴۴۳).

**۲ - د رسول الله صلی الله علیه وسلم اتباع**

د الله تعالی له غضب څخه د خلاصيدو بل لامل اتباع ده.

اتباع: په لغت کې د اتبع مصدر دی د(ت ب ع) له مادې څخه اخېستل شوی دی، له چا څخه وروسته د هغه په قدم پسې د تللو په معنا ده (جوهري، ۱۴۰۷ هـ، ص.۱۲۸).

امام احمد رحمة الله اتباع په اصطلاح کې په لاندې ډول تعريفوي:

(**هو أن يتّبع الرّجل ما جاء عن النّبيّ صلّى الله عليه وسلّم وعن أصحابه، ثمّ هو من بعد في التّابعين مخيّر**) (**عدد من المتخصصين باشراف صالح بن عبدالله امام وخطيب الحرم المكي**، چاپ کال نه لري، ج. ۴، ص. ۱۰).

ژباړه: چې سړی د هغه څه تابعداري وکړي، چې نبي صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو څخه راپاتې وي، بیا دا سړی له صحابه و څخه په وروستنیو خلکو کې اختیار مند دی.

ابن عبد البر رحمه الله وايي: (**الاتّباع ما ثبت علیه الحجّة، وهو اتّباع کلّ من أوجب علیك الدّلیل اتّباع قوله. فالرّسول صلّی الله علیه وسلّم هو المثل الأعلی في اتّباع ما أمر به**) (**عدد من المتخصصين باشراف صالح بن عبدالله امام وخطيب الحرم المكي**، چاپ کال نه لري، ج. ۴، ص. ۱۰).

ژباړه: اتباع دېته وايي، چې په حجت سره ثابته وي، او د هغه چا خبره پسې روانیدو ته ویل کېږي، چې په دلیل سره یې په تا باندې تابعداري لازمه کړې وي. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ښه مثال دی، چې په تابعدارۍ باندې یې امر شوی دی.

﴿**قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ**﴾ (**قرآن کریم، آل عمران**، آیت: **۳۱**).

ژباړه: ورته ووایه ای پیغبره! که تاسو د الله تعالی سره مینه کوئ، زما تابعداري وکړئ، چې الله تعالی درسره مینه وکړي او گناهونه مو وبښي، الله تعالی ښښونکی او رحم کوونکی ذات دی.

بل ځاي کې الله تعالی فرمايي:﴿ **الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوباً عِنْدَهُمْ فِي التَّوْراةِ وَالْإِنْجِيلِ يَأْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ...**﴾ (قرآن کریم، الاعراف، آیت: ۱۵۷).

ژباړه: هغه کسان چې د هغه رسول تابعداري کوي، چې هغه امي نبي دی، چې دوی په تورات او انجیل کې د ده په اړه مومي (د دې رسول ذکر)، چې په نیکۍ ورته امر کوي او له بدۍ څخه یې منعه کوي.

بل ځای کې الله تعالی فرمايي:﴿ **فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ**﴾ (**قرآن کریم، النور**، آیت: **۶۳**).

ژباړه: هغه کسان دې وویرېږي، چې د الله تعالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د امر مخالفت کوي، چې دوی ته به څه آفت ورسېږي او یا به ورته دردونکی عذاب ورسېږي.

بل ځای الله تعالی فرمايي: ﴿ **فَمَنْ تَبِعَ هُدايَ فَلا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلا هُمْ يَحْزَنُونَ**﴾ (قرآن کریم، البقرة، آیت: ۳۸).

ژباړه: چا چې زما د هدایت تابعداري وکړه، وېره به پرې نه وي او نه به غمجن وي.

بل ځاي کې الله تعالی فرمايي:﴿ وَهذا كِتابٌ أَنْزَلْناهُ مُبارَكٌ فَاتَّبِعُوهُ وَاتَّقُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾ (قرآن کریم، الانعام، آیت: ۱۵۵).

**ژباړه**: دا کتاب مونږ د برکت والا نازل کړی دی، تابعداري یې وکړئ، ووېرېږئ د دې لپاره چې پر تاسو رحم وشي.

نو خلاصه دا شوه چې د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت او تابعدارۍ سره د الله تعالی رضا تر لاسه کېږي او د الله تعالی له قهر او له غضب څخه انسان ژغورل کیږي.

حدیث کې راځي: (**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «كُلُّ أُمَّتِي يَدْخُلُونَ الجَنَّةَ إِلَّا مَنْ أَبَى»، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمَنْ يَأْبَى؟ قَالَ: «مَنْ أَطَاعَنِي دَخَلَ الجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ أَبَى**) ( **البخاري، ۱۴۲۲هـ**، ج. ۹، ص.۹۲) .

**ژباړه**: له ابو هريرة رضي الله عنه څخه نقل دي: چې بېشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: زما ټول امت به جنت ته داخلیږي، مگر هغه څوک به نه داخلېږي، چې انکار یې وکړ، دوی وویل: ای د الله تعالی رسوله! د جنت له تگ څخه به څوک انکار وکړي؟ هغه صلی الله علیه وسلم وویل: چا چې زما تابعداري وکړه جنت ته به داخل شي او چا چې زما نافرماني وکړه هغه انکار وکړ.

د تابعدارۍ او اتباع ځینې گټې په لاندې ډول دي:

لومړی: د الله تعالی د محبت د جلبولو او د الله تعالی د غضب څخه د لرېوالي سبب دی.

دویم: په اتباع سره د الله تعالی رحمت او مغفرت تر لاسه کېږي.

درېیم: اتباع د فلاح، هدایت او د توبې د قبلېدو دلیل دی.

څلورم: په اتباع سره، نصرت، تایید او عزت ترلاسه کېږي.

پنځم: په اتباع سره بنده ته نېکبختي، او د دواړو جهانونو ښه ژوند ورکول کېږي (**عدد من المتخصصين باشراف صالح بن عبدالله امام وخطيب الحرم المكي**، چاپ کال نه لري، ج. ۴، ص. ۴۲) .

### ۳ - امر بالمعروف اونهي عن المنكر

د الله تعالی له غضب څخه د خلاصي بله لار امر باالمعروف او نهي عن المنکر دی:

معروف په لغت کې: معروف له عرف څخه اخستل شویدی، دېته وايي: چې يو د خير عمل وي او نفس یې پیژني او اطمنان یې پرې حاصليږي ( ابن منظور، ۱۴۱۴هـ، ج. ۵، ص.۲۳۶) .

په اصطلاح کې امر بالمعروف او نهي عن المنكر: **الأمر بالمعروف: أمر بما يوافق الكتاب والسّنّة. والنّهي عن المنكر: نهي عمّا تميل إليه النّفس والشّهوة (عدد من المتخصصين باشراف صالح بن عبدالله امام وخطيب الحرم المكي**، چاپ کال نه لري، ج.۳ ، ص. ۵۵۲) .

ژباړه: امر بالمعروف: امر دی په هغه څه باندې، چې د کتاب او سـنت مطابق وي او نهې عن المنکر، منعه ده، له هغه څه نه چې نفس او شهوت ورته میلان کوي.

منکر په لغت کې: منکر د معروف ضد دی، هر هغه شـی چې شریعت قبیح، حرام او مکروه ګرځولی وي، هغه منکر دی ( ابن منظور، ۱۴۱۴هـ، ج.۵، ص.۲۳۶).

منکر په اصطلاح کې: **كلّ ما قبّحه الشّـرع وحرّمه ونهـى عنه (عدد من المتخصصين باشراف صالح بن عبدالله امام وخطيب الحرم المكي**، چاپ کال نه لري، ج. ۵، ص. ۵۲۵).

ژباړه: هر هغه شـی چې شریعت بد ګڼلی وي، ناروا یې ګرځولی وي او منعه یې ورڅخه کړې وي هغه منکر دی.

امر بالمعروف او نهې عن المنکر فرض دی، څوک چې یې تر سره کوي، د الله تعالی له غضـب څخه ژغورل کېږي او څوک چې یې نکوي، د الله تعالی په غضب کې اخته کېږي.

الله تعالی فرمایي: ﴿**كَانُوا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُنْكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ**﴾ ( قرآن کریم، المائدة، آیت: ۷۹).

ژباړه: دوی به له ناروا څخه څوک نه منعه کول، چې په ناروا کې به اخته وو، ډېر بد دي هغه څه چې دوی کول.

علماوو د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په اړه لیکلي دي چې: **(هو سـبب النّجاة في الدّنيا والآخرة) (عدد من المتخصـصـين باشـراف صـالح بن عبدالله امام وخطيب الحرم المكي**، چاپ کال نه لري، ج. ۳، ص. ۵۳۹).

**ژباړه:** دا د دنیا او آخرت د نجات او خلاصي سبب دی.

**(هو دليل كمال الإيمان وحسـن الإسـلام) (عدد من المتخصـصـين باشـراف صـالح بن عبدالله امام وخطيب الحرم المكي**، چاپ کال نه لري، ج. ۳، ص. ۵۳۹) .

ژباړه: دا د ایمان د پوره والي او ښه اسلام دلیل دی.

**۴ - دعاء**

له غضب څخه د خلاصون بل سبب دعا ده.

دعا په لغت کې: له دعا یدعو مصـدر دی، د ( د ع و ) له مادې څخه اخیسـتل شـوی دی، اواز کولو، رغبت او میلان په معنا دی (ابن فارس، ۱۳۹۹هـ،ص.۲۸۰) .

دعا په اصطلاح کې: **هو إظهار غاية التّذلّل والافتقار إلى الله والاستكانة له (عدد من المتخصصين باشراف صالح بن عبدالله امام وخطيب الحرم المكي**، چاپ کال نه لري، ج. ۳، ص. ۱۹۰).

ژباړه: الله تعالی ته نهايي عاجزي، ذلت اومحتاجي ښکاره کول دعا ده.

الله تعالی فرمايي: ﴿ **وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ...** ﴾ ( **قرآن كريم، البقرة**، آيت: ۱۸۶).

ژباړه: کله چې زما بنده ګان درڅخه زما په اړه پوښـــتنه کوي؛ نو زه نږدې يم، د دعا کوونکي دعا قبلوم، کله چې له ما څخه دعا غواړي.

حديث کې راځي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: (**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ لَمْ يَدْعُ اللَّهَ، غَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ)** ( ابن حنبل، ۱۴۲۱هـ، ج. ۱۵، ص:۴۴۸).

ژباړه: له ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی فرمايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: څوک چې له الله تعالی څخه دعا نه غواړي؛ الله تعالی ورته غوصه کيږي.

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: (مَنْ لَمْ يَدْعُ اللهَ غَضِبَ اللهُ عَلَيْهِ)** ( **البخاري**، ۱۴۰۹هـ، ج. ۴، ص.۲۷۲).

ژباړه: له ابوهريرة رضي الله عنه له نبي صلى الله عليه وسلم څخه نقل کوي، فرمايي چې: څوک چې له الله تعالی څخه سوال نکوي؛ الله تعالی پرې غوسه کيږي.

**۵ - غوصه پرېښودل**

د الله تعالی له غضب څخه د خلاصون بل سبب دا دی، چې انسان غوصه پرېږدي، لکه حديث کې راځي:

(**عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّهُ سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَاذَا يُبَاعِدُنِي مِنْ غَضَبِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ؟ قَالَ: " لَا تَغْضَبْ**) ( ابن حنبل، ۱۴۲۱هـ، ج. ۳، ص.۳۸۳).

ژباړه: د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی، بې شکه رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يې پوښتنه وکړه، د الله تعالی له غضب څخه مې څه شی لرې باسي، هغه وويل: مه غوسه کيږه!

محدثين د دې حديث لاندې ليکي: (**الْغَضَبُ جِمَاعُ الشَّرِّ**) ( البغدادي، ۱۴۲۲هـ، ص.۳۶۳).

ژباړه: غوصه د هر شر راجمعه کوونکې ده.

جعفر بن محمد وايي: (**الْغَضَبُ مِفْتَاحُ كُلِّ شَرٍّ**) ( البغدادي، ۱۴۲۲هـ، ص.۳۶۳).

ژباړه: غضب د هر شر کلي ده.

عبد الله ابن مبارک رحمه الله ته وويل شول: مونږ ته په يوه کلمه کې ټول خير راجمعه کړه!!
هغه ورته وويل: د غوسې پرېښودل.
يو روايت کې داسې راځي: (عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا يَمْنَعُنِي مِنْ غَضَبِ اللَّهِ؟ قَالَ: «لَا تَغْضَبْ) ( ابن حبان، ۱۴۱۴هـ، ج. ۱، ص.۵۳۱) .
ژباړه: عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما فرمايي ما نبي صلى الله عليه وسلم ته وويل: ای د الله تعالی رسوله! هغه څه شی دی، چې ما د الله تعالی له غوصې څخه وژغوري؟ هغه وفرمايل: مه غوصه کېږه!
بل حديث کې راغلي: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْصِنِي قَالَ لَا تَغْضَبْ فَرَدَّدَ مِرَارًا قَالَ لَا تَغْضَبْ) ( البخاري، ۱۴۲۲هـ، ج. ۸، ص:۲۸) .
ژباړه: ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دی، چې يو کس رسول صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه، چې ماته وصيت وکړه، رسول صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: غوسه مه کوه، بيا يې پوښتنه وکړه، بيا يې ورته همدا ځواب ورکړ.

**٦ – د الله تعالی په نعمتونو باندې شکر**

د الله تعالی له غضب څخه د خلاصون بل سبب دا دی، چې انسان د الله تعالی په نعمتونو باندې شکر وباسي، شکر که په ژبه وي او که په افعالو سره وي. په دې اړه الله تعالی فرمايي: ﴿ مَا يَفْعَلُ اللَّهُ بِعَذَابِكُمْ إِنْ شَكَرْتُمْ وَآمَنْتُمْ وَكَانَ اللَّهُ شَاكِرًا عَلِيمًا ﴾ ( قرآن کريم، النساء، آيت: ۱۴۷).
ژباړه: که تاسو شکر کوونکي بندګان شئ او د ايمان لاره غوره کړئ؛ نو د الله تعالی په دې کې څه دي، چې هرو مرو تاسو ته عذاب درکوي، الله تعالی ډېر قدردان او پوهه دی.

**۷ – صدقه**

د الله تعالی له غضب څخه د خلاصون بل سبب دا دی، چې انسان د الله تعالی لپاره صدقه وکړي. په دې اړه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: (الصَّدَقَةُ تُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ، وَتَدْفَعُ مِيتَةَ السُّوءِ) ( ابن حبان، ۱۴۱۴هـ، ج. ۸، ص.۱۰۳) .
ژباړه: صدقه د رب غضب له منځه وړي او انسان له بد مرګ څخه ساتي.

**۸ – تقوا**

د الله تعالی له غضب څخه د خلاصون بل سبب دا دی، چې انسان تقوا دار شي، تقوا هغه څه ته وايي، چې انسان د الله تعالی په امرونو باندې عمل وکړي او له ممنوعاتو څخه يې ځان وساتي.

**پايله**

د موضوع په پای کې دې پايلې ته ورسېدم چې:
۱: غضب په لغت کې د شدت او سختوالي په معنا باندې راځي.

۲- غضب د الله تعالی صفت دی او هغه ته په هغه شان ثابت دی، چې د هغه د شان سره مناسب وي، تحريف او تعطيل په کې باطل دی، او د مخلوقاتو له صفتونو سره يې تشبيه کول هم باطل دي، بلکې د الله تعالی صفتونه د مخلوقاتو د صفاتو په شان نه دي.

۳: دعا پرېښودل د الله تعالی د غضب سبب دی.

۴: رسول الله تعالی فرمايي: غوسه مه کوه، چې د الله تعالی له غضب څخه وژغورل شې.

۵: د اهل السنة والجماعة په نزد باندې غضب د الله تعالی له صفاتو څخه يو صفت دی.

۶: د الله تعالی او رسول الله صلی الله عليه وسلم اتباع د غضب څخه د خلاصېدو مهمه لار ده.

۷: امر بالمعروف او نهي عن المنکر د الله تعالی د غضب مخنيوی کوي.

۸: مغضوب عليهم سره اسمان کې ملايکې او په ځمکه کې انسانان او پيران بغض او حسد کوي.

۹: کفار او منافقان هم مغضوب عليهم دي.

۱۰: کله چې په يوه ټولنه کې ډېر گناهونه شروع شي، الله تعالی پرې غضب نازلوي.

۱۱: بني اسرائيلو څخه د الله تعالی د غضب په نتېجه کې بيزوگان او خنزيران جوړ شو.

۱۲: څوک چې په اخلاص سره جهاد کوي، د الله تعالی له غضب څخه به خلاص وي.

۱۳: مغضوب عليهم نور خلک هم د سمې لارې څخه اړوي.

**وړانديزونه**

۱ -د اسلامي ثقافت استادانو ته وړانديز کوم، چې محصلينو ته د الهي غضب نښې او د خلاصون لارې په تفصيل سره بيان کړي، تر څو په دې اړه پوره پوهه حاصله کړي.

۲ -علماوو او خطيبانو ته وړانديز کوم، چې خلکو ته د منبر له لارې د الهي غضب نښې او د هغو څخه د خلاصون لارې بيان کړي؛ تر څو خلک له هغو کړنو څخه لاس په سر شي، چې د الهي غضب سبب گرځي.

**مأخذونه**

القرآن الكريم.

ابن حنبل، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني. (۱۴۲۱ هـ). مسند احمد (ج. ۶). بيروت: مؤسسة الرسالة.

ابن فارس، أبو الحسين أحمد بن فارس بن زكري. (۱۳۹۹هـ). معجم مقاييس اللغة(ج. ۱). بيروت: دارالفكر.

ابن منظور، محمد بن مكرم بن على أبو الفضل جمال الدين . (۱۴۱۴هـ). لسان العرب. (ج. ۹). بيروت: دار صادر.

**الاصفهاني، أبو القاسم الحسين بن محمد المعروف بالراغب . (١٤١٢ هــــ). المفردات فى غريب القرآن. (ج. ١). سوريه: دار القلم.**

**البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي.(١٤٢٢هـــــ). صحيح البخاري( ج. ٨). قاهره: دار طوق النجاة.**

**البغدادي، زين الدين عبد الرحمن بن أحمد بن رجب بن الحسن. (١٤٢٢هـــــ). جامع العلوم والحكم في شرح خمسين حديثا من جوامع الكلم. (ج. ١). بيروت: مؤسسة الرسالة.**

**الجرجاني، السيدالشريف على بن محمد. (١٤٠٥). التعريفات. (ج. ١). بيروت: دار الكتاب العربي.**

**الجوزي، جمال الدين ابو الفرج عبد الرحمن بن على بن محمد . (١٤٠٦هــ). التذكرة في الوعظ. (ج. ١). بيرو: دار المعرفة.**

**الجوهري، اسماعيل بن حماد .(١٤٠٧ ه). الصحاح. (ج. ١). بيروت: دار العلم للملايين.**

د افغانستان د سترو علماو یوه ډله.(۱۴۱۴ هــــ ق). کابلی تفسیر. (-).سعودي عربستان: مجمع الخادم الشرفين الحرمين.

**عدد من المختصين، بإشراف الشيخ صالح بن عبد الله بن حميد إمام وخطيب الحرم المكي.( ب – ت). نضرة النعيم في مكارم أخلاق الرسول الكريم – صلى الله عليه وسلم. (ج.٢). جدة: دار الوسيلة للنشر والتوزيع.**

**القحطاني، سعيد بن علي بن وهف. (ب – ت).نور التقوى وظلمات المعاصي في ضوء الكتاب والسُّنَّة. (ج.١). الرياض: مطبعة سفير.**

**المدني، ابو عبد الله محمد بن عمر المدني.(١٤٣٨هــ). ما هي علامت غضب الله. (ج.١). بيروت: دار الكتب العلمية.**

**مسلم، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري. (ب – ت). صحيح مسلم. (ج.١). بيروت: دار إحياء التراث العربي.**

**مسلم، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري.(ب – ت). صحيح مسلم. (ج. ٣). بيروت: دار إحياء التراث العربي.**

**المناوي، زين الدين محمد المدعو بعبد الرؤوف بن تاج العارفين بن علي بن زين العابدين الحدادي ثم المناوي القاهري. (١٣٥٦ه). فيض القدير شرح الجامع الصغير. (ج.٣). مصر: المكتبة التجارية الكبرى.**

# د خوست په مرکزي لومړنیو ښوونځیو کې د تاوتریخوالي ډولونه او د هغوی د لاملونه مطالعه

پوهنمل دوکتور احسان الله احسان او پوهنمل سیدشاه گل ویاړ، شیخ زاید پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی.
برېښنالیک: ehsan.af.1988@gmail.com

**لنډیز**

له نوموړې څېړنې څخه موخه، د خوست په مرکزي لومړنیو ښوونځیو کې د تاوتریخوالي ډولونه او دهغوی د لاملونو څېړنه دي. دا یوه ساحوي څېړنه ده، چې د ( کمي او کیفي) ابعادو په لرلو سره په مختلط ډول تر سره شوې ده، د فرضیو د آزمایښت لپاره د مورگان له جدول څخه په استفادې ۳۰۵ تنه زده کوونکي (۱۸٦) نارینه او (۱۱۹) ښځینه په تصادفي ډول انتخاب شول. په دې توگه لومړی د مشاهدې، مصاحبې او پوښتنلیک له میتودونو څخه په استفادې اړونده معلومات را ټول شول، چې د ښوونکو او زده کوونکو ترمنځ اړیکې، د زده کوونکو خپل منځي اړیکې، د درس په مهال د ټولگي اوضاع، د زده کونکو سره د ښوونکو او د ښوونځي د رهبری متقابل تعامل، همدارنگه په ځانگړې توگه هغه لاملونه، چې د تاوتریخوالي لامل گرځي او په زده کوونکو او د زده کړې په پروسه رغنده منفي اغېز پرېباسي تر څېړنې لاندې نیول شوي دي. له تحلیل او تجزیه وروسته پایلو څرگنده کړه، چې په ښوونځیو کې په مختلفو ډولونو سره تاوتریخوالی شتون لري او یو شمېر اړین معلومات، چې د یو مطلوب درسي بهیر په پیاوړتیا کې مرسته کوي، ترلاسه شول. چې د دې څېړنې پایلې د ښوونې او روزنې د پروسې له کارکوونکو سره د ستونزو په پېژندلو کې ډېره مرسته کولای شي.

**کلیدي کلمې**: تاوتریخوالی، ښوونه، رزونه، ښوونکي، زده کوونکي

**سریزه**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ! الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین.**

زمونږ گران هېواد افغانستان له ډېرې مودې راهیسې، د تاوتریخوالي د مختلفو ډولونو لکه (فزیکي، رواني، سیاسي او نورو) سره لاس او گریوان دی، چې لا تر اوسه هم ادامه لري. په کورنیو جنگونو کې په میلیونونو افغانان گاونډیو هیوادونه ته مهاجر شول، همدارنگه په زرگونو کسان له منځه ولاړل. په سبب یې د هېواد ښونیز نظام ویجاړ او هېوادوال له ښوونې او روزنې څخه محروم شول، ځکه چې ښوونیز نظام

ناقص او د رواني تشويشونو په اساس ماشومان د جنګونو په دوران کې له منظم تعليمي جريان څخه بې برخې شول. ښوونيز چاپېريال هم د جنګ له شر څخه په امان پاتې نه شو او دا پاک سپېڅلی چاپېريال يې له ستونزو سره مخ کړ. په ټوله نړۍ کې له تاوتريخوالي څخه د کنترول د وسيلې په شکل استفاده کېږي، اړينه ده له تاوتريخوالي او په ښوونځي کې له تاوتريخوالي څخه تعريف ولرو: تاوتريخوالی هغه عمل ته ويل کېږي  چې موخه يې ځان يا بل کس ته ضرر رسول دي (ستوده، ۱۳۸۵). يا په بل عبارت تاوتريخوالی  هغه مهال له فزيکي زور او قوت څخه استفادې کولو ته وايي، کله چې نور کسان د شخص د غوښتونو خلاف واقع شي. همدارنګه تاوتريخوال نورو کسانو ته د هر ډول ضرر رسولو په معنی دی؛ نو په دې اساس تاوتريخوالی يواځې غصه او غضب نه دی، بلکې يوه پراخه ساحه په بر کې نيسي. د تاوتريخوالي اساس او بنياد نورو ته ضرر رسول تشکيلوي (مادي، جسمي، معنوي، رواني.. ).

په ښوونځي کې تاوتريخوالی ځينو ساده فزيکي اعمالو ته ويل کېږي لکه ټېله کول، وهل، سکونډل، چپه خوله کېنول، تهديد، سو استفاده، حمله، تجاوز او آن تر دې چې قتل ته هم اشاره شوې ده (بازرګان او صادقي، ۱۳۸۰). په مجموع کې تاوتريخوالی د صلحې فضا اغېزمنوي او د ټولنې د وګړو ترمنځ د دښمنۍ، نفاق او انتقام اخيستنې سبب ګرځي. تاوتريخوالی يو ډول فردي او ډله ييز عمل دی چې د فزيکي او رواني زيان لامل ګرځي او د وګړو ارزښتونه په مختلفو برخو په ځانګړي ډول په ښوونيزه برخه کې تر اغېز لاندې راولي (حقيار، ۱۳۸۵).

تاوتريخوالی« په قصدي توګه د يوشخص له خوا په بل شخص شديد او قصدي جراحت ته وايي» (بيګزاد، ۱۳۸۲). يعنې کله چې په عمل کې قصد شتون ونه لري، په حقيقت کې تاوتريخوالي صورت نه دی نيولی. په همدې توګه بايد ووايو چې په تاوتريخوالي کې جبر اساسي عامل دی. مګر ټول تاوتريخوالي له جبر سره مل نه دي، په داسې حال کې چې تاوتريخوالی له درد سره مل دی مګر هر دردناک عمل تاوتريخوالی نشي کېدلی؛ نو په دې اساس د تاوتريخوالي لپاره جبر او درد کافي او ضروري نه دي (ګاتسمن او براون، ۲۰۰۰).  همدارنګه د آکسفورد، وبستر او امريکن هريتيج د لغاتو د فرهنګونو په اساس تاوتريخوالی په نورو کسانو باندې د فزيکي قوې استعمال ته ويل شوی دی (امريکن هريتيج ديکشنري، ۲۰۰۹). د هڅرويپس له قوله، تاوتريخوالی او صلحه د انسانانو د ځانګړنو په عنوان کشف شوي دي؛ نو په دې اساس د تاوتريخوالي د ذاتي والي او نه ذاتي والي په اړه بحث لا تراوسه جريان لري (لوينسون، ۱۹۹۸).

مشهور روان پوه زيګموند فرويد په دې باور و چې، انسان د غصې پر مهال د خپل شعور او عقل کنترول له لاسه ورکوي او ځينې انسانان د بېلابېلو عواملو په سبب غمګين او متأثره کېږي. دا ډول کسان د

خوښی، غم، قهر او غضب په مهال له ځانه عکس العمل ښيي او نشي کولی شعوري یا عقلاني کړنه تر سره کړي(عابد، ۱۳۸۶). زکي (۱۳۸۵) وايي" د کورنۍ د غړو بې سوادي په ځانګړي ډول پلار او مور، کلتوري او اقتصادي وروسته پاتې والی له یوې خوا ناوړه کلتوري او ټولنیز رواجونه او عادات له بلې خوا ماشومان او په ټوله کې انسان د تاوتریخوالي په عذاب اخته کوي". تاوتریخوالی په ټولنه او کورنۍ کې په مختلفو ډولونو ( فزیکي، جنسي، رواني، معنوي، فرهنګي، ټولنیز، اقتصادي...) تر سترګو کیږي (رحماني، ۱۳۸۳). همدارنګه کورنی تاوتریخوالی له بېلابېلو ټولنیزو او وحشیانه کړنو او ستونزو څخه سرچینه اخلي، چې د وګړو روان ته لویه ضربه رسوي(ګلزاد، ۱۳۸۴). همدارنګه "په تحصیل کې ناکامي یا وروسته پاتې والی د زده کړې په فضا (سالمه یا له تاوتریخوالي څخه ډکه) پورې مربوط ګڼي" (منیری او ملګري، ۱۳۸۵). څرګنده خبره ده چې درسي برنامه یواځې په ښوونیزو ارزښتونو نه ده ولاړه بلکې نور اړخونه هم شته چې له ښوونیز نظام سره د زده کړې او روزنې په برخه کې رغنده رول لوبوي لکه: په ښوونیز چاپیریال کې د مختلفو اړیکو شتون چې په دې ترڅ کې د زده کوونکو، استادانو، د زده کوونکو په منځ او یا هم د زده کوونکو او استادانو اړیکې د کورنۍ له غړو سره منځ ته راځي، چې دا ډول فعالیت له تاوتریخوالي څخه د پاکې فضا د منځ ته راتلو سبب ګرځي (جوادی، ۱۳۸۴).

تاوتریخوالی یوه داسې ځورونکې ناروغي ده، چې د ټولنې روح زخمي کوي او رایج کېدل یې د وحشت او ناامنۍ لامل کیږي. سیاسي، اقتصادي شرایط، همدرانګه د جبري ،سلیقوي او شخصي موضوعاتو ترویج په ټولنه کې مخلتف ډوله تاوتریخوالي ته لمن وهي چې د تاوتریخوالی بدترین ډول په ځینو جنایاتو او جرمونو کې لیدلی شو. کله چې د جرمونو لړۍ (زور، باج اخیستنه، قتل...) مطالعه کوو لیدل کیږې چې د تاوتریخوالي آفت د پرمختګ په لور روان دی او په ټولنه کې د ورورلۍ، صداقت، امن او پرهیزګارۍ اسباب له منځه وړي (هوشیار ،۱۳۸۶). داسې آفت چې بدبختانه په دې څو وروستیو کلونو کې په افغان ټولنه باندې حاکم او ورځ تربلې پرمختګ کوي. تقریبا ټول وګړي په کم او زیاته پیمانه د تاوتریخوالي له عواملو او اسبابو څخه باخبره دي، خو بیا هم ډیر کم وګړي دي چې د تاوتریخوالي د ناوړه او شدیدو پایلو او ستونزو څخه خبر ولري. ځګه چې لا تراوسه په ټولنه کې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو او وقایې په پار کوم اقدام نه ترسترګو کیږي؛ نو په دې اساس اوس هم په ټولنه کې مختلف ډوله تاوتریخوالی( فزیکي، ټولنیز، رواني، معنوي، جنسي او نور) شتون لري(هوشیار، ۱۳۸۶).

غصه د وېرې په شان د ژوندیو موجوداتو عکس العمل او یو تعرضي حالت دی، چې له منافعو څخه د دفاع په موخه یې هر ژوندی موجود له ځانه څرګندوي." کومه احصایه چې (WHO) سازمان په (۲۰۰۵) کال کې د تاوتریخوالي په اړه په نشر رسولې ده څرګندوي، چې هر کال په نړۍ کې له ۱،٦ میلیون کسانو

څخه زیات د تاوتریخوالي په اثر خپل ځانونه له لاسه ورکوي او تاوتریخوالی دی، چې له ۱۵ کلنۍ څخه تر ۴۵ کلنۍ پورې د انسانانو د مرګ عمده لامل ګڼل کېږي، همدارنګه په نړۍ کې د ۱۴ سلنه ښځو د مړینې مسؤل ګڼل کېږي. (WHO، ۲۰۰۵) سازمان په خبره هر څوک چې د تاوتریخوالي په اثر خپل ژوند له لاسه ورکوي، په سبب یې څو تنه نور کسان په رواني، جنسي او فزیکي لحاظ متضرر کېږي. سربېره پردې تاوتریخوالی د هېواد په ملي اقتصاد منفي اغېز کوي او د دې لامل ګرځي، تر څو هر کال په میلیاردونو ډالر د صحي، حقوقي او نورو خدماتو لپاره د تاوتریخوالي په پایله کې ځانګړي شي (د روغتیا نړیوال سازمان، ۲۰۰۵).

نذیر زوی لیکي، د هیواد په ښوونځیو کې جسمي تنبه په بېلابېلو ډولونو شتون لري او مروجه بڼې یې عبارت دي له: په لښته وهل، څپېړه، غوږ تاوول، د خطکش په وسیله وهل، د اغزن لرګي په وسیله وهل، د سرویښتانو کش کاږل، د برق په سیم وهل، د ګوتو منځ کې قلم ورکول، په لغته وهل، په یوه پښه درول، د سر وېښتانو قیچي کول، لمر ته درول، سکونډل، په سوک وهل او نور چې دا ټول په شدید، متوسط او سطحي توګه د ښوونکو، مدیرانو، سرمعلمانو، د ښوونځي د مسؤلانو او ممتازو شاګردانو له خوا په زده کوونکو باندې د بېلابېلو دلایلو په اساس عملي کېږي (نذیر زوی، ۱۳۸۷).

په دې ورستیو کلونو کې ډېرو څېړونکو د هغو عواملو په څېړنو پیل کړی دی، چې په ښوونځي کې د تاوتریخوالي لامل ګرځي: ټولنیز اقتصادي شرایط (فقر، بېکاري، ټولنیزه بې عدالتي، له نورو کسانو څخه وېره)، په کورنۍ کې د امنیت نشتون ( تعارض، طلاق، په کورنۍ کې دبل شخص منځ ته راتلل یا جلاکېدل، اولادونو ته د والدینو نه پاملرنه، غیر سالم رونیز روشونه...)، فردي مسائل (عاطفي اختلال یا ګډوډي، د ځان د کنترول موضوع، له نورو کسانو سره په اړیکو جوړولو کې ستونزې)، او روزنیز مسائل (د تعلیمي مراکزو غیر جذاب او خسته کوونکي ساختمانونه، د ښوونځي سخت قوانین، تبعیض، تحصیلي ناکامي، د ښوونکو په منځ کې تعارض) چې له دې ذکرشویو عواملو څخه هر یو یې کولی شي تاوتریخوالی رامنځ ته کړي (اولوئوس ،۱۹۹۹، ص ۱-۱۱ او سمیت، ۲۰۰۳، ص ۱-۳۳). همدارنګه وارل او استیل ول په دې باور دي، هغه شرایط چې په ماشومانو کې د تاوتریخوالي لامل ګرځي عبارت له مشاهدې او مثبت تقویت څخه دي، یعنې کله چې ماشومان د دې ډول کړنو سرته رسولو ته وهڅول شي (وارل او استیل ول، ۱۹۸۱).

ډېری وخت په ښوونځي کې ډېرې ستونزې او مشکلات د زده کوونکو د خپل منځي کړنو په اساس منځ ته راځي، ځکه چې د بېلابېلو فرهنګي او ټولنیزو شرایطو په اساس د یو او بل په څنګ کې زده کړه کوي او هېڅکله هم د ټولنیزو مهارتو د زده کړې او ښه والي لپاره کوم ډول معلومات نه تر لاسه کوي. له بله

اړخه په ښوونځي کې له تاوتريخوالي څخه د ډکو کړنو يوه برخه امکان لري له زده کوونکو سره د ښوونځي د مسؤلينو او ښوونکو غير اصولي چلند او سخت قوانين وي. په پرمختللو هېوادونو کې د لويانو تاوتريخوالی ډېر لږ مطرح کېږي، په دې سبب چې د سالم رفتار په زده کړه او د روزنيزو نظريو په تطبيق باندې زيات کار شوی دی، ځکه چې مديران او ښوونکي په دوامداره توګه د سالمو روزنيزو کړنو پر بنياد روزنه ويني. په همدې سبب د دې وروستيو کلونو په راپورونو کې د ښوونځيو د مسؤلانو له لوري د تاوتريخوالي په اړه کومه يادونه نه ده شوې. د ښوونځي د مسؤلينو تاوتريخوالی، چې کولی شي د ښوونيز او روزنيز چاپيريال امنيت او سلامت ګډوډ او له ګواښ سره مخ کړي او د روزنيزو موخو د تحقق مانع وګرځي، په جدي توګه تر پاملرنې لاندې نيول کېږي. د ځينو څېړونکو لکه لوينسون د څېړنو په اساس د مدرنې ټولنې د مخربو اثراتو سربېره د ښوونځي له قوانينو څخه د نويو ځوانانو سرغړونه او په هغوی کې له تاوتريخوالي څخه د ډک رفتار منځ راتلل، امکان لري چې د ښوونځي د اقداماتو يوه برخه د دې غير مناسبو کړنو د منځ ته راتلو، سرغړونې او د قوانينو له رعايت څخه د ناتوانی سبب شي (لوينسون، ۱۹۹۸). همدارنګه لوينسون باور لري چې ښوونځي بايد د زده کوونکي له نظره اساسي مشروعيت کسب او د باور د منځ ته راتلو لپاره آسانتياوې رامنځ ته کړي. له دې مشروعيت پرته امکان لري زده کوونکي مقاوت وکړي او د مطلوب رفتار لپاره ځينې قوانين تر پښو لاندې کړي همدارنګه د دې ډول عمل تر سره کول امکان لري په راتلونکي وخت کې د نورو کسانو د حقوقو او قوانينو تر پښو لاندې کولو سبب شي (لوينسون، ۱۹۹۸). زموږ د هېواد د لويانو او د ښوونځيو د مسؤلينو د تاوتريخوالي په برخه کې څېړنه او له نږدې څخه د ښوونځيو کتل دا په ډاګه کوي چې تاوتريخوالی او جنجالونه د زدکوونکو ترخپل منځي رفتارونو پورې منحصر نه دي بلکې اکثره لويان (مديران، مرستيالان، سرښوونکي، ښوونکي...) دي چې د زده کوونکو د سرغړونو په وړاندې له تاوتريخوالي څخه ډګ رفتار ترسره کوي. هغه له تاوتريخوالي څخه ډکې کړنې چې د زده کوونکي د کوچنيو او لويو سرغړونو په مقابل کې صورت نيسي عبارت دي له: تحقير، مسخره کول، توهين، د لين په وړاندې معرفي کول، بندي کول، وهل، له ټولګي څخه بهر ويستل. غواړو د دې څېړنې په مرسته په ډاګه کړو چې تر څومره کچې پورې پورته لاملونه او د تاوتريخوالي ډولونه د خوست ولايت په مرکزي لومړنيو ښوونځيو کې شتون لري او د ښوونې او روزنې په پروسه يې تر کومې کچې منفي اغېزې شنيدلې دي؟

## موخې

- په ټولنه کې د تاوتریخوالي په اړه د عامه پوهاوي رامنځ ته کول.
- په ښوونیز نظام کې د تاوتریخوالي د ډولونو او لاملونو پېژندل.
- په ښوونیز نظام کې د تاوتریخوالي له تاثیراتو سره آشنا کېدل.

## د څېړنې توکي او میتودونه


د څېړنې ساحه د خوست ولایت په مرکزي دولتي ابتدایه ښوونځیو کې د څلورمو، پنځمو او شپږمو ټولګیو هغه نارینه او ښځینه زده کوونکي دي، چې عملا په زده کړو بوخت دي او د فرضیو د آزمایښت لپاره د مورګان جدول څخه په استفادې ۳۰۵ تنه زده کوونکي چې (۱۸۶) تنه یې نارینه او (۱۱۹) تنه یې ښځینه دي په تصادفي ډول انتخاب شول. د ډېټا له را ټولولو څخه مخکې د اړوند ناحیې له مسؤلینو څخه د څېړنې او د پوښتنپاڼو د وېش او بیا را ټولولو په موخه اجازه واخیستل شوه. همدارنګه په څېړنه کې د برخه اخیستونکو افرادو د باور تر لاسه کولو لپاره هغوی ته د معلوماتو د خوندیتوب په اړه لازم معلومات ورکړل شول او له هغه وروسته دوی ته پوښتنلیکونه ووېشل شول او هر پوښتنلیک ته د ځواب ویلو په موخه ۱ ساعت وخت ورکړل شو. د ډېټا په تحلیل کې د SPSS 25 څخه ګټه واخیستل شوه.

دا یوه ساحوي څېړنه ده، چې د (کمي او کیفي) ابعادو په لرلو سره په مختلط ډول تر سره شوې ده، په دې توګه لومړی د مشاهدې، مصاحبې او پوښتنپاڼې له میتودونو څخه په استفادې اړونده معلومات را ټول شوي له تحلیل او تجزیې وروسته یې د ښوونکو او زده کوونکو ترمنځ اړیکې، د زده کوونکو په خپلو منځو کې اړیکې، د درس پر مهال د ټولګي اوضاع، د زده کوونکو سره د ښوونکو او د ښوونځي د رهبرۍ متقابل تعامل، همدارنګه په ځانګړې توګه هغه لاملونه، چې د تاوتریخوالي لامل ګرځي او په زده کوونکو او د زده کړې په پروسه رغنده اغېز پرېباسي تر څېړنې لاندې نیول شوي او په پایله کې یې یو شمېر اړین معلومات، چې د یو مطلوب تدریسي بهیر په پیاوړتیا کې مرسته کوي، ترلاسه شوي دي.

**د څېړنې موندنې**

د څېړنې موخو ته په کتو سره کوم معلومات چې د مشاهدې، مصاحبې او پوښتن پاڼې په پایله کې تر لاسه شوي، په لنډ ډول په لاندې ډول سره بیانیږي:


۱ـ ګراف




د خوست ولایت له مرکزي لومړنیو نارینه او ښځینه ښوونځیو څخه د مشاهدې په پایله کې مو ولیدل، چې د ښوونځیو فضا له تاوتریخوالي څخه ډکه وه، ښوونکي د ښوونځي په انګړ کې له لښتې او پایپ سره لیدل کېدل، همدارنګه زده کوونکو ته به یې په ډېره ترخه لهجه خبرې کولې، دا او دې ته ورته اعمال یې په ټولګي کې هم سرته رسول او اکثریت ښوونکي له لښتې، پایپ، کیبل سره ټولګي ته تلل. د دې تر څنګ یو تعداد زده کوونکي د انضباط په حیث ګمارل شوي وو، کوم چې په جسمي لحاظ لوی وو، له نورو زده کوونکو سره یې ډېره بده رویه کوله، یعنې زده کوونکي به یې ښکنځل، رټل، په څپېړه وهل، په لرګي وهل، په پایپ سره وهل، په لغته وهل، تېل وهل، ویښتان کش کول او دې ته ورته نور اعمال تر سره کول، چې یادو کړنو له زده کوونکو څخه د جرآت قوه سلب کړې وه، هېڅ یو شاګرد نه شو کولای خپل شکایت وړاندې کړي او یا هم په ټولګي کې د خپلو درسونو په اړوند تر ډېره په آرامی سره پوښتنه مطرح کړي؛ ځکه چې د ښوونکي له خوا تهدید او یا هم د خپلو ټولګیوالو له خوا مسخره کېدل، همدارنګه د زده کوونکو د تعلیمی سویې ټیټوالی، د ښوونځي او د ټولګي د اصولو نه مراعات کول، د

نظافت خيال نه ساتل او د ښوونکو بې احترامي هم ډېره موجوده وه، چې دا هم د تاوتريخوالي لامل گرځېدل.

۲ـ گراف




له مشاهدې وروسته د مصاحبې له ميتود څخه هم په دغه څېړنه کې په گروپي او انفرادي توگه استفاده شوې ده، چې د زده کوونکو څخه مو د خپلو پوښتنو ځوابونه ترلاسه کړل، لومړی بايد ووايم، چې زده کوونکي د ځواب ويلو پر مهال ډېر تر فشار لاندې راتلل او پوښتنو ته يې تر ډېره حقيقي او ريښتينې ځواب نه ويلو؛ ځکه چې له ښوونکو څخه ډېر زيات وېرېدل. له ډېروهڅو او ډاډگيرنې ورکولو وروسته وتوانېدو، تر يوې اندازې حقيقي ځوابونو ته لاس رسی پيداکړو، چې په لنډه توگه ورځخه يادونه کوو: د زده کوونکو په وينا هغه چا چې کورنۍ دنده نه وي راوړې، هغو ته د ښوونکو له خوا مختلفې جزاگانې ورکول کېږي لکه: وهل، غوږ کش کول، چيچل، په يوه پښه او يا له ټولگي د باندې لمرته درول، قلم په گوتو کې ورکول، په لښته يا په پايپ سره وهل، د لاسونو په شا په لښته سره وهل او دې ته ورته نورې

جزاګانې. د زده کوونکو په وینا خپل منځي جنګونه صورت نیسي، زده کوونکي د یو او بل په وړاندې تند غبرګون ښيي، شکایت ډېری وخت ښوونکي ته کېږي، که نتیجه ورنه کړي بیا ادارې ته مراجعه کېږي خو هلته د ادارې له خوا له هغوی سره ډېر بد چلند کېږي یعنې اکثر وخت ستونزې نه حل کېږي. د ټولیګوالو ترمنځ یو بل ته مختلف نومونه اخیستل کېږي او کله کله هم د جنګ لامل ګرځي. د زده کوونکو له قوله ښوونکي پرته له خپل نوم په نورو نومونو هم زده کوونکو ته غږ کوي چې د نورو زده کوونکو له خوا د خندا او ملنډو وهلو لامل ګرځي، چې ډېری وخت په تاوتریخوالي بدلیږي. ښوونکي د غصې په مهال مختلف الفاظ استعمالوي، همدارنګه له وهلو، رټلو، ټولګي ویستلو او ځینې یې له ناکامولو څخه هم کار اخلي. د زده کوونکو له قوله دوی له ښوونکو سره مینه لري؛ خو ډېره مینه له هغه چاسره لري چې نرم مزاج ولري، زیاد قوانین نه وضع کوي، وهل، ټکول نه کوي، توپیري چلند نه کوي، ناکامي نه کوي او په ټولګي کې د تفریح په عنوان زده کوونکو ته ډېر وخت ورکوي، د زده کوونکو له کورنیو سره د ادارې او ښوونکو اړیکې ډېرې لږ دي یعنې اکثره وخت د ستونزو د حل په موخه د زده کوونکو له کورنیو سره مشوره او اړیکه صورت نه نیسي. د زده کوونکو غوښتنې له معارف، ښوونځي او ښوونکو څخه ډېرې دي لکه په ښوونځي کې د لوبو سامان، مسلکي ښوونکي، د ښوونکو ښه چلند له زده کوونکو سره او داسې نور...

له مشاهدې او مصاحبې وروسته په دې څېړنه کې له پوښتن پاڼې څخه ګټه اخیستل شوې ده. چې پایلې یې په لاندې ډول ذکر کېږي:

۱(جدول)

| جنسیت | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | نارینه | ۱۸٦ | ۴۵.۰ | ٦۱.۰ | ٦۱.۰ |
| | ښځینه | ۱۱۹ | ۲۸.۸ | ۳۹.۰ | ۱۰۰.۰ |
| | Total | ۳۰۵ | ۷۳.۸ | ۱۰۰.۰ | |
| Missing | System | ۱۰۸ | ۲٦.۲ | | |
| Total | | ۴۱۳ | ۱۰۰.۰ | | |

په پورته جدول کې معلومه شوه، چې مجموعه ۳۰۵ تنه ګډونوالو په دې څېړنه کې برخه اخیستې ده، چې ۱۸٦ تنه نارینه او ۱۱۹ تنه یې ښځینه دي، په دې اساس ۴۵ سلنه برخه یې نارینه او ۲۸.۸ سلنه برخه یې ښځینه تشکیلوي.

۲(جدول)

| عمر | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | ۱۰ کاله | ۱۱۰ | ۲٦.٦ | ۳٦.۱ | ۳٦.۱ |
| | ۱۱ کاله | ۱۰۰ | ۲۴.۲ | ۳۲.۸ | ٦۸.۹ |
| | ۱۲ کاله | ۹۵ | ۲۳.۰ | ۳۱.۱ | ۱۰۰.۰ |
| | Total | ۳۰۵ | ۷۳.۸ | ۱۰۰.۰ | |
| Missing | System | ۱۰۸ | ۲٦.۲ | | |
| Total | | ۴۱۳ | ۱۰۰.۰ | | |

پورته جدول ته په کتو سره، ۱۱۰ تنه ګډونوال لس کاله، ۱۰۰ تنه ګډونوال ۱۱ کاله او ۹۵ تنه ګډونوال ۱۲ کاله عمر لري.

۳ (جدول)

| لومړی پوښتنه: په ښوونځي کې له تاوتریخوالي ډک رفتار | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | ډېر مخالف | ۱۱ | ۲.۷ | ۳.٦ | ۳.٦ |
| | لږ مخالف یم | ۲۰ | ۴.۸ | ٦.٦ | ۱۰.۲ |
| | نظر نه لرم | ۳۷ | ۹.۰ | ۱۲.۱ | ۲۲.۳ |
| | لږ موافق یم | ۸۷ | ۲۱.۱ | ۲۸.۵ | ۵۰.۸ |
| | ډېر موافق یم | ۱۵۰ | ۳٦.۳ | ۴۹.۲ | ۱۰۰.۰ |
| | Total | ۳۰۵ | ۷۳.۸ | ۱۰۰.۰ | |
| Missing | System | ۱۰۸ | ۲٦.۲ | | |
| Total | | ۴۱۳ | ۱۰۰.۰ | | |

د لومړی پوښتنې پایلو ته په کتو سره څرګندېږي، چې ۳۶.۳ سلنه ګډونوال له نوموړې پوښتنې سره ډېر موافق، ۲۱.۱ سلنه لږ موافق، ۹.۰ سلنه نظر نه لري، ۴.۸ سلنه لږ مخالف او ۲.۷ سلنه ګډونوال ډېر مخالف دي، په پایله کې څرګنده شوه چې د ۵۷.۴ سلنه ګډونوالو موافقت د تاوتریخوالي په شتون دلالت کوي.

۴ (جدول)

| دویمه پوښتنه: په ټولګي کې د ښوونکي له تاوتریخوالي ډک چلند | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | ډېر مخالف یم | ۸ | ۱.۹ | ۲.٦ | ۲.٦ |
| | لږ مخالف یم | ۹ | ۲.۲ | ۳.۰ | ۵.٦ |
| | نظر نه لرم | ۷۲ | ۱۷.۴ | ۲۳.٦ | ۲۹.۲ |
| | لږ موافق یم | ۹٦ | ۲۳.۲ | ۳۱.۵ | ٦۰.۷ |
| | ډېر موافق یم | ۱۲۰ | ۲۹.۱ | ۳۹.۳ | ۱۰۰.۰ |
| | Total | ۳۰۵ | ۷۳.۸ | ۱۰۰.۰ | |
| Missing | System | ۱۰۸ | ۲٦.۲ | | |
| Total | | ۴۱۳ | ۱۰۰.۰ | | |

د دویمې پوښتنې په پایله کې جوته شوه، چې ۲۹.۱سلنه ګډونوال ډېر موافق، ۲۳.۲ سلنه لږ موافق، ۱۷.۴ سلنه بې نظره، ۲.۲ سلنه لږ مخالف او ۱.۹ سلنه ډېر مخالف دي. په پایله کې ویلی شو، چې د ۵۲.۳ سلنه ګډونوالو موافقت په ټولګي کې د ښوونکي له تاوتریخوالي ځخه په ډک چلند باندې دلالت کوي.

۵ (جدول)

| دریمه پوښتنه: د زده کوونکو او ښوونکو چلند له یو او بل سره | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | ډېر مخالف یم | ۸۳ | ۵.۸ | ۲۷.۲ | ۲۷.۲ |
| | لږ مخالف یم | ۹۵ | ۵.۸ | ۳۱.۱ | ۵۸.۴ |
| | نظر نه لرم | ۷۹ | ۱۹.۱ | ۲۵.۹ | ۸۴.۳ |
| | لږ موافق یم | ۲۴ | ۲۰.۱ | ۷.۹ | ۹۲.۱ |
| | ډېر موافق یم | ۲۴ | ۲۳.۰ | ۷.۹ | ۱۰۰.۰ |
| | Total | ۳۰۵ | ۷۳.۸ | ۱۰۰.۰ | |
| Missing | System | ۱۰۸ | ۲٦.۲ | | |
| Total | | ۴۱۳ | ۱۰۰.۰ | | |

د دریمې پوښتنې له پایلو څرګندېږي، چې ۲۳.۰ سلنه ډېر موافق، ۲۰.۱ سلنه لږ موافق، ۱۹.۱ سلنه نظر نه لري، ۵.۸ سلنه لږ مخالف او ۵.۸ سلنه ډېر مخالف دي. په دې اساس د ۴۳.۱ سلنه ګډونوالو موافقت دا

معنی لري چې د زده کوونکو او ښوونکو چلند له یو او بل سره مناسب نه دي او له تاوتریخوالي ډک څرګندیږي.

۶ (جدول)

| خلورمه پوښتنه: د ښوونکي تعصبي چلند | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | ډېر مخالف یم | ۷ | ۱.۷ | ۲.۳ | ۲.۳ |
| | لږ مخالف یم | ۱۲ | ۲.۹ | ۳.۹ | ٦.۲ |
| | نظر نه لرم | ۲۴ | ۵.۸ | ۷.۹ | ۱۴.۱ |
| | لږ موافق یم | ٦۴ | ۱۵.۵ | ۲۱.۰ | ۳۵.۱ |
| | ډېر موافق یم | ۱۹۸ | ۴۷.۹ | ٦۴.۹ | ۱۰۰.۰ |
| | Total | ۳۰۵ | ۷۳.۸ | ۱۰۰.۰ | |
| Missing | System | ۱۰۸ | ۲٦.۲ | | |
| Total | | ۴۱۳ | ۱۰۰.۰ | | |

د خلورمې پوښتنې په ځواب کې ۴۷.۹ سلنه ګډونوال ډېر موافق، ۱۵.۵ سلنه لږ موافق، ۵.۸ سلنه نظر نه لري،۲.۹ سلنه لږ مخالف او ۱.۷ سلنه ډېر مخالف دي، چې د ٦۳.۴ سلنه ګډونوالو موافقت د ښوونکو په تعصبي چلند دلالت کوي، په دې معنا چې له زده کوونکو سره د ښوونکو چلند تعصبي اړخ هم لري.

۷ (جدول)

| پنځمه پوښتنه: د تاوتریخوالي په اړه د زده کوونکو معلومات | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | ډېر مخالف | ۹ | ۲.۲ | ۳.۰ | ۳.۰ |
| | لږ مخالف یم | ۱۲ | ۲.۹ | ۳.۹ | ٦.۹ |
| | نظر نه لرم | ۲۰ | ۴.۸ | ٦.٦ | ۱۳.۴ |
| | لږ موافق یم | ۷۰ | ۱٦.۹ | ۲۳.۰ | ۳٦.۴ |
| | ډېر موافق یم | ۱۹۴ | ۴۷.۰ | ٦۳.٦ | ۱۰۰.۰ |
| | Total | ۳۰۵ | ۷۳.۸ | ۱۰۰.۰ | |
| Missing | System | ۱۰۸ | ۲٦.۲ | | |
| Total | | ۴۱۳ | ۱۰۰.۰ | | |

پايلې ښيي چې ۴۷ سلنه ډېرموافق، ۱٦.۹ سلنه لږ موافق، ۴.۸ سلنه نظر نه لري، ۲.۹ سلنه لږ مخالف او ۲.۲ سلنه ډېر محالف دي. په دې اساس د ٦٦.٦ سلنه ګډونوالو موافقت دا څرګندوي، چې زده کوونکي د تاوتريخوالي په اړه لږ معلومات لري او په دې برخه کې ډېری کسان نه پوهيږي.

۸ (جدول)

| شيږمه پوښتنه: په ټولګي کې لفظي شخړه | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | ډېر مخالف يم | ۸ | ۱.۹ | ۲.٦ | ۲.٦ |
| | لږ مخالف يم | ۱۷ | ۴.۱ | ۵.٦ | ۸.۲ |
| | نظر نه لرم | ۲۳ | ۵.٦ | ۷.۵ | ۱۵.۷ |
| | لږ موافق يم | ۷۱ | ۱۷.۲ | ۲۳.۳ | ۳۹.۰ |
| | ډېر موافق يم | ۱۸٦ | ۴۵.۰ | ٦۱.۰ | ۱۰۰.۰ |
| | Total | ۳۰۵ | ۷۳.۸ | ۱۰۰.۰ | |
| Missing | System | ۱۰۸ | ۲٦.۲ | | |
| Total | | ۴۱۳ | ۱۰۰.۰ | | |

د څېړنې پايلو ښودله، چې له شپږمې پوښتنې سره ۴۵ سلنه ډېر موافق، ۱۷.۲ سلنه لږ موافق، ۵.٦ سلنه نظر نه لري، ۴.۱ سلنه لږ مخالف او ۱.۹ سلنه ډېر مخالف دي. په دې اساس د ٦۲.۲ سلنه ګډونوالو موافقت په ټولګي کې د شخړو په شتون دلالت کوي.

۹ (جدول)

| اوومه پوښتنه: د تاوتريخوالي اثرات په زده کړه باندې | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | ډېر مخالف يم | ۷۳ | ۸.۵ | ۲۳.۹ | ۲۳.۹ |
| | لږ مخالف يم | ۱۲۳ | ٦.۸ | ۴۰.۳ | ٦۴.۳ |
| | نظر نه لرم | ۴٦ | ۱۱.۱ | ۱۵.۱ | ۷۹.۳ |
| | لږ موافق يم | ۳۵ | ۱۷.۷ | ۱۱.۵ | ۹۰.۸ |
| | ډېر موافق يم | ۲۸ | ۲۹.۸ | ۹.۲ | ۱۰۰.۰ |
| | Total | ۳۰۵ | ۷۳.۸ | ۱۰۰.۰ | |
| Missing | System | ۱۰۸ | ۲٦.۲ | | |
| Total | | ۴۱۳ | ۱۰۰.۰ | | |

پایلې څرګندوي، چې ۲۹.۸ سلنه ګډونوال ډېر موافق، ۱۷.۷ سلنه لږ موافق، ۱۱.۱ سلنه بې نظره، ۶.۸ سلنه لږ مخالف او ۸.۵ سلنه ډېر مخالف دي. نو له اوومې پوښتنې سره د ۴۷.۵ سلنه ګډونوالو موافقو ځوابونو په ګوته کړه، چې تاوتریخوالی په زده کړه باندې منفي اثر لري.

۱۰ (جدول)

| اتمه پوښتنه: په ښوونه او روزنه د تاوتریخوالي منفي اثرات | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | ډېر مخالف یم | ۳۹ | ۹.۴ | ۱۲.۸ | ۱۲.۸ |
| | لږ مخالف یم | ۴۹ | ۱۱.۹ | ۱۶.۱ | ۲۸.۹ |
| | نظر نه لرم | ۴۳ | ۱۰.۴ | ۱۴.۱ | ۴۳.۰ |
| | لږ موافق یم | ۸۱ | ۱۹.۶ | ۲۶.۶ | ۶۹.۵ |
| | ډېر موافق یم | ۹۳ | ۲۲.۵ | ۳۰.۵ | ۱۰۰.۰ |
| | Total | ۳۰۵ | ۷۳.۸ | ۱۰۰.۰ | |
| Missing | System | ۱۰۸ | ۲۶.۲ | | |
| Total | | ۴۱۳ | ۱۰۰.۰ | | |

د دې څېړنې پایلې څرګندوي، چې ۲۲.۵ سلنه ګډونوال ډېر موافق، ۱۹.۶ سلنه لږ موافق، ۱۰.۴ سلنه نظر نه لري، ۱۱.۹ سلنه لږ مخالف او ۹.۴ سلنه ډېر مخالف دي. په دې اساس اتمې پوښتنې ته د ۴۲.۱سلنه ګډونوالو موافق ځواب په ګوته کوي، چې تاوتریخوالی د ښوونې او روزنې پر پروسې منفي اغېزې لري.

۱۱ (جدول)

| نهمه پوښتنه: فرهنګي، مذهبي توپیرونه او تعصب | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | ډېر مخالف یم | ۴۷ | ۱۱.۴ | ۱۵.۴ | ۱۵.۴ |
| | لږ مخالف یم | ۵۵ | ۱۳.۳ | ۱۸.۰ | ۳۳.۴ |
| | نظر نه لرم | ۳۶ | ۸.۷ | ۱۱.۸ | ۴۵.۲ |
| | لږ موافق یم | ۶۹ | ۱۶.۷ | ۲۲.۶ | ۶۷.۹ |
| | ډېر موافق یم | ۹۸ | ۲۳.۷ | ۳۲.۱ | ۱۰۰.۰ |
| | Total | ۳۰۵ | ۷۳.۸ | ۱۰۰.۰ | |
| Missing | System | ۱۰۸ | ۲۶.۲ | | |
| Total | | ۴۱۳ | ۱۰۰.۰ | | |

په پورته جدول کې پایلې ښیي، چې ۲۳.۷ سلنه ګډوال ډېر موافق، ۱۶.۷ سلنه لږ موافق، ۸.۷ سلنه نظر نه لري، ۱۳.۳ سلنه لږ مخالف او ۱۱.۴ سلنه ډې مخالف دي. له همدې کبله له نهمې پوښتنې سره د ۴۰.۴

سلنه ګډونوالو د موافقو ځوابونو پایله، په ښوونځیو کې د فرهنګي، مذهبي توپیرونو او تعصب پاللو په شتون دلالت کوي.

۱۲ (جدول)

| لسمه پوښتنه: د ښوونځي اړیکه له کورنیو سره | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | ډېر مخالف یم | ۱۵ | ۳.٦ | ۴.۹ | ۴.۹ |
| | لږ مخالف یم | ۱۱ | ۲.۷ | ۳.٦ | ۸.۵ |
| | نظر نه لرم | ۳۴ | ۸.۲ | ۱۱.۱ | ۱۹.۷ |
| | لږ موافق یم | ۸۳ | ۲۰.۱ | ۲۷.۲ | ۴٦.۹ |
| | ډېر موافق یم | ۱٦۲ | ۳۹.۲ | ۵۳.۱ | ۱۰۰.۰ |
| | Total | ۳۰۵ | ۷۳.۸ | ۱۰۰.۰ | |
| Missing | System | ۱۰۸ | ۲٦.۲ | | |
| Total | | ۴۱۳ | ۱۰۰.۰ | | |

پایلې څرګندوي، چې ۳۹.۲ سلنه ګډونوال ډېر موافق، ۲۰.۱ سلنه لږ موافق، ۸.۲ سلنه نظر نه لري، ۲.۸ سلنه لږ مخالف او ۳.٦ سلنه ډېر مخالف دي. نو، لسمي پوښتني ته د ۵۹.۳ سلنه ګډونوالو موافق ځوابونه دا څرګندوي، چې د ښوونځیو له خوا د زده کوونکو له کورنیو سره اړیکه شتون نه لري او ستونزې په خپل وخت د زده کوونکو له کورنیو سره نه شریکېږي.

**مناقشه**

د خوست ولایت په مرکزي لومړنیو ښونځیو کې له څېړني څخه وروسته دې پایلې ته ورسېدو، چې تاوتریخوالی په ښوونځیو کې په بېلابېلو شکلونو شتون لري لکه: بدې خبرې، ښکنځلې، په لښته وهل، په څپېړه وهل، په پایپ او لغته وهل همدارنګه له ټولګي بهر کول، غیرحاضري، د زده کوونکو او ښوونکو تر منځ لفظي شخړه، تعصب، په ناکامولو سره اخطار ورکول، د ویښتانو کش کول، د غوږونو کش کول او چیچل، چې دا پایلې، د نذیر زوی (۱۳۸۸) له څېړنو سره مطابقت لري د نوموړي په وینا د هېواد په ښوونځیو کې جسمي تنبیه په بېلابېلو ډولونو شتون لري او مروجه بڼې یې عبارت دي له: په لښته وهل، څپېړه، غوږ تاوول، د خطکش په وسیله وهل، د اغزن لرګي په وسیله وهل، د سروېښتانو کش کارل، د برق په سیم وهل، د ګوتو منځ کې قلم ورکول، په لغته وهل، په یوه پښه درول، د سروېښتانو قیچي کول، لمر ته درول، سکونډل، په سوک وهل او نور چې دا ټول په شدید، متوسط او سطحي توګه د ښوونکو،

مدیرانو، سرمعلمانو، د ښوونځیو د مسؤلانو او انضباط زده کوونکو له خوا په نورو زده کوونکو باندې د بېلابېلو دلایلو په اساس ترسره کېږي. د (هوشیار،۱۳۸٦) په قول داسې آفت چې بدبختانه په دې څو وروستیو کلونو کې په افغاني ټولنه باندې حاکم ګرځېدلی او ورځ تربلې پرمختګ کوي، تقریبا ټول وګړي په لږه او ډېره پیمانه د تاوتریخوالي له عواملو او اسبابو څخه باخبره دي؛ خو بیا هم ډېر کم وګړي دي چې د تاوتریخوالي د ناوړه او شدیدو پایلو او ستونزو څخه خبر ولري؛ ځکه چې لا تراوسه په ټولنه کې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو او وقایې په پار کوم اقدام نه ترسترګو کېږي؛ نو په دې اساس اوس هم په ټولنه کې مختلف ډوله تاوتریخوالی ( فزیکي، ټولنیز، رواني، معنوي، جنسي او نور) شتون لري.

په ټولګیو کې له مختلفو قومونو او فرهنګونو څخه د زده کوونکو شتون، دښوونځي سخت قوانین او د ښونځیو د مسؤلینو بدسلوک، همدارنګه ځینو ستونزو ته نه پاملرنه د تاوتریخوالي لامل ګرځي، چې د باندورا او والترز (۱۹۷۷) له قول سره مطابقت څرګندوي، د هغوی په قول زیات وخت په ښوونځي کې ډېرې ستونزې او مشکلات د زده کوونکو د خپل منځي کړنو په اساس منځ ته راځي؛ ځکه چې د بېلابېلو فرهنګي او ټولنیزو شرایطو په اساس د یو او بل په څنګ کې زده کړه کوي او هېڅکله هم د ټولنیزو مهارتونو د زده کړې او ښه والي لپاره کوم ډول معلومات نه تر لاسه کوي. له بله اړخه په ښوونځي کې له تاوتریخوالي څخه د ډکو رفتارونو یوه برخه امکان لري له زده کوونکو سره د ښوونځي د مسؤلینو او ښوونکو غیر اصولي چلند او سخت قوانین وي. په پرمختللو هیوادونو کې د لویانو تاوتریخوالی ډېر لږ مطرح کېږي، په دې سبب چې د سالم رفتار په زده کړه او د روزنیزو نظریو پر تطبیق باندې ډېر کار شوی دی؛ ځکه چې مدیران او ښوونکي په دوامداره توګه د سالمو روزنیزو کړنو په ترسرکولو کې روزنه وینې.

د والترز او باندورا د قول پر بنیاد باید ووایم، چې زمونږ په هېواد کې د تاوتریخوالي په اړوند تر ډېره بریده ښوونکي کومه روزنه نه وینې او له دې شومې پدیدې څخه زده کوونکي هم خبرتیا نه لري (ګاتسمن، ۲۰۰۰) همدارنګه لوینسون (۱۹۹۸) باور لري، چې ښوونځي باید د زده کوونکي له نظره اساسي مشروعیت کسب او د باور د منځ ته راتلو لپاره آسانتیاوې رامنځ ته کړي. له دې مشروعیت پرته امکان لري زده کوونکي مقاوت وکړي او د مطلوب رفتار لپاره ځینې قوانین تر پښو لاندې کړي، همدارنګه د دې ډول عمل تر سره کول امکان لري، په راتلونکي وخت کې د نورو کسانو د حقوقو او قوانینو تر پښو لاندې کولو سبب شي.

زموږ د هیواد د لویانو او د ښوونځیو د مسؤلینو د تاوتریخوالي په برخه کې څېړنه او له نږدې څخه د ښوونځیو کتل دا په ډاګه کوي، چې تاوتریخوالی او شخړې د زدکوونکو تر خپل منځي رفتارونو پورې منحصرې نه دي؛ بلکې اکثره لویان (مدیران، مرستیالان، سرښوونکي، ښوونکي...) دي، چې د زده

کوونکو د سرغړونو په وړاندې له تاوتریخوالي څخه ډګ چلند ترسره کوي. هغه له تاوتریخوالي څخه ډکې کړنې چې د زده کوونکو د کوچنیو او لویو سرغړونو په مقابل کې صورت نیسي عبارت دي له: تحقیر، مسخره کول، توهین، د لین په وړاندې معرفي کول، بندي کول، وهل، له ټولګي څخه بهر ویستل او نور.

د څېړنو د لاسته راوړنو پر بنیاد په زده کوونکو کې د ښوونځي له قوانینو څخه سرغړونه او د ځینو مخربو کړنو سرته رسول هم د تاوتریخوالي لامل ګرځېدل او په سبب یې د ښوونځي د مسؤلینو او ښوونکو غصې را پارېدلې، چې په دې اړوند لوینسون (۱۹۹۸) وایي، د مدرنې ټولنې د مخربو اثراتو سربېره د ښوونځي له قوانینو څخه د نویو ځوانانو سرغړونه او په هغوی کې له تاوتریخوالي څخه د ډک رفتار منځ راتلل، امکان لري، چې د ښوونځي د اقداماتو یوه برخه د دې غیر مناسبو کړنو د منځ ته راتلو، سرغړونې او د قوانینو له رعایت څخه د ناتوانی سبب شي.

## پایلې

کومه څېړنه چې د خوست ولایت په مرکزي لومړنیو ښوونځیو کې د تاوتریخوالي په اړوند ترسره شوه په لنډه توګه لاندې پایلې ترې په لاس راغلې: په ټولو نارینه او ښځینه ښوونځیو کې تاوتریخوالي په بېلابېلو ډولونو شتون درلود لکه، ښکنځلې، مسخره کول، وهل، څپېړه، لغته، لښته، پایپ، خطکش، له ټولګي څخه ویستل، غیرحاضرول، د وېښتانو کش کول، غوږ تاوول او چیچل او نور چې د ښوونکو، مدیرانو، سرښوونکو او نورو مسؤلو کسانو له خوا په زده کوونکو باندې عملي کېدل.

لفظي تاوتریخوالی په ښوونځیو کې ډېررواج لري، پوښتنو ته د زده کوونکو د ځوابونو په اساس لفظي تاوتریخوالی لکه ښکنځلې، په بدل نوم غږ کول، مسخره کول او نور نه یواځې د زده کوونکو په منځ کې شتون لري، بلکې د ښوونکو او د ښوونځي د مسؤلینو له خوا هم صورت نیسي. په کلي توګه باید ووایم چې د ښوونځي چاپېریال د زده کوونکو لپاره له وېرې او دېکتاتورانه رویې څخه ډک دی، له زده کوونکو سره په ورین تندې او نرمه لهجه خبرې صورت نه نیسي؛ ځکه چې د ځینو ښوونکو په وینا له زده کوونکو سره په ورین تندې خبرې کول او هغوی ته موقع ورکول د بداخلاقی او ښوونکو ته د بې احترامۍ لامل ګرځي. تر ډېره زده کوونکو ته د ښوونځي، زده کړې او د قوانینو د رعایت په اړه کوم مثبت پیغام نه ورکول کېږي، همدا لامل دی چې د ښوونځي قوانینو ته زده کوونکي پاملرنه نه کوي، چې په پایله کې د تاوتریخوالي لامل ګرځي.

زده کوونکي د ټولنې د راتلونکي په عنوان، د ډېرو حساسو ځانګړتياوو درلودونکي دي، چې د هغوی د شخصيت يوه ځانګړې برخه د نوې ځوانی دوران، په ټولګيو او ښوونځيو کې شکل نيسي. د فردي ځانګړنو او د زده کوونکو عمومي ځانګړتياوو ته توجه او همدارنګه د هغوی د روزنې لپاره د مناسب فرصت آماده کول، کولی شي د هغوی ډېرې راتلونکې ستونزې حل کړي. د زده کوونکو رفتاري ځانګړتياوو ته کتنه مونږ ځينو رواني ځانګړتياوو ته متوجه کوي لکه: اضطراب، د ځان په اړه منفي فکر، د ځان د مهم والی احساس، حسادت، شخړه... دا هغه رفتاري او رواني حالات دي چې د تعليم په دوران کې هر زده کوونکی له هغو سره لاس او ګريوان کېږي. مثلا هغه زده کوونکی چې درس يې په ښه شان زده کړی، لېکن د هېرېدنې له وېرې په دوام داره توګه خپل نوکان خوري؛ نو په دې اساس اضطراب د زده کوونکو لپاره يوه ناروغي ده او که چيرته ورسره لازمه مقابله صورت و نه نيسي، د زده کوونکو په خاصيت بدلېږي. يو باخبره ښوونکی او پلار ژر تر ژره کولی شي جنجالي يا شخړه کوونکي ماشومان درک کړي. د والدينو اړيکې بايد د زده کوونکو په اړه له ښوونځيو سره ورغول شي او والدين بايد دخپلو بچيانو ځينې ځانګړتياوې له ښوونکوسره شريکې کړي، ممکن په دې طريقه د ښوونځي، ښوونکي او کورنۍ ترمنځ ښې اړيکې منځ ته راشي. همدارنګه د ښوونکو د جذب او ګمارنې اداره بايد کوښښ وکړي تر څو داسې کسان د ښوونکي په بڼه مقرر کړي، چې د رواپوهنې او روزنيزو علومو سره آشنايي ولري او ښوونکي هم بايد خپلې دندې ته صادق او ژمن و اوسي.

**وړانديزونه**

۱. دولتي او غير دولتي مؤسسې بايد په ښوونځيو کې د تاوتريخوالي د مخنيوي په منظور د عامه پوهاوي برنامې پلې کړي.
۲. د تاوتريخوالي د رفعې په موخه لازمه ده چې د ښوونځيو د مسؤلينو او شاګردانو د والدينو تر منځ مشورې او اړيکې شتون ولري.
۳. په مجموع کې رسنيزې مېډياوې بايد د تاوتريخاولي د له منځه وړلو په برخه کې مؤثرې برنامې ولري.
۴. والدين او د ښوونځي مسؤلان تر ډېره هڅه وکړي د ستونزو او شخړو په وخت له شخص سره په نرمه لهجه او ورين تندي خبرې وکړي.
۵. د ستونزو د حل په اړه له زده کوونکو څخه مشورې او نظريې واخيستل شي.
۶. د ښوونځي او ټولګي په نظم او د قوانينو په مراعات کې له پوهاوي څخه ګټه واخيستل شي.

۷. روزونکي د امکان تر حده کوښښ وکړي ترڅو زده کوونکي د نورو ټولګیوالو په وړاندې توهین او تحقیر نه کړي.

**اخځلیکونه**

بازرگان، زهرا و صادقی، ناهید.(۱۳۸۰). بررسی نحوه ارتباطات معلم با شاگردان در صنف.مجله روان شناسی و علوم تربیتی (شماره دوم ). ص۳۱.

بیگزاد، شاه جهان. (۱۳۸۲). قواعد حداقل لازم الرعایه در محابس.عدالت. مجله حقوقی، قانونی، فرهنگي و اجتماعي وزارت عدلیه افغانستان.(شماره جهارم سال دوم ماه سرطان) صـ۳۵.

جوادی، محمد جعفر.(۱۳۸۴). چالشهای اخلاقی ناشی از جهانی شدن و راهکارهای آموزشی آن. مجموعه مقالات اولین همایش ملی جهانی شدن و تعلیم و تربیت. تهران. مرکز چاپ و انتشارات وزارت امور خارجه ایران. ص۱۴۵.

حقیار، عبدالمنان. (۱۳۸۵). نقش خشونت در روان افراد جامعه. فصلنامه پیام معرفت. مجله علمی تحقیقی پوهنتون تعلیم وتربیه کابل.(شماره ۱-۲ سال سوم بهار و تابستان ). صـ ۱۱.

رحمانی، عبدالوهاب.(۱۳۸۳). بنیادهای فکری نوسازی سیاسی افغانستان. کابل. روزنه. کمیته دفاع از حقوق زنان افغانستان. صـ۸۱.

زکی، حفیظ الله. (۱۳۸۵). حقوق کودکان را پاس بداریم. ماهنامه عدالت. مجله تخصصی حقوقی- فرهنگي وزارت عدلیه افغانستان.( شماره ۴۰ سال هشتم، ماه جوزا). صـ۷.

ستوده، هدایت الله.(۱۳۸۵).روانشناسی اجتماعی. تهران. مؤسسه انتشارات اوای نور.ص۲۲۲.

عابد، عبدالجبار.(۱۳۸٦). خشونت و اثرات آن درخانواده.آریانا. مجله علمی تحقیقی اکادمی علوم افغانستان.( شماره ۳-۴ دور سوم، میزان- دلو ) . صـ۱٦۴.

گلزاد، محمد آصف.(۱۳۸۴). اعمار صلح از کجا آغاز می گردد. ماهنامه صلح. مجله بنیاد انکشافی سنایی کابل.( شماره پنجم، سال اول، ماه میزان). صـ۱۹.

منیری، رضوان.، قالب تراش، هاشمیه و موسوی، سید غلام عباس. (۲۰۰٦). علل عدم موفقیت تحصیلی در دانشجویان رشته پیراپزشکی دانشگاه علوم پزشکی کاشان.

نذیر زوی ، دلاور. (۱۳۸۷). دسترسی عادلانه اطفال به تعلیم و تربیت. کابل، کمیسون مستقل حقوق بشر. صـ ۹.

هوشیار، اکبر. (۱۳۸٦). خشونت چیست؟ مجله دانشکده علوم تربیتی. شماره ۱۸. صـ۱۲.

American Hertiage Dictionary, Violence, Retrieved August 24, 2009.

Levinson, B. A. (1998). Discipline seen from below: Student rationales for non-compliance in secondary schools in the United States of America. *Prospects*, *28*(4), 601-615.

Bandura, A., & Walters, R. H. (1977). *Social learning theory*. Prentice Hall.

Gottessman, R., Brown, R. M., (2000).Violence in America, An encyclopedia, Volume 3, Charles

Olweus, D., & Hammen, M. H. (1999). *Violences entre élèves, harcèlements et brutalités: les faits, les solutions*. Paris: ESF.

Smith, P. K. (Ed.). (2003). *Violence in schools: The response in Europe*. Psychology Press. P. 1-33

World Health Organization (WHO). (2005). World Report on Violence and Health. Received August 24, 2009.

Worell, J., & Stilwell, W. E. (1981). Psychology for teachers and students. *(No Title)*.

# د ازموینې په اعتبار او ثبات باندې اغېزمن لاملونه

پوهنمل سیدشاه گل ویاړ، شیخ زاید پوهنتون، ښوونې روزنې پوهنځی.
برېښنالیک: weyar.khostay@gmail.com

## لنډیز

اعتبار د امتحان د کیفیت او موثریت یوه مهمه اندازه ده، چې درې اړخونه لري: د محتوا اعتبار، د یوه معیار اعتبار او تشریحي اعتبار. د محتوا اعتبار یا د ټولو برخو څخه د پوښتنو جوړول. د معیار اعتبار د امتحان نمرې نورو معتبره معیارونو سره پرتله کوي. د همزمان معیار اعتبار د موجوده معیارونو سره سمون ته اشاره کوي، د وړاندوینې معیار اعتبار د امتحان نمرې د راتلونکي فعالیت سره تړاو ښیي. تشریحي اعتبار د تیوریکي مفاهیمو او جوړښتونو اندازه اخلي. ثبات د امتحان د پایلو د ثابتوالي کچه ښیي او درې ډولونه لري: داخلي ثبات، زماني ثبات او نیمایي ثبات. داخلي ثبات د مختلفو برخو ترمنځ همغږي په گوته کوي، زماني ثبات د پایلو ثابتوالی په مختلفو وختونو کې ارزوي او نیمایي ثبات د امتحان مختلفو برخو نمرې سره پرتله کوي. د اعتبار او ثبات ترمنځ اړیکه دا ده، چې اعتبار یوازې هغه وخت حاصلېږي چې ثبات موجود وي. د محتوا ترمنځ تناسب، د پوښتنو د جوړښت درجه، د ارزوونکو توافق، د ازموینې د موخې وضاحت، د ازموینې شرایط او چاپیریال، د نمونې کچه او د تکرار شرایط هغه څه دي، چې د ازموینې اعتبار او ټیکاو اغېزمنوي. د امتحان د اعتبار او ثبات مربوط مسایلو په اړه چمتو شوې مقاله چې موخه یې د ازموینې د اعتبار او ټیکاو اړوند مسایلو پېژندل دي او مالومات یې د کتابتوني مېتودونو څخه په گټنې سره راټول شوې دي.

کلیدي کلمې: اعتبار، امتحان، ثبات، محتوا، معیار

## سریزه

**بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ! الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین.**

د ښوونې او روزنې او اروایي څېړنې په ډگر کې، د امتحان د اعتبار او ثبات تحلیل د هغو اساسي عناصرو په توگه راڅي چې د پوهې د کیفیت او د مالوماتو د دقت د ارزولو لهپاره حیاتي اهمیت لري. اعتبار هغه اصطلاح ده او د دې ښکارندویي کوي، چې یو امتحان څومره د خپل هدف او تدریس شویو موادو سره سمون لري، په دې مانا چې آیا امتحان هغه څه اندازه کوي چې هدف یې دی. په دې کې دا شامل دي چې د امتحان پوښتنې د موضوع اړوند ټول اړخونه تر کومې کچې په سمه توگه انځوروي. په ورته

توګه، ثبات په دې مانا دی، چې د امتحان پایلې او نتایج د وخت په تېرېدو سره څومره ثابت پاتې کېږي، چې دا د امتحان په تکرارېدو سره په هغې کې عدالت او دقت مالوموي( Crocker & Algina, 2006.

د اعتبار او ثبات تحلیل او تشریح د ښوونیزو او اروایي ازموینو د ښه کولو لپاره بنسټیز او مهم دي. اعتبار د دې لپاره ډاډ ورکوي، چې ازموینه د موضوع ټول اړخونه په سمه توګه اندازه کوي، په داسې حال کې، چې ثبات دا یقیني کوي، چې د ازموینې پایلې د مختلفو شرایطو لاندې ثابتې پاتې کېږي (DeVellis, 2016). د دې مقالې هدف د اعتبار او ثبات مفاهیمو تفصیلي تحلیل دی، ترڅو پوه شئ چې دا دواړه څومره د ازموینې د کیفیت په ارزولو کې مهم دي. د مقالې د موادو د ارزولو له لارې، د اعتبار مختلف ډولونه لکه محتوا، معیار او تشریحي اعتبار او د ثبات مختلف ډولونه لکه داخلي ثبات، د وخت په اوږدو کې ثبات او نیمایي ثبات تشریح شوي دي(Brown, 2015; Field, 2018) . د اعتبار او ثبات یا ټیکاو دواړو ترمنځ اړیکه هم د دې مقالې یوه مهمه برخه ده، چې د ازموینې د پایلو دقت او د سموالي لوړولو کې مرسته کوي(Kline, 2016) .

## موخې

۱. د امتحان د اعتبار د مختلفو اړخونو، لکه د محتوا اعتبار، د معیار اعتبار او تشریحي اعتبار، روښانه کول.

۲. د امتحان د پایلو ثبات او د مختلفو ډولونو (داخلي، د وخت په اوږدو کې او د برخې په اوږدو کې) د اهمیت پیژندل.

۴. د اعتبار او ثبات ترمنځ اړیکه او د هر یوه په اهمیت پوهېدل.

۵. د اعتبار او ثبات د اندازه کولو لپاره له مؤثر میتودونو او ابزارو سره آشنا کېدل.

## مواد او مېتود

دا چې دا مقاله کتابتوني ماهیت لري، نو له دې امله د دې مقالې د مالوماتو راټولولو په برخه کې د علمي منابعو او مقالاتو مطالعه ترسره شوې ده، چې د هغې په رڼا کې د اعتبار او ثبات د مفاهیمو په اړه پوهه وړاندې شوې ده. همدارنګه د موجوده تحقیقاتو او تجربو پایلې د اعتبار او ثبات د هر اړخیزې تشریح کولو لپاره کارول شوي دي. د موادو په برخه کې د اعتبار او ثبات په اړه معتبر کتابونه، علمي مقالې او څېړنې، د متخصصینو ارزونې او نظریات شامل دي.

### د ازموينې اعتبار(Test Validity)

اعتبار د اندازه کولو يوه وسيله ده او هغو مواردو ته ويل کېږي چې د هغه د اندازه کولو پايلې د هغو مقاصدو لەپاره، چې په پام کې نيول شوي دي، په کار يووړل شي (وياړ، ۱۴۰۰، ص ۸۳).
اعتبار دا ښيي چې يو امتحان څومره د خپل هدف سره سمون لري. اعتبار د امتحان د کيفيت درې مهم اړخونه روښانه کوي: د محتوا اعتبار، د معيار اعتبار او تشريحي اعتبار. هر يو د اعتبار مختلف اړخونه تحليلوي چې د امتحان د سمون او دقت اندازه مالوموي.

### ۱. د محتوا يا منځپانګې اعتبار(Content Validity)

د محتوا اعتبار دا په ګوته کوي چې آيا امتحان د موضوع د ټولو اړخونو پراخه نمايندګي کوي. دا ډول اعتبار د امتحان د پوښتنو او موادو د پراخوالی او تنوع سره تړاو لري. د محتوا اعتبار تحليل په دې اړه دی، چې آيا د امتحان پوښتنې د ټولې موضوع اړوند برخې په سمه توګه انځوروي او د موضوع د اصولو او مفاهيمو ښه تشريح کوي؟

### د محتوا اعتبار اندازه کول

د محتوا اعتبار اندازه کول عموماً د متخصصينو لەخوا ترسره کېږي. دا متخصصين بايد د موضوع په اړه پراخه پوهه ولري ترڅو د امتحان پوښتنې و ارزوي او ډاډ ترلاسه کړي، چې ټول اړوند موضوعات د امتحان په پوښتنو کې شامل دي (Crocker & Algina, 2006). دا پروسه د کتنې او بار بار کتنې له لارې ترسره کېږي، چې د امتحان جوړوونکو او متخصصينو لەخوا د موضوع اړوند ټولې برخې په نظر کې نيول کېږي.

### د محتوا اعتبار اهميت

د محتوا اعتبار د دې لەپاره مهم دی، ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې امتحان د ټولې موضوع استازولي کوي او د موضوع ټولو اړوند برخو ته لاسرسی لري. که د امتحان پوښتنو کې د موضوع ټول اړخونه نغښتي نه وي، نو دا به د اعتبار د کمښت سبب شي او د پايلو دقت به اغېزمن کړي.

**۲. د یوه معیار اعتبار(Validity of a Standard)**

د یوه معیار اعتبار په دې مانا دی، چې آیا د امتحان نمرې د نورو معتبره معیارونو سره سمون لري. دا ډول اعتبار د امتحان پایلې د نورو معیاري ابزارو یا معیارونو سره پرتله کوي او دوه اړخونه پکې شامل دي:

**الف. د همزمان معیار اعتبار(Concurrent Validity)**

د همزمان معیار اعتبار دا واضح کوي چې آیا د امتحان نمرې د موجوده معیارونو سره سمون لري. د دې لهپاره د امتحان نمرې د هغو معیارونو سره پرتله کېږي، چې همدغه پوهه یا وړتیا اندازه کوي. د مثال په توګه، که یو امتحان د ریاضیاتو وړتیا اندازه کوي، باید د نورو معتبره ریاضي امتحانونو سره، چې د یوې سویې لرونکو کسانو لهپاره د تطبیق وړ وي، سمون ولري (DeVellis, 2016).

**ب. د وړاندوینې معیار اعتبار (Predictive Validity)**

د وړاندوینې معیار اعتبار د دې کچه اندازه کوي، چې آیا د امتحان نمرې د راتلونکي فعالیت یا کړنو سره سمون لري. دا ډول اعتبار د دې کچه ښیي، چې د امتحان پایلې د راتلونکي دندې یا فعالیت سره څومره تړاو لري. د دې لهپاره، د امتحان نمرې د راتلونکي فعالیت سره پرتله کېږي، ترڅو د امتحان د نمرو له مخې د هغه/هغې د راتلونکي په اړه وړاندوینه وشي (Brown, 2015).

**۳. جوړښتي اعتبار(Construct validity)**

تشریحي اعتبار د دې کچه اندازه کوي، چې آیا امتحان د هغو تیوریکي مفاهیمو او جوړښتونو اندازه کوي چې هدف یې دی. په بل عبارت، دا د دې په ډاګه کولو لهپاره دی، چې آیا امتحان د هغه مفاهیمو او نظریاتو نمایندګي کوي چې موخه یې ده. تشریحي اعتبار د دوو برخو پر بنسټ ولاړ دی:

الف. نظري بنسټ: دا د دې ارزونه کوي، چې آیا امتحان د تیوریکي مفاهیمو او جوړښتونو سره سمون لري. مثلاً، که یو امتحان د ریاضي وړتیا اندازه کوي، نو باید د ریاضي اړوند نظریات او مفاهیم په سمه توګه منعکس کړي.

**ب. تجربوي شواهد:** د تشريحي اعتبار ارزونه د تجربوي شواهدو له لارې هم ترسره کېږي، لکه د فکتور تحليل يا نورو ساينسي ميتودونو کارول. دا شواهد ښيي چې آيا امتحان د مختلفو اړخونو او جوړښتونو سره سمون لري(Raykov & Marcoulides, 2006). دا تحليل د دې لهپاره ترسره کېږي چې د امتحان د تيوريکي جوړښت سره سمون او دقت مالوم شي.

تشريحي اعتبار د امتحان د کيفيت او موثريت په معلومولو کې مهم دی، ځکه چې که امتحان د تيوريکي مفاهيمو او نظرياتو سره سمون ونلري، نو دا به د اعتبار کمښت سبب شي.

## د جوړښتي اعتبار اهميت

جوړښتي اعتبار د دې لهپاره مهم دی، ترڅو ډاډ ترلاسه شي، چې امتحان د تيوريکي مفاهيمو او جوړښتونو اندازه کوي. که امتحان د معياري مفاهيمو او تيوريکي جوړښت سره سمون ونلري، نو دا به د اعتبار کمښت سبب شي او د پايلو دقت به اغېزمن کړي.

## د ازموينې ثبات(Test Reliability)

د ازموينې ثبات يا ټيکاو په دې مانا دی، چې آيا د امتحان پايلې د وخت په تېرېدو سره ثابتې پاتې کېږي. ثبات د امتحان د تکرارېدو سره د پايلو ورته والی او دقت اندازه کوي. د ثبات مختلف ډولونه عبارت دي له داخلي ثبات، د تکراري ازموينې ثبات او نيمايي ثبات.

### ۱. داخلي ثبات(Internal Reliability)

داخلي ثبات د دې ښکارندويي کوي، چې د امتحان مختلفې برخې همغږي سره لري. د دې لهپاره، د امتحان مختلفې برخې بايد د يو واحد جوړښت نمايندګي وکړي. د داخلي ثبات اندازه کولو لهپاره، عموماً د کرونباخ الفا (Cronbach's Alpha) اندازه اخېستل او کتل کېږي. د کرونباخ الفا کچه ښيي، چې د امتحان مختلفې پوښتنې د يو واحد جوړښت سره تړاو لري او که نه (Sijtsma, 2009).

### د داخلي ثبات اهميت

داخلي ثبات د دې له‌پاره مهم دی څو ډاډ ترلاسه شي، چې د امتحان مختلفې برخې د يو واحد جوړښت نمايندګي کوي. که د امتحان مختلفې برخې يو د بل سره همغږي ولري، نو دا به د امتحان د اعتبار د لوړې کچې ښکارندويي وکړي او د پايلو دقت به لوړ کړي.

### ۲. د بيابيا(تکراري) ازموينې ثبات (Test-Retest Reliability)

د وخت په اوږدو کې ثبات دا ښيي، چې د امتحان پايلې د وخت په تېرېدو سره ثابتې پاتې شي. د دې له‌پاره، د امتحان د تکرار له لارې پايلې سره پرتله کېږي. که د امتحان پايلې په مختلفو وختونو کې سره مشابه وې، نو دا د وخت په اوږدو کې د ثبات د لوړې کچې څرګندونه کوي (Field, 2018).

### ۳. نيمايي ثبات (Split-Half Reliability)

نيمايي ثبات دا اندازه کوي، چې د امتحان مختلفې برخې څومره سره همغږي دي. د دې له‌پاره، امتحان په دوو نيمايي برخو ويشل کېږي او د هرې برخې نمرې سره پرتله کېږي. که د امتحان د دوه برخو نمرې سره ورته او مشابه وې، نو دا د نيمايي ثبات لوړه درجه ښيي (Tavakol & Dennick, 2011).

### د اعتبار او ثبات ترمنځ اړيکه

د اعتبار او ثبات ترمنځ اړيکه په دې ډول ده، چې اعتبار يوازې هغه وخت ترلاسه کېږي کله چې ثبات موجود وي، خو يوازې ثبات د اعتبار له‌پاره کافي نه دی. اعتبار د ټاکل شوي حد مطابق د امتحان اخېستل په ډاګه کوي، په‌داسې حال کې چې ثبات د دې څرګندونه کوي، چې د امتحان پايلې يې د وخت په تېرېدو سره څومره ثابتې پاتې کېږي (Kline, 2016). د اعتبار له‌پاره، بايد يو امتحان ثبات ولري، خو يوازې ثبات د اعتبار له‌پاره بسنه نه کوي. د امتحان پايلې کېدای شي ثابتې وي، خو ممکن اعتبار ونه‌لري.

### د امتحان په اعتبار او ثبات اغېزمن لاملونه

د امتحان په اعتبار او ثبات باندې اغېزمن لاملونه په لاندې توګه تشريح شوي دي:

**۱. د ازموينې محتوا**

د ازموينې پوښتنې بايد د موضوع يا محتوا ټول اړخونه په سمه توګه وپوښي. که ازموينه يوازې ځينې برخې يا موضوعات ځان کې شامل کړي، نو دا د اعتبار او ثبات کموالی رامنځته کوي. د محتوا د تناسب لهپاره د ازموينې له موخې سره سمون مهم دی، ځکه چې هر اړخ بايد د ارزونې په پروسه کې په سمه توګه څرګند شي(McDonald, 2002).

**۲. د ازموينې جوړښت**

د ازموينې پوښتنې بايد واضح او روښانه وي. که پوښتنې مبهمې يا غير واضح وي، نو دا د پايلو اعتبار ته زيان رسوي. څرګندې او د موخې سره سمون لرونکې پوښتنې د ښه اعتبار او ثبات نښه ده(Haladyna, 1999).

**۳. د ارزوونکو توافق**

برخهايز ثبات مهم دی، ځکه چې مختلف ارزوونکي بايد د ارزونې پر مهال د يو ډول او همغږو اصولو پابند وي. که ارزوونکي د ارزونې پر مهال مختلفې نمرې ورکړي، نو د اعتبار او ثبات کچه به کمه شي(McHugh, 2012) .

**۴. د ازموينې شرايط**

د ازموينې د ترسره کولو چاپېريال لکه شور يا فشار، د استاد ناسم چلند، د اخطارونو ورکول، ګواښونه کول د پايلو په اعتبار او ثبات باندې تاثير لري. د آرام، پرامنه او مناسب چاپېريال شتون د اعتبار او ثبات کچه لوړه وي، پداسې حال کې چې نا مناسب شرايط دا کچه کموي (Baird & Hagger, 2010).

**۵. د تکرار شرايط**

د ازموينې د تکرار لهپاره ټاکل شوي وختونه بايد مناسب وي. که د ازموينې ترمنځ وختونه ډېر اوږده يا بيخي لنډ وي، نو دا ممکن د افرادو پوهه يا مهارتونه بدل کړي، چې د اعتبار او ثبات د کمزورۍ سبب ګرځي(Kline, 2000).

**٦. د نمونې اندازه**

د ازموینې د پوښتنو د ناکافي نمونې پر بنسټ د ازموینې ترسره کول پایلې کمزورې کوي. د پوښتنو د کافي نمونې اندازه د اعتبار او ثبات په لوړولو کې مرسته کوي، ځکه چې کافي معلومات د اعتبار او ثبات د پیاوړتیا لهپاره مهم دي(Tabachnick & Fidell, 2013) .

**۷. د ازموینې د موخې وضاحت**

که ازموینه واضح او مشخص اهداف ولري، نو دا د امتحان په اعتبار او ثبات باندې مثبت اغېز لري. د موخې وضاحت د ازموینې په کیفیت کې مرسته کوي، ځکه چې دا د ارزونې لهپاره معیارونه واضح کوي(Crooks, 1988).

**پایله**

د اعتبار او ثبات تحلیل او تشریح د ښوونیزو او رواني څېړنو د پروسو په ښه کولو کې بنسټیز اهمیت لري. اعتبار دا ښیي چې یو امتحان څومره د خپل ټاکل شوي هدف سره سمون لري، په دې مانا چې آیا امتحان د هغه څه اندازه اخلي کوم څه یې چې هدف دی. ثبات بیا په دې مانا دی، چې د امتحان پایلې د وخت په تېرېدو سره څومره ثابتې پاتې کېږي، چې دا د امتحان د تکرار په صورت کې د نمرو یوشانوالی او دقت په ګوته کوي. د اعتبار مختلف ډولونه لکه د محتوا اعتبار، د معیار اعتبار او تشریحي اعتبار د ازموینې د کیفیت د لوړولو لهپاره مهم دي. د محتوا اعتبار موږ ته دا ښیي چې د امتحان په پوښتنو کې د موضوع ټول اړخونه نغښتي دي، د معیار اعتبار په دې مانا چې آیا د امتحان پایلې او نمرې د نورو معیاري ازموینو سره سمون لري که نه. جوړښتي اعتبار بیا په دې مفهوم دی چې امتحان د تیوریکي مفاهیمو سره ورته والی او اړیکه لري که نه. په ورته ډول، د ثبات ډولونه لکه داخلي ثبات، د تکراري ازموینې ثبات او نیمایي ثبات د امتحان د تکرار په صورت کې د نمرو ثابت پاتې کېدل او امتحان د دقت په مانا دی. د اعتبار او ثبات ترمنځ اړیکه د دې لهپاره مهمه ده، چې پوه شو اعتبار یوازې هغه وخت ترلاسه کېږي کله چې ثبات موجود وي، خو په یوازې ځان ثبات د اعتبار لهپاره کافي نه دی. که څه هم یو امتحان به ثبات ولري، خو ممکن اعتبار به ونهلري، چې دا د امتحان د کیفیت د ښه کولو لهپاره یو مهم ټکی دی. نو، د امتحان د اعتبار او ثبات مفاهیم د امتحانونو د کیفیت او دقت لوړولو لهپاره بنسټیز او مهم دي او د ښوونیزو او څېړنیزو معیارونو د لاسته راوړنې لهپاره او همدارنګه د پوهې د لوړولو لهپاره اړین دي. دا مقاله د مختلفو مفاهیمو او تحلیلونو له لارې، د امتحان د کیفیت او پایلو د دقت د ښه کولو

له‌پاره يوه هراړخيزه پوهه وړاندې کوي. د امتحان په اعتبار او ثبات باندې مختلف لاملونه لکه د ازموينې منځپانگه، جوړښت، د ارزوونکو توافق، شرايط، تکرار، د نمونې کچه او د موخې وضاحت په دې پروسه کې اغېز لري. د ازموينې محتوا بايد د موضوع ټول اړخونه وپوښي او پوښتنې بايد واضح او د موخې مطابق وي. د ارزوونکو ترمنځ توافق د ارزونې پروسې له‌پاره مهم دی او چاپېريال بايد آرام او مناسب وي ترڅو د پايلو اعتبار لوړ شي. د تکرار شرايط بايد تنظيم شي. د نمونې اندازه بايد کافي وي ترڅو د پايلو اعتبار او ثبات پياوړی شي او د ازموينې د موخو وضاحت د ارزونې معيارونه مشخصوي. په دې توگه، د ازموينې طراحانو او ارزوونکو ته مهمه ده چې د دې لاملونو په پام کې نيولو سره ازموينې ترتيب کړي ترڅو د کيفيت او اعتبار کچه يې لوړه شي.

**وړانديزونه**

۱. لوړو زده کړو وزارت ته وړانديز کېږي چې د ازموينو د اعتبار او ثبات له‌پاره دې يو مناسب طرزالعمل جوړ کړي.

۲. د امتحان د اعتبار او ثبات له‌پاره دې د پوهنتون رهبري د ظرفيت لوړونې ورکشاپونه داير کړي.

۳. استادان او ښوونکي دې هڅه وکړي چې د ازموينې اعتبار او ثبات په باره کې مطالعه وکړي او په دې توگه د خپل مالومات اضافه او کاري برخه کې ترې استفادو وکړي.

۴. شاگردان او محصلين دې هڅه وکړي چې د خپل حقه حقوقو د ترلاسه کولو له‌پاره خپل غږ پورته کړي او که يې وليدل چې ازموينه يې اعتبار او يا ثبات نه لري، اړوند مسؤلينو ته دې خپل غږ وررسوي.

**مأخذونه**

وياړ، سيدشاه گل. (۱۴۰۰). د ښوونيزې ارزونې او ازموينې لارښود. خوست: قريشي کتابپلورنځی.

Baird, J.-A., & Hagger, H. (2010). The impact of testing conditions on test scores. Educational Psychology Review, 22(2), 211-227.

Brown, T. A. (2015). Confirmatory Factor Analysis for Applied Research. Guilford Publications.

Crocker, L., & Algina, J. (2006). Introduction to Classical and Modern Test Theory. Sage Publications.

Crooks, T. J. (1988). The impact of classroom evaluation practices on students. Review of Educational Research, 58(4), 438-481.

DeVellis, R. F. (2016). Scale Development: Theory and Applications. Sage Publications.

Field, A. (2018). Discovering Statistics Using IBM SPSS Statistics. Sage Publications.

Haladyna, T. M. (1999). Developing and validating multiple-choice test items. Psychology Press.

Kline, P. (2000). The handbook of psychological testing: Routledge.

Kline, P. (2016). A Handbook of Test Construction: Introduction to Psychometric Design. Routledge.

McDonald, A. (2002). Validity and reliability of assessment in education. Assessment & Evaluation in Higher Education, 27(3), 231-241

McHugh, M. L. (2012). Interrater reliability: The kappa statistic. Biochemia Medica, 22(3), 276-282.

Raykov, T., & Marcoulides, G. A. (2006). A First Course in Structural Equation Modeling. Lawrence Erlbaum Associates.

Sijtsma, K. (2009). On the Use, the Misuse, and the Very Limited Usefulness of Cronbachôs Alpha -120.

Tabachnick, B. G., & Fidell, L. S. (2013). Using multivariate statistics. Pearson.

Tavakol, M., & Dennick, R. (2011) International Journal of Medical Education, 2, 53-55.

# د ټولنیزو افکارو په سمون کې د ولسي شاعرۍ رول

پوهنمل مشفق اصولي، شیخ زاید پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو څانګه
برېښنالیک: mushfiqeosuli@gmail.com

**لنډیز**

په دغه څېړنه کې معلومېږي، چې (د ټولنیزو افکارو په سمون کې د ولسي-شاعرۍ رول) څنګه او څه ډول دی. یاده څېړنه ښیي، چې زموږ ولسي خلک څنګه او ولې د ولسي شاعرۍ تر اغېزې لاندې راځي او څنګه د دغې شاعرۍ پر پند او نصایحو باندې عمل کوي او په خپل ژوند کې یې عملي کوي. په یادې څېړنې کې د خوست ولایت یو شمېر شاعران هم پېژندل شوي دي، چې د خلکو له خولې یې شعرونه اورېدل کېږي او د پند او عبرت لپاره یې په لویو او د خوښیو په محافلو کې وایي. دا یوه ساحوي څېړنه ده، چې پکې د ولسي-شاعرۍ پر اغېزې مرکې شوې دي او له خلکو اورېدل شوي دي، چې د دغې شاعرۍ اغېز پر دوی څنګه او څه ډول دی او تر کومې کچې دوی له ولسي-شاعرۍ څخه اغېزمن دي. دغه څېړنه کیفي څېړنه ده، چې پکې له نمونې اخیستلو ګټنه شوې ده. ولسي-شاعري لرغونې تاریخچه لري، چې د عوامو د ذوق او فکر مطابق د دوی د ذوقونو او فکرونو سره مل تر اوسه موږ ته رارسیدلې ده، د تاریخ په اوږدو کې د ولسونو مینه، ژوند، کلتور، مینې، جګړې، دودونو، رسومو، عنعنو، مشکلاتو د اظهار... په باب وړاندې شوې ده. د ولسي-شاعرۍ اغېز د فکرونو په تنویر او روښانه کولو کې زیات دی او ولسي-شاعري په ډېر هنري انداز کولی شي، ټولنه یا شاعر خپلې مهمې موخې ته ورسوي. یاده موضوع د کیفي ساحوي څېړنې په اساس ترسره شوې ده، چې موږ قضاوتي مېتود ورته ویلی شو، چې د نولسو قومي مشرانو، ځوانانو او ولسي-شاعرانو څخه معلومات راټول شوي دي. دې پایلې ته رسیدلی یم، چې د ټولنیزو افکارو په سمون کې ولسي شاعري له دیواني شاعرۍ څکه ښه رول لوبولی شي، چې ولسي-شاعري ځانګړی هنر او ځانګړي لهجوي لفظونه او کلمې په کار اچوي، چې اوریدونکي ته یې اوریدل او پوهېدل اسانه تمامېږي.

**کلیدي ټکي:** ټولنیز افکار، د شاعرۍ اغېز، عامه اذهان، ولسي شاعران، ولسي شاعري.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحيم! الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين وعلى اله واصحابه اجمعين.**

فوکلور او ولسي ادبیات زموږ د پښتني کلتور او ولسیتوب یو بډایه او غني اجزاوې دي، چې د ډېرو پخوانیو وختونو او نسلونو څخه موږ ته په میراث راپاتې دي، د ډېرو اوږدو او لرغونو زمانو څخه په دې

برخه کې ولس او خلک پوهه لري، سينه په سينه او په شفاهي توګه موږ ته راليږديدلي دي، د پوهې ترڅنګ په لرغونو زمانو کې له همدې فوکلوري پوهې څخه زموږ ولسونو او پرګنو خپل ناروغان تداوي کول او د ولسي پوهې په اساس به يې علاجونه کول.

ياده موضوع هم د پښتني فوکلور يوه ډېره مهمه او هنري برخه تشکيلوي، دا ځکه چې په خوست او شا او خوا سيموکې ولسي شاعري په محفلونو، مجلسونو، وادونو،کنسرتونو، حجرو، د خوشحالی په مراسمو کې لکه لغات، شورئ، مقابله سندرې وايي، چې شورئ، لغات او مقابله سندرې د پښتني او خصوصاً د خوستي فولکلور وسيع، پراخه او بډايه برخه په بر کې نيسي.

په يادو شويو مواردو کې سروکي، لنډئ هم په دې لغاتونو او شوريو کې ويل کېږي، د دې ترڅنګ طنزيه او ټوکيز شعرونه، شورئ، بدلې په مستقيم ډول او نېغ په نېغه مخامخ بل شاعر ته ويل کېږي او له مقابل طرفه هم همدا ډول عمل اجرا کيږي.

ما هم کوشش کړی دی، چې د ولسي شاعرانو شورئ، ټوکيز بيتونه، غزلونه، جنګي، شعرونه، لغات، مقابله سندرې دلته راوړم.

شورئ داسې يو ډول او فورم دی چې ولسي شاعران يې په محفل کې يو تربل سره تبادله کوي او په دې کې غزلونه، لنډئ، سروکي، ټکي، نظمونه، ولسي نظمونه، افسانې، کيسئ، داستانونه... ويل کېدلی شي.

ولسي شاعري د ولس له منځه سرچينه اخلي او ولسي رنګ لري، شاعر يې بې سواده او تحصيل کرده کېدلی شي، ولسي شاعر يا شاعري هغه دي، چې ولسي رونق ولري او په ميدان يا غير په ميدان وويل شي، خو لازمه ده چې ولسي او عام فهمه وي.

ولسي شاعري د ګټې تر څنګ زيانونه هم لري، په محفلونو کې د ولسي شاعرئ په جريان کې داسې الفاظ ووځي، چې حتا زموږ له پښتني معاشرې سره نه ښايي، خو د دې تر څنګ يې ګټې هم موجودې دي، ولسي شاعري خلک وطنپالنې، مور او پلار پالنې، وروری او اتفاق ته رابولي، حقيقي او واقعي مينه پکې بيانيږي.

عمده ګټه يې داده چې ولسي شاعري د خلکو په ذهنونو زر تاثر کوي، ځکه له ولسي هنريت څخه پکې کار اخيستل شوی وي.

### د څېړنې موخې

#### اصلي موخه

۱ـ پر ټولنې او عامه افکارو د ولسي شاعرۍ اغېز

۲ـ د ټولنې په اصلاح او سمون کې د ولسي شاعرۍ رول معلومول

۳. د ټولنې په په وېښتیا، پرمختګ، هوساینې، ازادۍ او کلتور ساتنې کې د ولسي شاعرۍ رول

#### کړنلاره او کارتوکي

دا یوه کیفي ساحوي څېړنه ده، چې له (Purposive) یا قضاوتي مېتود څخه پکې کار اخیستل شوی دی. د څېړنې ګډونوال نولس تنه ولسي مشران دي، چې د مرکې پر مټ ترې معلومات راټول شوي دي. دويم لاس معلومات تېرو اثارو ته له کتنې څخه لاس ته راغلي او لومړی لاس معلومات بيا له ولسي مشرانو سره د مرکې پر مټ راټول شوي دي. له مرکچيانو سره مخامخ خبرې شوې دي او بيا د دوی خبرې د ( Qualitative Contents analysis) پر مټ تحليل او تجزيه شوي دي. په څېړنه کې د هر ګډونوال لپاره توری د کوډ په ډول کارول شوی دی.

#### تېرو اثارو ته کتنه

په ټولیزه توګه ولسي۔ شاعري د ټولنیزو افکارو د بدلون او سمون یوه اغېزمنه او ګټوره وسیله ده، چې د خلکو د ذهنونو او افکارو د انقلابي بدلون لپاره قوي تاثر لري. د ولسيـــ شـــاعرۍ له لارې خلک نه یوازې د خپلو فردي حقونو په اړه پوهيږي، بلکې د ټولنې د ټولنيز پرمختګ، سمون او بدلون په لور هم يو خوځنده حرکت جوړوي.

د خوست او شا او خوا سيمو ولسي۔ شاعران خورا زيات دي، خو په دې مقاله کې د ولسي۔ شاعرانو ترڅنګ د دوی ولسي شاعري او په ټولنه کې د دوی د شاعرۍ په رول هر اړخيزه څېړنه ترسره شوې ده، د دې ترڅنګ د ځينو ولسي۔ شاعرانو د ولسي۔ شاعرۍ بېلګې او پېژندنې په دې موخه راوړل شوې او څېړل شوې دي، چې د ټولنيزو افکارو په سمون کې د ولسي۔ شاعرۍ رول ښه ثابت او موږ ته ياده چاره د دوی په اشعارو او شاعرۍ کې لا روښانه شي او ترڅنګ يې د ولسي۔ شاعرۍ د ښې تشريح هڅه هم شوې ده.

**پشمیردود**

پشمیردود د خوست د سیمې د ولسي شاعرانو له جملې هغه شاعر دی، چې له نامه سره یې خوستوال او د سیمې اوسیدونکي بلدتیا نه لري، یاد ولسي۔شاعر د دولسمې هجري پېړۍ په نویمو کلونو کې د تڼیو ولســوالۍ مربوط د لېژې په کلي کې زیږېدلی دی، ده ښــکلی اهنګي غږ درلود، چې پـه وادونو او مجلسونو کې به یې له غږ څخه کلیوالو خوند او لذت اخیستو.

پښتني ټولنه کې (پښتني لفظ) خورا مخکینۍ مخینه لري، چې د لفظ په اساس پښتانه یو تر بل معاملې ترسره کوي/ کولې، پشمیردود هم د همدې پښتنو له ډلې یو و، چې خپلې معشوقې د مشروع واده کولو لفظ ورسره کړی و، خو مقابل طرف خپل لفظ مات او له بل چا سره یې واده وکړ، دی د همدې لفظ په سرته رسولو کې خپله پښتو وپلله، د همدې لفظ او پښتو پاللو په نتیجه کې میرات شو، خو واده یې ونه کړ.

ولسي شاعر پشمیردود زیاته شاعري کړې ده خو زه یې د ولسي شاعرۍ یو څو بېلګې په دې موخه دلته راوړم، ترڅو د ده په شاعرۍ کې موږ معلومه کړو چې ټولنې ته یې د سمون په موخه څه وړاندې کړي او پرېښې دي.

ته د یار د بوغه تلې غوټۍ دې چودې کړې
سره ګلان چې غوړېدل ته خزان لوندې کړې
ته د یار د باغه تلې د ګلو لښته وې
د ویسور کمره په سر ولاړه سخته وې
جګرخونې دغه چارې په خپل زړه باندې کړې
ته د یار د باغه تلې غوټۍ دې چودې کړې
××××××××××
عاشقان که سوزیدای د عشق په اور کې
زه به سوی وای د ستا په تصور کې
بې له ستا نه مې نظر بل چاته نه شته
که پتنګ داسې نتلی یم په اور کې
عاشقي د پتنګانو په رښتیا ده
بل عاشق سوی چا ونه لیده په اور کې

که پتنگ داسې عاشق په جهان نه شته
مگر يو منصور گنم د دوی په شمور کې

موږ دلته د شعر په فورم او چوکټ ځکه نه غږېږو چې موضوع مو بدله ده او کوشش کوو چې د ده په بيتونو او ولسي شاعرۍ کې ومومو چې ټولنې ته يې کوم پيغام وړاندې کړی دی؟
ياد ولسي شاعر په پورته بيتونو کې خپله وفاداري او د مقابل طرف بې وفايي د شعر په ژبه بيانوي، ټولنې ته ورزده کوي او په اثبات يې رسوي، چې بې لفظي او بې قولي له هېڅا سره مه کوئ، حتا چې بې لفظي د ټولنې په منفي طرف ته بېولو کې رول لري او شاعر کوشش کوي، چې د ده شاعري په ټولنه کې داسې اذهان جوړ کړي او داسې رول ولوبوي چې اينده نسل ته د پښتني لفظ او قول ارزښت ورزده او وروښيي.
نو ويلی شو چې ولسي-شاعري د پښتني لفظ او قول په سرته رسولو کې داسې يو ډول رول لرلی شي، چې په هنري ژبه د لفظ معنويت په ډاگه کړي، که څوک ولسي-شاعري مطالعه کړي، نو په دې به وپوهېږي چې لفظ کول څومره ارزښت لري؟ سرته رسول يې څومره گټه لري او سرته نه رسول يې څومره زيانونه او تاوانونه لرلی شي.
ولسي-شاعر پشميردود د وخت ارزښت په باب خپله ولسي-ژبه په داسې هنري الفاظو کې خوځوي، چې ان سړی حيران شي، چې د (وخت ارزښت او د ځوانۍ ارزښت) څومره مهم دی او يادو دورانونو ته بايد څومره په ارزښت وکتل شي، نو دی د ولسي-شاعرۍ د شورۍ په فورم کې ياد ارزښتونه داسې بيانوي.

توره شپه وه څه مې نه ليدل خپلې خو ته
تا چې سپينه رڼا وريځ جوړه کړه مو ته
چې مې وليدل په پښې کې مې تېر مور دی
د ژوندون طمعه مې نه وشوه سابو ته
د دنيا غمونه واړه رانه لاړل
په توبو په سجده پرېوتم تو ته
نن د تېر عمر بخشش له تانه غواړم
دواړه سترگې مې خبرې شوې ژاړو ته

که ته فضل رحم وکړې په ما باندې
د اغزئ پيتي به نه وړم اې دنيو ته
ډېر خلک لاړل د موړ هم ورپسې تګ دی
په سوالو په سنتې دې يم راضو ته

د ولسي ـ شاعر پشميردود شاعري موږ دې ته متوجه کوي چې لازمه ده (وخت او ځوانی) ته په ارزښت وکتل شي او د دې فرصتونو څخه دې سالمه ګټه واخيستل شي، که نه بيا به داسې ارمان کيږي، لکه ولسي شاعر پشميردود يې چې کوي.
ياد ولسي ـ شاعر خپله شاعري په داسې يو انداز ترتيب کې ويلي ده، چې که ټولنه د ده شاعري مطالعه کړي، نو د ټولنې په هغه برخه کې په مثبت رول ولري، کومه چې بې لارې او منفي طرف ته روانه ده.
د ياد شاعر شاعري ټولنې او خلکو ته پيغام ورکوي او ټولنه متوجه کوي، چې د خپل رب پيروي وکړئ، وخت او ځوانی ته متوجه اوسئ، ترڅو هسې عبث نه وي تېر شوي، مسلمان توبې ايستلو ته متوجه کوي.

## حاجي مت خون

حاجي مت خون (اجي مت خان) د جان باز خان زوی دی، د سردار داود خان په وخت کې دی د درو او څلورو کالو وو او د ديارلسمې پېړۍ په پنځوسمو هجري شمسي ـ کالونو کې زيږيدلی دی. حاجي مت خون وايي: ((هرڅوک څه ډول شعر، شورۍ، لغات وغواړي موږ يې د شعر په ژبه سمدستي په همغه ځای کې ورکوو، هغه که وطني، خدايي، مجازي او عشقي شاعري وي.
ولسي ـ شاعري سم د لاسه شاعري ده او که څوک په همغه حاضر وخت کې حاضر مجلس ته لغات او شورۍ وړاندې نه کړای شي، نو ولسي ـ شاعري نه شي کولی او ويونکي ته يې ولسي ـ شاعر نه شو ويلی.)) ولسي ـ شاعر په لاندينيو بيتونو کې ولس ته ښيي چې حقيقت ته بايد ژمن وئ او په شاعرۍ کې يې د حقيقت ويلو پيغام پروت دی ، موږ ته هم د حقيقت ويلو لار را زده کوي. ښاغلی اجي مت خون په خپله شاعري کې پيغام ليږدوي، چې د حقيقت په ويلو مشکلات حليږي او که بدرنګو حالاتو ته شا کړو، نو حالات به مو هر څه ګډ وډ کړي، نو د ده په شاعرۍ کې ولس ته جوت د ښه او حقيقي ژوند رول بيان شوی دی، تر څو د دوی اذهان او افکار روښانه شي.

دې حالاتو رانه ډېر کړ حساب ګډ وډ
ځکه ما خلکو ته وکړ خطاب ګډ وډ
عقل فکر رانه دواړو وکړې کډې
وخت قاضي چې ولوستله کتاب ګډ وډ
اجي مت خونه حقيقت ته خلکو شا کړه
ځکه موږ باندې نازل شو عذاب ګډ وډ

ښاغلی اجي مت خون په خپله يوه رباعي کې ولس ته پيغام ورکوي او دا دنيا د يو بت سره تشبيه کوي او د يو سپېره مخ سره يې ورته بولي، ساده او کم عقل خلک د عاقلانو له خوا داسې انګيري چې د دوی زښت وي او انسان ته طمع کوونکی داسې بدبخت ګڼي لکه يو بت چې هېڅ بخت او طالع نه لري، نو ولس ته د هوښيارۍ، بيدارۍ، طمع نه کولو رابللو پيغام ورکوي.

دې دنيا داسې يو مخ دی لکه بت
ډېر سپېره دی ډېر بدبخت دی لکه بت
چې ساده وي دغه خلک به په غوليږي
د عاقلو خلکو زښت دی لکه بت
بې له خدايه چې بل چاته طمع وکې اجي مت خونه
دا سړی داسې بدبخت دی لکه بت

**دلاور غم‌ځپلی**

د لاور غم‌ځپلی د محمد امير جان زوی، د ميرادم لمسی اصلا د خوست د تڼيو ولسوالۍ د اطمان کلي دی، چې فعلاً د مرکز د پنزايې په کلي کې ژوند تېروي، غم‌ځپلی په ۱۴۰۳ هـ ش کال کې ۴۹ کلن دی. دلاور غم‌ځپلي د پښتو شعر په مختلفو فورمونو کې شاعري کړې ده، خو موږ يې دلته د ولسي شاعرۍ يوه بېلګه ځکه راوړو چې ده خپل ولس ته د خپلې ولسي شاعرۍ او شورۍ په طريقه خوشحالي ورکړې ده او زيات وخت يې د ژړنکيو طبيعتونو ته اوليت ورکړی دی، د ځوانانو لپاره په خپله شاعرۍ کې بېلابېل پيغامونه لري او هر وخت يې ځوانان خوشحال ساتلي دي.

جګ شه صدامته لغاتونه کو
نن به د ژړنکيو طوبياتونه کو

**صدامت خان**

ارجګ بو دلاور شي شاعران به کړي په کيله

په لغاتو نه کو ییله (هیله)

دلاور غم ځپلی خپلو پښـــتنو ورونړو ته د وطن دوســـتۍ پیغام د خپلې ولسيــ شـــاعرۍ په یو بیت کې لیږدوي او د شعر په ژبه د پښتنو ورونړو افکار د وطن دوستۍ په رابطه روښانه کوي او وطني مینې ته يې رابولي.

پښتونه پاڅیږه وطن کې انقلاب راوله

په ظالمانو دښمنانو لوی عذاب راوله

**توکلي ځدراڼ**

توکلي ځدراڼ د خوست ولایت د سپېرې ولسوالۍ د اڅرخېلو کلي دی او په (۱۳۷۱) هجري شمسي- کال په نوموړي کلي زیږېدلی دی، لومړنۍ زده کړې يې د کلي د مســـجد د امام څخه کړې دي او په اولس کلنۍ کې يې ولسيـ شـاعرۍ ته مخه کړې ده، ده د ولسيـ شـاعرۍ سره مینه لرله نو ځکه يې دا برخه نصیب شوه.

د ولسيـ شاعر توکلي ځدراڼ شاعري د خپل کلتور، رواج، عنعناتو، د ولس غم، درد، احساساتو او ملي مسایلو یوه ښه او اغېز لرونکې ځانګړې برخه ده، چې د پښتو ادب په برخه رسیدلې ده، د ده شاعري ولسيـ رنګ لري او خلک يې ځکه زیاته خوښوي، چې د ده زیاتره شاعري د خپل وطن په غم، درد، بریا او ناکامۍ راڅرخي او د وطن سره خیانت کوونکي يې په خپله شـــاعري کې په عامه او ســـاده خو هنري لهجه بیان کړي دي.

شاعري يې د ولس او خلکو په ذهنونو زر تاثر کوي او وجه يې دا کېدلی شي، چې زیاتره خپل شعرونه يې په خپله لهجه او خوله ویلي دي، اواز او لهجه يې خوږه لري او مســـتقیما په ذهنونو مثبت تاثر غورځوي. توکلي ځدراڼ فی البدیهه او میداني شاعري کړې ده، په میدان کې يې نېغ په نېغه د مقابل بل ولسيـ شـاعر سره لغات کړي دي، نو ویلی شـو چې توکلي ځدران ولسيـ شـاعر دی. اکثریت ولسيـ شاعران په خپلو شعرونو او شاعرۍ کې د بیتونو او مسرو څېو ته زیاته توجه ځکه نه شي کولی، چې یو خو دوی ژوندۍ او نېغه شـــاعري کوي او په میدان کې مســـتقیما له خولې څخه خپل هغه الفاظ چې د لغاتو په جامه يې پوخي راوباسي، په دې برخه کې توکلي ځدران هم څه نا څه ســـتونزه لري او یوه نیمه مسره يې د څېو له کمښت او زیادت سره مخ کیږي.

زه افغان يم د رنګين سرودونو غږ يم
د خپل ملت د هويت لوړو ته سر يم

پورته بيت کې يې ځپو ته يا متوجه شوی نه دی يا يې تورو او الفاظو کمښت ته ارزښت نه دی ورکړی، غوښتي يې دي، چې د الفاظو او ځپو په کمښت او ډېرښت کې خپل مهم او له وطني مينې ډک پيغام وړاندې کړي، خو ولسي- شاعر د خپل لفظي هنريت له طريقه ټولنې ته ښه پيغام رسولی دی او ولسي- شاعر د افکارو په تنوير او سمون کې بريالی رول لري او د دوی لفظي او اهنګيزه شاعري تر ديواني شاعرۍ د خلکو او عامو ولسونو پر ذهنونو ښه او زرتاثر ګذاره ده.

**پايله**

پښتو فوکلوريک ادبيات په خپله غېږه کې داسې ادبيات او برخې لري، چې په نورو فوکلوريکو ادبياتو او برخو کې نه ترسترګو کيږي، ان ترې بې برخې دي، په پښتني فوکلور کې زياتې وسيع او مکمل داسې څه شته چې پښتني فوکلور ته يې لا ښکلا ورکړې ده، خو بدبختانه به وواېم چې ځينې ښکلاوې او برخې يې موږ موجوده نسل ته د وختونو په تېرېدو او رالېږدېدو له ورکيدا سره مخ شوي دي، حتا د دې سترې ولسي- پانګې څخه موږ بې برخې شوي يوو، دا چې پښتون قوم د اسيا د لويې وچې په مرکزي برخه کې د ډېرې مودې راهيسې مېشت دی، په اوسني وخت کې يې ليکوالانو په ځينو برخو کې کار هم کړی دی او د دوی له خوا په ځينو برخو کې فوکلور ته توجه هم شوې ده، چې په نتيجه کې يې ياده برخه غني او بډايه شوې هم ده، پښتني کلتور او فوکلور بېلابېل پړاونه طی کړي دي، هم يې بډايتوب پيدا کړی دی او هم يې زيان ليدلی دی.

ولسي- شاعري د ټولنيزو افکارو په سمون کې مهم رول لري، ځکه ولسي- شاعري د خلکو او ولسونو د احساساتو، تجربو او غوښتنو څرګندونه کوي، دا ډول شاعري په ځانګړې توګه د ټولنيزو ستونزو د حل، عدالت او ازادۍ په اړه کې ولسي او عامه ذهنيت، پوهاوی او شعور لوړوي.

ولسي- شاعري د خپلې منځپانګې له لوري د ټولنيز بدلون او ذهني پرمختګ لپاره مبارزه کوي، د دې ترڅنګ ولسي- شاعري د خلکو فرهنګي، تاريخي او ژبني هويت ساتنه هم کوي. ولسي- شاعران د خپلې ولسي- شاعرۍ له لارې خلک هڅوي چې د خپلې ټولنې ستونزې او شخړې په ښه توګه درک کړي او د حل لارې چارې ورته ولټوي. ولسي شاعري د خلکو او ولسونو د يووالي او همغږۍ پيغام هم ليږدوي او د ټولنيزو بې عدالتيو، بې انصافيو پر وړاندې يو غږ جوړوي. ولسي- شاعري د پاس

ځانګړتیاوو په وسیله د ټولنیزو افکارو د بدلون او سمون یوه اغېزمنه وسیله ګرځي، چې په نتیجه کې د فرد او ټولنې یا ګروپ ترمنځ اړیکې پیاوړې کوي. ( ۱۲ کسانو ویلي دي)

پښتو ولسي شاعري د فورم په لحاظ او د منځپانګې له نظره ډېره پراخه، غني او بډایه شاعري ده، ولسي شاعري د فورم له رویه د لوبې، لنډۍ، بدلې، سروکي، کاکړۍ، غاړې، چاربیتې، مسرۍ... په فورمونو کې ترسره شوې ده او د منځپانګې له رویه دا شاعري له عشقي، مجازي او حقیقي مینې، تربیوي، ټوکي، طنزي، تاریخي، روزنیزو موضوعاتو ډکه ده او په ولسي شاعرۍ کې پورته ذکر شوي موضوعات ځای لري او ولسي شاعري یې ځکه ښکلې کړې ده، چې یاد توکي پکې ځایري او د دې موضوعاتو تعقیب په ټولنه کې مثبت او د ټولنیزو افکارو په سمون کې غوره او مفید تمامیدای شي.( ۱۲ کسانو ویلي دي)

د خوست د سیمې ولسي شاعري ، نسبت نورو سیمو ته یو څه اندازه توپیر هم لري، هغه دا چې خوست کې ولسي شاعران شورۍ کوي او دا شورۍ یا لغات په میدان کې په داسې ډول ترسره کوي چې تماشاچیان یې ننداره کوي او دوی یو تربله مقابله ډوله شورۍ د یو او بل د ماتې تر بریده اوروي.

ولسي شاعري یوه داسې شاعري ده چې د ولس سره نېغه اړیکه لري او په اکثریت سیمو کې ولسي شاعران خپله شاعري د دوی په خپله لهجه کې ترسره کوي او یاده چاره د دوی ذهنونو ته سیده رسیده او د لغتونو او کلمو په پوهاوي کې کومه ستونزه نه ایجادیږي، دوی مستقیما د خپلې سیمې ولسي شاعر په سندرو، شعر او شاعرۍ پوهیږي او کومه ستونزه ورته نه پکې پیدا کیږي.(( ۱۱ کسانو ویلي دي))

ولسي ـ شاعري ډېره صافه او د ولسونو په ژبه پړاو او ویل کیږي نو له هغه بل دیواني شاعر چې هغه دیواني شاعري کوي نسبت ولسي ـ شاعرانو ته ښه پیغام نه شي لیږدولی، ځکه په شاعرۍ کې یې د سوچه او اسانه لهجوي لغتونو په نسبت معیاري او سخت لغتونه کاریدلي وي، چې ولسي ـ خلک د دې لغتونو په معنی کې او په پوهیدنه کې ستونزه ویني او په سختۍ کولی شي چې پرې پوه شي، نو ویلی شو چې د ولس او خلکو د اذهانو په تنویر او ټولنیزو افکارو په سمون کې ولسي ـ شاعري ښه او ګټور رول لرلی شي (( ۹ کسانو یلي دي)).

په پښتني ټولنه کې بې سوادي زیاته ده، اکثریت ولس مو تر هغې کچې لوړې زده کړې نه لري، تر کومه چې دیواني شاعري شوې ده، نو د ولسي ـ شاعرانو شعرونه په ساده، کلیوالي، لهجوي الفاظو کې ویل کیږي، د شورۍ او لغات ویلو په جریان کې ولسي ـ خلک په عادي توګه په هر لغت او کلمه ښه پوهیږي، ضرورت نه پیښیږي، چې د کوم لوستي کس نه د کوم لغت یا کلمې د معنی پوښتنه وکړي، نو ځکه د ولس په اذهانو کې د ولسي شاعرۍ د ښې پوهیدنې رول زیات دی. (( ۱۲ کسانو ویلي دي))

په دې څېړنه کې د پښتني فوکلور يوه برخه چې ولسي- شاعري ده، څېړل شوې ده، په خوست کې د ولسي- شاعرۍ په باب هر اړخيزه څېړنه نه ده ترسره شوې، ما ياده مو ضوع ولسي- شاعري هر اړخيزه څېړلې ده او په ټولنه کې يې پر نقش او اغېزمنتوب له بېلابېلو لارو مې کار پرې کړی دی. خوست او لويه پکتيا د ولسي شاعرۍ يوه داسې زانګو او غني ټاټوبی دی، چې د سيمې تر څنګ په نورو هېوادونو کې هم ياد فورم او ډول نه تر سترګو کيږي، د ولسي- شاعرۍ مينوال په خوست او شا او خوا سيمو کې زيات دي او په ټولنه کې يې زيات خلک اوري او شايقين لري.

د ولسي شاعرانو يوه ښه ځانګړنه دا ده چې دوی هر واده، محفل ته چې ځي له چا د پيسو او مز اخيستو غوښتنه نه کوي، که چا څه ورکړل نو په خپلو شورۍ او لغاتونو کې يې ستاينه کوي.(( ۸ کسانو ويلي دي)) ولسي- شاعرۍ کې د پښتو ژبې د ديواني شاعرۍ فورمونه هم تطبيقيږي او ولسي- شاعري هم په مختلفو فورمونو کې ويل شوې او ترسره شوې ده.(( ۵ کسانو ويلي دي))

د ولسي- شاعرۍ او ديواني شاعرۍ بېلا بېل شعرونه په بېلابېلو شعري فورمونو کې ويل کيږي، مګر فرق او توپير يې په دې کې دی چې په ديواني شاعرۍ کې د پښتو شعر فورمونه په منظم ډول مراعت کيږي، مګر په ولسي- شاعرۍ کې ياد فورمونه په ځينو ځايونو کې مراعت او په ځينو ځايونو کې په غيرقصدي توګه نه مراعت کيږي، خو دا چې ولسي- شاعري په همغه محفل کې سمدستي د شاعر د خولې څخه ويل کيږي او راوځي او سملاسي د شعر وزن، قافيه، رديف او سيلابونه په نظر کې نيول کيږي، نو په دې حالت کې په ځينو بيتونو او شعرونو کې د پښتو د شعر ټول قواعد او اصول نه پلي کيږي، دا عمل قصدي نه، بلکې غيرقصدي وي، اکثريت يې په وزن، قافيه، رديف او سيلابونو کې درست وي، مګر ځينې يې په سيلابونو، رديف، قافيه کې برابر نه وي خو وزن يې برابر وي.

د ولسي- شاعرۍ په سيلابونو، رديف، قافيه او د شعر په نورو قواعدو کې کمی او زياتی موجود وي، خو وزن او اهنګ يې ډېر اهنګي او منظم وي، شاعر يې په داسې حد کې زمزمه کوي، چې لذت پخښونکی وي، په ځينو بيتونو کې د محلي لهجې په اساس په اولنۍ مسره کې ( ښار ) او په دوهمه مسره کې د( خار ) کلمه راوړل شوې وي، چون چې د شاعر مراد د (ښار) څخه شهر، بازار وي او د ( خار ) څخه يې مراد (خر) وي.

داسې کلمې شته چې د خوست په ولسي- شاعرۍ کې د محلي لهجې په ډول کارول کيږي او که يادې کلمې په ديواني شاعرۍ کې وويل شي، نو د ولسي- شاعرۍ په پرتله يې معنی سمه او ثابته راوځي، په ولسي- شاعرۍ کې يې مانا او تلفظ تغيير کوي، مثلا په معياري ژبه کې د اعتبار کلمه چې په محلي لهجه او ولسي شاعرۍ کې د اتبار او اتبور کلمې راوړل کيږي.

هغه څه چې د خلکو په اذهانو او افکارو مستقیما اغېز او تاثر شیندي، هغه په ولسيـ شاعرۍ کې زیات ار، اصیل او پخواني لغتونه کارول دي، چې دې ته د ولسيـ شاعرۍ یوه ښه او مهمه ځانګړنه ویلی شو، نو ځکه یې مینوال او ذوقیان هم زیات دي، ولسيـ شاعري خلکو ته ځکه دلچسپه او لذت بخشه ده، چې کلیوالي او اصیل رنګونه لري، ساز، لهجه، سرود یې محلي وي او د خلکو په ژبه، عنعناتو او رسومو مطابق ترتیب کیږي.(( ۱۱ کسانو ویلي دي))

ولسيـ شاعري د پیغام، معنی، مفهوم د لیرد تر ټولو موثره او خوندوره ذریعه ځکه ده چې وېینه(ویل) یې ساده او الفاظ یې وا ضح او روان ویل کیږي او هغه څه چې ټولنې ته اسانه پرېباسل کیږي نو په همغه لاره زر او چټک مزل کوي، نو د مبهمې او پېچلې شاعرۍ په تناسب، ولسيـ شاعري د افکارو په سمون کې چټک او ګړندی رول لوبولی شي، بله خبره دا چې د دې پیغام په لیرد کې محلي موسیقي هم د تاثر وړ ده او سترګې پرې نه شي پټېدای.(( ۱۳ کسانو ویلي دي))

ولسيـ شاعري د خلکو له منځ او فکرونو راوتلې شاعري ده، داسې پېښې، واقعې، کیسې، افسانې، سندرې، ولسيــ لنډۍ ... پکې بیانیږي، چې هغه د ولس له زړه، روح او روان څخه سرچینه اخلي، د دوی مشکلات او ستونزې په ساده او عام فهمه ژبه او کلیوالي لهجه انعکاس کیږي، نو ولس او خلکو سره نېغه اړیکه لري او دوی ته ګټوره تمامیږي. ((څه ګټه یې خلکو ته رسولې ده؟ ۱۱ کسانو ویلي دي))

خوست او سیمه کې زیات شمېر ولسيـ شاعران موجود دي، چې مشهور شاعران به یې په را روانه برخه کې د ضرورت په بنیاد لنډ یاد او ولیکل شي.(( ۱۲ کسانو ویلي دي))

ښه ده چې خپلو موخو ته په کتو دغه اغېزې په کټګوریو ووېشو.

**ټولنیزې وینښتیا لوړول:** ولسيـ شاعري د ولسونو د ورځنیو ستونزو، مشکلاتو، تکلیفونو، کړاوونو او غوښتنو په اړه خبرې کوي او یاده چاره په هنري الفاظو کې بیانوي، د دې لارې خلک د خپلې ټولنې په مشکلاتو، ستونزو او مسایلو پوهیږي او په دې اساس خپله ټولنه مطالعه کوي او د دې پر بنسټ ارزونې کوي. ولسيـ شاعران د ټولنیزو نابرابریو، ظلمونو، فقر، بیچارګیو او نورو ټولنیزو ستونزو په اړه د خلکو او ولسونو ذهنونه راویښوي.( ۱۰ کسانو ویلي دي)

**ولسيـ ارزښتونو تبادله:** ولسيـ شاعري د ولسونو کلتوري او اخلاقي ارزښتونو ښودنه کوي. ولسيـ شاعري د مربوطه خلکو د تاریخ، کړو وړو، دودونو، رسم رواجونو، ترڅنګ د نوي فکرونو په پراختیا

کې هم مرسته کوي، مثلا: که ولسي- شاعر د ظلم، بې عدالتیو د مخنیوي او سولې، بشري حقوقو تامین لپاره شعر ووایي نو د خلکو ذهنونو ته نوي مفاهیم وړاندې کوي.

**د ولســــــي شاعرۍ مقاومت او مبارزې څرګندونه:** د ولسي- شاعرۍ مهمه ځانګړتیا دا ده چې دا په ټولنه کې د ظلم او بې عدالتۍ پر وړاندې د مبارزې او مقاومت رول لوبولی شي. د تاریخ په اوږدو کې ولسي- شاعران د استعماري قدرتونو، د ظالمو حکومتونو ، ولسي- او ټولنیزو ناخوالو پر وړاندې غبرګېدلي او ولسي- ذهنیت یې د یادو پدیدو پر وړاندې ویښ ساتلی دی. د ولسي- شـاعرانو شـعرونه د خلکو د اتفاق او یووالي په اړه ډېر مفید تمام شوي دي.(۱۲ کسانو ویلي)

**ټولنیز یووالي لپاره هڅه:** ولسي- شاعري د ولسونو او عامیانه خلکو ترمنځ د یووالي او همغږۍ پیغام لېږدوي. ولسي- شاعر د خپلو خلکو او ولسونو د شریکو او ګډو هیلو او غوښتنو په اړه خبرې کوي، نو د همغې ټولنې یا د همغې ژبې لرونکي ولســونه او ټول غړي یو ځای کوي او د ملي او ګډو ارزښــتونو او اهدافو لپاره یې هڅوي.(۱۰ کسانو ویلي).

**د شاعرۍ او ژبې ځواک:** ولسي- شاعري په خپله ساده، خو اغېزمنه ولسي- ژبه ده، چې په ډېره ساده توګه د خلکو ذهنونو ته پیغام رسوي او رسېږي. دا شاعري او ژبه د خلکو د ورځني ژوند سره تړلې وي، چې خلکو ته د یوې مو ضوع په اړه پوهاوی اسـانه کوي. د شـعر ښـکلا او تاثیر د خلکو په زړونو کې ځای نیسي، او هغوی ته د ټولنیزو افکارو د بدلون لپاره انګیزه ورکوي او مثبت اړخ ته یې سوق کوي.( ۱۲ کسانو ویلي)

**کلتور او تاریخ ساتنه:** ولسي- شاعران خپل تاریخ، کلتور او ژبه د خپلې ولسي- شاعرۍ په اساس ژوندي ساتي. د ولسي- شـاعرۍ له لارې، د یوې ټولنې اصـلي هویت نه یوازې سـاتل کیږي، بلکې خلکو ته د خپلو ګټو او مسولیتونو په اړه هم مثبت پوهاوی ورکول کیږي.(۱۱ کسانو ویلي

**د خلکو آزادي:** ولسي- شاعري د تاریخ په اوږدو کې د خلکو د ولسي- ازادي لپاره مثبت پیغام لیږدوي او د هرې ازادۍ لپاره ناره اوچتوي او په دې برخه کې ژوره توجه کوي، چې د یو ســـاده پیغام د لېږد په اساس خلکو ته د مقاومت، مبارزې او پاڅونونو روحیه او فکر ورکوي.(۱۱ کسانو ویلي).

**په ټولنه کې د تبعیضونو او نفاقونو پر ضد مبارزه:** ولسي- شاعري د ټولنې په دننه کې د مختلفو طبقو، نژادونو، جنسونو او قومونو ترمنځ د نفاقونو، تبعیضونو او بېلتونونو ضد یوه وسیله ګرځي. ولسي- شاعران

د خپلې ولسي ــ شـــاعرۍ له لارې په خپلو محفلونو او مجلســـونو کې خلکو ته په دې برخه کې مثبت ذهنیت ورکوي او خلک هڅوي، تر څو تبعیض، نفاق او د ټولنې بېلتون ته لمن ونه وهي.(۱۲ کســـانو ویلي).

**مناقشه**

ولسيـ شاعران او ولسيـ شاعري یې هر یو او هره برخه یې په خپل، خپل ځای کې جلا، جلا ارزښت او مقام لري ما دلته د ولسي شاعرانو، شاعري څېړلې ده، دې نتیجې ته رسیدلی یم، چې ولسي شاعري ډېره خوندوره او له اهنګونو، خوږو لفظونو ډکه شـــاعري ده، چې د عامیانه ولســـونو پر افکارو ډېر زر مثبت تاثر کوي او د خلکو افکارو په سمون کې ښه رول لري. په دې مقاله کې موږ هغه څه ترلاسه کړي دي، چې پښتو ادب او پښتنانه ضرورت ورته لري او ولسيـ شاعري د پښتنو په فطرت کې اغېزل شوې او نتوتې ده، د پښتنو افکارو په سمون کې له هرې بلې شاعرۍ، ولسيـ شاعري ښه او ګټور رول لرلی دی او اینده کې هم رول لرلی شي، ځکه پښتانه یې په خپلو جذباتو او احساساتو کې ځرګندوي. ما کوشش کړی دی، چې د پښتنو د افکارو په سمون کې داسې څه پیدا کړم، چې د ولسيـ شاعرۍ ځای ډک کړي، شته او وو، خو په دې ډول شاعري او تاثرګذاره لاره ما پیدا نه کړه.

د ولسي شاعرۍ په باب داسې نتایج نه دي ترلاسه شوي، چې د ولسونو له سینو او ذهنونو اخیستل شوي وي، هر چا که کار پرې کړی دی، نو د خپل ذهن او فکر په اســـاس یې تحلیل کړې ده. په دې څېړنه کې زه په قوت سره په داسې ډول مخکې لاړ شوی یم، چې مستقیما د خلکو سره مې خبرې کړې دي او د ولسي ــ شـــاعرۍ په باب یې هر اړخیز معلومات راکړي دي، په دې برخه کې عامیانه او بې ســـواده خلکو له ما سره همکاري کړې ده. د دې څېړنې په جریان کې هغه ستونزه مې حل نه شوه کړای چې زه زیات ورسره مخ وم، هغه دا چې موږ پښتـــانه خپلو مېرمنو او ښـــځمنو ته اجازه نه ورکوو، چې داســـې مسایلو کې برخه واخلي.

په دې څېړنه کې زه د اقتصادي ستونزو سره ځکه مخ وم، چې کلیو، باڼدو او اطرافو ته مې سفرونه کول او د لارې خرچه او حتا د هغو خلکو لپاره مې اوبه هم نه شوې تیارولی، کومو سره چې ما لیکلې مرکې کولې، په دې هیله چې په دې برخه کې موږ څېړنکو ته توجه وشي. په راتلونکي کې به یاده مو ضوع هغه صورت کې لا نوره وسیع او پراخیږي، چې موږ ته سهولتونه مهیا او په واک کې راکړل شي. نتیجه ګیري ولسيـ شاعري د پښتو ادب یوه داسې ادبي برخه ده، چې د خلکو د ژوند، احساساتو او ارزښتونو انعکاس کوي. دغه ډول شـاعري په سـاده او روانه ژبه کې لیکل او ویل کیږي او د ټولنې د مشـکلاتو،

خوښیو، هیلو، او اندیښنو غږ او ښکارندویي کوي. ولسي-شاعري د خلکو د کلتور، عنعناتو، او ورځنیو ستونزو سره تړاو لري، ځکه پښتو ولسي-شاعري د پښتنو شاعرانو له سینو مستقیما راوځي او په ساده الفاظو کې خپل مهم پیغام لېږدوي او زیاتره یې د ټولنې ناخوالې، مشکلات او ستونزې بیانوي.

پښتو ولسي-شاعري د پښتنو د کلتور، تاریخ، او ټولنیز ژوند یو ژور او پراخ انځور وړاندې کوي. دا شاعري نه یوازې د خپلو وختونو د ژوند شرایطو، بلکې د ټولنې د ارزښتونو، دودونو، او باورونو څرگندويي کوي. په پښتو ولسي-شاعري کې د خلکو د احساساتو، هیلو، کړاوونو او د ژوند بېلابېلو اړخونو بیان شوی دی. پښتو ولسي-شاعري عموماً په ساده او رښو الفاظو کې ویل کیږي، ترڅو هر څوک چې د دغه ژبې پوهه لري، وکولی شي په آسانۍ سره د هغې له مینځ څخه پیغام ترلاسه کړي. د دې ژبې روانتیا او ساده والی د دې لامل کیږي چې ولسي-شاعري د عامو خلکو سره نږدې او اوږه په اوږه پاتې شي. په پښتو ولسي-شاعرۍ کې د مینې، عزت، مېلمه پالنې، او جلال مو ضوعات هم شتون لري. دا شاعري د پښتنو د غیرت، شجاعت او د خپلو ټولنیزو ارزښتونو دفاع کوي.

پښتو ولسي-شاعري د پښتنو د تاریخ، عنعناتو او کلتور سره ژور تړاو لري. ډېری وخت په دې شاعرۍ کې د پښتنو تاریخي مبارزو، جگړو، او د مشرانو او قهرمانانو د کړنو یادونه کیږي. دغه شاعري د خلکو د خپلواکۍ او د خپلې ژبې او کلتور د ساتنې لپاره یوه مهمه او ارزښتمنه وسیله گڼل کیږي. پښتو ولسي-شاعري نه یوازې د خلکو د ورځنیو ستونزو په اړه خبرې کوي، بلکې د دې ستونزو حل لارو ته هم اشاره کوي. د ولسي-شاعرانو اشعار اکثراً د ټولنیز بدلون، اصلاحاتو او د ښه راتلونکي لپاره غوښتنې ښیي. دوی د پښتنو د یوې متحدې ټولنې او یو مترقي ټولنیز نظام لپاره کار کوي

**وړاندیزونه**

۱- ولسي شاعران باید په اقتصادي، ټولنیزه برخه کې حمایه شي، تر څو د پښتو دغه بډایه برخه (ولسي شاعري) دوی ژوندۍ وساتي!

۲- ولسي شاعرۍ ته دې توجه وشي، تر څو له ورکیدا څخه ساتل شوې وي!

۳- ولسي شاعران دې هڅه وکړي، چې د خلکو او ولسونو په خوښه شاعري وکړي!

۴- دولتي او مسولې ادارې دې ولسي شاعرۍ ته رونق ورکړي!

**مرکه کوونکي(ضمايم)**

۱. بادشاه وال خان. (۱۴۰۳/ ۷/ ۲). د پنزایې/شمل کلي سپین ږیری.

۲. ګل والي. (۱۴۰۳/ ۷/ ۱). ګربزو سپین ږیری.

۳. کلام خان. (۱۴۰۳/ ۷/ ۸). د ګربزو اوسیدونکی.

۴. سیدامیر. (۱۴۰۳/ ۷/ ۱۸). د للمۍ کوټکۍ کلي سپین ږیری.

۵. نوروز. (۱۴۰۳/ ۷/ ۵). د پنزایې کلي سپین ږیری.

٦. فلسین. (۱۴۰۳/ ۷/ ۱۵). د لېژې کلي اوسیدونکی.

۷. کتوب خان. (۱۴۰۳/ ۷/ ۹). د وزیرو سپین ږیری.

۸. نصرالله. (۱۴۰۳/ ۷/ ۱۳). د دره ګي کلي اوسیدونکی.

۹. فرید الله. (۱۴۰۳/ ۷/ ۲۵). د پنزایې کلي سپین ږیری.

۱۰. رسول نواز خان. (۱۴۰۳/ ۷/ ۲۱). د شمونې کلي سپین ږیری.

۱۱. سخي. (۱۴۰۳/ ۷/ ۲۹). د مته چینې کلي سپین ږیری.

۱۲. میرولي خان. (۱۴۰۳/ ۷/ ۲۳). د ګربزصحرا کلي سپین ږیری.

۱۳. زیارت خون ځائی. (۱۴۰۳/ ٦/ ۳). ځائیو، الګډې کلي سپین ږیری.

۱۴. نورخان. (۱۴۰۳/ ٦/ ۸). تڼیو، دره ګي کلي سپین ږیری.

۱۵. نورماتي. (۱۴۰۳/ ٦/ ۹). د شګې کلي سپین ږیری.

۱٦. حدرخون. (۱۴۰۳/ ٦/ ۲۸). لېژې کلي اوسیدونکی

۱۷. حسن محمد. (۱۴۰۳/ ٦/ ۲۲). سپېرې ولسوالۍ اوسیدونکی

۱۸. دلاور غم ځپلی. (۱۴۰۳/ ٦/ ۱۸). پنزایې کلي ولسي شاعر

۱۹. حاجي مت خون. (۱۴۰۳/ ۸/ ۳). صحرا باغ سیمې ولسي شاعر

# د کاظم خان شیدا اواره ژوند او پر سبک یې اغېزې

پوهنمل فریدالله فرید، شیخ زاید پوهنتون، ژبو اوادبیاتو پوهنځی، پښتو څانگه.
**برېښنالیک**: faridullahfarid123@gmail.com

**لنډیز**

د کاظم خان شیدا شخصي ژوند او د نسب سلسله اختلافي ده، خو زیاتره پښتانه لیکوال او ادبپوهان په دې نظر دي، چې کاظم خان شیدا د افضل خان ختک زوی، د اشرف خان هجري لمسی او د خوشحال خان خټک کړوسی دی. د ژوند موده یې له (۱۱۳۵ ق م ـ۱۱۹۴ ق م) پورې اټکل شوې ده. د پښتو ژبې دغه نازکخیال شاعر زیات وخت هندوستان کې تېرکړی، ځکه یې ژوند اواره بلل کېږي. دده پر سبک چې دده اواره او پردېس ژوند کوم اغېز کړی، چا ترې ځانگړې یادونه نه وه کړې، ما لازمه وگڼله چې یادونه یې وشي. له دې سره به دپښتو شعر او ادب مینوال د ده د شعر د سوز او گداز له رازه خبر شي. د لیکنې میتود مې تشریحي (Descriptive method) دی او ډول یې کتابتوني دی. د شیدا له شعرونو او دده برخه کې لیکل شوو کتابونو او مقالو له اقتباساتو گټه اخېستل شوې او بیا مې هره برخه په مناسبو او متناسبو کلمو تشریح کړې ده، تر څو هر څوک په اسانۍ ترې مفهوم واخېستلی شي. ډېر لوستونکي له دې خبر نه وو، چې د کاظم خان شیدا شعر کې ولې دومره درد او سوز پروت دی، له دې څېړنې سره دا معلومه شوه، چې شیدا له خپل کهول او سیمې هندوستان ته مرور تللی و، هلته یې له غم او درد ډک ژوند تېر کړی، د غمجنې شاعرۍ سبب یې اواره ژوند گڼلی شو. د شیدا اواره ژوند د هغه پر ژوند، ادب او سبک باندې ژورې اغېزې کړې دي. ده د ژوند ډېره برخه په سفرونو، هجرتونو او نارامۍ تېره کړې ده. دې نارامه او بې ثباته ژوند د شیدا په شاعرۍ اوادبي سبک ژور اثر کړی و. په دې مقاله کې د شیدا افکار او شعرونه د هغه د نارامه ژوند څخه سرچینه اخلي. همدارنگه دا مقاله دا هم څرگندوي، چې شیدا په خپل ځانگړي ادبي سبک کې د پښتو ژبې کلاسیکې شاعرۍ له فني اصولو کار اخلي، خو بیا هم د خپل ژوند ستونزې او بې قراري یې شعرونو ته یو ځانگړی رنگ او اصلیت بخښي. دې پایلې ته رسېږو، چې د کاظم خان شیدا اواره ژوند د هغه په شعر او سبک باندې نه یوازې اغېز درلود، بلکې هغه ته یې د ژور عرفان او دروني احساساتو یو بېلگه هم جوړه کړې وه.

**کلیدي ټکي:** اغېز، اواره ژوند، سبک، شعر، کاظم خان شیدا.

## سریزه

**بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ! الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین.**

د شــاعر د ژوند اغېزې پر شــعر باندې خامخا څرګندې وي، ادبي تیوري وایي، چې ټولنه او د شــاعر چاپېریال پر شعر او پنځونو اغېزې کوي. د شیدا شاعري هم د ده د ژوند له اثراتو خالي نه ده. بله مسله چې زه غواړم په دې لیکنه کې ورباندې بحث وکړم، هغه دا ده چې شیدا ژوند ته له کومې زاویې ګوري. شیدا چې په کومو شعرونو کې د خپل ژوند درد بیان کړی، اصلاً د دنیا د ژوند تصویرهم په کې وړاندې کوي. د ژوند پر اړه نورو ډېرو شاعرانو هم خپل نظرونه ورکړي دي، خوشحال خان بابا یې د استنجاء ځای بولي، علامه اقبال دا دنیا د انســان هدف نه ګڼي، بلکې د خودي لومړی پړاو یې بولي. ارواښــاد پسرلـي صـاحب هم د ژوند پر اړه په ډېرو شــعرونو کې نظریې ورکړې دي. په دې لیکنه کې مې هڅه کړې د شیدا د شاعرۍ همدا اړخ راوسپړم، چې د شیدا پر سبک یې اغېز هم کړی دی.

## د څېړنې موخې

له دې څېړنې هدف دا دی، چې د پښتو ژبې او ادب مینوال به د کاظم خان شیدا له سبکي ځانګړنو خبر شي. که څه هم شیدا د هندي سبک شاعر ګڼل کېږي، خو له هندي سبک سره ځینې توپیرونه هم لري، چې شیدا ته یې ځانګړی انداز وربخښلی، دې برخه کې به هم د لوستونکو معلوماتو کې زیاتوالی راشي. د شیدا شاعري پېچلې شاعري ده، پر ده باندې ډېرې لږې لیکنې شوې، له دې سره به د پښتو ژبې او ادب باذوقه لوستونکي متوجه شي، دې برخه کې به لا نورو څېړنو او لیکنو ته وهڅول شي.

## کړنلاره او کارتوکي

د لیکنې میتود مې تشریحي (Descriptive method) دی او ډول یې کتابتوني دی. د شیدا له شعرونو او دده برخه کې لیکل شوو کتابونو او مقالو له اقتباساتو ګټه اخېستل شوې او بیا مې هره برخه په مناسبو او متناسبو کلمو تشریح کړې ده، تر څو هر څوک په اسانۍ ترې مفهوم واخېستلی شي.

## د شیدا اواره ژوند او پر سبک یې اغېزې

د کاظم خان شــیدا باره کې حنیف خلیل خپله یوه مقاله کې لیکي: « شــیدا په پښــتو ادب کې د هندي مکتب د ټولو نه کلک مشرح عالم، فاضل او صوفي شاعر دی. ځکه نو مونږ به د هغه د جمال په نظریه د بحث په وخت د هغه صوفیانه فکر او عالم و فضل په نظر کې نیسو.» (خلیل،۲۰۱۵ ل، ص. ٦) د شیدا باره کې ډاکټر زیورالدین زیور په خپل اثر (د پښــتو ادبیاتو منځنۍ دوره) کې داســې لیکي: «د شــیدا په

شاعرۍ کې چې کوم شی ډېر زموږ سترګو ته کېږي، هغه د وطن یاد او د هیواد مینه ده. ده د (روهـــ)، (بګرام) او (سرای) پـه یـاد پـه خپلو شـــعرونو کې ډېرې نـارې او چیغې وهلي دي.» (زیور، ۱۳۷۹ل، ص.۳٦۵) له دې دا څرګندېږي، چې شیدا اواره ژوند د ده پر سبک ډېر اغېز کړی دی.

له دې داسې معلومېږي، چې شیدا د اواره ژوند یو علت تصوف و، ځکه ځینې صوفیان د الله تعالی د ذکر او بنده ګۍ لپاره له مخلوق ګوښـه ژوند خوښـوي. داسـې ویل کېږي، چې د ده له خپلو ورونو سره کورنۍ ستونزې هم ددې سبب ګرځېدلې، چې نوموړي پښتونخوا وطن پرېښی، د هندوستان سیمه یې د ژوند لپاره غوره کړې وه. له خپلې خاورې جدایي ســخته وي، په دې اړه عبدالباري جهاني په خپل کتاب (د مشکو کاروان) کې داسې وایي: « شیدا خپل عمر د بل لپاره قرباني بولي او لکه شمع به د بل لپاره خپل ځان سوزوي او بل ته رڼا ورکوي....» (جهاني، ۱۳۹٦ ل، ص. ٦۷)

موږ تر دې دمه په شـــعرونو کې دوه عمده ډولونه پېژنو، البته دا ډولونه یې د محتوا له مخې دي. ځینې شعرونه د خوښې وي، شاعر په کې یوې هیلې ته رسېدلی وي، کومه ښکلې معشوقه یې لیدلې وي، یا یې د مینې ارمان پوره شوی وي. داسې شعرونه زیاتره د پیغام او ښکلا تر څنګ خوښي هم لېږدوي. بل ډول شعرونه هغه دي، چې محتوا یې المیه او غم لري. په داسې شعرونو کې بیا شاعر ډېر وخت یوازې کړېدلی، ســتړی او له رنګارنګو ســتونزو سره مخامخ وي. پر دې به بحث نه کوو، چې لوســتونکي کوم ډول شـعرونه خوښــوي یا ډېر خوند ورکوي، خو نننۍ ســتړې نړۍ ډېر وخت په تراژدیکو شـعرونو کې خپل تصویر ښهویني.

د شیدا د ژوند یوه پېښه ډېره روښانه معلومه ده، هغه دا چې د ځوانۍ په مهال کې د ځینو ستونزو له امله کور پرېښودو ته اړ شوی او په هند کې یې د مسافرۍ ژوند تېر کړی دی. د شیدا پر ژوند باندې نوموړې پېښې ډېره اغېزه کړې او د ده په شـاعرۍ کې یې ځانګړی درد پیدا کړی دی. د شـیدا په شـاعرۍ کې د ژوند پر اړه جلا نظر موجود دی، دی ژوند ته هغســـې نه ګوري لکه څنګه چې د یو ارام ژوند څښــتن ورته ګوري. د ژوند په اړه د شیدا دا تیوري ممکن لاندې لاملونه ولري:

- لومړی لامل یې پورته څه نا څه ذکر شو، شیدا په ځوانۍ کې له خپل وطن څخه او له خپلو خپلوانو نه جلا وطنۍ ته مجبورېږي. داسې پېښې په طبیعي ډول د انسان په ژوند اغېز کوي، ممکن د ژوند پر اړه د شیدا نهیلی دریځ او بابیزه ګڼل یې له همدې جلاوطنۍ را پیدا شوی وي.

- د اسلام په مبین دین کې هم د دې دنیا ژوند ډېر ناڅیزه ګڼل شوی دی، د شیدا د دیوان مطالعه ښیي، چې شیدا په دیني برخه کې مطالعه درلودلې ده، ښایي د ژوند په اړه یې دې ډول تصور له دیني سرچینې څخهوبتیا موندلی وي.
- پر جلا وطنۍ سربېره د ژوند ټولنیزو او اقتصادي پېښووهم د شیدا پر ژوند اغېزه کړې، په پردي هیواد کې ژوند کول له ځان سره خامخا ستونزې لري. ښایي دې کړاوونو هم د شیدا پر ژوند اغېزه کړې وي او د ژوند د تراژیدي کیدو سبب یې شوی وي.
- تنهایي یې بل لامل کېدای شي، چې شیدا د ژوند تراژیدیک تصویر په شعرونو کې ترې رسم کړی دی. شیدا د شعرونو ډېرې بېلګې لري،چې تنهایي او نهیلي یې په کې انځور کړې ده.

که د شیدا دیوان مطالعه شي، په ټولو شعرونو کې یې یو ډول درد پروت دی، شیدا د نورو شاعرانو په څېر لویې لویې خبرې نه دي کړي، نه یې ځان ډېر ستایلی دی، په شعر کې یې شاعرانه عجز له ورایه څرګند دی. اصل کې د شیدا پر ټوله شاعرۍ د خاموش او ناڅرګند غم پرده غوړېدلې ده، لکه په خپله چې وایي:

شیدا درست په لا دوا دردونو ډک دی
ما چې بېرته لکه زخم ستا دیوان کړ
(خلیل،۱۳۹۳ ل، ص. ۱۲۳)

شیدا چې په کومو شعرونو کې له خپل ژوند څخه شکایت کړی، هغه شعرونه د ژوند په اړه د ده تیوري او نظرهم څرګندوي. دا نظرونه د ژوند په اړه د شیدا نړۍ لید دی، د یوه عالم خبره ده: دا معقوله نه ده، چې موږ ژوند کوو او فکر ورباندې نه کوو. شیدا د ژوند په اړه بېل فکر لري. که د شیدا په شعرونو کې مشهور او تکرارېدونکي سمبولونه ولولو، د داسې حسرتونو او هیلو نمایندګي کوي، چې د سړي په ذهن کې د غم یوه تابلو جوړوي. حباب، شمع، صحرا، بیابان... هغه سمبولونه دي، چې شیدا په خپلو شعرونو کې ډېر راوړي دي. د خودۍ، اواره ژوند او مسافرۍ باره کې د اردو ژبې لوی شاعر علامه اقبال وایي:

خودی کی یہ ہے منزل اولین
مسافر یہ تیرا نشمین نہیں!
(اقبال،۱۹۳۵ م، ص.۱۲)

**ژباړه**

خـودي دا د ســـفـر لـومـړنـی پـوړی ده
مســـافره دا ســتـا د اســتوګنې ځـای نـه دی

دلته علامه اقبال دا پیغام ورکوي، چې د ځان پېژندنې لاره کې لومړنی لاسته راوړنې باید وروستی موخه ونه ګڼل شي؛ بلکې یو کس باید لا وړاندې لاړ شي او په دې لاره کې پرمختګ ته دوام ورکړي.

حباب د ډېرې وړې شـېبې نمایندګي کوي، بس په څو ثانیو کې ځان ته دنیا جوړه کړي بیا پرې بېرته ړنګه شي. حباب په حقیقت کې د دې دنیا د ژوند تصـویر وړاندې کوي. شـمع هم همداسې یو انځور جوړوي، د ایثار تر څنګ شـمع د درد او ویر نمایندګي هم کوي. صـحرا بل هغه سـمبول دی، چې په اورېدو سره یې د سړي ذهن یو ډول حیرت او تنهایي ته ځي. موږ په ډېرو کیسو او شعرونو کې لوستي دي، چې عاشق په مینه کې له ماتې وروسته صحرا ته مخه کړې او تنهایي یې غوره کړې ده.

اوس به د شیدا ځینې هغه شعرونه را واخلو، چې د شیدا د اوراه ژوند تصویر په کې پروت دی او د شیدا له نظره د ژوند تصویر وړاندې کوي:

هســـې رنـګ لـه دې عـالمـه تـنـهـا خـوښ یـم
چـې مـدام لـکـه وحشيــ پـه صـــحـرا خـوښ یـم
تـر هـغـه چـې خشـــک طـيـنـت د ســـاحـل ویـنـم
لـــکـــه مـــوج اواره پـــه دریـــا خـــوښ یـــم
(خلیل،۱۳۹۳ ل، ص. ۱۴۰)

پورته بیتونه د شیدا تنهایي ښه څرګندوي، شیدا له نورو خلکو یوازې اوسیدو ته خوښ دی او صحرا له ګډ ژوند څخه غوره بولي. دویم بیت کې سـاحل، موج هغه سـمبولونه دي، چې شـیدا یې پر مټ خپل حالت انځور کړی. د خلکو بد نیتونه او خشـکه رویه د دې سـبب شـوي، چې شـیدا د موجونو ژوند ته غاړه ورکړي. په پورته بیتونو کې د شـیدا د ژوند د انځور تر څنګ د عاطفې او درد شـتون هم د شـعر د ښکلا سبب شوی دی. ډاکټر اقبال نسیم خټک د شیدا د غزل خصوصیات تر عنوان لاندې لیکلي: « د شـیدا په غزل کې هغه ټول خصـوصـیات په نظر راځي، چې په غزل کې یې موجودګي ضرورت ګڼلی شي.» (نسیم خټک، ۱۹۹۱م، ص.۲۷۱)

د شیدا په لاندې بیت کې هم د ده د اواره ژوند ښه تصویر وړاندې شوی دی:

اواره لـکـه افـتـاب پـه بـحـر و بـر يـم
درتـه څـه وايـم چې څـه سـوخـتـه اختر يـم
هـيـڅ خبر پـه سـلـيـقـه د پـرواز نـه شـوم
لـکـه ګـل پـه اشـيـانـه کې رېـخـتـه پـر يـم
(خليل،۱۳۹۳ ل، ص.۱۴۴)

د شيدا ژوند د لوغړن اختر په شان سوزنده و. دی د ژوند له عيشونو هم لکه رېژېدلی ګل بې برخې دی او ژوند يې د تنهايۍ تصوير دی. پورته بيتونو ته ((سوخته اختر، ګل، رېخته پر)) متناسبو کلمو عاطفي کشش ورکړی دی او په ټوله کې د شيدا د ژوند تصوير ترې څرګندېږي.

د زانـو پـه بـالين څـوک د بېـکس سر ږدي
پـه بسـتر د خـاورو پروت لکـه تصـوير يم
(خليل،۱۳۹۳ ل، ص.۱۴۵)

په دغه بيت کې شيدا ځان له هغه تصوير سره تشبيه کړی، چې په خاورو کې پروت وي. تصويرهسې هم په شعر کې د حيرت سمبول دی، چې تل يې سترګې خلاصې پاتې وي او د خوځېدو توان نه لري.د شيدا د بې کسه ژوند ښه تصوير دی.

کله کله پر انسان باندې په ژوند کې داسې حالت راشي، چې له ژونده پر مرګ خوښ وي. داسې حالات که څه هم له دردونو خالي نه وي، خو له ځان سره لويه عاطفه هم لري. داسې زړه به د چا وي، چې په دردونو کې د فنا کېدونکي انسان په حالت ونه دردېږي، بيا چې دا تصوير د شيدا تخيلي څواک په شعر کې پېيل وي، خامخا به د لوستونکي توجه ځان ته را اړوي.لاندې بيت يې لولو:

زه شـيـدا خپـلې هسـتـۍ لـکـه بـرق وسـوم
و ديـار تـه د فـنـا پـه خـنـدا درومـم
(خليل،۱۳۹۳ ل، ص.۱۵۰)

شيدا ځان له برق سره تشبيه کړی، وجه شبه يې سوځېدل او خپله هستي د ځان بلا ګرځېدل ده. برق خپله هستي سوځي او بيا له برېښ وروسته فنا کېږي.

چې لمـبـو تـه د تـنـور پـه شـان پـيـدا ده
کـه پـوهـېـږې دا سـوخـتـه سـيـنـه زمـا ده

لکه ابر په هیڅ وخت نه شوې بې نمه
هر ساعت زما په سترګو کې ژړا ده

(خلیل،۱۳۹۳ ل، ص. ۱۷۳)

پورته بیتونو ته که تشبیه ګانو ښکلا وربښلې، د شیدا د سوي ژوند انځورهم په کې له ورایه ښکاري او د غم یوه تابلو زموږ مخې تهږدي.

شیدا د دنیا هیڅ ارزو د خوښۍ وړ نه بولي، ښايي دی په کې کومې ارزو ته رسېدلی هم نه وي، ځکه خو داسې وايي:

چې مسرور په هیڅ ارزو د دنیا نه شوم
اوس یم خوښ تر ودانۍ په ویرانۍ

(خلیل،۱۳۹۳ ل، ص. ۲۴۹)

شیدا تنهايي ته خوښ دی او د زړه روښنايي يې ګڼي. ممکن ټول انسانان داسې و نه اوسیږي، ډېر خلک له خپلو ملګرو او نورو انسانانو سره په ګډه اوسېدو او کار کې خوشحاله وي، خو کله چې له نورو خلکو سره د سړي مزاج او فکر فرق وکړي بیا ورسره ګډه اوسیدل هم عذاب شي. د شیدا مزاج هم ښايي له هندي ملګرو بېل و، ځکه خو تنهايي غوره بولي:

انجمن مې لکه شمع داغ د زړه دی
تنهايي مې د صورت فراغ د زړه دی

(خلیل،۱۳۹۳ ل، ص.۲۷۵)

شیدا په یوه بل بیت کې خپل کور له ځانه هم اواره تر بولي، ښايي دا بیت د ده د ټولنیزو ستونزو ښه انځور وي، چې د درد تصویر يې جوړ کړی دی:

د سیلاب په دوش روان لکه حباب شوې
ای زما کوره تر ما اواره تر يې

(خلیل،۱۳۹۳ ل، ص.۲۸۷)

شیدا د خپل ناارامه ژوند خبره په دې بیت کې هم کوي:

کټ په سر لکه اسمان په جهان ګرځم
د ارام بهره مې نه ده په روزګار کې

(خلیل،۱۳۹۳ ل، ص. ۲۹۹)

شیدا داسې غم او اوښکې لري، چې له بې دردانو پټې دي، دی یو ځای وایي:

پـوشـــیـده لـکـه غـونـچـه لـه بـې دردانـو
لـرم زه ګـلـرنـګـې اوښـــکـې پـه اســتـین کـې
(خلیل،۱۳۹۳ ل، ص.۳۰۳)

که پورته ټولو بیتونو ته ځیر شو، د کلمو، سمبولونو، تشبیه ګانو پر سم استعمال او راوړلو سربېره یو بل شـی هم دی، چې شـعرونو ته یې ښـکلا ورکړې،هغه د شـیدا د ویرمن ژوند تصـویر دی. په ټوله کې د شیدا شاعري ربښتینی درد لېږدوي، دا دنده ځکه ترسره کوي، چې شیدا په خپلو شعرونو کې ربښتینی درد تصـویر کړی. هغه درد او کړاو یې په کې تصـویر کړی، چې دی په خپله په کې ګیر و. د ربښـتینو پېښو او پدیدو بیان په شعرونو کې شاعري له مصنوعي حالت څخه طبیعي حالت ته راکاږي. ښایي د منځپانګې له پلوه د شیدا د سبک غټه ځانګړنه همدا وي، چې شعرونه یې د یوه ویر او سخت او اواره ژوند نمایندګي کوي.

په اخېر کې د شیدا یو غزل راوړم، په دې غزل کې شیدا د ژوند فلسفه او وروستی حسرت بیان کړی او په څنګ کې یې د خپل ژوند ضمني تصویر هم په کې انځور کړی دی. که دا غزل دقیق ولولو، ښایي د شیدا پر شعر او شاعرۍ د ده د اواره ژوند اغېزه ښه راته معلومه شي.

نـوبـهـار لـه بـاغ و راغ سره اشـــنـا شـــه
پـه سرو ســـترګـو یـې ژړل ځـنـې جـدا شـــه
د غـونـچـې د ربـاط ور پـه واه کـېـده دی
قـابـلـه د رنـګ و بـو دورمـي ســـبـا شـــه
د ســـوخـتـه جـهـان لـوخـړې فـلـک بـولي
ســـتـا خـطـا فـکـر تـه څـه وایـم خـطـا شـــه
ابـــادي یـــې مســـتـــلـــزمـــه د زنـــدان وي
هـر خـاطـر چـې ازاده لـکـه صـــحـرا شـــه
چـې تـر اوســـه دی حـیران پـه جـهـان پـاتـې
د مـجـنـون اســـم زمـا پـه تمـاشـــا شـــه
چـې پـه تـلـه یـې خبر نـه شـــوې پـه افـګـار هـم
ســـتـا لـه صـــافـه شـــســـتـه تیر هســـې رهـا شـــه

ابادي يې بيا محاله ده نادانه!
د شيدا د خاطر لوی شهر تلا شه
(خليل،۱۳۹۳ ل، ص. ۲۱۱)

**پایله**

له پورته بحث څخه موږ دا پایله اخیستی شو، چې د شیدا پر شاعرۍ د ده د ژوند حالاتو هم اغېزه کړې ده. د شیدا په شعرونو کې چې کوم درد او حسرت پروت دی، د شیدا د ژوند نمایندګي کوي. شیدا په ډېرو شعرونو کې د خپل ژوند تصویر وړاندې کړی دی. که د شیدا شاعري له محتوایي اړخ مطالعه کړو، پر ټوله شاعرۍ یې د درد او سوز پرده خپره ده. خپله د شیدا لخوا زیاتره کارول شوي سمبولونه هم د دردونو او حسرتونو نمایندګي کوي. شیدا په خپلو شعرونو کې حباب، صحرا، شمع، بیابان ډېرډېر کاروي، چې دا ټول سمبولونه د سړي په ذهن کې د درد او حسرت یوه تابلو جوړوي.

د شیدا سبک ته په کتو سره هغه د پښتو ادب شعري صنعتونو برخه کې نوښت رامنځ ته کړ. ده په خپل سبک کې د ژوند پېچلتیاوې، د انساني احساساتو ژوروالی او په ځانګړي ډول د مینې او وصال ارمانونه په ډېر ښه انداز سره انځور کړي دي. د هغه شاعرانه ژبه، کلمې او سمبولونه داسې یو نوښت لري، چې د هغه وخت پښتو شاعرۍ کې لږ تر سترګو کېږي. د شیدا اثر له هغه څخه وروسته شاعران د عشق، جدایۍ او درد په بیان کې متاثره کړل او د هغه له سبک او مضمون یې رنګ واخیست.

نو ویلی شو، چې کاظم خان شیدا د پښتو ادب په وده او پراختیا کې مهم رول لري او دهغه سبک په پښتو شاعرۍ کې د احساساتو او بیان ځانګړې نخښه ده، چې تر نن ورځې پورې یې د پښتو ادب مینوال او شاعران قدر کوي.

**وړاندیزونه**

- د کاظم خان شیدا د اواره ژوند باره کې دې د پښتو ژبې او ادب مینوال لا څېړنې ډېرې وکړي، چې ولې یې خپل کور او کلی پرېښودلی و.
- د شیدا شعر د پیلچتیا له امله ډېر خلک نه مطالعه کوي، د ګوتو په شمېر شعرونه یې ځینو پوهانو تشریح کړي، دې برخې ته ډېر پام پکار دی.
- د پښتو ژبې او ادب محصلینو ته باید مونوګرافونو کې د شیدا له شعر او ژوند سره تړلي مو ضوعات ورکړل شي، چې دده شاعري د هندي سبک له نورو شاعرانو سره کوم توپیرونه لري.

**مأخذونه**

جهاني، عبدالباري. (۱۳۹٦ هـ ش). د مشکو کاروان. (درېیم چاپ). کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

خلیل، حنیف. (۱۳۹۳ هـ ش). د کاظم خان شیدا دیوان. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

خلیل، حنیف. (۲۰۱۵ م). د کاظم خان شیدا د جمال نظریه. مقاله.

د کاظم خان شیدا د جمال نظریه لیک ـ ـ Pashto literature - ...پښتو ادب Facebook |

زهیر، ظاهرشاه. (۱۴۰۱ هـ ش). د مشکو کاروان او کاظم خان شیدا. شیخ زاید پوهنتون: پوهنیزه مجله، لومړۍ ګڼه، وری – پرلپسې ۲۹ ګڼه.

زیور، زیورالدین. (۱۳۸۹ هـ ش). د پښتو ادبیاتو تاریخ منځنۍ دوره. ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

علامه اقبال. (۱۹۳۵ م). بال جبرایل (ساقي نامه). پاکستان: پنجاب یونیورستي خپرندویه ټولنه.

نسیم خټک، اقبال. (۱۹۹۱م). د رنګ او بو قافله. پېښور: یونیورستي بک ایجنسي.

# بررسی جغرافیای تاریخی استوپه توپ دره ولایت پروان

پوهنمل ملاجان رحمانی استاد دیپارتمنت جغرافیه پوهنحی علوم اجتماعی پوهنتون پروان.
ایمیل آدرس: mullajan.rahmani@gmail.com

**چکیده**

استوپه توپدره یکی از مناطق تاریخی و باستانی ولایت پروان بوده، که از گذشته تاریخی درخشانی برخوردار بوده است و قدامت تاریخی آن بیشتر از ۱۸۰۰ سال به دوره‌ی حاکمیت امپراتوری کوشانی‌ها مخصوصاً کنشکای کبیر می‌رسد، که مرکز عبادتی و اعتقادی کنشکا بوده در آن مدفنگاه آثار بجا مانده از بدن بودا وجود دارد که بر اساس آن کوشانی‌های معتقد به دین بودیزم، در آن‌جا بزرگترین صومعه و استوپه ساختند که این منطقه تاریخی یک موقعیت بلند و مرتفع قرار دارد به مرکز تابستانی کوشانی‌ها است، تحقیقات مختلفی پیرامون این منطقه تاریخی و باستانی صورت گرفته که آثار تاریخی با ارزش و مجسمه‌های قیمتی از آن‌جا بدست آمده است. استوپه توپدره در سال ۲۰۲۲م در سازمان یونسکو مستحق دریافت جایزه شایستگی و لیاقت شناخته شد. هدف این تحقیق بررسی جغرافیای تاریخی استوپه توپدره ولایت پروان می‌باشد، که یکی از منطقه مهم، باستانی و تاریخی کشور می‌باشد. اهمیت تحقیق در این است که توسط این گونه پژوهش‌ها دریافته میشود؛ تا جغرافیای تاریخی و مناطق باستانی کشور به معرفی گرفته شود و نسل آینده کشور آشنایی بیشتر و بهتر به این جغرافیا به داشته باشد. شیوه‌ی تحقیق آن به شکل توصیفی و تحلیلی بوده و جمع آوری اطلاعات از منابع دست اول استفاده شده، نتیجه تحقیق شناخت بهتر و آگاهی به جغرافیای تاریخی و موقعیتی استوپه توپدره پروان می‌باشد.

**کلیده واژه‌ها:** بررسی، جغرافیه، تاریخی، استوپه، توپدره و پروان.

**مقدمه**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ! **الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین.**

افغانستان یکی از کشورهای تاریخی و باستانی بوده که از قدامت تاریخی بیشتری برخوردار است و دارای ده‌ها مکان تاریخی و باستانی می‌باشد و قدامت تاریخی هر نقطه آن به چندین هزار سال می‌رسد، بنابراین در افغانستان نمی‌توان نقطه و منطقه‌ای را یافت که دارای قدامت تاریخی و باستانی نباشد. پروان نیز از ولایت‌های است که دارای آثار و مکان‌های زیاد تاریخی بوده و از آن جمله، یکی استوپه توپ‌دره بوده. استوپه توپدره در جنوب غرب شهر چاریکار در میان روستاهای سنجددره و خواجه سیاران علیا موقعیت دارد که قدامت تاریخی آن بیشتر از ۱۸۰۰ سال می‌رسد و در زمان کوشانی‌ها این استوپه ساخته شده است که نظیر آن در سطح کشور و کشورهای همسایه دیده نمی‌شود. استوپه توپدره مرکز عبادتی کنشکای کبیر بوده که در آن محل دفن آثار بجا مانده بودا نیز می‌باشد.

این که کنشکا بزرگترین ترویج کننده دین بودیزم در قلمرو امپراتوری خویش بوده، مجسمه‌های زیادی بودایی را در مناطق مختلف قلمرو خویش اعمار نموده است. کنشکا در قلمرو امپراتوری خویش دو

پایتخت داشته که تابستانی آن شهر بگرام و زمستانی آن شهر پیشاور بود که در نزدیکی هر دوی این پایتخت‌ها، عبادتگاه‌های متعددی را ساخته بود و یکی از آن استوپه توپدره پروان است که در نزدیکی پایتخت تابستانی آن، شهر بگرام قرار داشت که بر بالای یک تپه ساخته شده بود و این منطقه مسیر عبور کاروان‌های او را تشکیل میداد.

از استوپه توپدره آثار بسیار زیاد تاریخی و باستانی بدست آمده و هنوز هم قسمت‌های بیشتر آن نامکشوف باقی مانده و آثار بسیار زیادی در زیر خاک‌ها و مخروبه‌ها باقی مانده است و مردمان در محل بالای آن زمین‌های زراعتی و خانه‌های مسکونی اعمار نموده اند.

استوپه توپدره در اثر حوادث مختلفی تخریب گردیده که دو باره در سال ۲۰۱۶م با کمک مالی ایالات متحده امریکا ترمیم گردید، استوپه در سال ۲۰۲۲م در سازمان یونسکو مستحق دریافت جایزه شایستگی و لیاقت شناخته شد. استوپه یکی از سیزده پروژه برنده است که از شش کشور مختلف انتخاب شده بود و در جمع پروژه‌های، درجه ۳ قرار گرفت که جز میراث‌های فرهنگی ثبت شدهٔ سازمان یونسکو می‌باشد. در این تحقیق به معرفی جغرافیای تاریخی استوپه توپدره پرداخته شده، هدف از نامگذاری آن، معرفی وضعیت گردش‌گری، فرهنگی و تاریخی آن می‌باشد.

**پیشینه تحقیق**

تحقیق حاضر تحت عنوان بررسی جغرافیای تاریخی استوپه توپدره ولایت پروان می‌باشد که تا هنوز در این عرصه چنین تحقیق علمی و همه جانبه و تحت همچو عنوان صورت نگرفته است. این نخستین بار است که در ارتباط عنوان مذکور تحقیق همه جانبه صورت می‌گیرد. تحقیقات مشابهی که توسط دیگران صورت گرفته قرار ذیل است.

**محمد عظیم عظیمی**(۱۳۸۹): اثر نوشتاری شان تحت عنوان: (آشنایی با بناهای تاریخی افغانستان)، می‌باشد، که در آن جاه‌ها و مناطق تاریخی و باستانی کشور معرفی شده؛ اما به شکل مفصل به جغرافیای تاریخی و اهمیت آن در رابطه به استوپه توپ دره پرداخته نشده است.

**احمد علی کهزاد**(**۱۳۸۹**): در کتاب خویش تحت عنوان:(افغانستان در پرتو تاریخ)، با وجود آنکه آقای کهزاد در دو- سه مورد به ارتباط معرفی مختصر استوپه توپدره و سایر استوپه‌ها پرداخته است؛ اما به ابعاد فرهنگی، گردشگری و جایگاه جهانی آن نپرداخته است، چون یک قسمت این مباحث ذکر شده در این سال‌های اخیر قابل بحث بوده و به جایگاه ارزشی آن اضافه شده است.

**صادق حیدری** (۱۳۹۲): که اثر تحقیقی آن (پروان در پویه تاریخ) با وجود آنکه مناطق تاریخی و باستانی ولایت پروان را معرفی نموده، اما به شکل مفصل و همه جانبه در رابطه به جغرافیای تاریخی، ارزش باستانی و مزایای فرهنگی آن، مطالبی به رشته تحریر نیاورده است.

تحقیقی که بنده انجام داده، به مشکلات و خلاهای تحقیقی فوق پرداخته، از منابع مختلف استفاده نموده و ارزش و اهمیت موقعیت باستانی، فرهنگی، فلسفهٔ نامگذاری، جایگاه و اهمیت فرهنگی و ثبت آن در سازمان یونسکو پرداخته است.

**اهداف تحقیق**

**هدف اصلی**

بررسی و مطالعه وضعیت جغرافیای تاریخی استوپه توپ‌دره ولایت پروان.

**اهداف فرعی**

- ✓ شناخت و معرفت اساسی با استوپه توپدره ولایت پروان
- ✓ مطالعه بُعد تاریخی و آثار بجا مانده از استوپه توپدره
- ✓ نقش استوپه توپدره در رشد صنعت گردش‌گری تاریخی

**روش تحقیق**

استفاده از روش توصیفی و تحلیلی بوده. گردآوری اطلاعات نیز به شیوه کتابخانه‌یی و همچنان استفاده از سایت می‌باشد. این تحقیق در رابطه به شناخت جغرافیای تاریخی استوپه توپدره ولایت پروان صورت گرفته که این جغرافیا نظر به کدام عوامل طبیعی، بشری و موقعیتی مورد توجه قرار گرفته اند.

**یافته‌های تحقیق**

استوپه توپ‌دره یکی از مناطق تاریخی، باستانی، با ارزش و استراتیژیک ولایت پروان بوده و از گذشته تاریخی درخشانی برخوردار است، استوپه در یک منطقه خیلی حساس و استراتیژیک، در کنار یک تپه اعمار شده و از مزایای خاص جغرافیایی بهره‌مند می‌باشد و از قدامت تاریخی خیلی دیرینه‌یی برخوردار است که به دوره امپراتوری کوشانی‌ها مخصوصاً کنشکای کبیر می‌رسد و مرکز عبادتی کنشکا بوده که در نزدیکی پایتخت تابستانی آن(شهر بگرام) قرار دارد. از استوپه آثار گران‌بهای زیادی بدست آمده است. با وجود این‌که در آن زمان استوپه‌های زیادی توسط کوشانی‌ها ساخته شده بود؛ اما یگانه استوپه بزرگ و ثابتی که تا هنوز باقی مانده، عبارت از استوپه توپدره پروان می‌باشد؛ این استوپه در جریان حوادث مختلف طبیعی و تاریخی تخریب گردیده و بارها اعمار مجدد شده و در سال ۲۰۲۲م ثبت سازمان فرهنگی یونسکو گردید در جمع ۱۳پروژه ثبت شده از شش کشور جهان به جایگاه سوم این سازمان قرار گرفته و جایزه شایستگی فرهنگی سازمان یونسکو را حاصل نموده و جز بناهای ثبت شده این سازمان می‌باشد.

**استوپه توپ دره ولایت پروان**

استوپه توپ‌دره مشهور به(استوپۀ کنشکا) نزدیک به دو هزار سال پیش در زمان حکمرانی کنشکای بزرگ، در دورۀ کوشانی‌ها ساخته شده و عبادتگاه او را تشکیل میداد که پیرو آئین بودیزم بود و این جایگاه، بزرگترین مرکز عبادتی و اعتقادی کنشکا بوده که در نزدیکی پایتخت تابستانی آن که شهر «بگرام» موقعیت دارد، تشکیل میداد که محل دفن آثار بجا مانده از بدن بودا نیز می‌باشد. این آبده تاریخی در بین روستاهایخواجه سیاران علیا وسنجددره در فاصله حدود ۴ کیلو متری جنوب‌غرب شهر چاریکار موقعیت دارد و از نگاه موقعیت جغرافیایی در میان ۶۹ درجه، ۸ دقیقه و ۳۶ ثانیه طول‌البلد

شرقی‌و ۳۴ درجه،۵۹ دقیقه‌و ۲۴ ثانیه عرض‌البلد شمالی واقع شده است(دایرۃالمعارف افغانستان، ۱۳۸۹).


استوپه توپ‌دره در سطح کشورهای منطقه، یک آبده تاریخی و باستانی بی‌نظیر هست و از لحاظ جهان‌گردی از جذابیت ویژۀ برخوردار است(حیدری،۱۳۹٦: ۵۵).

استوپه توپ‌دره دارای۲۰ متر ارتفاع و ۷۰ متر مربع پهنای آن می‌باشد. بر اساس بررسی‌های باستان‌شناسان، در این منطقه استوپه‌های حدود هشت صومعه و ۵۰۰ استوپه (گنبد) وجود داشته است.

بر اساس معلومات شبکه تحلیل‌گران افغان، مرکز باستان‌شناسی فرانسه پیش از این دریافته بود که در جریان یک سده اخیر، هزاران مجسمه از این محل به دست آمده و در موزیم‌های سرباز نگه‌داری می‌شود؛ اما در جریان جنگ‌های داخلی غارت و نابود شده است(رحمانی،۱۴۰۲: ۱۸۴).

قرار تحقیقات "موسیوفوشه" باستان شناس فرانسوی، تمام اطراف این استوپه را یک قطار از کمانها و پایه‌ها به سبک هندو کورنت و هندو فارس احاطه کرده است. این استوپه و استوپه‌های دیگری که در حوالی پیشاور بوده عبارت از دو یادگار بزرگ امپراتوری کنشکا می‌باشد که از جوار دو پایتخت تابستانی و زمستانی خاطرات عمرانی آن دورۀ درخشان را ثابت می‌سازد(دایرۃالمعارف افغانستان،۱۳۸۹، ۴۵۷).

استوپه توپدره در میان بقایای استوپه‌های اطراف کابل از اهمیت خاصی برخوردار است، زیرا بزرگترین استوپه در میان تمام استوپه‌ها می‌باشد و هم بهتر از همه محافظت شده و هم نزدیک جاده عمومی کابل-چاریکار و در مجاورت شهر چاریکار واقع شده و گردشگران به خوبی و آسانی از آن می‌تواند دیدن نمایند، از جمله یادگار کوشانی‌های بزرگ و خاصتاً به دورۀ حکم‌فرمایی کنشکای کبیر می‌رسد که در نیمه قرن دوم میلادی اعمار شده است. مسکوکات کوشانی‌های بزرگ هنوز هم از اطراف و نواحی آن به دست می آید(کهزاد،۱۳۸۹: ۳۱٦-۳۲۱).



شکل شماره ۱: نمای از استوپه توپدره ولایت پروان

منبع: سایت: www.khaama.com

استوپه توپ‌دره به اثر حوادث طبیعی مانند زلزله و جنگ‌های داخلی تخریب گردیده که دو باره به شکل مجدد مرمت کاری شده. این میراث تاریخی، باستانی و فرهنگی باید بهٔ گونه مناسب نگه‌داری شود.

کار بازسازی این بنای تاریخی در سال ۱۳۹۶ه ش آغاز گردید که در حدود ۸۰۰ هزار دالر امریکایی هزینه داشت، کار بازسازی آن در دو فاز صورت گرفت که ترمیم بدنه و حفریات اطراف آن که به کمک مالی سفارت ایالات متحده امریکا شروع شد و تمام مراحل آن تکمیل گردید(8am.media).



شکل شماره ۲: کار ترمیم مجدد استوپه توپدره پروان در سال ۱۳۹۶ه ش
منبع: در سایت: (8am.media)

**وجه تسمیه توپدره**


استوپه یا توپدره یکی از نام‌های قدیم دوره‌های بودایی که در کابل و سایر نقاط افغانستان تا به روزگاران معاصر عمومیت داشته معنی و مفهوم خود را حفظ کرده است، کلمه «استوپه» می‌باشد. معابد بودایی به شکل کلی شامل دو قسمت بوده، یکی را بنام «سینگه‌ارمه» یا معبد می‌نامیدند و دیگری را "استوپه" می‌گفتند. در عصر بودایی‌ها در قرن دوم قبل از میلاد تا قرن نهم میلادی، در طی ۱۱ قرن که آئین بودایی در نیمه شرقی افغانستان از خط بلخ –قندهار به طرف شرق رواج داشت و بدون مبالغه چندین صد معبد و استوپه‌های خورد و بزرگ در نقاط مختلف آباد شده بود و در بطن شهر کابل در پوزه‌های کوه شیردوازه و آسمایی ده‌ها معبد و استوپه وجود داشت. اساساً هر معبد بزرگ، حد اقل دارای یک استوپه بزرگ بوده و در بسا مواقع در اطراف یک معبد و در حیاط وسطی آن استوپه‌های خورد و بزرگ ساخته می‌شد. استوپه‌ها عموماً آبداتی بودند و نمای بیرونی آن به گونه استوانه‌یی شکل ساخته می‌شد و سر

آن به گونه گنبدنما بودند. در مراحل اولی دین بودیزم، در شهر بنارس هند و هم‌چنان در سایر نقاط خاکستر بودا را در جوف جعبه‌یی در داخل استوپه مخفی می‌کردند و در دوره‌های بعدی، خاکستر را راهب‌های بزرگ با بعضی یادگاری‌های دیگری از آنها مانند مسکوکات شاهان وقت، مهره‌ها و نگینه‌ها را در جوف صندوقچه‌های سنگی در دل استوپه‌ها مخفی می‌کردند. از بحث فوق معلوم می‌شود که توپدره اصلاً «استوپه دره» بوده و حرف (س) مقدم به ساکن در تلفظ عوام به آسانی از بین رفته و شکل توپ باقی مانده و مردمان کوهستان و کوهدامن مانند سایر اهالی افغانستان این کلمه را با مفهوم قدیمی آن حفظ کرده است و مردم به پاس خاطره‌های گذشته، تمام آن جغرافیا را توپدره می-خوانند (کهزاد،۱۳۸۹: ۳۱۹).

استوپه در زبان سانسکریت به معنای پُشته است که به محل دفن آثار بجا مانده از بدن بودا گفته می‌شود. گفتنی است که با گذشت زمان، اسم آن از «استوپه‌دره» به «توپ‌دره» تغییر کرده است (صدیقی،۲۰۲۲).

**وضعیت گردشگری در استوپۀ توپدره**

با مرمت کاری و بازسازی استوپه توپ‌دره، سیر گردش‌گری در این ولایت افزایش یافته است. پس از ترمیم و مرمت کاری این استوپه تاریخی، بسیاری از شهروندان کشور از ولایت‌های مختلف به پروان سفر کرده و از این بنای تاریخی دیدن می‌نماید که عاید خیلی خوبی برای شهروندان و دولت محلی می باشد (رحمانی،۱۴۰۲ه ش: ۳۳).



شکل شماره ۳ و ٤: تصاویر از نمای ترمیم شده و موقعیتی استوپه توپ دره ولایت پروان

منبع: سایت‌های (www.chekad-tv.cdn.ampproject.org و 8am.media)

**وضعیت فرهنگی و تاریخی استوپۀ توپدره**

استوپۀ تاریخی توپدره، از طرف سازمان یونسکو مستحق دریافت جایزه شایستگی و لیاقت شناخته شده. این جایزه، بخشی از جوایز آسیا و اقیانوسیه از طرف سازمان یونسکو در سال ۲۰۲۲م بوده که برای حفاظت از میراث‌های فرهنگی در نظرگرفته شده بود.

کار بازسازی و مرمت‌کاری استوپه توپدره در پروان، بین سال های ۲۰۱٦ و ۲۰۲۰م از سوی مؤسسه مشورتی وحفظ میراث‌های فرهنگی افغان، تحت نظارت باستان شناسان وزارت اطلاعات و فرهنگ انجام شده(رحمانی،۱۴۰۲ه‌ش: ۳۴).

استوپه توپدره، یکی از سیزده پروژه برنده است که از شش کشور مختلف در سراسر منطقه انتخاب شده بود و در جمع پروژه‌های یاد شده در جایگاه سوم قرار داشتند. برنامه متذکره که به گونه آنلاین برگزار شده بود، در مورد پروژه استوپه توپدره، از سوی جولیان لیسلی مشاور ارشد مؤسسه اچکو معلومات ارایه شد و هیئت داوران، بر سهم این پروژه در حفاظت از میراث بجا مانده از یک دوره مهم در تاریخ افغانستان تأکید کردند(bakhtarnews.af).

استوپه توپدره پروان، بزرگترین استوپه در سطح افغانستان وکشورهای منطقه قرار دارد که اکنون توجه صدها تن از گردشگران داخلی و خارجی را به خود جلب کرده است. در جریان کاوش‌های باستان شناسان در اطراف بنای تاریخی استوپه، دیوارهای مختلفی از دل خاک پدیدار شده است که از سنگ‌های کم ضخامت و ظریف در آن کار شده است گرفته شده است (رحمانی،۱٤۰۲: ۲۰۳).

قابل یادآوریست که کار ترمیم و مرمت این استوپه و محافظت از اطراف آن توسط مؤسسه مشورتی و حفظ میراث‌های افغان در سال‌های ۲۰۲۰ تا ۲۰۲۲م با کمک مالی اتحادیه بین‌المللی حفاظت از میراث فرهنگی انجام پذیرفته است. لازم به ذکر است که تاکنون ٦۰ ساحه تاریخی و باستانی در ولایت پروان شناسایی شده و استوپه توپ‌دره یکی از بناهای بجا مانده از دوره کوشانی‌ها به خصوص به دوره کنشکای کبیر می‌رسد که قدامت آن تا یک هزار و هشت صد سال پیش می‌رسد که از جمله مهمترین بنای تاریخی پروان بوده (صديقي، ۲۰۲۲ م، ص. ۸).

**نتیجه گیری**

پروان از جمله ولایت‌های مهم تاریخی، باستانی و استراتیژیک کشور اند که دارای اماکن، آثار و آبده‌های بی‌شمار تاریخی است یکی از آن منطقه تاریخی و باستانی استوپه توپ دره می‌باشد.

استوپه توپدره یکی از منطقه تاریخی و باستانی ولایت پروان بوده که در جنوب غرب شهر چاریکار میان روستاهای سنجددره و خواجه سیاران موقعیت داشته است و تاریخ قدامت آن بیشتر از ۱۸۰۰ سال می‌رسد که مرکز عبادتی و اعتقادی کوشانی‌ها مخصوصاً کنشکای کبیر را تشکیل می‌داد و بالای یک تپه قرار دارد که محل دفن آثار بجا مانده از بدن بودا می‌باشد، کنشکای کبیر بزرگترین پیرو و ترویج کننده دین بودیزم بوده و عبادتگاه و صومعه خویش را در نزدیکی پایتخت تابستانی خویش(شهر بگرام) ساختند که از این محل ده‌ها آثار با ارزش تاریخی و قیمتی بدست آمده است و هنوز هم تعدادی از مخروبه‌ها و آثار تاریخی بجا مانده در زیر خاک و مخروبه‌ها باقی مانده است و مردمان محل بالای آن زمین‌های زراعتی و خانه‌های مسکونی ساخته است.

این استوپه در سال ۲۰۲۲م در سازمان یونسکو مستحق دریافت جایزه شایستگی و لیاقت شناخته شد. استوپه توپدره، یکی از سیزده پروژه برنده است که از شش کشور مختلف انتخاب شده بود که در جمع پروژه‌های یاد شده در جایگاه سوم قرار گرفتند، استوپه یادشده بنابر عوامل مختلفی تخریب شد و دو باره ترمیم گردید و از ارزش مهم گردش‌گری و سیاحتی برخوردار بوده وجز میراث‌های فرهنگی سازمان یونسکو می‌باشد.

**منابع**


حیدری، صادق.(۱۳۹۲). پروان در پویه تاریخ:انشارات مطبعه اجتماعی، کابل– افغانستان.

رحمانی، ملاجان.(۱۴۰۲). جغرافیای تاریخی افغانستان، کابل: انتشارات نور.

رحمانی، ملاجان. (۱۴۰۲). جغرافیه توریزم، کابل: انتشارات نور.

کهزاد، احمدعلی.(۱۳۸۹). افغانستان در پرتو تاریخ، انتشارات: دنیای کتاب، کابل- افغانستان.

یمین، محمد حسین.(۱۳۹۲). افغانستان تاریخی، انتشارات: سعید، کابل- افغانستان

انجمن دایرة المعارف آریانا.(۱۳۸۹). قاموس جغرافیایی افغانستان (انجمن آریانا دایرۀ المعارف افغانستان)، جلد اول و دوم، انتشارات: موسسه نشر و پخش سرور سعادت، کابل– افغانستان.

استوپه تاریخی توپدره پروان، برنده جایزه شایستگی و لیاقت یونسکو شد، در سایت: www.bakhtarnews.af تاریخ بازید ۱۴۰۲/۶/۲۶

استوپه توپدره برنده جایزه شایستگی میراث های فرهنگی یونسکو شد، در سایت: Afghanistan-iim.com

جایزه شایستگی یونسکو به استوپه توپدره پروان رسید، در سایت: www.chekad-tv.cdn.ampproject.org

حکیمی، شعیب.(۱۵ قوس ۱۳۹۹). روزنامه هشت صبح، بازسازی معبد بودا، چهره جدید«استوپه توپدره» به شمار گردشگران افزده است، در سایت 8am.media

فیروز، صدیقی.(۲۰۲۲). اهدای جایزه یونسکو به استوپه توپدره تاریخی پروان، در سایت: www.khaama.com

هنایش، احمد.(۱۳۹۹). استوپه پروان به جاذبه گردشگری مبدل شده است، در سایت: azadiradio-com.cdn.ampproject.org

# ترکیب‌های هنری در اشعار پرتونادری

پوهنمل میرسبحان مجددی، پوهنتون شیخ زاید، پوهنحی زبان و ادبیات، دیپارتمنت فارسی دری.
**برېښنالیک**: mujadadi22@gmail.com

**چکیده**
ترکیب سازی یکی از مهم‌ترین حوزه‌هایی‌ست که شاعران در راستای تازه‌گی زبان و ایجاد خلاقیت در آن وارد شده اند. هدف این مقاله بررسی چگونگی ترکیب سازی و ترکیب‌های هنری در اشعار پرتونادری است که انواع ترکیب‌ها و چگونگی ساخت هنری آن را بررسی کرده است. وی با ایجاد پیوند میان واژه‌ها و معناهای که دور از هم دارند ابهام هنری و معناهای تازه، عمیق و برجستهٔ ایجاد کرده است. ایجاد تازه‌گی در محور هم‌نشینی از طریق ترکیب‌سازی‌های تازه با مقوله‌های دستوری در ترکیب و کاربرد ترکیب‌ها، زبان شعری او را برجسته ساخته است. ترکیب‌های هنری دارای ارزش‌های زیبایی شناختی بوده و این ترکیب‌ها در شعر وی، توسع زبانی و انحراف معنایی‌ست،که در نتیجه منجر به ساخت ترکیب‌های بکر، تازه و حمل معانی جدید به واژگان دخیل در ترکیب گردیده است.

**کلید واژه‌ها**: ترکیب های هنری، زیباشناسی، شعر پرتونادری ، صور خیال، آرایه‌های ادبی.

**مقدمه**

**بسم الله الرحمن الرحیم ! الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین.**

یکی از ویژگی‌های زبان فارسی دری، داشتن قابلیت ترکیب سازی‌ست به گونهٔ که فارسی زبانان می-توانند واژگان را با هم ترکیب کرده و واژگان تازه‌ای بسازند. به سخن دیگر، زبان فارسی دری زبانی ترکیبی‌ست که در آن می‌توان از پیوستن واژهای زبان به یک‌دیگر یا افزودن وندها برای معانی تازه و بکر بهره گرفت. همین ویژگی‌ست که تعداد ترکیب‌ها در زبان فارسی دری بیش از واژه‌های ساده آن زبان است. با آن‌که زبان فارسی دری زبانی ترکیبی‌ست؛ اما فرهنگ‌ها بر حسب معمول علاوه بر توضیح معنا، رو به روی هر واژه چندین واژهٔ دیگر را ذکر می‌کنند. از نگاه فرهنگ نویسی این واژه‌ها تقریباً معادل یک‌دیگرند؛ هر چند برخی معتقدند که هم‌معنایی واقعی در میان واژه‌ها وجود ندارد و هیچ دو واژه‌ای دقیقاً دارای یک معنا نیستند. این تفاوت میان واژه‌ها موجب می‌شود هم‌نشینی میان آن‌ها دارای محدودیت‌های خاص باشد. پیوند برخی از آن‌ها تنها در ارتباط با واژه‌های خاص میسر است(دهرامی، ۱۳۹۳ش: ص۵۴). ترکیب‌ها در شعر به عنوان نمونهٔ هنری و متعالی یک زبان، نیز دارای ضوابط خاصی-ست که بسیاری از آن‌ها جنبهٔ زیباشناسی دارند. منظور از ترکیب هنری در شعر، ایجاد پیوند میان واژه‌ها به صورت ساخت واژه‌های ساده، ساخته و آمیخته است که موجب برجسته‌گی زبان گردد.

ترکیب‌سازی یکی از مهمترین حوزه‌هایی‌ست که شاعران در راستای تازه‌گی زبان و ایجاد خلاقیت در آن وارد شده اند. این ترکیب‌ها برعلاوهٔ جنبهٔ معنایی بر اساس ذوق ادبی جامعه نیز باید مطلوب واقع شود وگر نه، متروک می‌شوند.

اهمیت و تازه‌گی زبان در شعر معاصر تنها به دلیل کاربرد واژه‌ها نیست؛ بلکه ترکیب‌های‌ست که در زبان امروزی بگونۀ هنری ساخته شده است. مسئلۀ اصلی این است، نشان دهد که پرتونادری در عرصۀ ترکیب‌سازی چه خلاقیت‌هایی ایجاد کرده و نتایج آن چه کارکردهای بلاغی و زیبایی‌شناسی در شعر او داشته است؟

در این مقاله کوشش بر آن است که شعر پرتونادری را فقط از جنبۀ خاصی ترکیب‌های هنری بیرون از بحث واژه‌ها و مضمون‌ها با اصول و قواعد علمای نقد و بلاغت به بحث و بررسی پرداخت. از آنجا که در این رابطه به موضوع مورد نظر تا اکنون بحث مفصل صورت نگرفته است و این مقاله نخستین پژوهش است که پرداخته می‌شود. از این لحاظ باتوجه به تازه‌گی موضوع و دشواری‌های تحقیق، مقالۀ حاضر بدور از کمی و کاستی نخواخد بود و امید می‌رود که اهل قلم بر ما خُرده نگیرند.

**پیشینۀ تحقیق**

پژوهش‌گران در زمینۀ ترکیب در شعر و اهمیت آن پژوهش‌های ارزشمندی انجام داده و برخی دانشمندان ترکیب‌های شعری شاعران معاصر را مورد بررسی قرار داده اند. پورنامداریان در «سفر در مه» ترکیب‌های شعر شاملو را بررسی کرده، مصطفی مقربی در مقالۀ (( ترکیب در شعر فارسی )) به چگونگی ساخت آن در زبان فارسی توجه داشته است. مهدی دهرامی در مقالۀ (( ترکیب‌سازی در شعر قیصر امین‌پور و نقش‌های هنری آن)) ترکیب‌سازی را با رویکرد تازه با روش قیاسی مورد بررسی قرار داده است. در مقالۀ حاضر ترکیب‌های هنری شعر پرتونادری با روش تحلیلی مورد بررسی قرار گرفته و نقش-های هنری و زیبایی‌شناختی ترکیب‌ها در شعر وی بیان شده است.

**هدف تحقیق**

این تحقیق اهداف زیر را دنبال می‌کند:

۱- بررسی ترکیب‌های هنری در شعر پرتونادری.
۲- چگونه‌گی کاربرد ترکیب‌های هنری در شعر پرتونادری.

**روش تحقیق**

روش تحقیق در مقالۀ حاضر، از نوع بنیادی و بر اساس شیوۀ تحلیلی_توصیفی و به روش کتاب‌خانه‌ای انجام شده. در مقالۀ حاضر بیشتر سعی برآن است که به ترکیب‌های هنری شعر پرتونادری پرداخته شود.

**اصل مقاله**

مرحلۀ تثبیت تصویرهای شعری، دور شدن از تجربه‌های حسی‌ست که نخست توجه بیش از پیش به تصویرهای انتزاعی و تجریدی و دیگر توجه به مسایل قرار دادی و استفاده از علوم در خلق تصویرها و مضمون سازی‌ست. آنچه حوزۀ خیال شاعرانه را تشکیل می‌هد شامل بحث‌های اصلی چون: مجاز، تشبیه، استعاره و کنایه است که هرکدام آن به صورت جداگانه شاخه‌ها و دگرگونی‌های خود را دارد؛ اما در میان ترفندهای ادبی  چون اغراق، ایهام، حسن تخلص، استرداد، التفاد و تجاهل‌العارف بیشترکاربرد

دارند که از میان این صنعت‌های ادبی، دو ترفند: اغراق و مبالغه از قدیم‌ترین عناصر عمدهٔ ترکیب‌هنری در شعر فارسی دری است(حماد،۱۴۰۲ش: ٦).

ترکیب‌های هنری جوهر اصلی شعر است که تصرف ذهن شاعر در مفاهیم عادی و ارتباطات زندگی انسان با طبیعت و یا طبیعت با طبیعت، چنان‌که می‌دانیم حاصل نوع بیداری اوست در برابر درک این ارتباطات( کدکنی،۱۳۹۱ش: ۲).

آنچه ناقدان اروپایی ایماژ می‌خوانند، در حقیقت مجموعهٔ امکانات ترکیب هنری است که در شعر مطرح است. و زمینهٔ اصلی آن‌را انواع تشبیه، استعاره، اسناد مجازی و رمزگونه‌های مختلف ارائهٔ تصویر ذهنی می‌سازد.که در نقد ادبی جدید و کتاب‌های بلاغت فرنگی واژهٔ ایماژ معادل همان ترکیب‌های خاص هنری می‌باشد( همان :۱۰).

با توجه به این نکته‌هاست که ما خیال را به معنی مجموعهٔ تصرفات بیانی و مجازی در شعر بکار می‌بریم و تصویر را با مفهوم اندک وسیع‌تر که شامل هرگونه بیان برجسته و مشخص باشد می‌آوریم. خیال یا تصویرسازی‌های هنری حاصل نوعی تجربه است که اغلب با زمینهٔ عاطفی همراه است.

کشف هر یک از قوانین طبیعت خود نوع بیداری، تجربه و شعر است. امروز ناقدان معاصر بر اساس همین عقیده می‌کوشند که شعر و هنر را تجربهٔ انسان بنامند(همان :۲۰).

با آن‌که زبان فارسی زبانی ترکیبی‌ست اما ترکیب‌ها دارای ضوابط و محدودیت‌های هستند. در فرهنگ لغت‌ها معمولاً علاوه بر توضیح معنا، رو به هر واژه چندین واژهٔ دیگر ذکر می‌شود. و از نظر فرهنگ نویسی با یکدیگر معادل و هم‌معنا اند. هر چند برخی از دانشمندان معتقدندکه هم‌معنایی واقعی در میان واژه‌ها وجود ندارد و هیچ دو واژه‌ای دقیقاً دارای یک معنا نیستند. این تفاوت میان واژه‌ها موجب می‌شود هم‌نشینی میان آن‌ها دارای محدودیت‌های خاص باشد. پیوند برخی از آن‌ها تنها در ارتباط با واژه‌های خاص میسر است(دهرامی، ۱۳۹۳ ش، ص. ۵۴).

منظور از ترکیب‌های هنری همان واژه‌های ابداعی‌ست که ساخته و پرداختهٔ ذهن خود شاعر است و قبلاً چنین ترکیب‌ها در شعر فارسی نمونه نداشته است. ترکیب‌های پرتونادری غالباً واژه‌های ساخته و آمیخته است که اجزا یا مواد اولیه تمام آن‌ها در زبان فارسی موجود بوده است. هنر پرتونادری در این است که با ترکیب آن اجزا واژه‌های تازه‌ای ساخته است. که در ذیل به آوردن چند نمونه از آن بسنده می‌کنیم:

در واپسین خندهٔ خورشید
گرمای نفس‌های ترا به حافظه می‌سپارم (پرتونادری، ۱۴۰۲ش: ص. ۵۱)

در این بیت« خندهٔ خورشید، گرمای نفس» ترکیب‌های خاص هنری بیانی می‌باشد.

گوسفندان عشق را
در باغستان شیری ماه
از درختان رویاهای شبانه
برگ می‌تکانم (پرتونادری، ۱۴۰۲ش، ص. ۷۲)

در نمونهٔ بالا ترکیب‌های« گوسفندان عشق، باغستان شیری‌ماه و درختان رویاهای شبانه» ترکیب‌های خاص هنری اند.

و در رودبار که از کوهی بلند تنهایی من می‌آید
با بازوان عشق شنا کنم
باید پاکیزه شوم
و فراز برج فروافتادهٔ زندگی خویش
چراغ افروزم تا موسای عاطفه‌های عاشقانهٔ من (پرتونادری، ۱۴۰۲ش، ص. ۷۵)

در پارچهٔ ذکر شده « بازوان عشق و برج فروافتادهٔ زندگی» ترکیب‌های هنری خاصی است که پرتونادری استادانه بدان پرداخته است.

شعر پرتونادری سرشار از ترکیب‌های هنری بوده و بخش عمدهٔ خلاقیت‌های شعر او بر پایهٔ ترکیب‌های شعری اوست. که وی را قادر ساخته برای ساخت زبان شاعرانه و انتقال مفاهیم و عواطف خود با ایجاد خلاقیت در زبان و پیوند میان واژه‌ها، ترکیب‌های تازه خلق کند. ترکیب‌های هنری در شعر پرتونادری کارکرد هنری فروان دارد. یکی از کارکردهای ترکیب هنری در شعر او ایجاد ارتباط میان واژه‌های‌ست که معانی دور از ذهن دارند که این موضوع علاوه بر ایجاد ابهام، زبان را برجسته ساخته است. ترکیب-های هنری در تصویرسازی شعر پرتونادری بیشتر از رهگذر صورخیال، اضافات تشبیهی، استعاری، کنایی، مجازی... ساخته شده است. که این ترکیب‌ها در شعر او به حدی است که در ذهن شنونده تصویرها و معانی بکر را ترسیم و تلقین می‌نماید. مانند:

گلدان ذهن، عطر فریب، پادشاه فقر ( مجددی، ۱۴۰۲ش، ص. ۱۴۷).

زبان سایه، کلاغ پیر(پرتونادری/ب/،۱۴۰۲ش، ص۶۰)، سنگ‌لاخ بدبختی، دستان کوچک زندگی (همان، ص. ٦١). زیرپوست درختان جاری شدن، دامان پاره‌پارهٔ شب، ستاره‌های سرخ، پی‌شانی‌آسمان-زخم‌داشتن(همان، ص. ٦٢). برهنه‌ترین مرد روزگار (همان، ص. ٦٦). کبوتران عشق، آن‌سوی‌هستی، عشق را سنگ‌سار نمی‌کنند، نفس سبز دوست داشتن، نفس عشق، نفس زنده‌گی( همان، ص. ٦٧). پنجه‌های باز ستاره‌گان( همان:ص٦٨). نعل‌بند روزگار، دهلیز تاریخ، هیچ ستانی( همان:ص ٦٩). تپه-های مرگ، حافظهٔ گور( همان، ص. ۸۱). سکهٔ هستی، نیمهٔ گم شدهٔ من، دشت سرگردانی، دریاهای بی‌خویشتنی(همان، ص. ۸۵). لبان خدا، جبین خورشید، سفرهٔ عشق(همان، ص. ۸٦). روشنایی‌عشق، آسمان دلتنگی، شهروندان بهشت ( همان، ص. ۸۷). نفس سبز بهار، تاقچهٔ بلند دستان(همان، ص. ۸۸). نفس‌های خورشید، پیشانی ستاره‌گان و مهتاب( همان، ص. ۹۲). دیوار سرخ دلم(همان، ص. ۹۳). ذهن کتاب( همان، ص. ۹۸). مفهوم مفهوم، پرواز خون آلود (همان، ص. ۹۹). سرماخورده‌گی‌کبود تنهایی، رگ‌های ابریشمین(همان، ص. ۱۰۰). گیسوان دیوانه، سرودهای گم شده، دلهرهٔ انتظار(همان، ص. ۱۰۱). میز مرگ، شانه‌های خونین خیابانی(همان، ص. ۱۰۵)، تخم مار، گلوی تشنهٔ دیوارها( همان، ص. ۱۰٦).

برج بلند تنهایی(همان، ص. ۱۰۷). دروازهٔ خورشید، دوختران روشنایی(همان، ص. ۱۰۹). خرگوش برفی(همان، ص. ۱۱۷). بام بلند توطئه(همان، ص. ۱۱۹). ذهن آسمان(همان، ص. ۱۲۰). دوختر نیمه شبان(همان، ص. ۱۲۶). ریسمان عدالت، آسیای دیموکراسی (همان، ص. ۱۲۷). باغ‌پرجوانهٔ فریاد، داس انتقام، شام بازپسین (همان، ص. ۱۲۸). تابوت خوشبختی، ریسمان تاریکی، پراهن زنده‌گی، رقص زنده-گی (همان، ص. ۱۲۹). نیلوفر کبود بدبختی، برکه‌های سرخ گریه‌ها، خنده‌های ناتمام (همان، ص. ۱۳۰). نفس بریده، قفس آسمان، چشمه‌سار بامداداں، چهارفصل مرگ (همان:ص ۱۳۱). پنجرهٔ تفنگ (همان، ص. ۱۳۲). زهدان سرطانی بامداد (همان، ص. ۱۳۳). سمفون عشق، ارغوان خدا (همان، ص. ۱۳۴). الاغ کور تاریخ، خرسوار پنج هزار سالهٔ تاریخ، ملانصرالدین‌ریش‌تراشیده (همان، ص ۱۴۰.). پرواز سرخ (همان، ص. ۱۳۹). سکهٔ خرد، بازار برده فرشان دیموکراسی (همان، ص. ۱۴۳). سرمهٔ خواب، زبان باد (پرتونادری/ الف/ ۱۴۰۲ ل، ص. ۴۸). دستان پایز، قندیل برج زنده‌گی (همان، ص. ۴۹). سروستان بی-تشویش ایمان (همان، ص. ۵۰). انگشتان لب‌خند (همان، ص. ٦۹). گل‌های‌خون (همان، ص. ۳۸). چاه تنهایی، روح سایه (همان، ص. ۳۳). سرود سرخ نیزگ، انجماد مرگ (همان، ص. ۳۵). شراب خنده (همان، ص۷٦. ). چراغ برج ناپیدای عشق (همان، ص۷۷. ). قرآن چشمان، انجیل نگاه‌هان (همان، ص. ۷۹). رمهٔ‌عشق. (همان، ص. ۵۸)، گیتار سحر (همان، ص ٦۰.). غار غم (همان، ص. ٦٦). برج ایمان (همان، ص ۸۱.) اسپ تگرگ (همان، ص. ۸۳).

ترکیب‌های هنری و تصویرسازی بستر مناسبی برای تخیل شاعر است که بتواند با اسناد واژهٔ به واژهٔ دیگر و ایجاد ارتباط و پیوند میان آنها تصاویری جدید و شگفت ارایه دهد. رایج‌ترین نوع ترکیب‌های هنری و تصویرسازی پروتونادری بر پایه ترکیب اضافات استعاری و تشبیهی شکل می‌گیرد.

ساخت واژه‌های تازه یا ترکیب‌های هنری جدید نیز یکی دیگر از کارکردهای هنری شعر پرتونادری است که گاه در فرهنگ‌های لغت نیز ثبت نشده است؛ اما مخاطب می‌تواند آن‌را درک کند و شاعران زبان را از این طریق توسع می‌بخشند. به عنوان مثال: واژه‌های گلوی قرن، چهارسوی قرن، سینهٔ شکستهٔ تابوت، تابوت آب‌گینهٔ باران.(قویم، ۱۴۰۰ ل، ص. ۱۸۰). ستاره‌های شرم، سایه سار تیرهٔ تاریخ (همان، ص. ۱۸۱). خون تفکر (خراسانی، ۱۴۰۰ ل، ص. ۱۲۷). دهکدهٔ هیاهو (همان، ص. ۱۳۰). ماکیان صبح، بیضهٔ طلایی خورشید (تابش، ۱۳۹۳ش، ص. ۷۹).

بسامد ترکیب‌های هنری استعاری و تشبیهی در شعر پرتونادری بسیار زیاد است. ترکیب‌های تازه مخاطب را با واژه‌های مواجه می‌کند که کمتر دیده و شنیده است و ذهن وی را برای درک به تکاپو وا می‌دارد و از حالت برخورد همیشه‌گی و تکراری که فقط معنا را از واژه دریافت می‌کند بدون آنکه به خود واژه بیندیشد باز می‌دارد.

**نتیجه‌گیری**

بخش عمده خلاقیت‌های شعر پرتونادری برپایهٔ ترکیب‌های هنری شعری اوست. که وی را قادر ساخته برای ساخت زبان شاعرانه و انتقال مفاهیم و عواطف خود با ایجاد ترکیب‌های تازه و هنری در محور

هم‌نشینی زبان و پیوند میان واژه‌ها، ترکیب‌های تازه و بدیع خلق کند. ترکیب هنری در شعر پرتونادری کارکردهای هنری فراوانی دارد. رعایت تناسب‌های آوایی میان اجزای ترکیب و یا ساخت ترکیب‌های هنری موجب غنامندی شعر او شده است. پرتونادری با ساخت واژه‌ها و ترکیب‌های هنری زبان شعری خود را توسع داده است. از دیگر کارکردهای ترکیب‌های هنری در شعر ایجاد ارتباط میان واژگانی است که معنای دور از هم دارند که این موضوع علاوه بر ایجاد ابهام، زبان را برجسته ساخته است. کارکرد ترکیب هنری و تصویر سازی در شعر او بیشتر از رهگذر اضافات تشبیهی و استعاری است. پرتونادری به طریقه‌های مختلفی واژه‌سازی و ترکیب‌سازی کرده و این ترکیب‌های هنری در ساخت زبان هنری و ادبی وی نقش بسزای دارد.

**سرچشمه‌ها**

پرتونادری، نصرالله. (۱۴۰۲ش). دوخواهر هم‌زاد. کابل: نشر پرند.

پرتونادری، نصرالله. (۱۴۰۲ش). نیمهٔ گم‌شده. کابل: نشر واژه و انتشارات فرهنگ.

تابش، قنبرعلی. (۱۳۹۳ش). بحران سیاسی افغانستان در شعر معاصر دری. کابل: انتشارات امیری.

حماد، فضل‌احمد. (۱۴۰۱ش). «نگاه به صور خیال در شعر فارسی». مجلهٔ علمی قلم پوهنتون پکتیا، سال هفتم، شمارهٔ ۱۶.

خراسانی، شجاع‌الدین. (۱۴۰۰ش). شعر معاصر دری. چاپ چهارم. کابل: انتشارات امیری.

دهرامی، مهدی. (۱۳۹۳ش). «ترکیب‌سازی در شعر قیصرامین‌پور». فصلنامهٔ پژوهش‌های ادبی و بلاغی. سال سوم، شمارهٔ ۹.

شفیعی‌کدکنی، محمدرضا. ( ۱۳۹۱ش). صور خیال در شعر فارسی. تهران: انتشارات آگه.

قویم، عبدالقیوم. (۱۴۰۰ش). مرور بر ادبیات معاصر دری. کابل: انتشارات سعید.

مجددی، میرسبحان. (۱۴۰۲ش). درون‌مایه‌های شعر معاصر دری در چهاردهه (۱۳۸۰-۱۳۵۰). رسالهٔ تحقیقی برای رتبهٔ پوهنمل.

# د کاظم خان شیدا په اشعارو کې ذهني انځورونه

پوهنمل سیدمرجان سروري، شیخ زاید پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو څانګه.
**برېښنالیک:** saidmarjansarwari@gmail.com

**لنډیز**

د انځور په باب په پښتو ژبه کې تر دې مهاله ځانګړي چاپي اثار د نشت په حساب دي. په یو شمېر لیکنو او آثارو کې، چې د منظومو او منثورو هنري ژانرونو په اړه لیکل شوي دي د انځور یادونه پکې شته، مګر په بشپړ ډول د ادبي انځورونو د پېژندنې په موخه د منظومو او منثورو بېلګو را ړول او په هره بېلګه کې د شته ادبي انځور سپړنې لپاره اړتیا ده، چې کار پرې وشي. د دغې مقالې یوه عمده موخه دا ده، چې د منظومو او منثورو هنري انځورونو د څېړنې په موخه څېړونکو پاملرنه دې برخې ته را وړي، چې د هنري انځورونو په پېژندلو او سپړلو کې پر بېلابېلو منظومو او منثورو هنري انځورونو څېړنې وشي. دغه څېړنه کې له توضیحي او تشریحي مېتود څخه استفاده شوې او د کاظم خان د شعرنو هغه بېلګې راوړل شوي، چې په هغه کې ذهني انځورونه شته. لومړی په انځور بحث شوی دی، په شعر یا هنري نثر کې د انځور ارزښت او اهمیت باندې لنډې، خو ګټورې خبرې شوې دي. لوستونکو ته په شعر کې د انځور پېژندنه واضح شوې ده. د عکس او انځور ترمنځ د توپیرونو په ګوته کول هم مهم وو، تر څو لوستونکي پوه شي، چې د انځور او عکس ترمنځ کوم توپیر دی. په اشعارو کې د انځور ډولونه ډېر دي، خو په دې مقاله کې یواځې د کاظم‌خان شیدا په هغو اشعارو بحث شوی، چې انځورونه پکې لیدل کېږي، په شعر کې انځورونه یو فکر، یوه موخه او ارمان په عاطفي ژبه وړاندې کوي، ځکه نو د شاعرانو په اشعارو کې بنسټیز اصل انځور هم ګڼلی شو. په څېړنه کې دا تر لاسه شوي دي، چې په ادب او هنر کې د انځور یوه ګټه دا هم ده، چې لوستونکي یا اورېدونکي ته پیغام د خوند په جامه کې وړاندې کوي. پر دې سربېره انځور د یوې وینا یا کلام په ښکلي کولو کې مهم رول لري.

**کلیدي کلمې:** الفاظ، اشعار، انځور، تخیل، ذهني، عیني.

**سریزه**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ! الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین.**

د پښتو ژبې ستر نازکخیال شاعر کاظم خان شیدا اشعار که په ژوره توګه مطالعه شي، په یوه یوه بیت کې یې ډېرې خبرې دي او کتابونه پرې لیکل کېدای شي. د شیدا په دیوان کې ډېرې ښایسته ملغلرې موندل کېږي، مګر د شعر په خوند به یې هغه لوستونکي پوهېږي، چې د ده د شعر او فکر سبک په نازکخیالۍ

باندې پوره برلاسي وي او شعرونه يې په سمه توګه تحليل کړای شي. د شيدا د شعرونو نازکخيالي يوه وجه د ده په ديوان کې د بېلابېلو شاعرانه انځورونو شتوالی دی. که د شيدا ديوان مطالعه شي د بېلابېلو موضوعاتو او مسايلو انعکاس يې د مناسب شعري انځور په چوکاټ کې وړاندې کړی دی.

زما د مقالې موضوع د کاظم خان شيدا په اشعارو کې ذهني انځورونه تر سرليک لاندې ده. په ياده موضوع کې د شيدا د اشعارو ځينې هغه نمونې را وړل شوې او تحليل شوې دي، چې په هغه کې د ذهني انځورونو بېلګې شته. بايد يادوري وشي، چې د شيدا په اشعارو کې بېلابېل انځورونه موجود دي؛ چې په ټولو باندې يې څېړنه اوږد بحث غواړي. په دغه مقاله کې لومړی د انځور پر پېژندنه، په اشعارو کې د انځور پر اهميت ورپسې پر ذهني انځور باندې بحث شوی دی او بيا د شيدا په اشعارو کې دغه موضوع سپړل شوې او د شيدا د اشعارو هغو بيتونو بېلګې را وړل شوې دي، چې ياده موضوع پکې انعکاس کوي.

**موخې**

**اساسي موخې**

۱. په اشعارو کې انځور پېژندنه.

۲. د کاظم خان شيدا په شاعرۍ کې د ذهني انځورونو پلټنه.

**فرعي موخې**

۱. د يو شاعر د سبک په پېژندلو کې د انځور رول

۲. د انځور په وړاندې کولو کې د الفاظو کارونه

**د څېړنې کړنلاره او کارتوکي**

د څېړنې کړنلاره کتابتوني ده، مېتود يې توضيحي دی. توضيحي مېتود په څېړنه کې د مبهمو او پېچلو موادو تحليل او وضاحت کوي. څېړنه کې د کار موادو په توګه اساسي رول د کاظم خان شيدا ديوان لري، چې د حنيف خليل په زيار او سريزې چاپ شوی دی. د موضوع اړوند د بېلابېلو ادبپوهانو له لوري ليکل شويو اثارو څخه هم ګټه اخېستل شوې ده.

**تېرو اثارو ته کتنه**

انځور موږ څنګه پېژندلی شو؟ يا په يوه شعر يا د هنري نثر په ټوټه کې دغه انځور موږ څنګه معلومولی شو؟ د دغو پوښتنو ځواب به د انځور په پېژندنه کې تر لاسه کېږي. کله چې موږ شعر يا نثر لولو يا يې اورو نو ځينې اشعار ځانګړي انځورونه لري او ويل کېږي چې دغه شعر يا د نثر ټوټه ښه انځور وړاندې

کوي. انځور چې په عربي ژبه کې ورته تصویر او په انګلیسي کې (image ) نومونه ټاکل شوي، یوې پدیدې ته؛ که مادي وي یا معنوي انساني سر او صورت ورکول دي.
دلته د دغې خبرې یادونه هم اړینه ده، چې د انځور یا تصویر او عکس (فوټو) ترمنځ توپیر هم جوت شي، چې آیا دغه دوه نومونه په خپلو منځو کې کوم توپیر لري او که نه؟ عکس په فرهنګونو کې د سرچپه په مانا راغلی خو تصویر بیا د تصور فاعلي حالت څرګندوي. یعنې یوې پدیدې ته که مادي وي یا معنوي انساني صورت ورکول تصویر دی، چې دغه دنده تصور اجرا کوي هغه په دې مانا چې تصور لومړی یو شی ذهن ته را ولي او بیا د هغه تصویر کاږي، خو عکس اصلي حالت نه؛ بلکې د اصلي حالت سیوری د یوې کېمرې په واسطه وړاندې کوي. (ازمون، ۱۳۸۹ ل، ص. ۴۳).
په عکاسۍ یا فوټو کې تصور لاس نه لري، کېمره څنګه چې یو انسان یا یو شیویني په هماغه بڼه یې په سرچپه ډول وړاندې کوي.
بل دا چې عکاسي یا عکس د نثري یا شعري الفاظو سره تړاو نه لري که څه هم د ځینو شاعرانو په شعرونو کې ګورو، چې د خپل تن یا وجود ځانګړنې یې په الفاظو کې وړاندې کړې وي، مګر دا هم عکس نه شي کېدای، بلکې لوستونکي یا اوریدونکي ته په الفاظوکې د یو چا وجود تصویر وړاندې کول دي. دغو الفاظو اوکلمو په واسطه د ځانګړنو بیان په تصورکې د هماغه شخص یا شي تصویر کاږي.
تصور د حقیقت یا وقیعت سره کار نه لري خو عکس نسبتاً یو حقیقي شی دی، چې څنګه د چا څېره وي په هماغه بڼه یې عکس اخیستل کېږي.
په شعر کې د انځور مقام له عکاسۍ نه ډېر اوچت دی، ځکه چې په عکاسۍ کې یو شخص یا یو شی یا کومه پېښه خاموشه ترسیمېږي، مګر په شعري انځورونو کې ټول حالات او پېښې مادي او معنوي څیزونه او شیان شاعرانه بڼه غوره کوي او شاعر یې داسې وړاندې کوي، لکه د خوځند او متحرک عکس ښوونه (ازمون، ۱۳۸۹ ل، ص. ۴۴).
په اشعارو یا هنري نثرونوکې د انځور را وړلو یوه موخه دا هم کیدای شي، چې لوستونکي یا اوریدونکي ته پیغام د خوند په جامه کې ورسوي.
عکس متحرک نه بلکې ساکن وي مګر انځور د الفاظو یوه داسې اوډنه ده، چې خوځنده وي او هر حالت پکې په حرکت کې وي.
لنډه دا چې شاعرانه انځور د تخیل زېږنده او فن دی، د کېمرې په تصویر کې انساني خیالات او احساسات ګډ نه دي نو ځکه د فن درجه نه لري.

په شعر کې د تصوير يا انځور وړاندې کول د الفاظو کار دی يعنې د تصوير وړاندې کولو وسيله د خامو موادو په توګه الفاظ دي. که لفظونه په سمه بڼه وپېيل شي، نو تصوير به يې هم روښانه او کره وي په دې مانا، چې الفاظ به هم په ادبي صناعتونو کې شاعرانه جامه اغوندي؛ نو ځکه شعر ته هم لفظي تصوير ويل کېږي.

**ذهني انځور**

ذهني انځور هغه دی چې خيال يې په ذهن کې انځور کړي او عيني وجود ونه لري. ذهني انځور د حواسو په واسطه په ذهن کې بڼه مومي، چې زياتره د ادبي صنايعو پر مټ رامنځته کېږي. نېغ په نېغ لکه د عيني انځور په شان يو خيال نه وړاندې کوي بلکې د ادبي صنايعو په واسطه يو خيال په ذهن کې انځوروي. په شاعرۍ کې ذهني انځور د شاعر ذهني قوت ښيي. د عيني انځور په پرتله په شعر کې د ذهني انځور د شعر قوت او ښکلا زياته څرګندوي. ذهني انځور اصلي شکل يا حالت په بل شکل يا حالت کې وړاندې کول دي. په تصويرونو کې بيا د ذهني تصوير اغېز تر نورو په لوستونکو زيات دی ځکه دغه تصوير د انسان له ذهن او تصور سره مستقيمه اړيکه لري.

ذهني انځور له حقيقت سره سروکار نه لري، ممکن حقيقت ولري يا نه؛ د بېلګې په توګه موږ د يو چا يا يو ځای په اړه خبرې اورو او بيا د هغه شخص يا ځای څېره په ذهن کې انځوروو، خو کله چې هغه مخامخ وينو کيدای شي د هغوی له څېرې سره برابر وي يا نه، خو زيات احتمال داسې وي چې په ذهن کې جوړشوی تصوير کټ مټ د هغه په څېر نه وي، که مخامخ يې ګورو او بيا يې انځور کاږو دا عيني انځور دی.

په ذهني انځور کې مبالغه تر اغراق او غلو پورې رسي خو په عيني انځور کې مبالغه تر اغراق او غلو حده نه رسېږي. عيني انځور نېغ په نېغه يو شی کټ مټ نه وړاندې کوي، خو ذهني انځور بيا په يو بل څه کې اصل ته ځان رسوي چې بڼې موندنه يې په ذهن کې کېږي (ازمون، ۱۳۸۹ ل، ص. ۸۸).

**پايله**

د انځور او بيا د ذهني انځور په اړه مخکې بحث وشو اوس به د شيدا د اشعارو هغه بېلګې دلته راوړو، چې په هغه کې ذهني انځور موجود وي.

د نـرګس تـر ګل يـې زياتـه زيبـايي وي
چې په سترګو کې خندا زما اجمل کا
( شيدا، ۱۳۹۳ م، ۱۰۱ ).

دغه بیت کې د نرګس ګل یا د هغه ښکلا یو عیني انځور دی، مګر په دویم نیم بیتي کې بیا په سترګو کې خندا یو ذهني انځور دی. خپل محبوب ته اجمل ځکه وایي، چې د نرګس ګل سره یې استعاره برابره شي، نرګس ګل شاعران په خپلو اشعارو کې په دې موخه را وړي، چې له خپل ښایست نه متاثره دی، شیدا دلته د نرګس د ګل غوټۍ د محبوب د سترګو سره مشابه کړې دي.

چې د زړه وینې مې جوش وهي له سترګو
هر بانه مې لکه خـــــار د کربلا کـــا
( شیدا، ۱۳۹۳ م، ۹۷ ).

شیدا په ډېر هنري ډول د زړه درد په سترګو کې د یوه ذهني انځور په ډول ښکاره کوي، هغه داسې چې د زړه وینې خو په سترګو نه بهېږي، مګر دلته دی خپل د زړه درد په سترګو کې ښکاره کوي او هغه مظلومیت چې دی ورته اشاره کوي له سترګو یې وړاندې کوي.

لکه ګل په دا بهار کې رسوا ګرځم
دریده ګریوان که څوک زما رفو کا
( شیدا، ۱۳۹۳ ل، ص. ۱۰۹ ).

که دغه بیت ته ځیر شو ترې څرګندېږي، چې شیدا خپل څیرلی ګرېوان د سپرلي ګل سره تشبیه کړی دی. دا چې ګلان په پسرلي کې خپلې غوټۍ سپړي، نو ځکه یې بهار هم ورسره ذکر کړی دی، خو مهمه خبره په رسوایۍ کې ده ګل خو رسوا نه وي، خو شاعر دلته کمال کړی دی، هغه دا چې د غوټیو سپړل یې له خپل ګریوان سره تشبیه کړي، چې موخه یې د محبوب متوجې کول او لوستونکي ته د یوه مین هغه شکل په ذهن کې انځوروي، چې څیرې ګریوان ګرځي او حالت یې نا قرار وي.

چې پاره یې ګریبان لکه سحر وي
تستر د حال دا هسې رسوا څه کا
( شیدا، ۱۳۹۳ ل، ص. ۱۰۳).

په دغه بیت کې پاره ګرېوان یا شلیدلی ګرېوان یو عیني انځور دی، مګر دا چې شیدا دلته د سحر پاره ګریوان یادوي نو یو ذهني انځور وړاندې کوي؛ مطلب دا چې په شپه کې هر څه پټ وي کله چې سحر شي نو هر څه ښکاره کېږي. که یو مین د مینې کیفیت پټ ونه ساتي نو هغه به په مینه کې خامخا رسوا کېږي ځکه چې په دغه بیت کې سحر د رسوایۍ علامه ده ځکه سحر د شپې په ختمېدو سره رامنځ ته کېږي، د شپې ګرېوان پاره کوي او له هغو ټولو رازونو پرده پورته کېږي چې په شپه کې پټ وي.

د حباب په شان تمام له شرمه آب شي
که یې لرې چرې باد د مخ نقاب کا
( شیدا، ۱۳۹۳ ل، ص. ۱۱۱).

پورته بیت کې هم یو ذهني انځور پروت دی؛ هغه داسې چې محبوب دومره حیاناک ښودل شوی که چېرې څوک ورته ګوري له حیاڅخه اوبه اوبه کېږي، یو څوک خو اوبه کېدای نه‌شي مګر د محبوب نرمښت او د هغه حیا یې د اوبو په شان نرمه ښودلې ده.

شیدا خپله چاړه وینې په اوبو کې
که نن واخېست دِ تا نوي خنجر آب
( شیدا، ۱۳۹۳ ل، ص. ۱۱۴)

دلته چاړه یو عیني انځور دی، خو خپله چاړه په اوبو کې لیدل دا بیا یوه محاوره هم ده، چې په عام ډول د خپل حال نه خبرېدلو په موخه استعمالېږي. شیدا یاده موضوع د یوه ذهني انځور په اډانه کې وړاندې کړې ده. شیدا وایي محبوب چې خپلو بڼو ته اوبه ورکوي؛ چې خنجر ورته ویل شوي دي، نو زما قتل ته یې بیا اراده کړې ده، زه هم له خپل انجام خبر یم .له قتل نه به غالب ګمان موخه دا وي، کله چې د معشوق په ښایست کې زیاتوالی راځي دغه ښایست او اداګانې بیا د مینانو زړونه غوځوي، چې دغه حالت یې د قتل سره تشبیه کړی دی.

چـــــــــې زما په آتشین آه نرم نه شــــه
زړه دې سخت راته تر سنګ و آهنګ را وړ
(شیدا، ۱۳۹۳ ل، ص. ۱۲۵)

په پورته بیت کې ( آه ) محسوسېږي مګر داسې (آه) چې اور وروي؛ یو ذهني انځور دی. په همدې ډول که فکر وکړو زړه له کاڼي او اوسپنې څخه سخت ښودل یو بل ذهني انځور وړاندې کوي. د شیدا موخه دلته دا هم کېدای شي، چې کاڼی او اوسپنه چې څومره کلک او سخت دي په اور نرمېږي، مګر ستا زړه له دې هم سخت دی ځکه شیدا خپل (آه) یا اسویلي ته آتشین ویلي دي.

د آفـتـاب پـه کـمـنـد نـه خـېـژم اســـمان تـه
نـه بړدم بـار لـکـه شـــبـنـم پـه دوش د ګـلـو
( شیدا، ۱۳۹۳ ل، ص. ۱۵۴)

په دغه بیت کې د لمر پر وړانګو اسمان ته د ختلو وسیله یو ذهني انځور دی.

ګرفتـار دِ تا د زلفـــو په زنځیر یــــم
ستا په در چې د حلقې په شان اسیر یم
( شیدا، ۱۳۹۳ م، ۱۴۵ ).

په پورته بیت کې زنځیر یو عیني انځور دی، مګر د زلفو زنځیر بیا یو ذهني انځور دی. شیدا وایي چې زه ستا د زلفو په حلقو کې بندي شوی یم (ستا په ښکلا مین یم)

که په زړه کې مارغان ځای کا په دا څه شي
چـــــې نه مومـــــي هر ګز وفـــا قفـــس
(شیدا، ۱۳۹۳ ل، ص. ۱۲۷)

دغه بیت کې شیدا د وفا خبره په یو بل شکل کې څرګندوي، هغه داسې چې که مارغان قفس کې ځای په ځای شي په هغه به څه وکړي ځکه کله چې ورته موقع په لاس ورشي، قفس پرېږدي او الوځي. ده ښکلي هم داسې ښودلي چې په زړه کې د هغوی ځایول چې یو ذهني انځور دی، ناممکن بولي.

نن په دا ګلـــــګون لباس تازه بـــــهاره
ستا پر سرمې دې سوګند وي تماشا شوې
(شیدا، ل، ص. ۲۸۶)

دلته بهار یو حسي خیال دی بڼه او شکل نه لري اما په ذهن کې بهار ته د حواسو په واسطه یو تصویر ورکړل شوی دی، چې همدا یې ذهني انځور بللی شو.

**ورستۍ پایله**

په شعر کې انځور یو فکر، یوه موخه او ارمان په عاطفي ژبه وړاندې کوي. انځور په اشعارو کې د بنسټیز اصل په توګه پېژندل شوی دی، ځکه انځور د یوې وینا یا کلام په ښکلي کولو کې مهم رول لري. د کاظم خان شیدا اشعارو په تحلیل کې زیات فکر ته اړتیا ده، تر څو یو مطلب ترې وا خیستل شي. شیدا په پښتو کې د هندي سبک یو نازکخیال شاعر دی، چې اشعار یې ډېرې باریکۍ لري. که څوک غواړي چې د شیدا په اشعارو ځان پوه کړي نو یوازینۍ لاره یې د ده دیوان بیا بیا مطالعه کول دي. د شیدا د سبک یوه ځانګړنه دا هم ده، چې څو بیتونو کې یې بېلابېل انځورونه تر سترګو کېږي. کاظم خان شیدا څه چې حس کړي دي، هغه یې د شعر په ژبه په یوه مناسب انځور کې وړاندې کړي دي، په دې مانا که څوک د ده دیوان مطالعه کوي دا ور ښکاره کېږي چې شاعري یې له انځورونو مالامال ده. د شیدا په فکر، سبک، خیال، احساس او عاطفې باندې پوهېدل د ده د شعرونو په تحلیل کې د یوې لارې پرا نیستل دي.

**وړاندزونه**

۱. غوره به وي چې شعر څېړونکو لخوا د شاعرانو د شعرونو په تحلیل کې د ادبي صنایعو څرګندولو سره د انځور وېنده هم په ډاګه شي.

۲. که را تلونکي کې د پښتو څانګې استادان او محصلان د کاظم خان شیدا د شاعرۍ پر نورو انځوریزو برخو کار وکړي ترڅو هغه برخې یي هم تحلیل او لوستونکي یې له ګټو برخمن شي.
۳. که د پښتو څانګې قدرمن استادان مضمون ته په کتو خپلو محصلانو ته د شیدا انځوریزې شاعرۍ په اړه ګروپي او انفرادي کورنۍ دندې ورکړي، ټولګي کې یې پرې ارایه کړي دا به د محصلانو سره د شیدا د اشعارو په پوهېدلو کې د معلوماتو مهمه لاسته را وړنه وي.

**اخځلیکونه**

ازمون، لعل پاچا. (۱۳۸۹). منظوم انځورونه. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.
ازمون، لعل پاچا. (۱۳۹۷). د شیدا افکار( د ماستري لیکچرنوټ).ننګرها پوهنتون.
ازمون. لعل پاچا. (۱۳۹۴ل). د شیدا د شعر موسیقي ( شمشاد مجله). کابل: خوشحال فرهنګي ټولنه.
بخاري، سیدطاهر. (۲۰۱٦ م). تنقید او ادبي مفردات. پېښور: موسی اینډ برادرز پرنټر.
خلیل، حنیف. (۲۰۱۷ م). شرح دیوان کاظم خان شېدا( وړومبۍ برخه)پېښور: اعراف پرینټر.
شیدا، کاظم خان.( ۱۳۹۳). دیوان.کابل: د دانش خپرندویه ټولنې تخنیکي څانګه.
درمل، احسان الله. (۱۳۹۵ ل). شعرستان. کندهار: بېنوا فرهنګي ټولنه.
ښکلی، اجمل. (۱۳۹٦ل). ادبستادن. ننګرهار: کلاسیک خپرندویه ټولنه.

# په معاصر دور کې د ستراتيژيکو ارتباطاتو ارزښت

پوهنمل فاروق جان منګل، ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځی، د عامه اړیکو څانګه.
**برېښنالیک**: f.jmangal@gmail.com

**لنډيز**

ستراتيژيک ارتباطات د یو ویشتمې پیړۍ یو خورا مهم چوکاټ او چینل دی، چې له لارې يې هېوادونه، سیاسي ډلې، سیاسیون، سازمانونه او د عامه اړیکو ماهرين او متخصصين خپلو ستراتيژيکو اهدافو ته په ماهرانه ډول رسيږي. ترڅنګ یې ستراتيژیک ارتباطات د اشخاصو یا سازمانونو له لوري د برانډ د ترويج او دودونې او همدارنګه د ارتباط جوړونې او رغونې یو پرمفهومه کړنلاره ده. ستراتيژيک ارتباطات د مدیريت، بازارموندنې، عامه اړيکو، سیاسي ارتباطاتو او د اطلاعاتي کمپاينونو په ګډون په بېلابېلو ډګرونو کې کارول کېږي. په پښتو ژبه، د ستراتيژيکو ارتباطاتو د ماهیت او مفهوم په تړاو کافي معلومات په واک کې نشته یا یې هم په تړاو ډیر څه ندي ليکل شوي، همدا دلیل دی، چېددې مقالې د بشپړاوي په پار په لسګونو اثار او سندونه مطالعه شول، کتابتوني څېړنه ترسره شوه او په پایله کې د ستراتيژيکو ارتباطاتو په تړاو داسې منځپانګه لرونکې مقاله چمتو شوه، چې تر ډیره بریده به د لوستونکو تنده پرې ماته شي. د مقالې موندنې بداېه او داسې نوي موارد او د معاصر دور د غوښتنو مطابق معلومات به د عامه اړيکو متخصصينو، په استراتيژيکو ارتباطاتو کې ښکیلو کسانو او په ټوله کې ټولو لوستونکو ته په واک کې ورکړي. په نهایت کې ویلی شو، چې دا مقاله به د همدې مسلک لارویان او متخصص وهڅوي، چې په همدې تړاو لا زیاتې څېړنې، ليکنې او هڅې ترسره کړي. دا مقاله او سند نه يوازې په تيوريکي لحاظ د کارونې او استفادې وړ دی، بلکې د مقالې په اډانه کې وړاندې شوي معلومات په عملي توګه هم د استفادې او ګټې وړ دي.

**کليدي ټکي:** ارتباطات، ستراتيژيک ارتباطات، ستراتيژي، عامه اړيکې، معاصر دور

**سريزه**

**بسم الله الرحمن الرحيم ! الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين وعلى اله واصحابه اجمعين.**
بریالي ټولنیز بدلون ته د رسېدو او د ستراتيژيکو موخو د ترلاسه کولو په پار ستراتيژيک ارتباطات د یوې کیلی حیثیت لري. د ماموريت بشپړاوی، مخاطب محوري او د یوه عمل ترسره کول او یو اقدام کول هغه چارې دي، چې ستراتيژيک ارتباطات یې په خپل چارچوب او اډانه کې رانغاړي. نړیوالتوب، نړۍ او نړدې ټول سیستمونه پر ډیجیټل اوښتل او په ټوله کې د معاصر دور نوښتونو او فرصتونو دا انګيزه پیاوړې کړې ده، چې باید په یوه داسې نسبتاً مغلق او پېچلي چاپېريال کې د یوې اداري، سازمان،

کمپنۍ، شرکت او هېواد په توګه د خپلو ستراتیژیکو موخو او اهدافو د لاسته راوړلو لپاره اړینه ده ، چې له معاصرو طریقو او میتودونو استفاده وکړي. په ټولیز ډول ارتباطات او په ځانګړي ډول ستراتیژیک ارتباطات په دې برخه کې د یوه اسانچاري او داسې منطقي چینل په توګه کارول کېدای شي، چې په نهایت کې زموږ سترګې خلاصې او د موخو او اهدافو ترلاسه کولو ته مو نږدې کړي. ستراتیژیک ارتباطات د اشخاصو، خدماتو، توکو او ادارو په تړاو د برانډ جوړونې فکر غښتلی کوي او په سیاسي ارتباطاتو کې بیا د اوږدمهاله او ستراتیژیکو اهدافو د ساتنې، خوندیتوب او لاسته راوړنو په برخه کې هم بارزه ونډه ادا کوي. بله مهمه موضوع دا ده ، چې د ستراتیژیکو ارتباطاتو په کارولو او په عملي ډګر کې د پیاده کولو سره یو سوداګریز سازمان د دې جوګه کېږي، چې پر خپلو انساني، سازماني او د اړیکو پر پانګه لاډېره پانګونه وکړي او دا برخې، چې د یو سوداګریز سازمان بریا ورپورې تړلې ده، لا غښتلې او پیاوړې کړي.

## موخه

دا څېړنه په دې موخه او هدف ترسره شوې ده، چې له یوې خوا په نننې عصرــ کې د کاریدونکې ټرمینالوژي سره ځوان نسل او هغوی، چې په دې ساحه کې عملاً په کار بوخت دي، بلد شي او په عین حال کې د ستراتیژیکو ارتباطاتو په ګډون یو شمېر اړین او ډېر ضروري مفاهم، کړنلارې، تیورۍ او تګلارې په اقتصادي، سیاسي او نورو ډګرونو کې په هغه ډول وکارول شي، چې د کومو موخو لپاره دا موارد تخلیق او رامنځته شوي دي.

## دکارمواد او مېتود

ستاسو په لاس کې دا څېړنه کتابتوني بڼه لري، چې په ترتیب او د منځپانګې په جوړولو کې یې له نویو تحقیقي او څېړنیزو رسالو، معتبرو ژورنالونو، د بېلابېلو عالمانو له لوري د لیکل شویو کتابونو او له هغو نورو سندونو استفاده شوې ده، چې د دې څېړنې په غني کولو کې وړ بلل شوي وو. لومړیتوب هغو موادو ته ورکړل شوی او تمرکز پر هغو موضوعاتو شوی دی، چې د نننې عصرـ سره ښایي او شونې ده، چې له دغې علمي او څېړنیز سند څخه هم د معلوماتو په پار استفاده وشي او هم په عملي ډګر کې وکارول شي.

**پېژندنه**

دا چې لومړی د ستراتیژي پر معنا او مفهوم لږ پوی شو، د ستراتیژي پر تعریف تمېږو. په عصري نړیوالو اړیکو کې د ستراتیژي مفهوم څو اړخیزه معنی افاده کوي، په داسې حال کې، چې یو وخت د ستراتیژي مفهوم تر ډېره د نظامي یا پوځي عملیاتو د بهیر د تحلیل په چوکاټ کې کارول کېده. د ستراتیژي له مهمو او خورا مشهورو تعریفونو څخه یو د K. von Clausewitz له خوا وړاندې شوی دی، د هغه لپاره ستراتیژي "... د شته اهدافو او موجوده سرچینو د یوځای کولو یوه لاره ... د یوې ټاکلې او معینې ګټې ترلاسه کولو لپاره" معنی لري. (DONKER, 20216)

دا تعریف موږ ته د دې زمینه مساعد وي، چې په تدریج سره مو پر ستراتیژیکو ارتباطاتو هم سر خلاص شي. ستراتیژیک ارتباطات د ټولنیزو علومو اړوند د ارتباطاتو او مدیریت په ډګر کې د مطالعاتو نوې راټوکېدلې د حوزه ده، چې لا هم د ودې او پرمختګ په حال کې ده. که څه هم دا مفهوم لسیزې دمخه په ۱۹٦٦کلونو کې د امریکا د پوځ د کالج له لوري په ترسره شویو څېړنو کې هم موندلی شو. په ۲۰۰۴ کال کې، د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د دفاعي څېړنو شورا یو نوی راپور چمتو کړ، چې په دغه راپور او سند کې په ښکاره او جوته توګه د "ستراتیژیکو ارتباطاتو" اصطلاح کارول شوې وه "د ستراتیژیکو ارتباطاتو په اړه د دفاعي څېړنو شورا د کاري ځواک وروستی راپور"، تر دې عنوان لاندې په ترتیب شوې راپور کې، ستراتیژیک ارتباطات د "یو ډول وسیلې په توګه تعریف شوي، چې د یو دولت لخوا په نړیوالو اړیکو او کلتورونو باندې د پوهېدو، د وګړو او بنسټونو ترمنځ د نظرونو د تبادلې په تړاو په خبرو اترو کې ګډون او مشارکت او پریکړه کوونکو، ډیپلوماتانو او نظامي مشرانو ته د مشوره ورکولو لپاره کارول کېږي ترڅو وښیي، چې پر عامه افکارو او د وګړو پر چلند او کړو وړو به د سیاسي پرېکړو اغېزه او پایله څه وي. دا مفهوم په وروستیو کلونو کې په یو شمېر اکاډمیکو خپرونو کې تر جدي مطالعې لاندې نېول شوی او په تړاو یې څېړونکو او د ارتباطاتو پوهانو علمي او څېړنیزې مقالې لیکلې دي. د ستراتیژیکو ارتباطاتو نړیوال ژورنال یا ( International Journal of Strategic Communication) یې ښه بېلګه ده، چې په ۲۰۰۷ کال کې تأسیس شوی دی او په تعقیب یې د Routledge له لوري د The Routledge handbook of Strategic Communication په نوم د کتابګوټي چاپ و؛ چې د اړوند موضوع په تړاو پکې په هر اړخیز ډول معلومات وړاندې شوي دي. (Julia Balogun, 2013)

د ستراتیژیکو ارتباطاتو په تړاو د بېلابېلو عالمانو له لوري تعریفونه وړاندې شوي دي. له دې ډلې د ستراتیژیکو ارتباطاتو یو تعریف دا دی، چې ستراتیژیک ارتباطات د یوې ادارې، سازمان، هېواد او

کمپنۍ له لوري د خپل ماموریت د سرته رســولو او بشــپړاوي په پار د ارتباطاتو هدفمنده کارونه ده. (Kirk Hallahan, 2007)

Argenti, Howell, and Beck ستراتیژیک ارتباطات دا ډول تعریفوي، (ستراتیژیک ارتباطات د یوې ادارې، ســازمان او شرکت د عمومي ســتراتیژي سره په ســمون او همغږۍ، د خپل ســتراتیژیک موقیعت ارتقا، وده او بهبود دی.) (Paul A. Argenti, 2005).

د عامه اړیکو له دیده او عینکو بیا ستراتیژیک ارتباطات د سازمانونو ترمنځ د "تړونکی فعالیت یا داسې فعالیت، چې د پله حیثیت او رول ادا کاندي" په عنوان راپېژني، چې باید د یوې بنســټیزې چارې او فعالیت په توګه په پام کې ونیول شي (Grunig, 2006).

له دې وړاندې شویو تعریفونو داسې په ډاګه کېږي، چې ستراتیژیک ارتباطات یوه مهمه او اړینه حوزه او ساحه ده، چې په بېلابېلو ډګرونو کې د خپلو ستراتیژیکو اهدافو د ترلاسه کولو په پار کارول کېدای شي. په معاصر دور کې، ستراتیژیک ارتباطات د لا اهمیت او ارزښت څخه د برخمن کېدو په حال کې دي. د Anthony Giddens په ټکو، "یوه ټولنه په زیاتیدونکي توګه د راتلونکي په اړه متمرکزه ده. په بله معنی ټولنې په ټولیز ډول د راتلونکي په اړه فکر کوي." او د راتلونکې په اړه یوازې تصور کېدای شي؛ باید ارتباط ورسره برقراره او تأمین شي (Pierson, 1998).

په عین حال کې نړیوالتوب یا Globalization هم سیاسي څېرې، سوداګریز شرکتونه، د عامه اړیکو متخصصــین او هغوی، چې په دې برخه کې عملاً پر دندو بوخت دي، متوجه کړي دي، چې څنګه او څه ډول شونې ده، چې خپل ستراتیژیک اهداف ترلاسه، براند جوړونه ترسره او په ټوله کې هغه خوبونه رښتیا کاندي، چې دوی یې عملي کېدو ته بې صبرانه لیواله دي. نړیوالتوب هغه پروسه ده، چې په ترڅ کې یې نړۍ پر یوه "نړیوال کلي" بدلیدونکې ده. په همدې اســاس یوه او بل ته ژر لاس رســی، بدلیدونکی و ضیعت او نړدې والی هم داســې څه دي، چې په اډانه کې یې د ســتراتیژیکو ارتباطاتو اغېزمن شتون ادارې، شرکتونه او هېوادونه تر بریالیتوب رسولی شي (AP, 2013).

په چټکۍ سره نړۍ پر ډیجیټل اوښــتل یوه بله ســتره ننګونه او لوی فرصــت دی، چې په دواړو حالتونو کې ســتراتیژیک ارتباطات حالات د ځان په ګټه ځرخولای شي. انټرنیټ هرڅه ته بدلون ورکوي او شــاید ډیجیټل کېدل د معاصر دور یوه خاصــه ځانګړنه ووسي. همدې ځانګړنې ته په کتو، د ادارو، ســازمانونو، شرکتونو، کمپنیو او هېوادونو لپاره اړینه ده، چې د معاصر دور د غوښــتنو مطابق ځانونه عیار کړي، د انټرنیټ پر مټ او د ډیجیټل وســایلو په کارونې سره ســتراتیژیک ارتباطات لا اغېزمن او په ډېر کم مصرف او د وخت په سپما سره ستراتیژیک اهداف په لاس راوړلی شي (Castells, 2009).

په عین حال کې د برانډ جوړونې او په ټوله کې د برانډونو لپاره د ستراتیژیکو اړیکو اهمیت او ارزښت له پامه نشي غورځول کېدای. ستراتیژیک ارتباطات داسې یو هنر او علم دی، چې د برانډ په تړاو پیغام په ډېره مؤثره او اغېزمنه توګه تر خپلو هدفي وګړو او مخاطبینو پورې رسوي. دا یوازې ساده خبرې نه دي، بلکې دا سمې او پرځای خبرې دي، چې له زحمت او ستړیا پرته ستاسو اغېزمنه اړیکه له مخاطبینو سره جوړوي. وګړي او نړۍ د هغو خبرو د اوریدو لیوالتیا نه لري، چې اړوند موضوع ددوئ د علاقې او دلچسپي وړ نه وي (Deverick, 2023).

که په ساده ډول دلته په سوداګریزه برخه کې د ستراتیژیکو ارتباطاتو پر رول باندې تم شو، نو دې پایلې ته رسېږو، چې په ټولیز ډول په دې ساحه کې د ستراتیژیکو اهدافو د وګړو سیستماتیکه هڅونه ده، چې یو څه واخلي، یو څه عطا او ډالی کړي، د یو څه ملاتړ وکړي، یو څه ته رایه ورکړي او د یو څه په اړه فکر او غور وکړي او یو سازمان او اداره د دې جوګه کوي، چې په بریالیتوب سره خپل ماموریت بشپړ او ورته رسیدل ممکن کړي.

د مقالې په منځپانګه کې د نړیوالتوب، نړۍ په ډیجټل بڼه اوښتو او یو شمېر نورو مواردو په تړاو د بحث ترڅنګ ستراتیژیک ارتباطات د یو سوداګریز شرکت او ادارې سره په لاندې مواردو کې د حساب وړ مرسته کوي (Deverick, 2023).

**ستراتیژیک ارتباطات د سوداګریزو اهدافو ملاتړ کوي**

د ارتباطاتو هره برخه باید یو هدف تعقیب او د یوه هدف د ترلاسه کولو لپاره ځانګړې شي. ستراتیژیک ارتباطات د برانډ په تړاو د پوهاوي د زیاتوالي، د خرڅلاو د ډېرښت او یا هم نوې مارکیټ ته د دننه کېدو او نورو موضوعاتو په ګډون دا یقیني کوي، چې زموږ ټولیز کړه وړه او فعالیتونه د ادارې د پراخو سوداګریزو موخو سره سمون لري.

**ستراتیژیک ارتباطات تاسو له سیالانو متفاوت معرفي کوي**

دا مهال مارکیټ له داسې برانډونو ډک شوی، چې د مستهلکینو توجه ځان ته راجلبوي. ستراتیژیک ارتباطات له برانډونو سره مرسته کوي، چې د برانډ ځانګړې ارزښت ته په کتو نوموړی برانډ د نورو په منځ کې مطرح، د توجه او د سیالۍ وړ وګرځوي. دلته یوازې هدف دا نه دی، چې ستاسو برانډ به د نورو څخه متفاوت وي، بلکې دا په هغه طریقه مطرح او ښودل کېدای شي، چې د مستهلیکونو غوښتنه او اړتیا وي.

ستراتیژیک ارتباطات تاسو ته اجازه درکوي، چې بحراني حالات پر بل لوري منحرف او د ځان په ګټه یې وڅرخوئ
د بحرانونو او کړکېچونو پر مهال اغېزمن ارتباطات کولای شي، چې یو برانډ رامنځته او یا یې هم له منځه یوړل. ستراتیژیک ارتباطات برانډونو ته یوه نقشه په واک کې ورکوي، چې په مستقیم ډول مسایلو ته لاس رسی ومومي، شفافیت او روڼ والی حفظ کړي او اعتماد او باور بیا جوړ کړي.
تاسې د بحراني او کړکیچن حالت د کنټرول او پر بل مسیر د رهي کولو جوګه کوي
د بحرانونو پر مهال او په کړکېچنو حالاتو کې ستراتیژیک ارتباطات کولای شي، چې یو برانډ رامنځته او یا هم له منځه یوسي. ستراتیژیک ارتباطات د برانډونو لپاره داسې یوه نقشه په واک کې ورکوي، چې ستونزو او مسایلو ته په مستقیم ډول رسیده ګي وکړي، د رونېوالي او شفافیت ساتنه وکړي او اعتماد جوړ کړي.
په عین حال کې ارتباطاتو او په ځانګړي ډول ستراتیژیک ارتباطات کولای شي، چې د یوه برانډو جوړونې په ترڅ کې لاندې ګټې له له ځان سره ولري.

- د برانډ او کارکوونکو ترمنځ د ښو روابطو غښتلتیا
- ارتباطات متنوع او تنوع لرونکي کړي تر څو برانډ ته لاس رسی حداکثر یا اعظمي حد ته ورسوي.
- د برانډ د پېر او پلور او همدارنګه د برانډ اړوند موضوعاتو په تړاو د پېرېدونکو ښکېلتیا زیاته کړي.
- د پېرېدونکو باور او وفاداري ته بهبود او وده ورکول
- پېرېدونکي ستاسو په خوښه د فعالیت د ترسره کولو جوګه کول (Deverick, 2023).

هره ټولنه، هر تمدن، هر نسل او هر نژاد د برانډ جوړولو په تړاو له وګړو سره د خبرو اترو په پار د ستراتیژیکو ارتباطاتو یو روش او بڼه اختیار کړې ده، چې شاید د لاسته راوړنو په تړاو واوسي، د عامه فکرونو د رهبرۍ په تړاو وي او یا هم د نورو هغو مواردو په اړه وي، چې یوه اداره، سازمان او یا یې هېواد غوښتنه لري.
په پای کې ویلای شو، چې ستراتیژیک ارتباطات د هر برانډ د جوړولو لپاره د ملا د تیر حیثیت لري، چې د یوې ادارې د اصلي ارزښتونو او د وګړو له لوري د دې ارزښتونو د درک ترمنځ د پله په څېر رول ترسره کوي. ستراتیژیک ارتباطات په بېلابېلو ډګرونو کې، د برانډ د مدیریت، د نوې

کیدونکې انرژي او ډېرو نورو برخو په ګډون د شرکتونو، سازمانونو او هېوادونو لپاره اړین دي. دا یوه موخه لرونکې پروسه ده، چې د سمو چینلونو له لارې، په سم او مناسب فرصت کې سمو مخاطبینو ته د پیغامونو د رسولو لپاره ډیزاین شوې ده.

**د مقالې موندنې**

د دې څېړنیزې مقالې موندنې دا په ډاګه او جوتوي، چې له شک پرته ستراتیژیک ارتباطات د سیاسي ارتباطاتو او د سیاسي ډګر د موخو د لاسته راوړلو ترڅنګ په اقتصادي او سوداګریزه ساحه کې د ستراتیژیکو اهدافو د لاسته راوړلو په برخه کې د توقع خلاف رول ترسره کوي. دا ډول ارتباطات په معاصر دور کې د (Digitalization)، (Globalization) او د ټولنیزو رسنیو بې ساری پرمختګ او کاروني دا بهیر لا اسانه او هم مهاله ستونزمن کړی دی. په همدې اساس موږ ته دا ثابته او دا مو ومونده ، چې په معاصر دور کې د پورته مواردو په راټوکېدو سره ستراتیژیک ارتباطات لا ارزښتمن او کارونه یې یو جبري او بنسټیز عمل دی.

**پایله**

ستراتیژیک ارتباطات د اړیکو یوه غیرفعاله پروسه نه ده، چې په ترڅ کې یې یوازې یو مطلوب پیغام تر اوریدونکو ورسېږي، چې موخه یې یوازې عامه افکارو ته د اطلاع رسول او د دوی خبرول وي. بلکې ستراتیژیک ارتباطات د اړیکو یوه فعاله پروسه ده، چې د لرلید او ټاکلو اهدافو په اډانه کې د عامه افکارو سره د ټاکل شویو پیغامونو د شریکولو پر بنسټ ولاړه ده، چې له لارې یې په مثبته توګه د عامه افکارو په درک باندې تاثیر او اغېزه شیندي. د وګړو له لوري پر لرلید، ستراتیژیکو اهدافو، اراده او نیت، فعالیت او د یوه هېواد/سازمان پر خبرو اترو پوهېدل او درک د ستراتیژیکو اهدافو عمده هدفونه دي. په عین حال کې، د عامه اړیکو، د اطلاعاتو مدیریت، عامه ډیپلوماسي، له رسنیو سره اړیکې او د درک او شهرت مدیریت په څېر نورو مسلکونو کې ستراتیژیک ارتباطات د یوه اړین باب په توګه تر مطالعې لاندې نیول کیږي.

په وا ضحه توګه ویلای شو، چې ستراتیژیک ارتباطات د یوه دولت، حکومت او وړو ډلو له لوري مدیریت کېدای شي، په عین حال کې سوداګریزې ادارې او غیردولتي ادارې هم په پراخه کچه د ستراتیژیکو ارتباطاتو څخه ګټه اخلي.داچې ستراتیژیک ارتباطات څو اړخیزه جوړښت او د متفاوتو څانګړنو درلودونکی ډیسیپلین دی، کارول یې اقتصادي او سیاسي ګټې یقیني کوي، په همدې اساس

د پایلې په توګه ویلای شـو، چې سـتراتیژیک ارتباطات په معاصر دور کې منل شـوی چینل، اغېزمنه وسـیله، ګټور چوکاټ او د اړیکو داسـې یو طرز دی، چې د دولتونو، سـازمانونو، شرکتونو او ادارو ستراتیژیک اهداف په اسانۍ سره په لاس راوړي.

**مناقشه**

د ستراتیژیکو ارتباطاتو په تړاو واړه لیکل شوې علمي مقالې، سندونه او کتابونه په ټولیز ډول د دې ډول ارتباطاتو پر اهمیت او ارزښت ټینګار کوي، خو موږ دې پایلې ته ورسیدو او دا مو ومونده، چې په نني معاصر عصر کې ستراتیژیک ارتباطاتو نه یوازې په سیاسي، بلکې په اقتصادي او سوداګریزو ډګرونو کې له څومره ارزښت او اهمیت څخه برخورداره دي. معاصر دور، چې د ټکنالوژي او ټولنیزو رسنیو چې دا مهال په ملیاردونو وګړي ورته لاس رسی لري، دور او عصر دی، په همدې اساس، خپلو ستراتیژیکو اهدافو ته د ژر، ارزانه او په هغه ډول، چې د یوې ادارې، سازمان او هېواد توقع وي د رسیدو لپاره ستراتیژیک ارتباطات خورا مهم او حیاتي رول ترسره کوي. دا رول هغه مهال لا مهم او ډیر اړین شي، چې موږ نه یوازې پر دې مفهوم ښه وپوهیږو، بلکې د نړیوالتوب او ډیجیټل کېدو په دې عصر کې د نړۍ د کاروان مله شو.

**نتیجه ګیري**

ددې څېړنیزې مقالې د نتیجې په توګه دا په لاس راځي، چې ستراتیژیک ارتباطات د نورو ډګرونو ترڅنګ په یوه سوداګریزه اداره او سازمان کې د برانډ جوړونې په تړاو ، چې د اشخاصو، توکو او اجناسو، خدماتو او سازمانونو په تړاو صورت نیسي، خورا مهم او حیاتي رول لوبولی شي. د هغو مقالو او علمي سندونو په منځپانګه کې، چې د دې څېړنیزې مقالې د بشپړاوي په پار مطالعه شوي دي، موندل شوي، چې د سمو او پر وخت ستراتیژیکو ارتباطاتو د ټینګولو په صورت کې ادارې کولای شي، چې په ډېرې اسانۍ سره خپل ستراتیژیک اهداف ترلاسه کړي، دا اهداف شاید د عامه فکرونو تسخیر، د ځان یا پر بل لوري منحرف کول، پر وګړو د اجناسو، تولیداتو او خدماتو منل، د ډېرې ګټې ترلاسه کول، د شهرت په لاس راوړل، د هېوادونو په کچه د اړوند فرهنګونو، دین او فکر ته تابع کول او ګڼې نورې موخې او اهداف واوسي. په نهایت کې دا ثابته شوه او موږ ته بایده دي، چې پورتنیو ذکر شویو موخو ته د رسېدو لپاره باید ستراتیژیک ارتباطات په سم او مناسب وخت کې وکارول شي.

**وړاندیزونه**

۱. وړاندیز کېږي، چې د ســتراتیژیکو ارتباطاتو په تړاو دې په مســلکي بڼه لا ډېرې هڅې او څېړنې ترسره شي.

۲. د هېواد په کچه څېړنیزې او د مطالعاتو ادارې دې د ستراتیژیکو ارتباطاتو په تړاو لنډ مهال او اوږد مهاله روزنیزې برنامې راوبولي.

۳. پوهنتونونه، اړوند پوهنځي او څانګې دې د ستراتیژیکو ارتباطاتو په تړاو هر اړخیز معلومات، سندونه او درسي مواد چمتو ترڅو بېلابېلې پرګنې په عملي ډګر کې ترې استفاده وکړي.

۴. د دې برخې متخصصین او په دې ډسپلین کې ښکېل او فعال استادان او نور مسلکي کسان دې ځوان کهول د ستراتیژیکو ارتباطاتو د اصلي مفهوم او په بېلابېلو ډګرونو کې د کارونې په تړاو پر معلوماتو مجهز او له دې پلوه اکمال کړي.

۵. برانډینګ د اشــخاصــو، ادارو ، توکو او خدماتو په اړه کېدای شي، په همدې اســاس دې د برانډینګ په تړاو د ستراتیژیکو ارتباطاتو له ډسپلینه ډېره او اغېزمنه ګټه واخیستل شي.

**مأخذونه**

AP. (2013, 9 17). The Independent. Retrieved from Independent.co.uk: https://www.independent.co.uk/news/world/europe/dutch-king-willemalexander-declares-the-end-of-the-welfare-state-8822421.html

Castells, M. (2009). The Rise of the Network Society. New Jersey: Wiley-Blackwell.

Deverick, J. (2023, 9 22). Simpleshow. Retrieved from Simpleshow.com/blog: https://simpleshow.com/blog/effective-brand-communication-strategy/

DONKER, P. (20216). The Genesis of Clausewitz's On War Reconsidered. Researchgate, 16.

Grunig, J. E. (2006). Furnishing the Edifice: Ongoing Research on Public Relations As a Strategic Management Function. Researchgate , 25.

Julia Balogun, C. J. (2013). Placing Strategy Discourse in Context: Sociomateriality, Sensemaking, and Power. onlinelibrary.wiley, 26.

Kirk Hallahan, D. R. (2007). Defining Strategic Communication. Researchgate , 33.

Paul A. Argenti, R. A. (2005). The Strategic Communication Imperative. MITSloan Management Review, 24.

Pierson, A. G. (1998). Conversations with Anthony Giddens Making sense of Modernity . California : Stanford University Press.

state, D. K.-A. (2024, 10 12). The independent . Retrieved from The Independent : https://www.independent.co.uk/ news /world /Europe /dutch-king-willemalexander-declares-the-end-of-the-welfare-state-8822421.html

# د خوست ولایت په اورښتونو باندې د اقلیمي بدلون اغېزې

پوهنمل عصمت الله زیار، پوهنیار نظیرگل صدیقي او پوهنمل سیف الله غروال، شیخ زاید پوهنتون، ټولنیزو علومو پوهنځی، د تاریخ او جغرافیې څانگه.

**برېښنالیک**: **Asmatullah.ziar@gmail.com**

**لنډیز**

اقلیمي بدلون په طبیعي ډول د هوا تغییرات مطالعه کوي، کوم چې د میاشتو په اوږدو کې رامنځته کېږي. که څه هم افغانستان لږ شین کوریزه گازونه خپروي؛ خو د اقلیمي بدلون له امله ډېر زیانمن کېدونکی دی، دا ځکه چې د ځمکې کره یو اتموسفېر لري، له همدې کبله یې اقلیمي بدلون له سیاسي پولو اوړي. دا چې اقلیمي بدلون د ژوند په ټولو کړنو او محیط باندې اغېز لري؛ نو اړینه ده، چې په اړه یې څېړنې تر سره شي. د دې څېړنې د موادو په راټولولو کې له گڼ مېتود څخه گټه اخیستل شوې دی، یعنې مهم مفاهیم یې له بېلا بېلو کتبي منابعو څخه او د اورښت ډاټا یې د ناسا (NASA) سایټ څخه تر لاسه شوې ده، تر لاسه شوې ډاټا د ایکسیل او د دهک (لسیز) فورمول له مخې تحلیل شوې ده. موجوده څېړنه کې له ۱۳۹۴ – ۲۰۲۳ کلونو ډاټا په شپږو جدولونو کې ښودل شوې ده. لومړي جدول کې هغه کلونه په گوته شوي دي، چې تر ټولو کم اورښت لري، دغه کلونو کې خوست د شدیدې وچکالۍ شاهد دی. دویم، دریم، څلورم، پنځم او شپږم جدول یې په ترتیب سره هغه کلونه ښیي، چې د اورښت کچه یې لوړه ده. دا څېړنه په گوته کوي، چې ۱۹۹۷، ۱۹۹۹، ۲۰۰۰، ۲۰۰۱ او ۲۰۰۳ م کې خوست ولایت د وچکالۍ او شدیدې وچکالۍ شاهد و. څېړنه ښیي، چې ۲۰۰۷، ۲۰۰۹، ۲۰۱۳، ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ هغه کلونه دي، چې د اورښت کچه یې له ۴۲۳،۶۴ څخه تر ۵۲۶،۶۲ ملي مترو پورې رسیږي.

کلیدي ټکي: اقلیمي بدلون، اورښت، خوست ولایت، د اقلیمي بدلون تاثیرات، د اورښت کچه.

**سریزه**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ! الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین.**

**امابعد.**

دا چې نن ورځ په نړۍ کې د اقلیمي بدلون او د پرلپسې وچکالیو او سیلابونو په اړه څرگندونې کېږي، کوم لاملونه لري او ولې د مخکې کلونو په څېر منظم بارانونه نه لرو؟ په ځینو هېوادونو لکه پاکستان، هند او استرالیا کې په کلنۍ توگه د ۴۸ ساعته اورښت صورت نیسي، چې له امله یې سېلابونه رامنځته کېږي. نوموړي سېلابونه کرنیزو ځمکو، کورونو ته زیانونه اړوي او د سلگونو انسانانو ژوند اخلي. همدارنگه د لویدیځې اسیا په ځینو هېوادونو کې د وچکالۍ له امله د تودوخې درجه دومره لوړه شوې، چې په تېرو پنځوسو کلونو کې نه ده لېدل شوې. برعکس په اروپایي او د شمالي امریکا هېوادونو کې د واورو د اورېدو له امله د تودوخې درجه دومره راښکته شوې، چې د وگړو د ورځنې ژوند چارې یې ټکنۍ کړې دي او په میلیاردونو ډالره تاوانونه یې اړولي دي. ریښتیا هم د دې ډول پېښو د رامنځ ته کېدو لاملونه څه

دي؟د اقلیم پېژندنې د علومو متخصصین او څېړونکي د ځمکې کرې په ګرمېدو کې، د اوزون طبقي تخریب، د ګلخانه یي ګازونو تولید، د ځمکې په اتمسفیر کې بدلونونه، د ژوندانه په چاپېریال کې د انسانانو لاس وهنې، د طبیعي سرچینو له منځه تلل، د ځمکې د سطحې د اوبېزو سرچینو مهار او پراختیا، د ځمکې لاندې اوبو څخه ناسمه ګټه اخیستنه او داسې نور لاملونه بیانوي. له بلې خوا د علمي څېړنو پر اساس، په ځمکه کې د باران او تبخیر اندازه ثابته ده، چې په کال کې تقریباً ۵۱۳/۰۰۰ میلیارد متر مکعب ته رسیږي. په دې اړه قرآن کریم فرمایي: **وَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً بِقَدَر ... ژباړه:** او موږ له اسمانه، له صیحیح حساب سره سمې، په یوه ټاکلې اندازه اوبه ورولي او هغه مو په ځمکه کې تم کړې دي (سورة المومنون: ۱۸). همدارنګه الله تعالی په ذاریات سورة کې فرمایلي دي. **وَالذَّارِيَاتِ ذَرْوًا** ﴿۱﴾ قسم په هغو بادونو باندې، چې د دوړو او ګردونو الوزونکي دي. **فَالْحَامِلَاتِ وِقْرًا** ﴿۲﴾ پس قسم دی په وربځو پورته کوونکیو د اوبو درنو سره.

پس ویلی شو، هر څه او همدا ډول د باران ورېشنه په بېلابېلو سمیو کې د الهي حکمت، عدل او نظام له مخې ترسره کېږي. اقلیمي بدلون د یویشتمې پیړۍ له اساسي بحثونو څخه شمېرل کېږي، چې د ژوندیو موجوداتو له ژوند او چاپېریال سره نېغ په نېغه اړیکې لري (رحمتي، بې تا، ۲). اقلیمي بدلون د ځمکې په نړیوال اقلیم کې په منځنۍ کچه اوږد مهاله بدلون ته ویل کېږي. ذکر شوی حالت یوازې په تودوخې پورې محدوده نه ده؛ بلکې فزیکي تغیرات لکه: سېلابونه، طوفانونه او وچکالي ورسره تړلې ده. اقلیمي بدلون د ژوندیو موجوداتو او طبعیت لپاره یو منل شوی خطر دی، چې له امله یې د نړۍ اکثر خلک د ګرمو څپو، شدیدو اورښتونو او سېلابونو سره مخ دي(هدف، بې تا،۱ ). اقلیمي بدلون او د ژوند اړتیاوو ته په کتو، اړینه وګڼل شوه، چې ( د خوست په اورښتونو باندې د اقلیمي بدلون اغېزې ) تر سرلیک لاندې مقاله ولیکل شي. په دې څېړنه کې له ګڼ مېتود څخه استفاده شوې ده، چې ډاټا یې د ایکسیل په واسطه تحلیل او د اورښت کچه د دهک (لسیز) فورمول له مخې ښودل شوې ده. شته مقاله په ګوته کوي، چې د اقلمي بدلون له امله خوست ولایت په ډېرو کلونو کې د لږ اورښت شاهد دی. که یاده سیمه کې د ځمکې لاندې اوبو سطحه وکتل شي، لېدل کېږي، چې د پخوا په پرتله نوموړې سطحه ډېره ټیټه شوې ده.

### د څېړنې موخې

**اصلي موخه**: د خوست ولایت په اورښتونو باندې د اقلیمي بدلون اغېزو څېړل.

### فرعي موخې

د اقلیمي بدلون پېژندل

په خوست ولایت کې د اورښتونو د اندازې معلومول.

**د څېړنې پوښتنې**

**اصلي پوښتنه:** د خوست ولایت په اورښتونو باندې اقلیمي بدلون څه اغېزې لري؟

**فرعي پوښتنې**

اقلیمي بدلون څه شی دی؟

ایا د خوست ولایت د اورښتونو په کچه کې تغییر لېدل کېږي؟

**د څېړنې فرضیې**

**اصلي فرضیه:** گومان کېږي، چې اقلیمې بدلون په خوست ولایت کې د وچکالی سبب شوی **دی.**

**فرعي فرضیې**


گومان کېږي، چې په خوست ولایت کې انساني کړنې د اقلیمي بدلون سبب شوې دي.

گومان کېږي، چې د تېرو کلونو په پرتله د خوست ولایت په اورښتونو کې کموالی راغلی دی.

**د څېړنې مېتود او تحلیل**

**الف- د موادو راټولولو مېتود:** دغه څېړنه د گډ مېتود څخه په گټه اخیستنې ترسره شوې ده، مهم مفاهیم یې له بېلا بېلو کتبي سرچینو او انټرنیټي سایټونو څخه تر لاسه شوي دي. یاده لیکنه د نتیجې له مخې کاریدونکې (کاربردی)، د ماهیت له مخې یوه کمي څېړنه ده، د معلوماتو راټولولو له مخې اندازه کېدونکې (پیمایشي) او د تحلیل له مخې موردي څېړنه گڼل کېږي.

**ب- د موادو د تحلیل مېتود:** د اورښت ډاټا چې له ( ۱۹۹۴ – ۲۰۲۳ م ) یعنې دېرش کلونو پورې د ناسا (NASA) رسمي سایټ څخه اخیستل شوې ده، د ایکسېل او جي آی اېس سافټویرونو په واسطه تحلیل او تجزیه شوه او د وچکالی د رامنځته کېدو او له منځه تللو اندازه یې د دهک فورمول له مخې ښودل شوې ده. د دهک (لسیز ) فورمول په لاندې ډول ښودل کېږي.




پورته شکل کې د څېړنې مودل لیدل کیږي.

د شکل گڼه (۱)

د دهک ( لسیز ) فورمول $Pi = \frac{i}{N} \times 100$


$Pi$= د وچکالی وضعیت

$i$= د دهک (لسیز ) شمېره

N = د ډاټا اندازه

**بنسټيز مفهومونه**

**خوست ولایت:** خوست ولایت د افغانستان په سویل ختیځ کې موقعیت لري، چې مرکز یې متون نومېږي. نوموړی ولایت د شمالي عرض البلد ۳۳،۲ – ۳۳،۷۳ درجو او د ختیځ طول البلد په ۶۹،۳۵ – ۷۰،۳۳ درجو کې پروت دی، مساحت یې (۴۲۳۵،۳ ) کیلومتره مربع او د بحر له سطحې څخه (۱۱۵۹) متره لوړوالی لري. د خوست ولایت شمال لوري ته د پکتیا ولایت، جنوب طرف ته د پښتونستان (د بنو او مېرانشاه حوزه ) ، ختیځ ته یې پاړه چنار ( کرم ایجنسي ) او لویدیځ لوري ته د پکتیا او پکتیکا ولایتونو سره ګډه پوله لري (انصاری، ۱۳۹۴ ل، ص. ۱۱۶۹).




Created by: Nazir Gul Sidiqi, 1403/ 6/ 20

**اقلیم:** په یوه ټاکلې سیمه کې د اوږدې مودې لپاره د هوا موجوده شرایطو ته اقلیم ویل کېږي(ګودرزی، ۱۳۹۹ ل، ص. ۱۱). په یوه سیمه کې د اوږدې مودې (۳۰ – ۵۰ ) کلونو کې د یوې سیمې د هوا منځنۍ کچې ته اقلیم ویل کېږي(بې نام، ۲۰۱٦، ۱). اقلیم د یوې سیمې د ټولو جوي پېښو منځنۍ حد دی، چې په یو ټاکلي وخت او ځای کې بېلا بېلې ځانګړتیاووې غوره کوي .

https://dawatmedia24.com/?p=138050

د ځمکې په یوه ځانګړې نقطه کې د هوا شرایطو منځنۍ حد د اقلیم څخه عبارت دی. په عمومي ډول اقلیم د تودوخې، اورښت او باد د اټکل شویو ځانګړنو له مخې ټاکل کېږي (Chris Riedy,1) . اقلیم د ژوندیو موجوداتو د ورځني ژوند تجربوي برخه ده، چې د روغتیا، خوړو، تولید او هوساینې لپاره خورا اړین دی(A.P.M. Baede.87).

**اقلیمي بدلون:** د یوې سیمې ټولو جوي پېښو په منځنیو حدودو کې تغییر ته اقلیمي بدلون ویل کېږي. د بېلګې په ډول د تودوخې درجې لوړېدل یا ټیټېدل ښودلای شو. همدارنګه د اقلیمي بدلون څخه موخه یوازې د تودوخې درجې لوړېدل یا ښکته کېدل نه دي، بلکې د دې له امله قوي طوفانونو او سېلابونو رامنځته کېدل، په شدیدو اورښتونو کې زیاتوالی رامنځته کېدل او یا د وچکالۍ موده د عادي حالت څخه اوږدېدل ښودلای شو، چې له امله یې انساني، حیواني او نباتي چاپېریال ته ضرر رسېږي(محمودی میمند و منصوره مظاهری، ۱۳۹۳ ل، ص. ۲۳). د پورته بدلونونو له امله انساني، حیواني او نباتي چاپېریال ته ډېر ضرر رسېږي. د اورښتونو په شکل کې تغییر ،لکه د واورې پر ځای د باران کېدل د اقلیمي بدلون له نښو څخه شمېرل کېږي. په حقیقت کې د اقلیمي بدلون له امله په یو سیمه کې آب و هوا ګرمه، معتدله، یخه، وچه او مرطوب حالت غوره کوي ( ګودرزی، ۱۳۹۹ ل، ص. ۱۲). اقلیمي بدلون یو له هغو ننګونو څخه دی، چې له امله یې نړۍ په اوبیزو سرچینو باندې رقابت کوي. همدارنګه ویلی شو، چې نوموړی بدلون هغه پدیده ده، چې په راتلونکي کې نړۍ له خورا سترو ننګونو سره مخ کوي( خسروی، محمود و همکاران، ۲۰۱۰ م، ص. ۱). د اقلیم بدلون او د ځمکې ګرمېدنه یوه نړېواله موضوع ده، چې له خورا مهمو بحثونو څخه شمېرل کېږي. بېلا بېل عوامل د دې سبب شوي دي، چې یاده موضوع یې رامنځته کړېده ( عساکره، حسین، لیلا حسینجانی، ۱۳۹۶ ل، ص. ۳۱). ځینې هغه عوامل چې د اقلیمي بدلون سبب شوي دي، عبارت دي له: ( د ځمکپوهنې په دوران کې اقلیمي بدلونونه، په چاپېریال باندې د نوساني بدلونونه اغېزې، په نړۍ کې د اقلیمي بدلون لاملونه، په ۲۱ پېړۍ کې د انرژۍ اړتیا او د اقلیمي بدلون لرلید، د تودوخې ډېروالی او د ګلخانه یي ګازونو بحراني کېدل ( بیرجندی، وحید و همکاران، ۲۰۱۶ م).

**اورښت:** د سمندرونو، ځمکې او نباتاتو تبخیر شوې اوبه چې له اتموسفېر څخه په جامد، مایع او یا نیمه جامد شکل په ځمکه و ورېږي اورښت بلل کېږي. تبخیر شوې اوبه په اتموسفېر کې د ټکر یا د هوا د سوړوالي له امله د یخ په کرسټالونو بدلېږي، چې د هرې قطرې اندازه ۵ ملی مترو ته ورسېږي، د ځمکې د جاذبې قوې په مرسته بېرته ځمکې ته راځي. همدارنګه د اوبو دوران چې د هایدرو سایکل په نوم یادېږي، په طبعیت کې د اوبو ګردش څخه عبارت دی. نوموړی دوران په درېیو بېلا بېلو کرو ( هایدرو سفېر، اتموسفېر او لیتو سفېر ) کې رامنځته کېږي. د ذکر شوي دوران مجموعوي ضخامت ۱۶ کېلو متره دی، چې ۱۵ کیلومتره په اتموسفېر او پاتې یو کیلومتر یې په ځمکه ( لېتو سفېر ) کې شتون لري. باید یادونه وکړو چې نوموړی دوران ابتدا او انتها نه لري( علیزاده، ۱۳۸۷ ل، ص. ۲۰). خوست ولایت ته د کال په بېلا بېلو فصلونو کې د ورېځو څپې را دننه کېږي، د بېلګې په ډول مونسوني څپې د اوړي په

موسم کې راځي، چې د اورښت سبب کېږي(عارض،۱۳۸۱ ل، ص. ۵۹). سايبريايي سړې څپې چې د اقليم په ځرنګوالي کې مهم رول لوبوي، له همدې امله د ژمي په موسم کې د دغه سړو څپو څخه د خوست ولايت تر تاثير لاندې راځي (عارض، ۲۰۱۲ م، ص. ۱۳۱). لکه چې مخکې ور څخه يادونه وشوه، خوست ولايت ته راغلې څپې د ژمي په موسم کې د نوموړي ولايت په ځينو برخو کې د واورو د اورښت لامل کېږي( تنيوال، ۱۳۹۱ ل، ص. ۸۸).

**وچکالي:** د طبيعي پېښو له جملې څخه ده، کله چې د يوې سيمې په اورښت کې د تېر څخه کموالی راشي وچکالي بلل کېږي(خشنود، ۱۴۰۲ ل، ص. ۲۸). په يوه سيمه کې د تېرو اورښتونو په پرتله لږ اورښت ته وچکالي ويل کېږي. وچکالي د اقليم يو نورمال خصوصيت دی، چې په ټولو سيمو کې پېښېږي، خو ځانګړنې او اغيزې يې يوې سيمې څخه بلې سيمې ته توپير لري(نظری پور، ۱۴۰۱ ل، ص. ۲۳۴). په يوه سيمه کې د اوبو د زېرمو او موسمي اورښتونو د اوږدمهالي کمښت ته وچکالي ويل کېږي، په داسې حال کې چې نوموړی کمښت له مياشتو څخه تر کلونو پورې غځېدلی وي. معمولاً دا حالت هغه وخت پېښېږي، چې د اوبو اتموسفيري بړاسونه په پرله پسې توګه تر منځنۍ کچې لږ وي.

https://ps.wikipedia.org/wiki/%D9%88%DA%86%DA%A9%D8%A7%D9%84%D9%8A

په يوه ټاکلې سيمه کې د نورمال حالت څخه په يوه فصل يا زياته موده کې کم اورښت ته وچکالي ويل کېږي. معمولاً وچکالي د دېرشو کلونو په بنياد ټاکل کېږي.

https://andma.gov.af/dr/%D8%AE%D8%B4%DA%A9%D8%B3%D8%A7%D9%84%DB%8C

د اقليم پوهنې عالمانو وچکالي په څو بېلا بېلو کټګوريو وېشلې ده، چې عبارت دي له:

الف – د مېتيورولوژيکې وچکالي: په اوږده موده کې د لږو اورښتونو کېدو ته مېتيورولوژيکي وچکالي ويل کېږي.

ب- هايدرولوژيکي وچکالي: د سيندونو، چينو، د اوبو بندونو او تر ځمکې لاندې اوبو د سطحې ټيټېدو ته هايدرولوژيکي وچکالي ويل کېږي.

ج- کرنيزه وچکالي: په ځمکه کې د نم کمښت، پر بوټو او کرنيزو محصولاتو باندې يې اغېزې کولو ته زراعتي وچکالي ويل کېږي.

د- اقتصادي وچکالي: کله چې عرضه کېدونکي او پېرلې اوبه تر اغېزې لاندې راشي؛ نو دا ډول وچکالۍ ته اقتصادي وچکالي ويل کېږي. د وچکالۍ تر اعلانېدو وړاندې څېړونکي د ځمکې وضعيت، په خاورو کې د نم کچه ارزوي، کله چې د يادې اروزنې څخه تر لاسه شوې شمېرې د مخکنيو ثبت شويو شمېرو څخه کم وي، نو دا پر دې دلالت کوي، چې وچکالي پېل شوې ده او کله چې ياد رامنځته شوی توپير

له منځه لاړ شي، نو ويل کېږي، چې وچکالي پای ته رسيدلې ده. https://www.dw.com/ps/what-causes-drough/a-62955703

**موندنې**

**خوست ولایت کې د اورښت کچه**

| د جدول ګڼه (۱) | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د اورښت کلونه | جنوري | فبروري | مارچ | اپریل | می | جون | جولای | اګست | سپتمبر | اکتوبر | نومبر | دسمبر | کلنی اورښت |
| 1997 | 7.04 | 5.21 | 24.76 | 47.68 | 2.09 | 8.16 | 14.32 | 2.37 | 0.04 | 33.12 | 15.32 | 6.04 | **166.15** |
| 1999 | 35.3 | 23.45 | 26.62 | 0.49 | 1.22 | 4.2 | 9.3 | 4.33 | 4.96 | 0.08 | 5.76 | 0.14 | **115.85** |
| 2000 | 22.7 | 16.75 | 2.65 | 0.63 | 17.93 | 3.85 | 24.54 | 35.53 | 50.83 | 4.06 | 0.86 | 11.89 | **192.22** |
| 2001 | 0.12 | 2.53 | 10.48 | 44.2 | 5.29 | 38.72 | 49.75 | 7.18 | 28.83 | 2.51 | 11.76 | 0.41 | **201.78** |
| 2003 | 7.97 | 29.33 | 21.48 | 18.17 | 7.87 | 4.51 | 25.16 | 22.81 | 53.44 | 3.24 | 6.26 | 2.34 | **202.58** |
| **ټولټال اورښت** | 73.13 | 77.27 | **85.99** | **111.17** | **34.4** | **59.44** | **123.07** | **72.22** | **138.1** | **43.01** | **39.96** | **20.82** | **878.58** |

www.nasa.rainfalldata.com

په (۱) ګڼه جدول کې د پنځو بېلا بېلو کلونو اورښت د میاشتو په توپیر په ملي متر لېدل کېږي. نوموړي جدول کې لېدل کېږي، چې تر ټول کم اورښت په ۱۹۹۹ مېلادي کال کې شوی دی، چې د کلني اورښت کچه یې ۱۱۵،۸۵ ملي متره ښودل شوی دی. باید ووایو چې تر ټولو کم اورښت د همدې کال په اکتوبر میاشت کې وریدلی دی، چې د میاشتني اورښت کچه یې ۰،۰۸ ملي متره ده. د دهک فورمول له مخې نوموړي رقمونه په خوست ولایت کې ډېره شدیده وچکالي په ګوته کوي. همدارنګه که په پورته جدول کې د پنځو کلونو موده کې د میاشتو په توپیر اورښت محاسبه کړو، لېدل کېږي، چې تر ټول کم اورښت دسمبر میاشتو کې شوی دی، چې د پنځو کلونو مجموعوي اورښت کچه یې ۲۰،۸۲ دی. نوموړی رقم په یادو کلونو کې د دهک فورمول له مخې په خوست ولایت کې د دسمبر میاشت کې وچکالي راښیي. پورتني جدول کې د کلونو په تفکیک سره تر ټولو زیات اورښت په ۲۰۰۳ میلادي کال کې چې د اورښت کچه یې ۲۰۲،۵۸ ملي متره ده او د میاشتو په تفکیک تر ټولو زیات اورښت چې ۵۳،۴۴ ملي متره ښودل شوی،د همدې کال په سپتمبر میاشت کې وریدلی دی. نوموړي رقمونه د دهک فورمول له مخې په خوست ولایت کې د اورښت یو څه نورمال حالت ښیي. د جدول په پنځو کلونو کې د میاشتو په تفکیک

تر ټولو زیات اورښت په سپټمبر میاشت کې ۱۳۸،۱ ملي متره وریدلی دی. په ټوله کې که د پنځو کلونو اورښت ته نظر وکړو، لېدل کېږي، چې ټولټال ۸۷۸،۵۸ ملي متره اورښت شوی دی. دغه رقمونه په ګوته کوي، چې موجوده کلونو کې خوست ولایت د شدیدې وچکالۍ شاهد دی.

| د جدول ګڼه (۲) | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د اورښت کلونه | جنوري | فيبروري | مارچ | اپریل | می | جون | جولای | اګست | سپتمبر | اکتوبر | نومبر | دسمبر | کلنی اورښت |
| 1994 | 6.1 | 27.86 | 33.29 | 72.12 | 13.08 | 5.83 | 24.06 | 18.38 | 21.88 | 25.34 | 0.33 | 16.79 | **265.06** |
| 1995 | 5.76 | 20.76 | 49.25 | 51.54 | 25.59 | 6.71 | 67.83 | 61.65 | 25.47 | 19.57 | 4.08 | 1.49 | **339.7** |
| 1998 | 12.9 | 21.92 | 7.58 | 11.23 | 14.42 | 49.99 | 39.44 | 32.15 | 3.24 | 5.16 | 1.92 | 3.31 | **203.26** |
| 2002 | 0.63 | 58.04 | 47.02 | 19.43 | 6.48 | 39.12 | 5.06 | 31.14 | 9.74 | 10.58 | 13.26 | 14.73 | **255.23** |
| 2004 | 24.08 | 19.22 | 0.01 | 9.24 | 3.47 | 10.78 | 23.44 | 96.78 | 23.25 | 4.19 | 5.51 | 2.04 | **222.01** |
| **ټولټال اورښت** | **49.47** | **147.8** | **137.15** | **163.56** | **63.04** | **112.43** | **159.83** | **240.1** | **83.58** | **64.84** | **25.1** | **38.36** | **1285.26** |

www.nasa.rainfalldata.com

په دویمه ګڼه جدول کې لېدل کېږي، تر ټولو کم اورښت په ۱۹۹۸ کال کې وریدلی، چې کلنۍ اندازه یې ۲۰۳،۲۶ ملي متره کېږي. ذکر شوي کال کې تر ټولو کم اورښت په نومبر میاشت کې شوی دی، چې اندازه یې ۱،۹۲ ملي متره ده. د دهک فورمول له مخې په خوست ولایت کې یاد رقم په ذکر شوې میاشت کې شدیده وچکالي په ګوته کوي. تر ټولو زیات اورښت ۳۳۹،۷ ملي متره دی، چې په ۱۹۹۵ میلادي کال کې وریدلی دی. که د همدې کال اورښت ته د میاشتو په تفکیک نظر وکړو، لېدل کېږي، چې تر ټولو زیات اورښت په اګست میاشت کې ٦۱،٦۵ ملي متره ښودل شوی دی. د اورښت دغه رقمونه د دهک فورمول له مخې په خوست ولایت کې یو څه مرطوب حالت په ګوته کوي. همدارنګه پورته جدول کې د ټولو کلونو مجموعوي اورښت ۱۲۸۵،۲٦ ملي متره دی. که پورته جدول ته ځیر شو، په مجموعوي ډول د میاشتو په توپیر تر ټولو کم اورښت په نومبر میاشت کې چې اندازه یې ۲۵،۱ ملي متره ده، ورېدلی دی او تر ټولو زیات اورښت په اګست میاشت کې صورت نیولی دی، چې ۲۴۰،۱ ملي متره ښودل شوی دی. اوس که لومړی او دویم جدول یو له بل سره مقایسه کړو، لېدل کېږي، چې د لومړي جدول په پرتله په دویم جدول کې د اورښت اندازه لوړه ده، یعنې په لومړی جدول کې د پنځه کلونو مجموعوي اورښت ۸۷۸،۵۸ ملي متره ښودل شوی، خو په دویم جدول کې مجموعوي اورښت ۱۲۸۵،۲٦ ملي متره دی. د دواړو جدولونو مجموعوي اورښت تر منځ ۴۰٦،٦۸ ملي متره توپیر لېدل کېږي، چې یاد توپیر د لومړي جدول په پرتله په دویم جدول کې زیاتوالی ښیي.

| د جدول ګڼه (۳) | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د اورښت کلونه | جنوري | فیبروري | مارچ | اپریل | می | جون | جولای | اګست | سپتمبر | اکتوبر | نومبر | دسمبر | کلنی اورښت |
| 1996 | 14.75 | 29.87 | 29.5 | 51.54 | 7.65 | 14.29 | 33.85 | 86.79 | 15.52 | 60.57 | 11.98 | 0.44 | 356.75 |
| 2005 | 29.82 | 27.34 | 50.27 | 12.57 | 43.22 | 13.7 | 77.16 | 86.03 | 23.47 | 0.31 | 4.23 | 4.61 | 372.73 |
| 2006 | 26.23 | 32.09 | 55.52 | 16.83 | 20.87 | 29.67 | 38.51 | 62.78 | 16.96 | 10.49 | 44.37 | 58.88 | 413.2 |
| 2007 | 8.89 | 107.62 | 102.67 | 5.14 | 12.69 | 35.63 | 86.97 | 43.98 | 27.55 | 0.01 | 4.25 | 5.72 | 441.12 |
| 2018 | 2.4 | 69.06 | 70.21 | 49.89 | 67.62 | 26.66 | 40.25 | 35.23 | 29.16 | 11.07 | 6.9 | 15.19 | 423.64 |
| ټولټال اورښت | 82.09 | 265.98 | 308.17 | 135.97 | 152.05 | 119.95 | 276.74 | 314.81 | 112.66 | 82.45 | 71.73 | 84.84 | 2007.44 |

www.nasa.rainfalldata.com

په دریمه ګڼه جدول کې لېدل کېږي، چې تر ټولو کم اورښت په ۱۹۹٦ میلادي کال کې او ریدلی دی، چې د کلني اورښت کچه یې ۳۵٦،۷۵ ملي متره ده. د نوموړي کال تر ټولو کم اورښت په دسمبر میاشت کې شوی دی، چې د اورښت کچه یې ۰،۴۴ ملي متره ښودل شوې ده. تر لاسه شوي رقمونه د دهک فورمول له مخې خوست ولایت کې د دسمبر میاشت کې شدیده وچکالي راښیي. په ټولو کلونو کې د میاشتې په تفکیک سره په مجموعوي ډول تر ټولو کم اورښت په نومبر میاشت کې صورت نیولی دی، چې د اورښت مجموعوي اندازه یې ۷۱،۷۳ ملي متره ښودل شوې ده. د دې ترڅنګ په جدول کې لېدل کېږي، چې تر ټولو زیات اورښت ۴۴۱،۱۲ ملي متره، په ۲۰۰۷ میلادي کال کې وریدلی دی. د نوموړي کال تر ټولو باراني میاشت فېبروري ښودل شوېده، چې د اورښت اندازه یې ۱۰۲،٦۷ ملي متره ده. تر لاسه شوي رقمونه د دهک فورمول له مخې ډېر مرطوب حالت ښیي. ویلی شو، چې په مجموعوي ډول په پنځه کلونو کې ۲۰۰۷،۴۴ ملي متره اورښت شوی دی.

د پرتلنې په توګه ویلی شو، چې د لومړنی ګڼې جدول او دریمه ګڼې جدول تر منځ په اورښت کې زیات توپیر لېدل کېږي. نوموړی توپیر د دواړو جدولونو ترمنځ د ۱۱۲۸،۸٦ ښودل کېږي. همدارنګه موجوده جدول د دویمه ګڼه جدول سره مقایسه کړو لېدل کېږي، چې له

دویمه ګڼه جدول څخه په دریمه ګڼه جدول کې ۷۲۲،۱۸ ملي متره زیات اورښت صورت نیولی دی. دغه مقایسوي توپیرونه د تېرو کلونو د وچکالۍ کموالی په ګوته کوي.

| د جدول ګڼه (۴) | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د اورښت کلونه | جنوري | فیبروري | مارچ | اپرېل | می | جون | جولای | اګست | سپتمبر | اکتوبر | نومبر | دسمبر | کلنی اورښت |
| 2008 | 27.89 | 4.93 | 2.83 | 76.24 | 39.72 | 44.55 | 98.24 | 79.19 | 54.24 | 4.94 | 0.37 | 23.59 | **456.73** |
| 2009 | 60.41 | 60.52 | 80.39 | 76.44 | 40.08 | 24.69 | 57.28 | 37.95 | 46.63 | 25.16 | 5.41 | 11.66 | **526.62** |
| 2013 | 18.92 | 115.72 | 123.07 | 164.9 | 0.95 | 34.18 | 7.4 | 7.63 | 20.54 | 64.19 | 42.69 | 3.11 | **603.3** |
| 2017 | 103.26 | 62.02 | 41.79 | 56.93 | 51.05 | 23.89 | 75.8 | 58.21 | 8.94 | 1.31 | 14.23 | 9.13 | **506.56** |
| 2023 | 36.24 | 19.51 | 128.81 | 57.74 | 63.13 | 56.17 | 83.82 | 21.62 | 3.44 | 10.7 | 13.77 | 0.33 | **495.28** |
| **ټولټال اورښت** | **246.72** | **262.7** | **376.89** | **432.25** | **194.93** | **183.48** | **322.54** | **204.6** | **133.79** | **106.3** | **76.47** | **47.82** | **2588.49** |

www.nasa.rainfalldata.com

څلورمه ګڼه جدول کې لېدل کېږي، چې تر ټولو کم اورښت چې ۴۵٦،۷۳ ملي متره دی، په ۲۰۰۸ میلادي کال کې رامنځته شوی دی. د نوموړي کال هغه میآشت چې د لږ اورښت شاهده وه، د نومبر میاشت ده. یاده میاشت کې ۰،۳۷ ملي متره اورښت شوی دی. تر لاسه شوی رقم د نومبر میاشت په خوست ولایت کې د وچکالۍ شدید حالت راښيي. همدارنګه په پورته جدول کې لېدل کېږي، چې تر ټولو زیات اورښت په ۲۰۰۹ میلادي کال کې رامنځته شوی دی. د دې کال د کلني اورښت کچه ۵۲٦،٦۲ ملي متره ښودل کېږي. د نوموړي کال تر ټولو باراني میاشت مارچ ده، چې د اورښت کچه یې ۸۰،۳۹ ملي متره ده. د اورښت دغه موجوده رقم په خوست ولایت کې د دهک فورمول له مخې ډېر مرطوب حالت راښيي. پورته جدول کې د ټولو کلونو مجموعوي اورښت ۲۵۸۸،۴۹ ملي متره ده او د مجموعوي میاشتو په کچه تر ټولو زیات اورښت په اپریل میاشت کې صورت نیولی دی، چې د اورښت کچه یې ۴۳۲،۲۵ ملي متره ده. همدارنګه د ټولو میاشتو په مجموعوي ډول تر ټولو لږ اورښت په دسمبر میاشت کې شوی دی، چې د اورښت کچه یې ۴۷،۸۲ ملي متره ده. اوس که موجوده جدول د تېرو جدولونو سره پرتله کړو، ګورو، چې د اورښت په کچه کې د لومړی، دویم او درېیم ګڼه جدول په پرتله زیاتوالی راغلی دی.

| د جدول ګڼه (۵) | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د اورښت کلونه | جنوري | فیبروري | مارچ | اپرېل | می | جون | جولای | اګست | سپتمبر | اکتوبر | نومبر | دسمبر | کلنی اورښت |
| 2010 | 13.42 | 64.86 | 46.96 | 34.35 | 33.56 | 86.38 | 167.17 | 247.45 | 59.71 | 11.26 | 5.1 | 5.19 | **775.41** |
| 2011 | 10.64 | 76.99 | 32.75 | 82.54 | 64.53 | 24.62 | 82.4 | 135.52 | 110.89 | 48.51 | 50.67 | 0.04 | **720.1** |
| 2014 | 9.69 | 100.3 | 140.08 | 94.95 | 90.24 | 9.79 | 59.72 | 48.23 | 52.75 | 125.06 | 14.66 | 0 | **745.47** |
| 2019 | 62.76 | 50.63 | 87.92 | 88.53 | 111.71 | 19.69 | 73.46 | 58.52 | 5.24 | 49.93 | 55.5 | 15.31 | **679.2** |
| 2022 | 98.63 | 17.65 | 35.87 | 15.7 | 173.73 | 57.8 | 142.3 | 199.98 | 33.89 | 2.6 | 35.23 | 6.47 | **819.85** |
| **ټولټال اورښت** | **195.14** | **310.43** | **343.58** | **316.07** | **473.77** | **198.28** | **525.05** | **689.7** | **262.48** | **237.36** | **161.16** | **27.01** | **3740.03** |

www.nasa.rainfalldata.com

په (۵) گڼه جدول کې لېدل کېږي، چې تر ټولو لږ اورښت چې کچه يې ۶۷۹،۲ ملي متره ده، په ۲۰۱۹ میلادي کال کې رامنځته شوی دی. د دې کال تر ټولو لږ اورښت په سپتمبر میاشت کې رامنځته شوی دی، چې د اورښت کچه يې ۵،۲۴ ملي متره ده. تر لاسه شوی دغه رقم د دهک فورمول له مخې په خوست ولایت کې شدیده وچکالي په گوته کوي. پورته جدول کې لېدل کېږي، چې تر ټولو زیات اورښت په ۲۰۲۲ میلادي کال کې رامنځته شوی دی. په ذکر شوي کال کې د کلني اورښت کچه ۸۱۹،۸۵ ملي متره ښودل شوې ده، همدې کال په جریان کې تر ټولو زیات اورښت په اگست میاشت کې رامنځته شوی دی، چې د میاشتني اورښت کچه يې ۱۹۹،۹۸ ملي متره ښودل شوې ده. که نوموړی رقم د دهک فورل له مخې محاسبه کړو، نو په خوست ولایت کې فوق العاده مرطوب حالت را په گوته کوي. پورته جدول کې په مجموعوي ډول تر ټولو کم اورښت په دسمبر میاشت کې رامنځته شوی دی، چې د اورښت کچه يې ۲۷،۰۱ ملي متره کېږي. د یورته کلونو موده کې تر ټولو زیات اورښت په اگست میاشت کې وریدلی دی، چې د اورښت کچه يې په مجموعوي ډول ۶۸۹،۷ ملي متره ده. د پورته جدول له مخې د شته پنځه کلونو مجموعوي اورښت ۳۷۴۰،۰۳ ملي متره دی. که د اورښت موجوده کچه د تېرو اندازو سره پرتله کړو، نو د پام وړ زیاتوالی تر سترگو کېږي.

د جدول گڼه (۶)

| د اورښت کلونه | جنوري | فيبروري | مارچ | اپریل | می | جون | جولای | اگست | سپتمبر | اکتوبر | نومبر | دسمبر | کلنی اورښت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2012 | 42.56 | 89.53 | 59.92 | 179.16 | 51.18 | 22.36 | 91.99 | 160.53 | 96.72 | 26.79 | 16.51 | 36.78 | 874.03 |
| 2015 | 30.45 | 102.77 | 123.09 | 96.3 | 63.01 | 54.35 | 105.02 | 102.52 | 81.22 | 23.37 | 77.08 | 18.39 | 877.57 |
| 2016 | 48.04 | 12.24 | 95.37 | 159.65 | 120.41 | 187.81 | 157.61 | 99.17 | 41.34 | 6.59 | 0.11 | 1.69 | 930.03 |
| 2020 | 65.42 | 65.05 | 255.55 | 255.02 | 102.08 | 26.34 | 22.79 | 48.2 | 58.31 | 85.15 | 55.5 | 31.66 | 1071.07 |
| 2021 | 0.23 | 6.06 | 48.67 | 50.85 | 260.2 | 12.81 | 133.63 | 96.48 | 220.69 | 56.91 | 0.62 | 6.29 | 893.44 |
| ټولټال اورښت | 186.7 | 275.65 | 582.6 | 740.98 | 596.88 | 303.67 | 511.04 | 506.9 | 498.28 | 198.81 | 149.82 | 94.81 | 4646.14 |

www.nasa.rainfalldata.com

په (۶) گڼه جدول کې لېدل کېږي، تر ټولو لږ اورښت په ۲۰۱۲ میلادي کال کې وریدلی دی، چې د اورښت کلنی اندازه يې ۸۷۴،۰۳ ملي متره ده. د دې کال تر ټولو کم اورښت په نومبر میاشت کې وریدلی دی، چې د میاشتني اورښت کچه يې ۱۶،۵۱ ملي متره ده. د اورښت تر لاسه شوی رقم په نوموړې میاشت کې د دهک فورمول له مخې خوست ولایت کې همدغه یاده میاشت کې وچکالي په گوته کوي. د پورته پنځو کلونو موده کې تر ټولو زیات اورښت په ۲۰۲۰ میلادي کال کې شوی دی، چې د کلني

اورښت کچه یې ۱۰۷۱،۰۷ ملي متره دی. د همدې کال تر ټولو زیات اورښت په مارچ میاشت کې رامنځته شوی دی، چې د میاشتني اورښت کچه یې ۲۵۵،۵۵ ملي متره ده. تر لاسه شوی دغه رقم د دهک فورمول له مخې خوست ولایت کې فوق العاده مرطوب حالت ښیي. په جدول کې د ټولو کلونو مجموعوي اورښت ۴۶۴۶،۱۴ ملي متره دی. پورته موده کې په مجموعوي ډول تر ټولو زیات اورښت په اپریل میاشت کې رامنځته شوی دی، چې د اورښت کچه یې ۷۴۰،۹۸ ملي متره ښودل شوې ده. که چېرې د موجوده کلونو اورښت په تېرو جدولونو کې د شته کلونو اورښت سره پرتله کړو، دلته یې کچه په زیاته اندازه لوړه شوې ده، له دې څخه معلومېږي، چې د دېرشو کلونو په موده کې پورته کلونو کې د وچکالۍ څرک نه لیدل کیږي او فوق العاده مرطوب حالت په ګوته کوي.

د جدول ګڼه (۷)

| د اورښت کلونه | جنوري | فیبروري | مارچ | اپریل | می | جون | جولای | اګست | سپتمبر | اکتوبر | نومبر | دسمبر | کلنۍ اورښت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1994 | 6.1 | 27.86 | 33.29 | 72.12 | 13.08 | 5.83 | 24.06 | 18.38 | 21.88 | 25.34 | 0.33 | 16.79 | **265.06** |
| 1995 | 5.76 | 20.76 | 49.25 | 51.54 | 25.59 | 6.71 | 67.83 | 61.65 | 25.47 | 19.57 | 4.08 | 1.49 | **339.7** |
| 1996 | 14.75 | 29.87 | 29.5 | 51.54 | 7.65 | 14.29 | 33.85 | 86.79 | 15.52 | 60.57 | 11.98 | 0.44 | **356.75** |
| 1997 | 7.04 | 5.21 | 24.76 | 47.68 | 2.09 | 8.16 | 14.32 | 2.37 | 0.04 | 33.12 | 15.32 | 6.04 | **166.15** |
| 1998 | 12.9 | 21.92 | 7.58 | 11.23 | 14.42 | 49.99 | 39.44 | 32.15 | 3.24 | 5.16 | 1.92 | 3.31 | **203.26** |
| 1999 | 35.3 | 23.45 | 26.62 | 0.49 | 1.22 | 4.2 | 9.3 | 4.33 | 4.96 | 0.08 | 5.76 | 0.14 | **115.85** |
| 2000 | 22.7 | 16.75 | 2.65 | 0.63 | 17.93 | 3.85 | 24.54 | 35.53 | 50.83 | 4.06 | 0.86 | 11.89 | **192.22** |
| 2001 | 0.12 | 2.53 | 10.48 | 44.2 | 5.29 | 38.72 | 49.75 | 7.18 | 28.83 | 2.51 | 11.76 | 0.41 | **201.78** |
| 2002 | 0.63 | 58.04 | 47.02 | 19.43 | 6.48 | 39.12 | 5.06 | 31.14 | 9.74 | 10.58 | 13.26 | 14.73 | **255.23** |
| 2003 | 7.97 | 29.33 | 21.48 | 18.17 | 7.87 | 4.51 | 25.16 | 22.81 | 53.44 | 3.24 | 6.26 | 2.34 | **202.58** |
| 2004 | 24.08 | 19.22 | 0.01 | 9.24 | 3.47 | 10.78 | 23.44 | 96.78 | 23.25 | 4.19 | 5.51 | 2.04 | **222.01** |
| 2005 | 29.82 | 27.34 | 50.27 | 12.57 | 43.22 | 13.7 | 77.16 | 86.03 | 23.47 | 0.31 | 4.23 | 4.61 | **372.73** |
| 2006 | 26.23 | 32.09 | 55.52 | 16.83 | 20.87 | 29.67 | 38.51 | 62.78 | 16.96 | 10.49 | 44.37 | 58.88 | **413.2** |
| 2007 | 8.89 | 107.62 | 102.67 | 5.14 | 12.69 | 35.63 | 86.97 | 43.98 | 27.55 | 0.01 | 4.25 | 5.72 | **441.12** |
| 2008 | 27.89 | 4.93 | 2.83 | 76.24 | 39.72 | 44.55 | 98.24 | 79.19 | 54.24 | 4.94 | 0.37 | 23.59 | **456.73** |
| 2009 | 60.41 | 60.52 | 80.39 | 76.44 | 40.08 | 24.69 | 57.28 | 37.95 | 46.63 | 25.16 | 5.41 | 11.66 | **526.62** |
| 2010 | 13.42 | 64.86 | 46.96 | 34.35 | 33.56 | 86.38 | 167.17 | 247.45 | 59.71 | 11.26 | 5.1 | 5.19 | **775.41** |
| 2011 | 10.64 | 76.99 | 32.75 | 82.54 | 64.53 | 24.62 | 82.4 | 135.52 | 110.89 | 48.51 | 50.67 | 0.04 | **720.1** |
| 2012 | 42.56 | 89.53 | 59.92 | 179.16 | 51.18 | 22.36 | 91.99 | 160.53 | 96.72 | 26.79 | 16.51 | 36.78 | **874.03** |
| 2013 | 18.92 | 115.72 | 123.07 | 164.9 | 0.95 | 34.18 | 7.4 | 7.63 | 20.54 | 64.19 | 42.69 | 3.11 | **603.3** |
| 2014 | 9.69 | 100.3 | 140.08 | 94.95 | 90.24 | 9.79 | 59.72 | 48.23 | 52.75 | 125.06 | 14.66 | 0 | **745.47** |
| 2015 | 30.45 | 102.77 | 123.09 | 96.3 | 63.01 | 54.35 | 105.02 | 102.52 | 81.22 | 23.37 | 77.08 | 18.39 | **877.57** |
| 2016 | 48.04 | 12.24 | 95.37 | 159.65 | 120.41 | 187.81 | 157.61 | 99.17 | 41.34 | 6.59 | 0.11 | 1.69 | **930.03** |
| 2017 | 103.26 | 62.02 | 41.79 | 56.93 | 51.05 | 23.89 | 75.8 | 58.21 | 8.94 | 1.31 | 14.23 | 9.13 | **506.56** |
| 2018 | 2.4 | 69.06 | 70.21 | 49.89 | 67.62 | 26.66 | 40.25 | 35.23 | 29.16 | 11.07 | 6.9 | 15.19 | **423.64** |
| 2019 | 62.76 | 50.63 | 87.92 | 88.53 | 111.71 | 19.69 | 73.46 | 58.52 | 5.24 | 49.93 | 55.5 | 15.31 | **679.2** |
| 2020 | 65.42 | 65.05 | 255.55 | 255.02 | 102.08 | 26.34 | 22.79 | 48.2 | 58.31 | 85.15 | 55.5 | 31.66 | **1071.07** |
| 2021 | 0.23 | 6.06 | 48.67 | 50.85 | 260.2 | 12.81 | 133.63 | 96.48 | 220.69 | 56.91 | 0.62 | 6.29 | **893.44** |
| 2022 | 98.63 | 17.65 | 35.87 | 15.7 | 173.73 | 57.8 | 142.3 | 199.98 | 33.89 | 2.6 | 35.23 | 6.47 | **819.85** |
| 2023 | 36.24 | 19.51 | 128.81 | 57.74 | 63.13 | 56.17 | 83.82 | 21.62 | 3.44 | 10.7 | 13.77 | 0.33 | **495.28** |

www.nasa.rainfalldata.com

په (۷) ګڼه جدول کې د خوست ولایت اورښت د دېرشو کلونو په موده کې د کلونو او میاشتو په تفکیک لیدل کیږي، چې په تفصیل سره مخکې تشریح شوي دي.

## پایله

د اقلیمي بدلونو لاملونه ډېر دي؛ خو د کارخونو، کورونو او نقلیه وسایلو او نورو مواردو لپاره د نفتو، ګازو او ډبرو سکرو څخه استفادې د یادونې وړ دي. د اقلیمي برخې متخصصین په دې نظر دي، که غواړو د اقلیمي بدلونونو د بدو پایلو مخه ونیسو نو د ځمکې کرې د حرارات درجې د لوړېدو بهیر دې سست شي. که د تودوخې درجه همداسې په تېزۍ سره لوړه شي، طبیعي یخچالونه به ویلي شي او د سیندونو د اوبو د سطحې لوړېدو له امله به د میلیونونو کسانو کورونه تخریب شي. دا څېړنه د خوست ولایت د اوربښت کچه د دېرشو کلونو په موده کې راښیي، چې د اوربښت کچه یې په ځینو کلونو کې لوړه او ټیټه وچکالي په ګوته کوي. خوست ولایت کې ۱۹۹۷، ۱۹۹۹، ۲۰۰۰، ۲۰۰۱ او ۲۰۰۳ هغه کلونه دي، چې د کلني اوربښت کچه یې له ۱۱۵،۸۵ څخه تر ۲۰۲،۵۸ ملي مترو پورې رسیږي. همدارنګه په یاد ولایت کې ۲۰۰۷، ۲۰۱۸، ۲۰۰۹، ۲۰۱۳ او ۲۰۱۷ هغه کلونه دي، چې د اوربښت کچه یې ۴۲۳،۶۴ څخه تر ۵۲٦،٦۲ پورې رسیدلې ده. د دې تر څنګ ۲۰۱۲، ۲۰۱۵، ۲۰۱٦، ۲۰۲۰ او ۲۰۲۱ هغه کلونه دي، چې د اوربښت کچه یې تر نورو ټولو کلونو لوړه یعنې د ۸۷۴،۰۳ څخه تر ۱۰۷۱،۰۷ ملي مترو پورې رسیږي. همدارنګه موجوده څېړنه په ګوته کوي، چې د ۲۰۱۴ میلادي کال دسمبر میاشت کې هیڅ اوربښت شتون نه لري، خو د ۲۰۲۰ میلادي کال مارچ میاشت د زیات اوربښت شاهده وه.

## سرچینې


القران الکریم.

انصاري، سلطان محمد. (۱۳۹۴ ). جغرافیه عمومي ولایت افغانستان. کابل: انتشارات بین المللی سرور سعادت.

بیرجندی، وحید و همکاران.(۲۰۱٦). بررسی تغییرات اقلیمي و عوامل مؤثر بر آن. ترکیه-استنبول: دومین کنفرانس بین المللی، پوهنتون در علوم و تکنولوژي.

تڼیوال، محمد ظریف.(۱۳۹۱) د افغانستان عمومي جغرافیه.جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.

خسروی، محمود و همکاران. (۲۰۱۰). تغییر اقلیم و تاثیر آن بر منابع آب خاور میانه. ایران: زاهدان، چهارمین کنگره بین المللی جغرافیدانان جهان اسلام.

خشنود، همایون.(۱۴۰۲). خشکسالی میتیورولوژیکي، هایدرولوژیکي و پیامدهای ناشی از آنها در حوزه دریایی شمال. اوبه او انرژي مجله، دولسم کال، څلورویشتمه ګڼه، دریمه ربع.

رحمتي، عنايت الله.( بې تا ). چگونه می توان با تغییرات اقلیمي کنار آمد؟ ( سازگاری با تغییرات اقلیمي). اداره ملی حفاضت محیط زیست.

عارض، غلام جيلاني.(۲۰۱۲). جغرافیای طبیعی، افغانستان. بنگاه انتشارات میوند ( بام ).

عارض،غلام جيلاني.(۱۳۸۱). د افغانستان اقلیم او د ژوند چاپېریال. د اریک گرځنده کتابتونونو اداره.

عساکره، حسین، لیلا حسینجانی.(۱۳۹۶). ایستگاه سینو پتیک بندرانزلی تحلیل روند تغییرات دما. رشد آموزش جغرافیا/ دوره سی و دوم، شماره ۲، زمستان.

علیزاده، آمین.(۱۳۸۷).اصول هایدرولوجي کاربردی. مشهد: دانشگاه فردوسی مشهد.

گودرزی، مصطفی.(۱۳۹۹). آشنایی با تغییر اقلیم و تاثیرات آن بر مصرف آب در کشاورزی.ایران: نشر آموزش کشاورزی.

محمودی میمند، معصومه. منصوره مظاهری.(۱۳۹۳). تغییرات اقلیمی و ایمنی غذایی. مجله ایمنی زیستی، دوره ۷، شماره ۲، زمستان.

نظری پور، حمید، محسن حمیدیان پور و همکاران.(۱۴۰۱). تغییرپذیری فراوانی و شدت خشکسالی در ایران با استفاده از شاخص استاندارد شده بارش – تبخیر تعرق. سال بیست و ششم، شماره چهارم، زمستان. ایران: نشریه علوم آب و خاک.

هدف، روح الله. ( بې تا). اقلیمي توافق ( څنگه کولای شو د اقلیمي بدلون سره توافق وکړ؟). اداره ملی حفاضت محیط زیست.

Climate Change 101: Climate Science basics, (2016), public health institute/ Center for climate change and health. www.climatescience.org

Chris Riedy. (2013) Climate Change. Institute for Sustainable Futures, University of Technology Sydney
Email: criedy@uts.edu.au.

A.P.M. Baede. (2018). the Climate System: an Overview, Intergovernmental Panel on Climate Change (IPCC).

# په خوست ولایت کې د لوړ ولور اغېزو څېړل

* پوهنیار امیر محمد صابر، پوهنمل قدرت الله صدیقي، نامزد پوهنیار حفیظ الله باختر، شیخ زاید پوهنتون، ټولنیزو علومو پوهنځی، د ټولنپوهنې او فلسفې څانګه.
برېښنالیک: amirmsabir@gmail.com

**لنډیز**

د افغانستان په څېر د درېیمې نړۍ په هېوادونو کې واده د ښځو لپاره د فزیکي او روحي کړاوونو سرچینه ده. ښځې پلورل کېږي د شخړو د حل لپاره کارول کېږي او د واده په نوم ورسره غیر انساني سلوک کېږي. د تاریخ په اوږدو کې ولور نه یوازې په افغانستان کې؛ بلکې د نړۍ او د سیمې هېوادونو په سطحه په مختلفو بڼو شتون لري، چې له بده مرغه کړنه په خوست ولایت کې هم شتون لري. دغه ناوړه کلتور او د اسلام خلاف رسمونه او دودونه زموږ په ټولنه کې د ځوانانو لپاره د ډېرو ټولنیزو ستونزو لامل ګرځي، چې ځانه سره د زرګونو نورو ټولنیزو ناخوالو او ستونزو سبب هم ګرځېدلي دي. په لوړه کچه ولور اخیستل په ټوله پښتنه ټولنه کې دود او رواج نه؛ بلکې یوه ناوړه پدیده ده، چې له بده مرغه خوست ترې هم خالي نه دی او له ځانه سره ډېرې بدې پایلې لري. د څېړنې د موندنو څخه دا څرګنده شوه، چې خوست ولایت کې لوړ ولور د ځوانانو لپاره یوه ستره او جدي ستونزه ده، چې یاده ستونزه نورې ستونزې هم زېږوي لکه: په کورني تاوتریخوالي کې زیاتوالی، دښمني، د ښځو انساني کرامت نه منل، تېښته، مسافري، اخلاقي فساد، د طلاق زیاتوالی له لارې د واده په ثبات اغېز کوي او د ځوانانو په راتلونکي او د ټولنیز ژوند هر اړخیزې منفي اغېزې لري. د څېړنې پایلې ښایي، چې د ولور لوړه بیه په کورني ژوند او د واده په ثبات منفي اغېزه لري. د دې څېړنې هدف دا و، چې په خوست ولایت کې د یادې ستونزې څخه په رسمي او غیر رسمي توګه مخنیوي وشي؛ ترڅو ځوانان مو د بدبختیو څخه وژغورل شي. له همدې امله، دا څېړنه د لوړ ولور دودونو د سمون اړتیا په ګوته کوي؛ ترڅو د افغان مېرمنو لپاره اساسي ازدواجي حقونه یقیني کړي. د لوړ ولور د مخنیوي په لارو چارو کې والدین، دولت (امر باالمعروف و نهي المنکر ریاست)، د ټولنې دیني او خیریه بنسټونه، رسنۍ او د ټولنې نخبه وګړي مهم رول ادا کولای شي. په دې څېړنه کې د ډاټا راټولولو لپاره له پوښتنپاڼې څخه استفاده شوې وه.

**کلیدي ټکي:** اقتصادي ستونزې، ټولنیزې ستونزې، خوست، ځوانان، لوړ ولور

**سریزه**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ **! الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين وعلى اله واصحابه اجمعين.**

**أَمَّا بَعْدُ:**

**وَآتُواْ النَّسَاء صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَة** (او د ښځو مهر په ښه زړه (فرض گڼلو ) ورکړئ.

که ښځه خپل خاوند ته په خپله خوښه مهر ور وبخښي؛ نو معاف دی قوله تعالی: **فَإِن طِبْنَ لَكُمْ عَن شَيْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ هَنِيئًا مَّرِيئًا** (النسآء ۴ ) البته که هغوی په خپل زړه تاسې ته څه بخشش کړي؛ نو تاسې هغه په خوند سره خوړلی شئ.

**قال النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : (خير النكاح أيسره) رواه ابن حبان ، صحيح الجامع (۳۳۰۰) .**

**وقال صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : ( خير الصداق أيسره ) رواه الحاكم والبيهقي و صحيح الجامع (۳۲۷۹)**

یعنی غوره نکاح او غوره مهر هغه دی، چې په هغه کې آساني وي.

د مهر او ولور په منځ کې دا فرق دی، چې مهر صرف د مېړه د طرفه ښځې ته ورکول کېږي. کله چې مهر وټاکل شو؛ نو مېړه مجبور دی، چې د دې ایت مطابق (**وَآتُواْ النَّسَاء صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَة**) خپله غاړه خلاصه کړي.

د ولور په برخه کې افغاني ټولنه د یو لړ بدو دودونو ښکار ده او ورځ تربلې د یادې بدې پدیدې اغېز مخ په زیاتیدو دی، که مخه یې ونه نیول شي، راتلونکې ټولنې د اخلاقي او اقتصادي وضعیت له مخې له زیان سره مخ کېږي، چې په دې لړ کې یو هم د خوست ولایت دی، چې په دې څېړنیزه مقاله کې به د لوړ ولور اغېزې وڅېړل شي.

د هېواد په جنوب ختیځ زون کې د خوست ولایت یو له هغه سیمو څخه دی، چې ځوانان یې د لوړ ولور د رایج کلتور له مخې زوریږي، په دې ساحوي څېړنیزه مقاله کې د ۳۵۰ په شمېر لوستو ځوانانو سره پوښتنپاڼې شریکې شوې او بیا د هغوي ځوابونه تحلیل شوي دي.

د څېړنې پایله په گوته کوي، چې د لوړ ولور دود په خوست ولایت کې ډیرې ناخوالې راپیدا کړي دي او له مخې یې ځوانان ځوریږي؛ خو د حل لپاره به یې هغه لارې پیدا شي، چې د ټولنې با نفوذه قشر په یو اتفاق او پیاوړي عزم د خپلو امکاناتو څخه په استفاده لاس په کار شي او بل دا چې د خپل ځان څخه یې پیل وکړي او د لوړ ولور کلتور ته د پای ټکی کېږدي.

بل (ولور) دی، چې دا یو کلتوري دود دی، چې د نجلۍ د پلار له طرفه د هلک د کورنۍ څخه اخیستل کېږي، په دې کې د نجلۍ د پلار خوښه ده، چې څرنگه یې مصرفوي.

ولور اخیستل د تاریخ په اوږدو کې نه یوازې په افغانستان؛ بلکې د نړۍ او د سیمې هېوادونو په سطحه هم په مختلفو بڼو شتون لري. ولور د خور یا لور د واده په بدل کې د اخښي یا زوم له کورنۍ څخه د

پېسو د اخیستلو دود ته ویل کېږي. دا دود په پښتنو کې له ډېرې زړې زمانې څخه شتون لري. پخوا به د هرې سیمې د ولور بیه معلومه وه؛ خو اوس مهال ډېرى خلک سیمه ییز نرخ په پام کې نه نیسي؛ بلکې د ناوې او زوم کورنۍ په خپله خوښه د ولور بیه ټاکي، چې دا بیه په بېلا بېلو سیمو او قبیلو کې مختلفه وي. د لور او خور په سر د پلار او ورور لپاره ولور اخیستل د روپو لاسته راوړلو سرچینه ده؛ خو برعکس دا کړنه د زوم کورنۍ لپاره د ستونزو پیل دى. په لوړه کچه د ولور اخیستل په افغاني ټولنه کې دود او رواج نه؛ بلکې یوه ناوړه پدیده ده، چې ډېرې بدې پایلې لري. دغه ناوړه او د اسلامي لارښوونو خلاف رسمونه او دودونه زموږ په ټولنه کې د ډېرو ناخوالو لامل کېږي، چې له ځان سره د زرګونو نورو ټولنیزو کړکېچونو او ستونزو سبب هم ګرځېدلي، چې د لوړ ولور ستونزه د افغانستان ډېری سیمو کې شتون لري؛ خو په جنوبي او جنوب لویدیځو سیمو او ولایتونو کې د نورو په نسبت ډېره ده. د دې سیمو او ولایتونو ډېرى ځوانان د لوړ ولور د پوره کولو لپاره د نورو هېوادونو لکه: ایران، دوبۍ، سعودي عرب، کویت او داسې نورو هېوادونه ته د کار په موخه ځي او د کلونو کلونو مسافرۍ وروسته محضې په دې توانیږي، چې د لوړ ولور روپۍ پوره کړي. زموږ په ټولنه کې د ځینو ډېرو بدو دودونو او رواجونو څخه یو هم پر انجونو د لوړ ولور اخیستل دي، چې د دې ناوړه پدیدې له لاسه په ټولنه کې د ځوانانو او پیغلو پر ژوند بدې اغېزې کړې دي. د دې ناوړه پدیدې له امله ډېرې انجونې د پلار په کور زړې شوې او ډېرى ځوانانو د ولور د پوره کولو له پاره په پردیو هېوادونو کې ځوانۍ وخوړې. ډېرې پېغلې له کوژدې وروسته تر څلورو-پنځو حتا ډېرو کلونو پورې د پلار په کور ناستې وي. د لوړ ولور اخیستلو په معامله کې نجلۍ او هلک یو هم راضي نه وي. لوړ یا جګ ولور د ځوانانو ناوړه عملونو او کړنو ته لاره هواروي، د دې ناوړه دود او رواج د پوره کولو لپاره ځوانان غلا، ډاکه، رشوت، قتل، لوټ کول او یا هم په نشو روږدي کېږي.

د اسلام مبارک دین له نظره مهر د نجلۍ مسلم حق دى، د مهر ټیټه اندازه لس شرعي درهمه دي او لوړه اندازه یې معلومه نه ده، چې له دغه ټکي څخه ځینې کورنۍ او پلرونه ناوړه استفاده کوي او پرته له دې چې د خپلې لور او خور راتلونکي ته وګوري، په هغې باندې ډېرې پیسې اخلي، چې دا کار ناوړه پایلې لري او په راتلونکي کې کېداى شي، چې په کورنۍ او ټولنه کې د جرایمو د ګراف کچه لوړه کړي. دا په حقیقت کې د انسان پلورل دي. کله نا کله داسې پېښې هم رامنځته شي، چې د نجلۍ کورنۍ د هلك پر کورنۍ باندې زیاتې پېسې د ولور په نوم ایښې وي؛ خو کله چې هغه رقم تر لاسه کړي، د نورو پیسو غوښتنه یې هم کړې او دا کار د شخړو، جنجالونو او د کورنیو د دښمنۍ سبب ګرځېدلی.

د ولور دود په ټولنه کې ډېرې ناخوالې رامنځته کړې او ځوانان له دې ستونزو څخه د خلاصېدو د لارې په لټه کې دي؛ خو د حل لار به هغه وخت پیدا شي، چې دیني عالمان، رسنۍ او اړونده برخې خپل

مسؤلیتونه درك کړي. نن سبا په هېواد کې ډېرې رسنۍ او کلتوري ټولنې په کار بوختې دي؛ خو که چېرې دا رسنۍ د ولور یادو شوو ستونزو ته انعکاس ورکړي، د ولور په اړه غونډې او سیمنارونه جوړکړي، د دې ستونزې په مخنیوي کې به یې مثبت رول لوبولای وي.

## د ستونزې بیان

د خوست په ټولنه کې د ځینې بدو دودونو څخه یو هم پر انجونو د لوړ ولور اخیستل دي، چې دې ناوړه کړنې د ځوانانو او پیغلو پر ژوند بده اغېزه کړې ده. لوړ ولور په ټولنه کې د ډول ډول ستونزو د رامنځته کېدو سبب ګرځي؛ چې د خوست ټولنه هم د لوړ ولور په برخه کې د بېلابېلو ستونزو سره مخ ده او له مخې یې ځوانان ورځ تربلې د رواني ستونزو ترڅنګ شاقه کارونو او د ډیر مهال مسافرۍ ته مخه کړې ده او کله داسې هم وشي، چې په دې لاره کې خپل ژوند له لاسه ورکړي او دا ستونزه د ځوانانو د واړه لورو یعنی (پیغلو او ځوانانو) ته شامله ده؛ ځکه ډیر شمېر پیغلې د خپلو عواطفو د نه کنترول کېدونکو احساساتو له مخې ځان وژنه کوي. دا او همدېته ورته ستونزې په دې څېړنیزه مقاله کې بیان شوي دي.

## د موضوع ارزښت او ضرورت

د خوست ټولنه هم د نورو افغاني ټولنو ترڅنګ د ډېرو داسې ناوړه دودونو او رواجونو دروند بار لاندې ده، چې ټولنه د ناکامۍ او بربادۍ لور ته سوق کوي، چې د دغه ناوړه دودونو څخه یو هم لوړ ولور اخیستل دی. د دې ناوړه پدیدې په اساس په ټولنه کې بېوزلي او غربت زیاتیږي. ځوان قشر مو د لوړ ولور له امله زیاتو بهرنیو هېوادونو ته سفرونه کوي؛ ترڅو ټاکل شوی ولور پوره کړي؛ خو دغه سفرونه نه یوازې د ډېرو کسانو لپاره د بې سوادۍ او د زده کړو څخه د لرې والي لامل کېږي؛ بلکې د ژوند له ډېرو خوږلنو څخه یې هم بې برخې کوي. همدارنګه ځوانان د زیاتو ستونزو سره مخ کېږي، چې د هغوی له جملې څخه یو هم په غیر قانوني لارو خارجي هېوادونه ته سفرونه کول دي؛ چې دا کړنه د دوی د مرګ احتمال زیاتوي. زیاتره وخت ناوړه اعمال، فساد، قتل، زنا، نشه یي توکو ته مخه کول او له هېواد څخه تېښتې ته مجبوره کېږي.

په خوست ولایت کې لوړ ولور اغېزو څېړل یوه ساحوي څېړنه ده، چې یاده څېړنه خوست ولایت کې ترسره شوه او موږ ته د څېړنې د پایلو او نتایجو څخه دا څرګنده شوه، چې د یادې پدېدې څخه د خوستوالې ټولنې ځوانان هم ځوریږي، یاده موضوع د ټولنې مختلف قشرونه د خپلې ناوړې اغېز لاندې راوستلي دي،. د دې څېړنې څخه دا څرګنده شوه، چې د لوړ ولور راکړه ورکړه یا شتون په ټولنه کې د ځوانانو لپاره د ټولو بدمرغیو زېږنده ده.

### د څېړنې موخې

- په خوست ولایت کې د لوړ ولور د اغېزو پېژندل
- لوړ ولور اخیستل کومې ټولنیزې، اقتصادي او رواني ستونزې زیږوي؟
- د لوړ ولور اخیستلو د مخنیوي لارو چارو پېژندل
- د لوړ ولور په اړه د یوې پالیسۍ او وړاندیزونو رامینځته کول

### د څېړنې پوښتنې

- ایا لوړ ولور اخیستل د ټولنیزو ستونزو لامل کېږي؟
- ایا لوړ ولور اخیستل د کورنۍ شخړو لامل کېږي؟
- ایا لوړ ولور اخیستل د اقتصادي ستونزو لامل کېږي؟

### د څېړنې کړنلاره او د کار توکي

### د څېړنې ساحه

یاده څېړنه په خوست ولایت کې ترسره شوې ده.

د پیل نیټه: ۰۸-۰۳-۱۴۰۳

### د معلوماتو منابع

د ډاټا د را ټولولو په موخه له کتابتوني او ساحوي (کیفي او کمي) دواړو تګلارو څخه استفاده شوې، تېرو آثارو ته په کتنه کې مو په خوست ولایت کې د لوړ ولور اغیزو څېړلو په برخه کې یو شمېر چاپ شوي کتابونه او نشر شوې مقالې لوستي او د څېړنې د فرصتونو او ننګونو کلیدي کلمو سره سم مو معلومات ترې په علمي طریقه سره راټول کړي او د ساحوي معلوماتو د را ټولولو په موخه له پوښتنپاڼې څخه ګټه اخیستل شوې، پوښتنپاڼه د اړونده برخې د مسلکي کسانو تر نظر لاندې جوړه شوې، په پوښتنپاڼه کې د نفوس اړونده ټولې فرعي او د موضوع اړونده اصلي پوښتنې ځای پر ځای شوې او همدارنګه د لوړ ولور اړونده فرعي ټول مقولات او شاخصونه پکې په پام کې نیول شوي.

### کمي ډاټا

کمي ډاټا د دې څېړنې لپاره مهمه ده، دا معلومات د کاغذ پر مخ د پوښتنپاڼې له مخې د څېړنې اهدافو او د نمونې اخیستنې میتود ته په کتو د خوست ولایت د وګړو څخه راټول شوي. د پوښتنپاڼې په واسطه

مو د دوی عمر، زده کړه، د موضوع اړوند په مختلفو بعدونو باندې د ګډونوالو نظرونه او د دې موضوع په اړه وړاندیزونه راټول شوي.

**د نمونې اخیستلو اندازه**

د کوکران فارمول د څېړنې میتود کې د نمونې اندازې ټاکلو میتود دی. دا طریقه د ویلیم کوکران له خوا په ۱۹۳۰م کې وړاندې شوه. د دې فارمول په کارولو سره، د احصایوي نفوس لپاره د اړتیا وړ لږترلږه نمونې اندازه اټکل کیدی شي.

د احصایوي نفوس اندازه: ۵۰۰۰

د نمونې لږترلږه اندازه = ۳۵۰

د څېړنې مسئلې او اهدافو ته د کمي برخې لپاره د تصادفي نمونې اخیستنې میتود ( Simple Random Sampling) څخه کار اخیستل شوی او تصادفي ډول د خوست ولایت د وګړو، چې شمېر یې ۳۵۰ تنه دی، د څېړنې د ګډونوالو په توګه انتخاب شوي دي.

**د ډاټا تحلیل**

د کمي ډاټا تحلیل: په دې ډاټا باندې د څېړنې اهدافو ته په کتو Inferential Statistic استنباطي احصائیه ترسره شوې، چې د پوښتنپاڼې په ذریعه معلومات راټول او (SPSS) سافټویر په ذریعه تحلیل شوي.

**تېرو اثارو ته کتنه**

په ډېرو ټولنو کې ټولنې د تاریخ په مختلفو دورو کې د واده لپاره د ولور د بیعې یا روپو ورکول د څېړنو له خوا مشخص شوي دي. دا ډول د ولور ورکول د هغه دودونو ترڅنګ رامنځته کېږي، چې د اړونده مېرمنې د والدینو له خوا تنظمیږي. د ودونو دا ډول بیعه ورکول په مختلفو بڼو او اندازو کې شتون لري. د ولور نرخ یا بیعه ورکول دوه پر دربیمه (۳/۲) برخه دغو ټولنو کې پېښیږي، چې مرداک (۱۹۶۷م) د نړیوال قام یا ولس پېژندې اطلس کې د ۱۱۶۷م دمخه صنتعي ټولنو کې ثبت شوي. (سامبي او ملګري یې،ص: ۶۵).

د ولور د قیمت دود د (۳۰۰۰ کاله د میلاد څخه مخکې) پورې اړه لري. د مصریانو، میسوپوټیمیا (بین النهرین)، عبراني، ازټیک او انکا لرغوني تمدنونو کې ولور مختلف قیمتونو شتون درلود (قوالي، ۱۹۸۸). د آلماني قومونو چې ۲۰۰۰ میلاد څخه مخکې څخه نېټه ده او د ۶۰۰ څخه تر ۱۰۰۰ عیسوي پورې په لویدیځه اروپا کې واکمني کول د واده لپاره د ولور قیمت ته اړتیا درلوده ( هیوګیز، ۱۹۸۵). په اسلامي

قانون کې د واده یو متعبر تړون د ولور د قیمت یوې بنې ته اړتیا ده (بیانکویز، ۱۹۹۶) (سامبي او ملګري یې، ص: ٦٦).

دا ډول راکړې ورکړې د منځنۍ دورې په لومړیو کې د منځني ختیځ د کوچیانو قبیلو او د عثماني امپراتورۍ لاندې هېوادونو کې لکه: عراق، سوریه، مصر، ترکیه،ایران، البانیا او افغانستان پورې تړاو لري (راپپورټ، ۲۰۰۰؛ قوالي، ۱۹۸۸). کلاسیک چین کې به ولور د واده قانوني او جایز کولو لپاره ولور ټاکل کېده او د دې په اړه خبرو کولو ته اړتیا وه دغه دود تر نن ورځې پورې په ډېری کلیوالي سیمو کې معمول دی او شتون لري (ایبري، ۱۹۹۳).

د چین یو څو مثالونو څخه ښکاري، چې د ولور نرخ او مهر سره یوځای شتون لري، د ولور قیمت اجباري دی او مهر داوطلبانه دی (انګل، ۱۹۸۴). تایوان هم په ودونو کې د دواړه لورو له خوا د ولور چینایي دود تعقیبوي (پاریش او ویلیس، ۱۹۹۳). د سویل ختیځ آسیایي هېوادونو لکه: تایلینډ، اندونیزیا او برما کې د ولور نرخ یا قیمت ناوې کور والو ته انتقالیږي (چیرلین او چمراتریتیرونګ، ۱۹۸۸؛ سپیرو، ۱۹۷۵) (سامبي او ملګري یې،ص. ٦٦).

د ولور نرخونه په افریقا کې ډېر زیات مشهور دي، د ۹۰ سلنه څخه زیات د سهارن فرعي ټولنو کې په دودیز ډول د ودونو روپۍ د ولور په توګه ورکول کېږي (مردوک، ۱۹٦۷م؛ ګوډي، ۱۹۷۳م). د ولور بیه د چین په کلیوالو سیمو کې تر ټولو لوړه ده؛ خو د چین په ښاري چاپیریال کې کمه ده. د تایلینډ ډېری ښاري ودونه د پیسو د لېږد په واسطه رامنځته کېږي. دا د مصر، سوریې، زایر، یوګانډا او ایران په لویو ښارونو کې لږ تر لږه د ۱۹۸۰م کلونو پورې هم عام و. د وروستیو معلوماتو په اساس په یوګانډا او د ترکیې په کلیوالي او ښاري سیمو کې په دې دود کې یو څه کموالی موندل شوی دی.

د ولور قیمت یا د ولور شتمني د دودیزو ودونو د جایز کولو یا اعتبار لپاره کارول کېږي، په ډېری افریقایي ټولنو کې دا یو عام عمل دی. د ولور بیعه د هغه تړون څخه جوړه ده، چېرې چې مادي توکي (اکثراً غوا، خنزیر یا نور حیوانات) یا پیسې د زوم له خوا د ناوې کورنۍ ته د کار لپاره یا د ناوې په بدل او د هغې د اولادونو د زیږولو د وړتیا په اساس ورکول کېږي (اوګولي، اوومو، ۲۰۰۴م)

د میکرز (۱۹۹۲م) له نظره د ولور قیمت (لوبولا)، د سویلي افریقا په دودونو کې عام دی، مېره د نجلۍ د جنسي او اقتصادي خدماتو څخه د استفادې د حق لېږد ته ویل کېږي. ریډکلیف براون (۱۹۸۷) هم د ولور نرخ د هغه حالت په توګه تعریفوي چیرې چې د هلک کورنۍ له خوا د ناوې خپلوانو ته د توکو او خدماتو ورکړې په اساس د واده د قانوني کېدو د یوې لازمي برخې په توګه ترسره کېږي.

انیابي (۱۹۸۵) د ولور د نرخ په تحلیل کې خپل نظر داسې وړاندې کوي: د ولور قیمت (د ولور مال) واده قانوني کوي او د ماشومانو مشروعیت رامنځته کوي. همدارنګه دا د مېرمنې کورنۍ ته د هغې د یو غړي د ضایع کېدو تاوان دی، د ولور ورکول د ماشوم د زیږولو وړتیا او د واده بیمه ده، چې د اړیکو ثبات او د مېرمنې ساتنه کوي (سامبي او ملګري يې،ص: ٦٧).

د ولور قیمت "هغه پیسې دي، چې د زوم د کورنۍ له خوا د ناوې لپاره د هغې کورنۍ ته ورکول کېږي" (مظهري، ۲۰۱٦م). دا یو کلتوري عمل دی، چې په اسلامي شریعت کې هېڅ اساس نه لري (مظهیر، ۲۰۱٦م). د ولور نرخ تر ډېره د ناوې د کورنیو لپاره د عاید د خورا اړینې سرچینې په توګه کتل کېږي، په ځانګړې توګه د بې وزلو خلکو لپاره. د یادونې وړ ده، چې په دې برخه کې د ولور د نرخ د وضع کولو لپاره یوازې یوه ثابته لاره نشته. دا له واده څخه واده، له کورنۍ نه بلې کورنۍ او حتی له نجلۍ څخه نجلۍ ته توپیر لري. ځینې بې وزله کورنۍ د ولور قیمت ته د عاید د یوې سرچینې په توګه ګوري او د ولور د قیمت په اساس د واده تصویب ته لیواله دي، د دې پرځای چې دوی به يې ترلاسه کړي په دې تمرکز وکړي چې آیا احتمالي زوم د هغه د شخصیت پر اساس د دوی د لور لپاره مناسب دی (مظهري، ۲۰۱٦م) . داسې پېښې هم شوي چې ځینې مور او پلار په ځانګړې توګه پلرونه خپلې لوڼې یوازې په دې خاطر ودونو ته اړې کړي، چې د ولور په لوړه بیه معامله شوې وه او د ناوې کورنۍ يې د ورکړې لپاره پور درلود (افضلي، ص: ۸).

د سمیټ په وینا، د ولور د قیمت دود هم د ښځو په وړاندې تاوتریخوالي ته هڅونه کولای شي. د ولور نرخونه اکثرا د پیسو لوی مقدار وي. بې وزله کورنۍ چې د پام وړ پورونه لري؛ ممکن مجبور شي، چې خپلې لوڼې واده کړي؛ ترڅو د ولور قیمت د خپلو پورونو د ادا کولو لپاره وکاروي. سمیټ دا استدلال هم وکړ، چې د ولور قیمت ورکول دا باور رامینځته کوي، چې ښځه د هغې د مېړه ملکیت دی او هغه کولی شي هر څه چې وغواړي ترسره کړي. له همدې امله هغه سړي چې د لوړ ولور قیمت ورکوي اکثرا ځان ته اجازه ورکوي چې ډېر تاوتریخوالی ولري (سمیت، ۲۰۰۹م) (افضلي، ص: ۹).

د افغانستان په کلیوالو سیمو کې یوه مشهوره وینا ده (دا زر خریدم دا سنګ میکوشیم) چې لفظي معنی يې دا ده، چې مور تاسې په پیسو اخیستي او تاسې به په تیږو ووژنو. د ولور نرخ هم د اجباري ودونو لامل کېدای شي؛ ځکه چې د ولور د قیمت په توګه ترلاسه شوي پیسې د بې وزلو کورنیو لپاره د عاید لویه سرچینه ده. د ولور د قیمت دود هېڅ قانوني چوکاټ نه لري؛ ځکه چې د افغانستان د ودونو په اوسني قانون کې د دې دود په اړه واضحه یادونه نشته (مارټین، ۲۰۱۸م، مخ. ۱۲) (سمیت، ص: ۴٦).

د ولور قیمت هغه پیسې دي، چې د زوم د کورنۍ له خوا د ناوې کورنۍ ته ورکول کېږي. دا په افغاني قانون او اسلامي شریعت کې منع دی؛ خو اوس هم په ټول افغانستان کې په پراخه کچه عملي کېږي. د طلاق په صورت کې د مهر په نامه د ښځو د اقتصادي هوساینې شرعي احکام د ولور له قیمت سره توپیر لري؛ ځکه چې دا د ښځې حق دی. په دې کې ناوې ته ګټه رسېږي، نو ډېری کورنۍ د مهر په اړه خبرې نه کوي او د ولور په بیه کې ډېره لېوالتیا ښیي (اصف، ص. ۵).

د ولور قیمت په پښتو ژبو سیمو کې د ولور او په دري ژبو سیمو کې طویانه او شیربها بلل کېږي. دا یو افغاني دود دی چې په اسلامي قانون کې هېڅ بنسټ نه لري او د واده د قانون په مسوده کې ځای نه لري. د واده د قانون د مسودې او مدني قانون (۱) له مخې، یوازینی تادیه چې د ناوې کورنۍ یې غوښتنه کولی شي اسلامي مهر دی، چې باید د واده تر مودې پورې د ناوې ملکیت پاتې شي. د ولور بیه او مهر یو شان نه دي: د ولور بیه هغه تادیه ده، چې د ناوې پلار یې تر لاسه کوي، په داسې حال کې چې مهر د زوم له خپلې مېرمنې سره مالي ژمنه ده. د اسلامي قانون له مخې، هغه ښځې چې د واده تړون ته داخلېږي د مهر حق لري او موخه دا ده، چې د هغې او د هغې د ماشومانو د خوندیتوب په صورت کې چې خاوند یې مړ شي او یا د طلاق غوښتنه وکړي. د حنفي فقهې له نظره ښځه اجازه لري، چې په هر ډول چې مناسب وي مهر استعمال کړي؛ ځکه چې دا د هغې ملکیت دی (مظهري، ص: ۲).

د ولور په اړه ډېرو لیکوالانو په مختلفو ژبو لیکنې کړې دي؛ ځکه ولور نه یوازې په افغانستان؛ بلکې د سیمې په هېوادونو کې په مختلفو ډولونو سره شتون لري. د ولور په اړه صافی نرګس (۲۰۱۸م) کې لیکلي دي، چې ولور د هغه بیځایه رواجونو له جملې څخه یو دود دی، د کوم له امله چې ډېری ځوانان او پیغلې د واده څخه پاتې دي. په افغاني ټولنه کې چې کله هلک ځوان شي؛ نو د کورنۍ غړي یا مور او پلار یې په دې فکر کې شي چې د زوی لپاره د کومې کورنۍ څخه نجلۍ وغواړي. همدارنګه د نجلۍ په لټون پسې د خپلوانو، ګاونډیانو او نورو خلکو کورونو ته ورځي او د خپلې خوښې نجلۍ لټوي. ولې پدې ټولنه کې دا دود نشته چې د نجلۍ مور او پلار د خپلې لور لپاره د خلکو کورونو ته د هلک لټولو لپاره لاړ شي؛ ځکه دا د ځان لپاره شرم ګڼې (عبدیاني، ۱۳۹۵)


خو کله چې د هلک د کورنۍ له خوا نجلۍ خوښه شوه؛ نو بیا د نجلۍ کورنۍ د هلک کورنۍ کتلی شي او د هغه په اړه معلومات ترلاسه کولای شي. د جینۍ د خوښولو څخه وروسته د هلک کورنۍ د ولور او رضایت په اړه د نجلۍ کورنۍ سره مستقیم او غیر مستقیم یا خپلوانو په واسطه ورسره خبرې کوي او د ولور په اړه یوې موافقې ته رسیږي، زیاتره وخت داسې هم شوي دي، چې د هلک کورنۍ او د جینۍ کورنۍ دواړه هلک او جینۍ خوښ دي؛ خو د زیات ولور په اساس کوژدن نه ده ترسره شوې، که چېرې


د ولور په سر موافقې ته ورسیږي؛ نو اول یو کوچنی دسمال د جینۍ کورنۍ څخه اخلي، ددې څخه وروسته د کوژدنې یا لوی دسمال راوړلو لپاره وخت او نېټه ټاکل کېږي چې په دې مراسمو کې ډېر دوستان او د کلي مخور مشران راغونډیږي او کوژدن ترسره کېږي (عبدیاني، ص.ص ۲۴-۳۲).

د ولور ترڅنګ په بدل کې د انجونو ورکول هغه وخت صورت نیسي، چې د هلک پلار د ولور لپاره پیسې ونه لري او په کور کې پیغله لور ولري؛ نو د بلې کورنۍ سره خبرې کوي، چې زه ستاسې لور خپل زوی ته د بدل په حساب غواړم، یعنې ستاسې لور به زما د زوی په نوم او زما لور به ستاسې د زوی په نوم شي (عبدیاني، ص. ص ۲۴-۳۲).

د ښځو حقوقو په اړه ډېرو علماوو لیکنې کړې دي، په عمومي ډول ښځه د مېړه د درې ډوله مالي حقوقو څخه برخمنه ده چې عبارت دي له : د مهر حق، د نفقې حق او د میراث حق. څرنګه چې مهر یوه عربي کلمه ده، چې د صدقې مترادفې کلمې په ډول استعمالیږي او مفهوم یې د هغو یوه اندازه نغدو پیسو او مال څخه دی چې د مېړه له لورې ښځې ته د نکاح په وخت کې ورکول کېږي. مهر په مېړه باندې د ښځې مکمل حق دی، مېړه د دې مسؤلیت لري، چې ادا یې کړي او د ښځې څخه علاوه نور خلک لکه مور، پلار، ورونه او د ښځې وکیل د دې حق نه لري چې د ښځې بې اجازې هغه مصرف کړي (عدالتخواه،۱۳۸۷).


**نتیجه ګیري او مناقشه**







**د لومړي او د دویم چارت تشریح:**


په خوست ولایت کې د لوړ ولور د اغېزو څېړل د ګډونوالو لپاره د پام وړ موضوع وه، د څېړنې ساحه خوست ولایت و. په دې څېړنه کې د پوښتنپاڼې په ذریعه، چې په مخامخ ډول ترسره شوه (۳۵۰) تنو په کې فعاله توګه ګډون ترسره کړ، ټولې پوښتنې (۱۳) وې، چې په یو پوښتنلیک کې ځای پر ځای شوې وې، (۱۲) یې تړلې او یوه یې خلاصه پوښتنه وه، چې د کیفي معلوماتو راټولولو لپاره وه. اوله او دوهمه پوښتنه په څېړنه کې د ګډونوالو د عمر او د زده کړو په اړه وې، چې له هغې جملې څخه یې (۷۶٪) سلنه وګړو عمرونه د(۱۰ څخه تر ۲۰) کلونو پورې وو، (۲۰٪) سلنه د (۲۱ څخه تر ۳۱) کلونو پورې او پاتې(۴٪) سلنه (۳۱ څخه تر ۴۰) عمرونو درلودونکي وو. دویمه پوښتنه د دوی د زده کړو په تړاو وه، چې (۹۵٪) سلنه لیسانس، (۵٪) سلنه ګډونوال یې ماستر وو.





**د دریيم چارت تشریح:** دا چارت په څېړنه کې د برخه اخیستونکو څخه پوښتي، چې آیا دوی ولور پیژني؛ نو ټول ۳۵۰ ګډونوال له د اصطلاح سره بلد وو یعنې ۱۰۰ سلنه ګډونوال ترې خبر وو.





**د څلورم چارت تشریح:** دا چې لوړ ولور یوه ټولنیزه ستونزه ده او دا یو کلتوري دود دی، چې د اسلام له نظره حرام دی. د ټولنې وګړي د لوړ ولور د حرام والي یا بد والي څخه خبر او دا د مخکنی څېړنو هم دا څرګندېږي، د ټولنې زیات وګړي د دې ناوړه دود خلاف دي؛ خو عملاً زیاتره وګړي د ټولنیزو ستونزو له امله لکه: بې وزلي، بې کاري، بې سوادي، اقتصادي ستونزو ته په کتو سره دا دود ترسره کوي. مقبل په خپله څېړنه کې ددې موضوع په اړه داسې وايي: د افغانستان ډېر وګړي د لوړ ولور اخیستلو خلاف او بد يې هم ګڼي. زیاتره خلک له دې څخه خبر دي، چې لوړ ولور اخیستل په ټولنه کې مختلفې ستونزې رامنځته کوي؛ ځکه د ولور پیدا کولو لپاره ډېرى ځوانان مسافرۍ ته اړ کېږي او له مختلفو مشکلاتو سره لاس او ګریوان کېږي. په دې څېړنه کې څلورم چارت یا پوښتنه په څېړنه کې د برخه اخیستونکو څخه پوښتې، چې آیا ولور اخیستل د اسلام له نظره یو ناجایز عمل دی؛ نو ټول (۳۵۰) یعني ۱۰۰ سلنه په یوه خوله وو، چې بلې دا په اسلام کې "ناجایز" عمل دی.



**د پنځم چارټ تشریح:** دا چارټ په څېړنه کې د برخه اخیستونکو څخه پوښتي، چې آیا ولور اخیستل ښه دود دی که بد؛ نو ټول ۳۵۰ ګډونوال یعنې ۱۰۰ سلنه ګډونوالو یې دا دود "بد" یاد کړ.





**د شپږم چارټ تشریح:** دا چارټ په څېړنه کې د برخه اخیستونکي څخه د ټولنې د یو وګړي په حیث پوښتي، چې ولور ته په څه نظر ګوري؛ نو ټول ۳۵۰ ګډونوال یعنې ۱۰۰ سلنه ګډونوالو په دې نظر وو، چې دا عمل یو "بد" عمل دی.




**د اووم چارټ تشریح:** د دې موضوع او پوښتنې په اړه تېرو اثارو ته په کتنې کې که مختلفې څېړنې شوې، چې ټولو کې دا موندل شوې، چې لوړ ولور اخلاقي فساد، غلا، په نشه روږدي کېدل او رشوت اخیستل په کیفي بنه څرګند کړي. مقبل په خپله ترسره شوې څېړنه کې د دې موضوع په اړه داسې څرګندونې کړې دي: کله چې یو تن د ولور ورکولو توان ونه لري؛ نو ځوانان له واده څخه پاتې کېږي، چې په دې اساس ځوانان په اخلاقي او ټولنیزو جرایمو باندې مرتکب کېږي. ډېری وخت لوړ ولور د غیرت او ناموس په نوم د وژلو جرم سبب هم ګرځي. په ځینو سیمو کې ولور لوړ دي،کاروبار نشته، نجونې او هلکان د لوړ ولور له امله بې واده پاتې کېږي، چې وروسته دې ته اړ کېږي، چې له هلک سره نجلۍ وتښتي، چې له امله یې د کورنیو ترمنځ دښمني او ان تر دې چې مرګونه ترې هم رامنځته کېږي. په ودونو کې زیات مصارف او لوړ ولور هغه عمده ستونزه ده، چې له امله یې زیاتې کورنۍ له روحي او اقتصادي پلوه اغېزمنې کړې دي. د افغانستان په مختلفو سیمو کې د ولور پیدا کول دومره لویه ستونزه ده، چې ځوانان په قاچاقي لارو خارج ته د ولور پیسو ګټلو لپاره د خطر څخه ډک سفرونه کوي، چې ځینې یې په همدې لارو کې خپل ژوند له لاسه ورکوي. ځینې ځوانانو د ولور او د واده نورو مصارفو له کبله نشه یي توکو ته مخه کوي. داسې ډول پېښو د کابل ترڅنګ نورو ولایاتو د معتادینو په شفاخانو او تداوي مراکزو کې د معتادینو ډېرې پېښې شته، چې د معتاد کېدو لامل یې لوړ ولور ښودل شوی دی. د دې علاوه د غلا داسې پېښې ثبت شوي، چې مجرمینو په خپله اقرار کړی او ویلي یې دي، چې د ولور د پېسو پوره کولو مجبور کړي یو، چې غلا، نشه او انسان تښتونې مو پیل کړې.


دا چارټ په څېړنه کې د برخه اخیستونکو څخه دا پوښتي، چې لوړ ولور د ځوانانو لپاره د کومو ټولنیزو ستونزو لامل کېږي. د ۳۵۰ ګډونوالو څخه د (۱۵۴) یعنې (۲۴) سلنه یې په دې نظر وو، چې لوړ ولور اخیستل د "غلا" لامل کېږي. (۱۲۳) یعنې (۳۵) سلنه یې په دې نظر وو، چې لوړ ولور اخیستل د "رشوت" لامل کېږي. (۲۸۷) یعنې (۸۲) سلنه یې په دې نظر وو، چې لوړ ولور اخیستل د "اخلاقي فساد" لامل کېږي او (۱۱۹) یعنې (۳۴) سلنه یې په دې نظر وو، لوړ ولور اخیستل په "نشه یي توکو د روږدي کېدو" لامل کېږي.




**د اتم چارټ تشریح:** یو طرف ته لوړ ولور د کورنۍ لپاره د عاید یا اقتصاد منبع ده؛ خو بل طرف ته د نجلۍ لپاره د کورنۍ شخړو لامل دی. مقبل په خپله څېړنه کې د دې موضوع په اړه داسې وایي: کله چې د هلک کورنۍ د نجلۍ کورنۍ ته ولور ادا کړي او ناوې واده شي، څه وخت وروسته د دغه اخیستل شوې ولور په سر د ناوې ژوند د هلک په کورنۍ کې تریخ کېږي او همدا ولور د کورنۍ د تاوتریخول سبب ګرځي. د ولور له امله رامنځته شوي تاوتریخوالي نه تنها د ناوې ژوند تریخوي؛ بلکې د ماشومانو په روزنه یې هم څرګند تاثیر کړی. کلید ګروپ هم په دې موضوع د کب ۲۹ (۱۳۸۹) کال کې څېړنه ترسره کړې، چې مرکې کوونکي نظریات داسې وو. مرکه کوونکی وایي: چې ډېری داسې پېښې هم رامنځته شوې د نجلۍ کورنۍ د هلک کورنۍ باندې زیاتې پیسې د ولور په نوم ایښې؛ خو چې کله هغه مطلوبه پیسی ترلاسه کړي؛ نو د نورو پیسو غوښتنه هم کوي، چې دا د کورنیو تر منځ شخړو او جنجالونو او د دوو کورنیو د دښمنۍ سبب ګرځېدلی. دا چارټ په څېړنه کې د برخه اخیستونکي څخه دا پوښتي، چې ایا لوړ ولور د کورني تاوریخوالي او شخړو لامل کېږي؛ نو ټول (۳۵۰) ګډونوال یعنې ۱۰۰ سلنه په دې نظر وو، چې "هو".




**د نهم چارت تشریح:** د کلید ګروپ چې (۱۳۸۹) لمریز کال کې ترسره شوي مرکه کې یو ګډونوال دا موضوع داسې څرګندوي: د بغلان ولایت د یوې (۵۵) کلنې میرمنې په وینا "کله چې ما خپل زوي ته کوژدن وکړه، زما د زوي خسر زما څخه د دوه لکه افغانیو غوښتنه وکړه، په دې وخت کې ما سره لس زره افغانۍ هم نه وې، زما زوی مجبور شو چې خارج ته لاړ شي او د ولور پیسې پوره کړي، له هغې څخه دا دي لس کاله تېر شول، د خپل زوي لاره څارم، یواځې دومره احوال لرم چې په اپینو روږدی شوی، که دا خبره رښتیا وي د هغه د ژوند پاتې برخه به څنګه شي" (کلید ګروپ، ۱۳۸۹).
د دا ډول کیسو تر څنګ د کابل او ولایاتو د معتادینو په شفاخانو او تداوي مراکزو کې د معتادینو ډېرې کیسې شته، چې د اعتیاد لامل یې لوړ ولور ښودل شوی دی. د دې تر څنګ د غلا داسې پېښې ثبت شوي چې مجرمینو په خپل جرمونو اعتراف کړی او ویلي یې دي، چې د ولور پېسو پوره کولو مجبور کړي، چې غلا او انسان تښتونې ته مخه کړي. ځینې ځوانانو د ولور او د واده نورو مصارفو له کبله نشه یي توکو ته مخه کړې ده.کله چې ځوک د ولور ورکولو توان ونلري نو ځوانان له واده څخه پاتې کېږي، چې په دې اساس ځوانان په اخلاقي او ټولنیزو جرایمو باندې اخته کېږي.
دا چارت په څېړنه کې د برخه اخیستونکو څخه دا پوښتي، چې ایا لوړ ولور د ځوانانو د بې لارې کېدو لامل کېږي؛ نو ټول (۳۵۰) ګډونوال یعنې ۱۰۰ سلنه په دې نظر وو، چې "هو".





**د لسم چارت تشریح:** لوړ یا جګ ولور د ځوانانو ناوړه عملونو او کړنو ته لاره هواروي، د دې ناوړه دود او رواج د پوره کولو لپاره ځوانان اخلاقي فساد، غلا، ډاکه، رشوت، قتل، لوټ کول او یا هم په نشو روږدي کېږي. دا چارت په څېړنه کې د برخه اخیستونکي څخه دا پوښتي، چې ایا لوړ ولور اخلاقي فساد


ته زمینه برابري؛ نو د (۲۷۰) یعنې ۷۷ سلنه ګډونوالو ځواب "هو" و، د ۴۰ یعنې ۱۱ سلنه ځواب "تر یو بریده" و، د (۳۰) یعنې ۹ سلنه ګډونوالو ځواب "نه" و او د (۱۰) یعنې ۳ سلنه ګډونوالو ځواب یې دا و، چې "هېڅکله نه".





**د یوولسم چارت تشریح:** د ولور قیمت: ښځو ته د ادا کولو افغاني دود نومې مقاله کې فضل مظهري د اقتصادي او ټولنیز حالت په اړه داسې وایي: د ولور بیه د زومانو او د هغوی په کورنیو باندې یو لوی بار دی، مګر د ناوې د کورنیو لپاره، په ځانګړې توګه د بې وزلو خلکو لپاره د عاید یوه مهمه سرچینه هم ده. که یو پلار یوازې لوڼې او زامن ولري، نو هغه به اکثرا د ناوې په قیمت باندې د عاید د سرچینې په توګه تکیه وکړي، د ولور قیمت د هغې په اقتصاد او شتمنۍ کې د لور ونډه ګڼل کېږي، د همدې مقالې په یوه مرکه کې یوه بې وزله سړي کیسه د بېلګې په توګه راوړې، چې د خپلې لور لپاره یې د، (۱۰۰۰۰) امریکایي ډالرو غوښتنه وکړه، چې د نږدې څلورو کلونو لپاره یې د خپلې ټولې کورنۍ د خوراکي توکو په رانیولو کې ورسره مرسته وکړي.
دا چارت په څېړنه کې د برخه اخیستونکي څخه دا پوښتي، چې ایا لوړ ولور د ځوانانو لپاره اقتصادي ستونزې زیږوي ؛ کېږي؛ نو ټول (۳۵۰) ګډونوال یعنې ۱۰۰ سلنه ځواب "هو" و.



**د دولسم چارت تشريح:** دا چارت په څېړنه کې د برخه اخيستونکو څخه دا پوښتي، چې ايا لوړ ولور په ټولنه کې د ځوانانو لپاره د رواني ستونزو لامل کېږي؛ نو ټول ۳۵۰ ګډونوال يعنې ۱۰۰ سلنه ځواب "هو" و.




**د ديارلسم چارت تشريح:** د کليد ګروپ د ۵ وړي ۱۳۹۳ ل د يادې موضوع په اړه کيفي برخه کې د مرکې څخه کار اخيستي، د يادې مرکې لنډه برخه راخلم: دی وايي، چې کله يوه کورنۍ د لور په سر لوړ ولور واخلي؛ نو هغې نجلۍته د خسر په کور کې په سپک نظر کتل کېږي او له تاوتريخوالي سره مخ وي؛ خو له څېړنو مرکو او څېړنو څخه دا په ډاګه کېږي، چې د نجلۍ ازرښت ورسره اضافه کېږي، چې دا چارت په څېړنه کې د برخه اخيستونکو د عمرونو په تړا دی، چې د ډېرې ګډونوالو عمرونه يې د ۱۰-۲۰ کلونو ترمنځ دي. د ۳۵۰ څخه د ۲۶۶ يې د همدې عمر لرونکي دی، چې د ټولو ګډونوالو ۷۶ سلنه کېږي. ۷۰ ګډونوال، چې ۲۰ سلنه کېږي د ۲۱-۳۱ کلونو ترمنځ او ۱۴ ګډونوال، چې ۴ سلنه کېږي يې د ۳۱-۴۰ کلونو ترمنځ دي.



**د څوارلسم چارت تشریح:** دا چارت په څېړنه کې د برخه اخیستونکو د عمرونو په تړا دی، چې د ډېری ګډونوالو عمرونه یې د ۱۰-۲۰ کلونو ترمنځ دي. د (۳۵۰) څخه د (۲۶٦) یې د همدې عمر لرونکي دي، چې د ټولو ګډونوالو ۷٦ سلنه کېږي. (۷۰) ګډونوال، چې ۲۰ سلنه کېږي د ۲۱-۳۱ کلونو ترمنځ او (۱۴) ګډونوال، چې ۴ سلنه کېږي یې د ۳۱-۴۰ کلونو ترمنځ دي.

### د ګډنوالو نظرونه او وړاندیزونه

د خور او لور په سر لوړ ولور اخیستل یوه ټولنیزه ستونزه ده او د دې بد او ناوړه دود له امله ډېری ځوانان له واده څخه محروم پاتې دي. پښتننه ټولنه د لوړې، بې وزلي، بې کاري، دکار نه شتون او له مالي مشکلاتو سره مخ ده او د ټولنې ناوړه دودونه او زیات ولور د دې لامل شوی، چې ځوانان په دې نه توانېږي، چې واده وکړي. دوی وړاندیز وکړ، چې موږ ټول باید د اسلامي شریعت مطابق خپلې کړنې ترسره کړو. په عموم کې د ټولو ګډونوالو نظر د لوړ ولور په اړه داسې و: دوی ویل لوړ ولور د اسلام له نظره حرام دی. د دوی په نظر لوړ ولور په اصل کې د ځوانانو د ډېر اوږد عمر لپاره مجرد پاتې کیدل، چې دا په خپله د ټولو ټولنیزو ستونزو د پیدا کېدو زیږنده ده. لوړ ولور د ځوانانو د مختلفو ستونزو لامل کېږي لکه: اخلاقي فساد، غلا، رشوت، د کورنیو تر منځ شخړې، نورو هېوادونه ته قاچاقي تلل، تېښته، د مرګ خطر، مسافري او داسې نورې ستونزې...

که څېړنه په ټول افغانستان کې ترسره شي، پایلې به یې مثبتې وي. د معارف په نصاب کې دې موضوعاتو ته ځای ورکول هم اړین دي. په دې برخه کې باید دولت ځوانانو ته د کار زمینه برابر کړي او ترڅنګ یې دیني عالمان، قومي مشران، ولسي او سمه ییز تړونونه، عامه پوهاوی او دولت د قانون له مخې د ناوړه دود کچه راټیټولی او مخه یې نیولی شي.

۱-ډېری څېړونکو په عمومي ډول تېرو اثارو ته کتنه کړې، د مرکو او سروې ګانو په واسطه یې د مختلفو پراخو ساحو څخه معلومات راټول کړي؛ خو موږ په خپله څېړنه کې خاصه ساحه مشخصه کړې او د پوښتنپاڼې په واسطه دا په ډاګه شوې، چې د لوړ ولور څخه زیږېدونکې ستونزې څومره وې او په ځوانانو څه تاثیر لري، په ساحوي او کمي ډول څېړل شوې دي.

۲-ډېری څېړونکو د دې ستونزې یادونه کړې ده؛ خو دا یې نه ده په ډاګه کړې، چې څو سلنه په ټولنه اغېز لري.

۳-ځینو څېړونکو له موضوع سره نورې ټولنیزې ستونزې یو ځای کړي؛ تر څو د موضوع اهمیت ته د خلکو پام راواړوي؛ چې دا کړنه په ټولنیزو علومو کې یوه پیچلې او مغلقه پدېده ده، موږ یوازې په خوست ولایت د لوړ ولور اغېزې څېړلې دي.

۴-ډېری څېړونکو ساحه او وخت نه دی مشخص کړي؛ خو موږ په خپله څېړنه کې وخت او ساحه مشخص کړې ده.

۵-په دې موضوع ډېرې څېړونکو د څرنګوالي په برخه کار کړې او ډېرو کمو يې څومره والي ته توجو کړې ده؛ خو موږ په دې څېړنه کې نه يوازې په څرنګوالي؛ بلکې په څومره والي هم کار کړی دی.

٦-په ټوله کې زموږ څېړنه په خوست ولايت کې ولور د اغېزو څېړل کمي څېړنه ده، چې لومړی مو د څېړنې نظري بنسټ راخيستي او ورپسې مو د (SPSS) پروګرام په واسطه پوښتنپاڼه تحليل او تجزيه کړې او پايلې مو ترې راخيستي دي.

## پايله

د ولور دود په پښتنه ټولنه کې د ځوانانو لپاره ډېرې ناخوالې رامنځته کوي، چې نه يوازې دوی ترې سر ټکوي؛ بلکې د ټولنې ډېری وګړي ترې رنځيږي. د تېرو اثارو او د څېړنې د موندنو څخه دې پايلې ته رسيږو، چې لوړ ولور د ځوانانو لپاره ډول ډول ستونزې زېږوي او د دوی ژوند او راتلونکی ننګوي. له دې امله ځوانان مجبوريږي او داسې کړنې تر سره کوي، چې يوازې دوی ته نه؛ بلکې د دوی کورنيو او ټولنې ته هم زيان رسوي. د ولور لوړه بيه نه يوازې اخلاقي فساد، رشوت، غلا، اقتصادي ستونزې او د واده په ثبات ناوړه اغېزه لري؛ بلکې دا د کورني تاوتريخوالي او دښمنی احتمال زياتوي؛ ځکه نارينه، ښځې خپل ملکيت ګڼي، چې په لوړه بيه يې اخيستي دي. په دې توګه دوی سره ډېری وخت ناوړه سلوک ترسره کوي، چې د ګډ ژوند اړيکې ورسره خرابيږي او د کورنيو تر منځ د شخړو سبب ګرځي.
هېواد کې بې وزلي، بې کاري، فقر او اقتصادي مشکلات د دې لامل شوی، چې وګړي لوړ ولور واخلي؛ نو په دې اساس دولت ته په کار ده، چې د قانون په تطبيق سره يې مخه ونيسي. د مخنيوي نورې لارې يې د قومي مشرانو، ديني علما کرامو، رسنيو استازو، په ټولنيزه برخه کې کار کوونکو او په ټوليز ډول د لوستې طبقې له خوا په ياده برخه کې هلې ځلې او عامه پوهاوی د دې ناوړه دود په له منځه وړلو او کمولو کې اغيزمن رول لوبولای شي.
ياده څېړنه به د لوړ ولور په راکمولو کې يو ستره لاسته راوړنه وي، که چېرې يې پايلي مسؤلينو سره شريکې شي او دوی شته قوانين د اسلام له نظره پلي کړي.
څېړنه د يو شمېر ستونزو سره هم مخامخ وه؛ ځکه خلکو په اسانی سره معلومات نه شريکول او يا به يې ځنډول. د دغه ستونزو سره سره مالي ستونزو هم شتون درلود.
په ياده څېړنه کې هغه دولتي او غير دولتي مؤسسات او ښکېلې خواوې، چې په دې برخه کې مسؤليت او د قانون پلي کولو صلاحيت لري، د ستونزو او مالي مشکلاتو له امله ورسره د څېړنې په پار ليدنه او پلان شوې مرکې ترسره نه شوې. راتلونکو څېړونکو ته مو سپارښته دا ده، چې په دې تړاو دې د ټولو ښکېلو خواوو سره مرکې ترسره کړي؛ ترڅو دا معلومه شي، چې د دولت په سطحه کوم څومره قوانين

جوړ شوي، څه برنامې لري او تر کومه برېده تطبیق شوي، چې دا کړنه به په یاده ساحه کې یوه لویه لاسته راوړنه وي.

## وړاندیزونه

**دولت ته:** د لوړ ولور اخیستلو په پار دې دولت یو قانون تصویب کړي او ترڅنګ دې ترې څار او نظارت هم په دوامداره توګه ترسره شي؛ ترڅو د یادې ستونزې کچه راټیټه شي.

د کار زمینه برابرول، ترڅو ځوانان مو له ډېرو بدبختیو څخه وژغورل شي.

د بې وزلي، فقر، بې کارۍ او د بې سوادۍ د کچې راټیټولو په پار تخنیکي زده کړو لنډ مهال ورکشاپونه او کورسونه دایرول؛ ترڅو مو د ځوانانو استعدادونه وده وکړي او ترڅنګ یې دوی هم لاس په کار شي.

د لوړو زده کړو او معارف په برخه کې د ځینو ناوړه دودونو بدې پایلې په نصاب کې شاملې شي؛ ترڅو نوی نسل او ټولنه په راتلونکې کې د داسې بدبختیو څخه وژغورل شي او په دې برخه کې امربالمعرف او نهي عن المنکر خپل ونډه په ښه شان سره ترسره کولای شي.

**ټولنې ته:** د لوړ ولور د بدو پایلو په اړه دې دیني علماء، د قومونو مخور سپین ږیري او د مدني ټولنو یو ګډ تصمیم ونیول شي او یوه داسې اسلامي ټولنیزه هر اړخیزه طرحه دې جوړه شي، چې د هغې په اساس د زوم کورنۍ څخه دومره پیسې واخیستل شي، چې نجلۍ ته د کور ضروري شیان پرې واخیستل شي او نجلۍ ته دې په مهر کې ورکړل شي.

د دې پدېدې د ناوړه پایلو او عواقبو په اړه دې دیني علماء د ممبر له لارې خلکو ته معلومات ورسوي.

ټولې رسنۍ دې د دې ناوړه دودونو څخه د رامنځته کیدونکو نا خوالو په هکله تبلیغ او عامه پوهاوی وکړي؛ ترڅو له ټولنې څخه د دې بد کلتور ټغر ټول شي.

## ماخذونه

القران کریم سورت النساء ایت ۴

اخذ اهل االمراء شیئاً عند التسلیم فلزوج ان یسترده ،لانه رشوه (الدرالمختار کتاب نکاح ،باب المهر ۳ /۱۵٦ – کفایت المفتي ج ۵ ص ۱۰۵ ).

عبدیاني، ولي محمد .(۱۳۹۵). د افغانانو دودونه او رواجونه. ص ۳۲-۲۴

عدالتخوا، عبدالقادر،. (۱۳۸۷). حقوق فامیل. پروژه امور عدلي وقضایي افغاانستان .(ARoLP) بنګاه انتشارات و مطبعه میوند. کابل افغانستان

کلید ګروپ .(۱۳۸۹). لوړ ولور د اسلام په خلاف دود. کلید رادیو ویب پاڼه د ویب پاڼې لیدو نیټه: https://tkg.af/pashto/2011/03/ 1/4 2024/11/15

مقبل، محمد اسماعیل .(۱۳۹۹ ل). د جرایمو کچې په لوړوالي د لوړ ولور اغېزې. سوله ییز یون، درېیمه گڼه.

Afzaly, H. (2022). Media framing of marriage practices in Afghanistan. (page :8)

Asif, M., Ab Rashid, R., & Saleem, M. (2020). Marriage as an oppression of women: An analysi *Journal of Qualitative Social Sciences*, *2*(3), 1-13.

Muzhary, F. (2016). The Bride Price: The Afghan Tradition of Paying for Wives. *Afghanistan Analysts Network*, *25*, 1-6.

Smith, D. J. (2009). *Decisions, desires and diversity: marriage practices in Afghanistan.* Afghanistan Research and Evaluation Unit

# په بلاغت کې د اسناد ډولونه

پوهنمل عبدالصمد روښان، شیخ زاید پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو څانګه
**برېښنالیک:** abuhanifaroshan@gmail.com

**لنډیز**

د خبرو کولو موخه له نورو سره د اړیکو نیولو په وخت کې د افهام او تفهیم ښه افاده ده، لغوي یا ژبني علوم د واضحو او فصیحو خبرو لپاره وضع شوي، چې بلاغت پکې ستر نقش لري، جرجاني په التعریفات کې وایي: بلاغت هغه علم دی چې متکلم ته د مخاطب د حال او مقام د غوښتنې سره سم د خبرو کولو زده کړه ورکوي، اللبدي وایي: دا زده کړه د نحوي او بلاغي قواعدو په مټ کېږي، د دغې لیکنې موخه دا ده چې د پښتو ژبې ویونکی د قرآن کریم او احادیثو له اسرارو سره بلد شي، د مسند او مسند الیه ترمنځ اسناد وپېژني، د حقیقي او مجازي مفاهیمو په انتقال وپوهېږي، توپیر یې وکولی شي. د ادبي اثارو په مطالعه کې یې ستونزې راکمې شي. دغه لیکنه کې د ډېرو معتبرو علمي سرچینو څخه ګټه اخیستل شوې او مفاهیم یې په ښه توګه ترتیب شوي، په بلاغت کې د اسناد او مسند او مسند الیه ټول مفاهیم پېژندل شوي او په نتیجه کې داسې ویلی شو چې یو ادیب او بلیغ انسان په هغه وخت کې د ادبي اثارو په خوند پوهېږي چې، د مسند او مسند الیه ترمنځ د اِسناد اړیکه ښه وپېژني، په پایله کې بیا کولی شي چې د قرآن کریم او احادیثو په مفاهیمو، د ادبي اثارو په اسرارو او د نظم او نثر په بلاغي او معنوي اړخ هم په سمه توګه وپوهېږي.

**کلیدي ټکي:** اِسناد، د اِسناد ډولونه، بلاغت، حقیقي او مجازي، مسند او مسند الیه.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم الحمد لله رب العلمین و الصلاة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه أجمعین**

ژبه یو خاص او ځانګړی نظم او جوړښت لري، د اصواتو یا غږونو نه تر بسیطو جملو او خبرو پورې داسې جوړښت لري چې د یوې ژبې د ویونکو ترمنځ د افهام او تفهیم افاده پکې په اسانی سره تر سره کېږي. پښتو ژبه هم له هغو ژبو څخه ده چې ځانګړی بلاغت او فصاحت لري؛ دغه بلاغت په ځینو خلکو کې نسبت نورو ته ډېر پیاوړی وي؛ د کلمو استعمال یې په ځای او د جملو جوړښت یې ځانګړی او خاص خوند لري؛ دا ځکه چې دغه ډول خلک د بلاغت په معنا ښه پوهېږي، هغوی د اورېدونکو د حال او مقام ښهٔ درک کوي او بیا د هغوی له غوښتنو سره سم خبرې جوړوي؛ ترڅو اورېدونکي په خپل

مقصود او مراد په ښه توگه وپوهوي. دغه مقاله دا رازده کوي چې پښتو جمله د بلاغت له مخې په کومو توکو مشتمله ده، ترڅو د مقصود او مراد د ښه انتقال سبب وگرځي او مخاطبان پرې ښه وپوهېږي.
د بلاغت او فصاحت په اړه بلاغت پوهان وايي دا هغه علم دی چې، د حال او مقام د مقتضی او غوښتنې مطابق، متکلم د خپل غرض د بیانولو وړتیا پیدا کوي او له خطا او اشتباه څخه د معنا په رسولو کې ځان ساتي(المراغی، ۱۴۳۱هـ، ص.۴۱). احمد مصطفی په علوم البلاغت کې وايي: متکلم چې کله له چا څخه شکریه او مننه کوي، یا عذر وړاندې کوي نو غواړي چې لنډې خبرې وکړي، بالعکس کله چې د چا توصیف او ښېگڼې بیانوي، بیا نو خبرې اوږدوي، همدارنگه کله د اثبات او کله د نفې له اسالیبو کار اخلي چې دا ټول د جملې د اجزاوو پورې اړه لري او هغه اجزا له مسند، مسند الیه او اسناد پرته نه ترسره کېږي (المراغي، ۱۴۳۱، ص.۴۱).

## موخې

پښتو ژبه د جمله جوړونې ځانگړې جوړښت لري او جمله هغه وخت خوندوره کېږي چې د بلاغت له اصولو سره سم د اورېدونکو او لوستونکو له غوښتنو او مقتضاوو سره موافقه جوړه شي، مسند او مسند الیه ترمنځ رابطه یې ډېره ټینگه او په زړه پورې او متکلم وکولی شي خپل اغراض او موخې نورو ته په ښه توگه ور انتقال کړي، د دې مقالې د لیکلو موخې هم په لاندې ډول ښودل کېږي:

- لوستونکي به د اِسناد او د اِسناد د ډولونو په پوهېدو سره د قرآن کریم، حدیثونو او اسلامي فقهې په بلاغي مفاهیمو ښه وپوهېږي
- لوستونکي به د قرآن کریم په اعجاز، د مفاهیمو په ایجاز او اطناب او همدارنگه د قرآن کریم د ترکیب په خوږوالي وپوهېږي
- لوستونکی او اورېدونکی به د ادبي اثارو په معنا او مفهوم ښه وپوهېږي
- لوستونکی او اورېدونکی به د ادبي اثارو په لیکلو کې د لیکوال احساسات او عاطفي افکار او ادبي ذوق په ښه توگه تشخیص کړي.
- د پښتو جملې د اصلي او فرعي معناوو د ادراک په نقلولو کې به له لوستونکو سره مرسته وکړي
- لوستونکی به وکولی شي چې په پښتو ژبه کې د مسند او مسند الیه احوال درک کړي او په راتلونکي کې به د سمې جمله جوړونې جوگه شي.

**اهمیت**

بلاغت داسې یو علم دی چې هر ویناوال او لیکوال ته پکار دي چې د اورېدونکو او لوستونکو د احساساتو او د مقام او حال مطابق خپلو خبرو ته اوډون ورکړي، ترڅو اورېدونکي او لوستونکي د وینا او لیک له خوږلنو څخه پوره برخمن شي، دغه کار د بلاغت په مټ تر سره کېدی شي. بلیغ او فصیح ویناوال او لیکوال ته د جملې جوړولو په اصولو دومره پوهه پکار ده چې وکولی شي د مبتدا او خبر ترمنځ اړیکه چې اِسناد بلل کېږي په ښه توګه وکاروي او مخاطب ته د هدف په رسولو کې کومه ستونزه پاتې نهٔ شي.

**د کار میتود**

دغه مقاله د بلاغي اسناد او د هغه د ډولونو په اړه له معتبرو علمي، لغوي، نحوي او بلاغي کتابونو څخه د بلاغي تحلیل په بنه د لیکنې د اصولو په پام کې نیولو سره ترتیب او لیکل شوې ده.
د پښتو جمله د بلاغت له مخې په اِسناد، مسند او مسند الیه ولاړه ده، د دې درېواړو مفاهیمو له پېژندلو مخکې باید د بلاغت معنا وپېژنو، بیا به د بلاغي جملې په نورو توکو ښه بحث وکړو.

**بلاغت**

بلاغت د عربي ژبې کلمه ده او مصدر دی، ماضي یې بَلُغَ او مضارع یې یَبلُغُ راځي، په لغت کې یو شی خپل وخت ته ورسېږي، لکه: مېوه پخه شي او د شکولو وخت ته ورسېږي، یا ماشوم بالغ شی یعنې د ادراک او رشد حال ته ورسېږي، کار خپل ښه والي او کره والي ته ورسېږي. همدارنګه یو سړی په خبرو کولو کې د بیان وړتیا پیدا کړي او فصاحت او بلاغت یې ښه شي (الوسیط، ۱۳۹۲هـ، ج۱، ص.۶۹). همدارنګه د خبرو کولو ښه وړتیا، اغېزناک بیان او قوي استدلال ته هم بلاغت وایي، همدارنګه د بلاغت د مخاطب د حال او مقام د غوښتنې مطابق فصیحې خبرې کولو ته وایي (الوسیط، ۱۳۹۲هـ، ج۱، ص.۷۰).
له پورته تعریف څخه څرګنده شوه چې بلاغت هغه علم دی چې ویناوال یا لیکوال ته د دې ځواک او استعداد ورکوي چې خپل مقصود او مراد په ښو (فصیحو) کلمو او ترتیب شوو جملو نورو ته په رسا او اسانه توګه ورسوي، دغه فصیحې کلمې به د ژبې له قوانینو سره مخالفت نلري، په ژبه به سختې او په غوږونو به درنې نه لګېږي، همدارنګه به له معنوي او لفظي تعقید پاکې او د نحوي جوړښت سره به مخالفت نلري، متکلم به داسې ځواک او ملکه لري چې بلیغې خبرې راټولې او په زړه پورې تألیف او

ترکيب ورکړي او د خيال او ذوق مطابق يې د اورېدونکو د حال او مقام له مقتضا سره سمې وړاندې کړي(مسلم دوست، ۱۳۹۳هـ، ص.۲۰-۲۱).

**د پښتو جملې جوړښت**

جمله څه ته وايي؟ جمله هغه ژبنی واحد دی چې د يو شمېر کلمو او لفظونو له منظم يو ځای کېدو څخه منځ ته راځي او په مرسته يې خپل مقصود او مراد نورو ته په بشپړه توګه لېږدول کېږي، جملې ته کلام او خبرې هم وايي(زيور، ۱۳۸۲هـ، ص.۳۴).

په پښتو ګرامر کې جمله دوه ډولونه لري: يوې ته يې اسمي جمله او بلې ته يې فعلي جمله وايي.

اسمي جمله دوه اساسي توکي لري، مسند اليه او مسند او يو فرعي يا معنوي توکی لري چې هغه د مسند او مسند اليه ترمنځ اِسناد يا رابطه يا اړيکه ده، لکه: زه محصل يم.

فعلی جمله هم دوه اساسي توکي لري، فاعل او فعل دي او يو معنوي توکی لري چې هغه د فاعل او فعل ترمنځ اِسناد يا رابطه او اړيکه ده، لکه: خالد راغی.

**اِسناد (رابطه)**

**د اِسناد لغوي او اصطلاحي معنا**

محمد سمير اللبدي د جرجاني څخه نقل کوي وايي: اسناد په لغت کې يو شی بل شي سره يو ځای کولو ته وايي، د نحويانو په اصطلاح کې اسناد د يوې کلمې بلې کلمې سره په داسې توګه يوځای کولو ته ويل کېږي چې پوره معنا ورکړي او سامع (اورېدونکی) پرې سکوت وکړي. (اللبدي،۱۴۰۵هـ، ص.۱۰۷) معجم الوسيط بيا ليکي: د ژبپوهانو په آند اسناد د يوې کلمې له بلې کلمې سره په داسې ډول اوډون او ترتيب ته وايي چې پوره معنا ورسوي (معجم الوسيط، ۱۳۹۲هـ، ص.۴۵۴). محمد سمير اللبدي زياتوي چې اسناد سره جمله تکميلېږي، که اسناد نهٔ وي جمله هم مکمله نهٔ وي (اللبدي، ۱۴۰۵هـ، ص.۱۰۷). جرجاني په التعريفات کې وايي: د يوې کلمې بلې کلمې ته په داسې توګه نسبت وشي چې د مخاطب پوهېدل او نه پوهيدل په پام کې ونهٔ نيول شي او متکلم چپ شي، بيا وايي چې اسناد په اصطلاح کې د يوې کلمې بلې کلمې سره په داسې توګه يو ځای کولو ته وايي چې پوره معنا ورکړي او نورو خبروته يکې اړتيا پيدا نهٔ شي (جرجاني، ۱۳۰۳هـ، ص.۲۳). جرجاني په پورته تعريف کې نسبت ياد کړی او نسبت د سيبويه نحوي په آند اضافت ته وايي (اللبدي، ۱۴۰۵هـ، ص.۲۲۳). د سيبويه د قول مطابق په بلاغت کې اضافي ترکيب او وصفي ترکيب هم په اسناد کې شامل دي.

په بلاغت کې اسناد ځانګړی ځای او مقام لري، د بلاغت عالمان وايي: اسناد د یوې کلمې نسبت بلې کلمې ته د معنوي تړون په اساس کېږي، هغه معنوي تړون چې مسند او مسند الیه په یوه جمله کې راغونډوي او د اورېدونکي او مخاطب ترمنځ یې د ادراک وړ ګرځوي (اللبدي، ۱۴۰۵هـ، ص.۱۰۸).
اسناد مخاطب ته د خبر او انشاء په اساس په دوه ډوله وېشل کېږي: ۱- خبري اسناد ۲- انشائي اسناد.
د بلاغت په علم کې کلام په دوه ډوله دی، یو یې خبري کلام دی، خبر هغه کلام یا وینا ته ویل کېږي چې د اثبات یا نفې حکم پرې شوي وي، یا په بل عبارت هغه کلام دی چې د رېښتیا یا درواغو حکم پرې شوی وي، یا د یو کلام په اړه د ایجاب یا سلب حکم پرې شوی وي. دغه خبر دوه مهم ارکان لري چې د نحوې په اصطلاح یې مبتدا او خبر او د معاني د علم په اصطلاح ورته مسند او مسند الیه وايي (مسلم دوست، ۱۳۹۳هـ، ص.۲۳). که خبر رېښتیا په خارج کې مصور شوی وي او یا واقع شوی وي، یا په بل عبارت خارجي صورت ولري نو دغه خبر ته رېښتیا خبر واي، حکم د اثبات پرې کېږي او که په واقع کې یې خارجي صورت نه درلود نو دا به کاذب وي، همدارنګه په دغه خبر به حکم د درواغو کېږي.

**دویم یې انشاء دی**، انشاء هغه کلام یا وینا ده چې د اثبات یا نفې حکم پرې نهٔ وي شوی، یا په بل عبارت هغه کلام دی چې د تکلم یا وینا په وخت کې حاصل شوی نهٔ وي او له کلام یا خبرو کولو نه وروسته واقع کېږي، مسلم دوست وايي: هغه کلام دی چې د رېښتیا یا درواغو احتمال ولري، بلکې په هغه کلام کې چې کوم مطلب نغښتی وي د متکلم له تلفظ نه مخکې نه معلومېږي او د رېښتیا یا د درواغو حکم پرې نه کېږي (مسلم دوست، ۱۳۹۳هـ، ص.۲۳).

**لومړی خبري اسناد**

خبري اسناد د اسمي جملې اساسي رکن دی، چې مسند الیه د جملې لومړی طرف او مسند د جملې دویم طرف ګڼل کېږي، لکه: احمد محصل دی، په دغه جمله کې د محصل نسبت احمد ته شوی، دغه نسبت ته چې د (دی) د کومکي فعل په واسطه واقع شوی اسناد ویل کېږي، دغه جمله که د نحوې د علم په منظره وګورو نو څرګنده به شي چې دواړه اسمونه دي او اسناد یې د کومکي فعل په واسطه ټینګ شوی، دغه ډول اسناد ته اسمي جمله وايي، چې اول جزء یې احمد دی چې په نحوه کې ورته مبتدا او په بلاغت کې ورته مسند الیه وايي او دویم جزء یې چې محصل دی د نحوې په اصطلاح کې ورته خبر او د بلاغت په اصطلاح کې ورته مسند وايي (زیور، ۱۳۸۲هـ، ص.۴۱).

په پښتو جمله کې اسناد اصل دی چې د مسند او مسند الیه ترمنځ رابطه اسنادي فعل یا کومکي فعل جوړه کړې وي، دغه ډول ترکیب ته اسنادي ترکیب یا اسمي جمله وایي، په اسمي جمله کې مبتدا ته مسند الیه او دویم جز ته یې مسند وایي(مرزبان راد، ۱۳۶۸هـ، ص.۱۳۵).
نو لومړی د اسناد ډولونه تشریح کوو او بیا د مسند او مسند الیه تعریف کوو.

**د مخاطب په اعتبار د اسناد خبري ډولونه**

د خبر مقصد د مخاطب خبرول او پوهول دي، نو خبرې کوونکی باید د مخاطب په حالاتو داسې ځان پوه کړي لکه ډاکټر چې د ناروغ تشخیص کوي، او بیا مناسب دارو ورکوي. خبرې باید حاجت او ضرورت په کچه وي، نهٔ دومره زیاتې اوږدې وي چې هسې بې ګټې وخت ضایع کړي او نهٔ دومره لنډې وي چې غرض افاده نهٔ شي کړای او مخاطب پرې ونهٔ پوهېږي. اسناد خبري د مخاطب حالت ته په کتو سره ټاکل کېږي، مخاطب لاندې درې حالتونه لري، د مخاطب د حالاتونو مطابق خبري اسناد هم په درې ډوله کېږي:

۱. خالي الذهن مخاطب (بالکل نا خبره): نا خبره مخاطب د یو کار په اړه هېڅ خبر نهٔ وي یعنې پوره نا خبره وي، خالي الذهن وي یعنې د موضوع په اړه ذهن یې پوره خالي وي، دغسې مخاطب ته خبر په ابتدائی توګه وړاندې کېږي، صِرف د هغه خبرول غواړي چې دغه خبر ته ابتدائي خبر وایي، لکه: احمد د محمود ورور دی، په دغه جمله کې مخاطب له دې نهٔ دی خبر چې احمد د محمود ورور دی نو ځکه ورته خبر له تاکید او ټینګار پرته وړاندې شوی دی. نور مثالونه لکه: یو چاته وایې: کابل د افغانستان پایتخت دی. زه د افغانستان یم. زه محصل یم. او داسې نور.

۲. متردد مخاطب: دویم هغه مخاطب دی چې له کار نه خبر دی خو یو څه شک او تردید لري، د هغه د شک او تردید د لرې کولو لپاره خبرې کوونکی باید داسې خبرې وکړي چې د هغه شک او تردید لرې کړي او باور یې راشي دغه ډول مخاطب ته متردد شخص وایي، خبر هم ورته له یو څه تاکید او ټینګار سره مل وړاندې کېږي، چې دې خبر ته طلبي وایي، لکه: زه هرومرو تاسره مرسته کوم، مخاطب په دې پوهېږي چې متکلم زما مرسته کوي خو آیا دا به ریښتیا وي او کنه، نو مخاطب د دې طلب لري چې متکلم یو څه ډاډ راکړي، دلته متکلم د هرومرو په کلمې سره خپله مرسته کې ټینګار کوي او د مخاطب تردد او شک له منځه وړي چې دې ډول خاطب ته متردد وایي او خبر ته یې طلبي وایي. یا ته خپل ملګري ته مېلمستیا وکړې او بیا ورته وایې: مونږ افغانان ډېر مېلمه پاله خلک یو. په دغه جمله کې

عملي مېلمه پالنه یو تاکید دی او د ډېر کلمه بل تاکید دی. چې د متردد شخص شک په یقین او باور بدلوي.

۳. منکر مخاطب: درېیم ډول هغه مخاطب دی چې له یوه خبر نه منکر وي او د متکلم له نظر سره خلاف لري، په دې وخت کې په خبرو کې زیات تاکیدات او ټینګارونو ته اړتیا وي، چې دغه مخاطب ته منکر او خبر ته انکاري وای، لکه: ستا ورور خامخا او هرومرو راځي. دلته خامخا او هرومرو دوه تاکیدات دي، دا دواړه د دې لپاره دي چې مخاطب سړی په خبر یقین نلري نو له دې امله ټینګارونه باید زیات وي. یا یو څوک له تا نه ګیله کوي او د ګیلې په توګه له تا نه خفه هم وي، ته ورته په ځواب کې وایې: والله چې ما ستا پوښتنه کړې ده. دلته قسم واقع شوی چې دا د مسلمانانو ترمنځ د کلکوالي او ټینګار نښه ده، نو د منکر شخص باور پرې راتلای شي. دې ډول خبر ته انکاري وایي او دا ځکه چې مخاطب منکر دی، د هغه د قناعت لپاره زیات تاکید او ټینګار ته اړتیا ده.

نو متکلم چې کله دا درې ډوله مخاطب وپېژني او د هغه له تشخیص نه وروسته ورسره د خبر له درې ډولونو نه یو استعمال کړي دا د حال او مقام د مقتضا مطابق خبره ده او بلیغه ده، همدا کار د بلاغت د علم په مټ کېږي (مسلم دوست، ۱۳۹۳هـ، ص.۲۷).

| د مخاطب ډول | د خبري اسناد ډول |
|---|---|
| خالي الذهن یا نا خبر مخاطب | ابتدائی او له ټینګارونو خالي |
| متردد مخاطب | طلبی خبر له لږ ټینګارونو سره |
| منکر مخاطب | له ډېرو تاکیداتو یا ټینګارونو سره |

**دویم ډول- انشائي اسناد**

دا هغه ډول اسناد دی چې متکلم پرې د داسې مطلب او کار غوښتنه کوي چې د هغه په آند د غوښتنې په وخت ک نهٔ وي حاصل شوی او آرزو لري چې له دې وروسته حاصل شي، دا ډول اسناد ته انشائي وایي، انشائي ورته ځکه وایي چې د غوښتنې په وخت کې نهٔ دی حاصل او له غوښتنې وروسته به طلب کېږي او بیا به حاصلېږي، نو ځکه ورته انشاء طلبي وایي چې له طلب وروسته لاسته راځي دا ډول اسناد د بلاغت د علم په اساس پنځه ډولونه لري (الهاشمي، ۱۴۳۱هـ، ص.۶۹) :

۱. امر یعنې د یو کار د کولو غوښتنه، لکه: د لوړې مرتبې کس ټیټ رتبه باندې امر وکړي چې چای راوړه نو مخاطب په دې حال کې مجبور دی چې هغه امر په ځای کړي. یا مونږ بندګان د الله اوامر منو، ځکه چې هغه زمونږ رب دی، هغه وایي چې اقیموا الصلاة یعنې د مونځ په ټولو ارکانو سره پابندي وکړئ.

۲. نهې یعنې د یو کار د نه کولو غوښتنه، لکه: د لوړې مرتبې شخص ټیټ رتبه ته الزامي منعه وکړي، ولا تقربوا الزنا، الله دا نهېې کوي چې د زنا اسبابو ته به هم نۀ نږدې کېږئ. یا یو پلار خپل بچي ته وایي چې له بې لارې خلکو سره ونه ګرځې.

۳. استفهام یعنې د یو شي په اړه پوښتنه کوې د دې لپاره چې نا معلوم شی پرې معلوم کړې، پوښتنه بیا د اداتو په واسطه او د غږ د لهجې د بدلون په واسطه هم کېږي، لکه: آیا چې د اثبات او نفيې د څرګندولو لپاره راځي، د مثال په ډول چا ته ووایې آیا د پسرلي په اړه دې مقاله لیکلې؟

۴. تمني (ارمان): تمني د یو محبوب شي غوښتنې ته ویل کېږي:

الف- چې حصول یې مستحیل (نه کېدونکی) او نا ممکن وي لکه بوډا سړی وایي: کاشکې ځوان شم.

ب- حصول یې مستحیل نۀ بلکې ممکن وي، خو ډېر ګران او سخت وي، یا په بل عبارت تمعه یې هم نه وي، لکه: یو بې چاره سړی وایي: کاشکې پاچا شم. یا سړی وایي چې د قارون په شان مال ولرم، د قارون په شان مال لرلو کې مسلمان سړی تمعه نلري (قاسم، ۲۰۰۳م، ص.۳۰۳).

۱. نداء (د اواز او بلنې) اسلوب: دا هغه اواز کول دي چې متکلم مخاطب پرې د ځان خواته متوجه کوي، لکه: یا الله ته زمونږ ګناهونه وبښه، یا په پښتو کې وایو: بریالیا، یا ای بریالیا او داسې نور.

پورته پنځه ډوله اسناد انشائي ده چې د غوښتنې په وخت کې حاصل نۀ وي خو د غوښتنې له وخت نه وروسته حاصلېږي.

اوس غواړو چې د جملې په اړه د مسند او مسند الیه تعریفونه وکړو او د هغوی احوال ذکر کړو او ورسره د اسناد حقیقي او اسناد مجازي اقسامو ته هم نغوته وکړو.

په پښتو او نورو ژبو کې جمله په دوه ډوله ده، اسمي جمله او فعلي جمله، په اسمي جمله کې مسند الیه مبتدا وي او مسند یې خبر وي، او په فعلي جمله کې مسند الیه فاعل او فعل یې مسند وي، لومړي اسمي جمله او د هغوی مسند او مسند الیه تشریح کوو.

### د اسمي جملې طبیعي ترتیب په لاندې ډول دی

مسند الیه + مسند + کومکي یا ربطي فعل

اسنادي یا کومکي فعلونه د یو کار د کولو ښوودنه نۀ کوي بلکې اسنادي یا کومکي او ربطي فعلونه یو حالت، یو صفت یا د اسم او کومکي فعل نه جوړ ترکیب چې یو صفت یا یو حالت مسند الیه پورې تړي، مسند بلل کېږي، مسند د جملې اصلي رکن دی او دا هغه کلمه یا کلمې دي چې د مفهوم نسبت یې مسند الیه ته کېږي (دهخدا، ج۱۳، د مسند کلمه).

**د مسند تعریف**

پورته وویل شول چې اسم او کومکي فعل مسند کېږي او لومړی اسم چې د هغه په اړه مسند خپل مفهوم وړاندې کوي مسند الیه بلل کېږي، دا په ډاگه ویلای شو چې مسند کېدای شي، اضافي عبارت وي، همدارنگه کېدای شي توصیفي عبارت وي یا قیدي عبارت وي، خو چې د مسند الیه په اړه خبر ورکوي او یا مفهوم یې د مسند الیه په اړه وي مسند بلل کېږي، لکه: اضافي ترکیب، دکتور زرغونه زیور له پوهاند رښتین نه نقل کوي وایي: اضافي ترکیب: دا هغه ډول ترکیبونه دي چې د یو اسم نسبت یو بل اسم یا ضمیر ته شوی وي یا په بله وینا سره که چېرې دوه اسمونه د اضافت (د) د مالکیت مقید مورفیم په واسطه له یو بل سره ارتباط پیدا کړي نو یو اضافي ترکیب لاس ته راځي، د پښتو ژبې په اضافي ترکیبونو کې معمولا یو نوم مضاف الیه او بل نوم د مضاف په توگه وي چې مضاف د مضاف الیه څخه وروسته راځي (زیور، ۱۳۸۲هـ، ص. ۴۸).

اضافي ترکیب چونکه د یو اسم نسبت بل ته شوی وي نو د همدې له امله دا ډول ترکیب د جملې جزء کېل کېږي، اضافي ترکیب چې مسند واقع شوی وي، لکه: گل پاچا الفت د لغمان دی. د لغمان دی اضافي ترکیب دی او مسند دی د مسند الیه پېژندگلوي کوي.

مسند چې توصیفي عبارت وي، لکه: زما موټر سور شتري رنگ لري. سور شتري رنگ لري توصیفي ترکیب دی چې مسند واقع شوی او د مسند الیه په اړه خبر ورکوي چې موټر دی، همدارنگه کېدای شي چې مسند له دوه اسمونو جوړ وي لکه: دغه هلک یو محصل دی، په دغه جمله کې یو محصل دی له دوه اسمونو چې یو عدد او بل محصل دی څخه جوړ دی، مسند دی او د مسند الیه په اړه خبر ورکوي. همدارنگه کېدای شي مسند له قید زمان څخه جوړ وي لکه: زما او ستا وعده سبا سهار ده، په دغه جمله سبا سهار ده مسند دی او دا دواړه د قید زمان نه جوړ ترکیب دی.

**د مسند تشخیص**

مسند څنگه تشخیصولی شو؟ د مسند د تشخیصولو لپاره دغه پوښتنې ته داسې ځواب وایو چې مسند لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړي هغه مسند وي، لکه: څنگه، څرنگه، څه دي او.... لکه: هوا یخه ده. هوا څنگه ده؟ هوا یخه ده. د زرو کوټه ده. څنگه کوټه ده؟ د زرو ده. دغه بانجان دي. څه دي؟ ځواب وایو: دغه بانجان دي. د اوبو جام. دا څه دی؟ دا د اوبو جام دی. او همدارنگه ډېرو سوالونو ته ځواب ویل د مسند کار دی (زیور، ۱۳۸۲هـ، ص.۴۹).

په پښتو ژبه کې مسند اسمي او فعلي دواړه راځي، اسمي یا نومیز خبر هغه دی چې له اسم، صفت، ضمیر، عدد او کومکي فعلونو څخه ترکیب شوی وي د خبر یا مسند په توګه راځي. په لاندې جمله کې:
زمری بزګر دی، په دغه جمله کې بزګر چې اسم دی له کومکي فعل چې (دی) دی سره یو ځای شوی او مسند یې جوړ کړی او مسند الیه ته یې اسناد شوی. همدارنګه دغه مسند کله کله اسم صفتي له کومکي اسم سره یو ځای راځي، لکه په لاندې مثال کې:
افغانستان غرنی هېواد دی، په دغه مثال کې غرنی صفت هېواد موصوف او دی کومکي فعل دی، چې د مسند الیه په اړه خبر ورکوي. ټول کومکي فعلونه چې د ماضي، حال او مستقبل په مهال دلالت کوي کومکي فعلونه ګڼل کېږي، فعلونه څکه ورته وايي چې د وخت او مهال ښودنه کوي او کومکي څکه دي چې مستقل فعلونه نهٔ دي، لکه: و، وو، شو یا شول، شوي، دی، دي، ده، یم، یمه، یې، یئ، یاستئ او داسې نور چې اکثر په ماضي مهال دلالت کوي او د اوس مهال یعنې حال لپاره هم کارول کېږي، په مستقبل کې یې بیا کومکي فعل سره (به) اضافه کېږي، لکه لاندې جملې:
هغوی به راشي، مونږ به راشو، ته به روغ شې، زه به لاړ شم، مونږ به لاړ شو. (مسلم دوست، ص.۸۹).

**د مسند الیه تعریف**

مسند الیه هغه اسم دی چې مسند د هغه په اړه خبر ورکوي، د هغه حالت بیانوي، د هغه توصیف کوي او مسند الیه را معرفي کوي او یا مسند الیه ته مسند د اثبات یا نفې نسبت وکړي (مرزبان راد، ۱۳۶۸هـ، ص.۱۳۴). همدارنګه مسند الیه هغه اسم دی چې دغو پوښتنو ته ځواب ووايي: څوک؟ چا؟ څه شي؟ او ... لکه: خالد محصل دی. څوک محصل دی؟ خالد محصل دی. خالد واښه راوړل. چا راوړل؟ خالد راوړل. همدارنګه نور.
مسند الیه په لاندې شکلونو پېژندل کېږي:

- شخصي ضمیر راځي، لکه: هغه خوش اخلاق دی.
- اشاروي ضمیر راځي، لکه: دغه وران کور دی.
- اشاري صفت + اسم، لکه: دا احساس ښه دی.
- مصدر راځي، لکه: منډه وهل ګټه لري.
- اسم مصدر راځي، لکه: خندا ښه وي.
- فاعلي صفت+ مصدر راځي، لکه: لیکوالي سخت کار دی.

په پورته توگه مونږ مسند الیه پېژندلی شو چې پوره پوښتنو ته ځواب ووایي، لکه: اوړی گرم دی، په دغه جمله کې اوړی مسند الیه دی او د گرم دی اسناد ورته شوی، همدارنگه د پوهنتوون ځوانان ډېر با استعداده دي، په دغه جمله کې د پوهنتون ځوانان مسند الیه دی او د با استعداد دي اسناد ورته شوی (باطني، ص.۱۰۱).

## دویم فعلي جمله چې طبیعي جوړښت یې په لاندې ډول دی

۱. فاعل + فعل لکه: احمد راغی

په پورته جمله کې احمد فاعل دی او راغی فعل دی، فاعل مسند الیه دی او فعل ې مسند دی. د راغی فعل په تېر مهال کې د یو کار ښودنه کوي، او نسبت یې فاعل ته شوی چې دغه ته اِسنادې خبري وایي؛ په دغه جمله کې یو اسناد دی.

۱. فاعل+ مفعول+ فعل. توریالی سبق وایي.

په پورته جمله کې توریالی فاعل دی او سبق مفعول دی او وایي فعل دی، چې د وایي اسناد فاعل ته شوی مسند الیه دی او بیا یې اسناد مفعول ته شوی چې د مسند متعلق دی، په دغه جمله کې دوه اسناده موجود دي، یو فاعل ته د مسند الیه په توگه بل مفعول ته د مسند د متعلق په توگه. نو څومره چې په جمله کې د فعل متعلقات زیات وي هماغومره نسبتونه هم زیات وي.

مسند الیه او مسند نور ډېر احوال لري، لکه تقدیم او تاخیر، حذف، ذکر، ایجاز او اطناب او مساوات او نور خو چونکه زمونږ موضوع یوازې د اسناد ښودل دي نو له نورو احوالو څخه یې تېرېږم او په لاندې کرښو کې د اسناد نور ډولونه چې حقیقي او مجازي ته تقسیمېږي وړاندې کوم.

د بلاغت علم کې د اسناد حقیقي او اسناد مجازي یادونه کېږي، دغه اسناد د فاعل په اعتبار په دوه ډوله دی:

۱. اسناد حقیقي

۲. اسناد مجازي

## لومړی حقیقي اسناد

حقیقي اسناد هغه ته وایي چې مسند الیه یا فاعل یې حقیقي وي، د مسنِد یعنې اسناد کوونکي اعتقاد هم راسخ وي، د متکلم په عقیده او گمان د فعل اسناد خپل حقیقي فاعل ته شوی وي حقیقي اسناد بلل کیږي، لکه: الله د ټول مخلوق خالق دی، دلته د خلق اسناد د الله جل جلاله لفظ ته شوی، چې خالق

حقیقي دی. همدارنګه احمد راغی جمله کې اسناد احمد ته شوی چې د راغی فعل لپاره حقیقي فاعل دی. همدارنګه سمندر خان سمندر د توحید ترنګ کتاب کې د اِله پېژندنه کې ټول حقیقي اسناد راوړی دی، لکه:

اله هغه یو قوت دی چې لائق د عبادت دی
چې تل پټ او پُر اسراسر وي چې پوره، او خود مختیار وی
د هر چا حاجت روا وي مرتبه یې ډېره بالا وي
بالا دست او طاقتور وي د طاقت یې هېڅ نه سر وي (سمندر، ج۱، ص.۷۹).

په پورته بیتونو کې سمندر خان د الله تعریف کړی، دا تعریف چې په کومو کلماتو شوی هغه مسند واقع شوي او د یو الله جل جلاله لفظ ورته مسند الیه واقع شوی دی. خو سمند خان سمندر یو بل کمال دا کړی چې مسند الیه یو دی او مسند یې ډېر راوړي چې دا ډول مسند ته ترکیبي مسند وايي.

**دویم، مجازي اسناد**

مجازي اسناد هغه ته وایي چې متکلم په خپله عقیده او ګمان د فعل یا کړ یا د فعل په معنا الفاظو او مفاهیمو اسناد داسې چا ته وکړي چې هغه یې فاعل حقیقي نهٔ وي، بلکې مجازا هغه ته دغه اسناد شوی وي، لکه: دوايي ښه کړم، په دغه جمله کې د ښه کولو اسناد دواء ته شوی، دا اسناد مجازي دی ځکه چې فاعل حقیقي خو الله جل جلاله دی، نو دلته اسناد د فعل مجازي دی، همدارنګه په ادبیاتو کې د دغه ډول اسناد مثالونه ډېر زیات دي، دا ځکه چې ادبیات او ادبي علوم اصلا د مجاز او خیال او تخیل څخه ډېر برخمن دي نو ځکه مجاز ډېر کاروي، په لاندې ډول د ادب په رڼا کې څو مثالونه وړاندې کوم:

لمر وخندل، په دغه جمله کې د وخندل فعل دی او اسناد یې لمر ته شوی چې لمر کله هم نهٔ خاندي، لمر ته یې مجازاً اسناد شوی. همدارنګه ګل پاچا الفت په یو شعر کې عجیبه مجازي اسناد کړی:

په ګودر پېغلو منګي خپل ډکول یو منګي د ډکېدو وخت کې ویل
تږي نهٔ یو اوبه څکو خو نه پوهېږو چې څه راز به وي د تږي اوبه څکل (الفت، ۱۳۷۵هـ، ص.۲۳۲).

په پورته بیت کې شاعر داسې کار کړی، چې منګي ته یې د ویلو اسناد ثابت کړی، دا اسناد مجازي دی، ځکه چې منګي په حقیقت کې خبرې نشي کولی.

بیا وایي:

په ریښتیا چې څوک منګي غوندې ډکېږي ورو ترو له احواله څه خبرېږي
په کندوانو څوک پېره نشي اچولی که په لوړه د خوارانو نۀ پوهېږي (الفت، ۱۳۷۵هـ، ص.۲۳۲)

په پورته بیت کې الفت صاحب له کندو څخه د پوهې منفي اسناد کړی، چې منګی ډکېږي خو په تنده او مړښت نه پوهېږي همدارنګه کندو هم له ډکېدو او تشېدو پرته د بل کار نه دی، نو ځکه نۀ پوهېږي. دغه ته مجازي اسناد وايي.

**نتیجه یا پایله**

اِسناد یوه عربي کلمه ده چې په لغت کې د یو شي نسبت بل شي ته په داسې توګه وشي چې د هغه شي مفهوم بل شي ته ثابت وي او یا نفې شوی وي، لکه: احمد راغی، دلته احمد ته د راتلو نسبت ثابت شوی او که ووایو چې احمد نۀ دی راغلی، دلته له احمد څخه د راتلل نفې شوي، همدارنګه اسناد دوه اساسي رکنونه لري، مسند او مسند الیه او اسناد یې هغه رابطه ده چې د کومکي فعلونو په واسطه د دوی ترمنځ ټینګښت پیدا کوي، دغې رابطې ته په نحوه کې رابطه او اړیکه وايي او په علم بلاغت کې ورته اسناد وايي. اسناد خبري، اسناد انشائي، اسناد حقیقي، اسناد مجازي ډولونه لري چې حقیقي اسناد هغه اسناد دی چې د متکلم په اعتقاد فاعل حقیقي ته اسناد شوی وي، لکه: الله جل جلاله د مخلوقاتو پیدا کوونکی دی. اسناد مجازی هغه ته وايي چې اسناد یې فاعل حقیقي ته نه وي شوی بلکې مجازي فاعل ته یې اسناد شوی وي، لکه: ډواء روغ کړم، دلته د روغ کېدو اسناد دواء ته شوی، مجازي اسناد دی. همدارګه اسناد خبري مخاطب ته په کتو سره تاکل کېږي، که مخاطب هوښیار او ځیرک وي نو هغه ته په لنډو الفاظ خبرې کېږي او که مخاطب متردد او شکي وي د هغه د تردد د له منځه وړلو لپاره په خبر کې تاکید کېږي او که داسې و چې مخاطب منکر و او هېڅ یې هم نه منل نو بیا ورته په کلکو الفاظو او تاکیداتو خبر او وینا وړاندې کېږي، چې همدا د بلاغت تعریف هم دی چې د حال او مقام له غوښتنې سره سم د مخاطب سره خبرې کولو پوهه را زده کوي.

**وړاندیزونه**

لیکوال باید د ژبني علومو په مټ د کلام او خبرو ترمنځ تسلسل ته متوجه شي او په دې اړه ځانګړي اثار ولیکي.

لیکوال باید د پښتو ژبې د ادبي اثارو بلاغي، بیانی او بدیعي خواوو کې ډېرې کار وکړي.

**مأخذونه**

باطني، محمد رضا. (۱۳۴۸هـ). توصیف ساختمان دستوری زبان فارسی. تهران: شرکت سهامی افست.

جرجاني، علي بن محمد. (۱۳۰۳هـ). التعریفات. بیروت: دار الکتب العلمیة.

زیور، زرغونه. (۱۳۸۲هـ). پښتو نحوه. پېشور: د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز.

سمندر، سمندخان. (۱۹۸۴م). د توحید ترنګ، اول جلد. پېښور: پښتو اکېډیمي پېشور یونیورسټي.

قاسم، محمد احمد. (۲۰۰۳م). علوم البلاغة. لبنان: المؤسسة الحدیثة للکتاب.

لبدي، محمد سمیر. (۱۴۰۵هـ). معجم المصطلحات النحویة والصرفیة. بیروت: دارالفرقان.

مراغی، احمد مصطفی. (۱۴۳۱هـ). علوم البلاغة «البیان، المعانی، البدیع)». ب ناشر.

مرزبان راد، علي. (۱۳٦۸هـ). دستور سودمند. ایران: انتشارات فرهنګي جهاد.

مسلم دوست، عبدالرحیم. (۱۳۹۳م). خوږه ژبه. ننګرهار: مومند خپرندویې ټولنې تخنیکی ځانګه.

نخبة من اللغويين بمجمع اللغة العربية بالقاهرة. (۱۳۹۲هـ). معجم الوسیط، ط۲. القاهرة: مجمع اللغة العربیة بالقاهرة

ننګیال، شهرت. (۱۳۷۵هـ). د الفت ملغلرې. پېښور: الفت اکېډیمي د مطبوعاتي خدمتونو مرکز.

هاشمي، حمد بن ابراهیم. (۱۴۳۱هـ). جواهر البلاغة فی المعاني و البیان و البدیع. بیروت: المکتبة العصریة.

# د اسلامي شريعت په رڼا کې ټولنيزې اړيکې او د پياوړتيا اساسات يې

پوهنيار محمد اسحاق شهزاد د پکتيکا لوړو زده کړو مؤسسې دښوونې او روزنې پوهنځي د اسلامي ثقافت څانگې استاد.

**برېښناليک:**ishaqshahzad821@gmail.com

**لنډيز**

په دې مقاله کې د اسلامي شريعت په رڼا کې د ټولنيزو اړيکو کيفيت او څرنگوالی بيان شوی دی او هر چا سره د هغه مناسب اړيکې ساتل په جلا جلا توگه څرگندې شوې دي او په ټوله کې دا واضح شوې، چې دغه اړيکې بايد په مينه، محبت، همکارۍ، له يو بل سره درېدل، په وعده وفا، نېکيو ته رابلل او نور دېته ورته اړينو صفاتو باندې ولاړې وي، چې پلي کول يې د ټولنې د افرادو د هوساينې او نيکمرغۍ لامل گرځي، په همدې توگه د دغو اړيکو د پياوړتيا لپاره د شريعت په رڼا کې يو لړ اړين اساسات وړاندې شوي دي، لکه: د اصلاح اراده لرل، د خبرو په انتقال کې رښتيا او امانتداري، خلکو ته د هغوی د پوهې په کچه خطاب، د تکليف په برداشت باندې صبر، د حقيقت پلټنه او تحقيق، د خلکو سره نرمي، له ويناوو سره د کړنو مطابقت او ترڅنگ يې دا هم رابرسېره شوې ده، چې د ټولنې څخه جلا ژوند کول او يا دغو اساساتو ته پاملرنه نه کول يو لړ ستونزو او مشکلاتو ته لاره هواروي؛ نو په دې لړکې غوره ټولنه هغه ده، چې د خلکو سره د اړيکو اصول او مقررات درک کړي او هر چا سره د اسلامي شريعت په رڼاکې اصولي چلند وکړي.

**کليدي کلمې:** اسلامي شريعت، اساسات، اړيکې، ټولنه، ټولنيز، پياوړتيا، عوامل.

**سريزه**

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ! **الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين وعلى اله واصحابه اجمعين.**

**أما بعد:**

الله تعالی په خپل کتاب کې فرمايلي دي: **{ وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا}**(قرآن کريم، النساء،ايت :۳۶).

**ژباړه:** او تاسي ټول د الله بندگي وکړئ، له هغه سره هيڅ شي شريك مه نيسئ. له مور او پلار سره غوره رويه وکړئ. له خپلوانو، يتيمانو او مسکينانو سره نېک چلن وکړئ. او له خپلوانو گاونډيانو سره، پرديو گاونډيانو سره، د څنگ له ملگري او مسافر سره او له هغو مينزو او غلامانو سره چې ستاسې په لاس

کې وي، د احسان چار چلن وکړئ. باور ولرئ چي الله داسې څوك نه خوښوي، چې په خپله انګېرنه مغرور وي او په خپله لوړتیا ویاړي.

او نبي صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: (**مثلُ المؤمنين في تَوادِّهم، وتَرَاحُمِهِم، وتعاطُفِهِمْ، مثلُ الجسَدِ إذا اشتكَى منْهُ عضوٌ تدَاعَى لَهُ سائِرُ الجسَدِ بالسَّهَرِ والحُمَّى**)( النيسابوري، د نشر کال نه لري، جلد: څلورم، ص. ۱۹۹۹).

**ژباړه:** مؤمنان په مينه، مهرباني او شفقت کې د يو بدن په څېر دي، کله چې يې يو غړی نا ارامه (دردمند) شي؛ نو ټول بدن يې د شوګير (شبګير) او تبې له امله نا ارامه وي.

که څوک غواړي، چې په دنيا کې ارام ژوند ولري او په اخرت کې د خپل خالق پر وړاندې کامياب شي؛ نو اړينه ده، چې د ټولنې له افرادو سره ښې، په مينه، عاطفه او په خير خواهۍ ولاړې اړيکې ولري؛ ځکه انسان په ګوښه ډول نشي کولای، چې په دنياوي چارو کې برياليی شي او هم د دين چارې په يوازې توګه سرته ورسوي؛ ځکه په دې لار کې د ټولنې سره اړيکې او مشارکت اړين دی؛ نو له همدې کبله اسلامي شريعت د هر چا سره د اړيکو ساتلو او تعامل څرنګوالې واضح کړی دی او ترڅنګ يې هغه اساسات واضح کړي دي، چې د دغو اړيکو د پياوړتيا لامل جوړيږي،کوم چې د دنيا او اخرت د نيکبختۍ له اسبابو څخه دي.

## د څېړنې موخې

۱- د دې څېړنې څخه زما موخه داده، چې هر مسلمان د اسلامي شريعت د نصوصو په رڼا کې د ټولنيزو اړيکو د کيفيت او څرنګوالي اړوند اګاه شي.

۲- په همدې ډول، چې د ټولنې وګړي د ټولنيزو اړيکو د پياوړتيا اساسات وپېژني او په خپل ژوند کې يې عملي کړي.

۳- د دې اړينې موضوع په روښانه کولو سره خپل ديني مسؤوليت اداء کول.

## کړنلاره او توکي

د دې موضوع په ليکنه کې مې د لاندې کړنلارې او مېتود څخه ګټه اخيستې ده.

- د موضوع اړوند مې اصلي مصادرو او مراجعو ته رجوع کړې ده.
- اړونده موضوع مې د معتمدو شرعي نصوصو څخه بيان کړې ده.

- د موضوع د استناد لپاره مې لومړی قرآني نصوصو ته او له هغې وروسته مې نبوي سنتو ته مراجعه کړې ده.
- هڅه مې کړې ده، چې احاديث په لومړي قدم کې له صحيحينو څخه رانقل کړم.
- د موادو په ترتيب او څېړنه کې مې هڅه کړې ده، چې د مسئلې حقيقت او واقعيت راڅرګند کړم او په دې اړه له افراط او تفريط څخه ډډه وکړم.
- د څېړنې بنه تحقيقي او مېتود يې کتابتوني دی.

**د ټولنيزو اړيکو پېژندنه:** څرنګه چې دغه عنوان له دوو کلمو څخه جوړ دی؛ نو هر يو يې په جلا جلا توګه تعريفوو او بيا يې په مجموعي ډول پېژنو.

ټولنيز له ټولنې څخه اخيستل شوی، چې د ټولنې تعريف په لاندې ډول دی:

**د ټولنې تعريف**: د افرادو هغه مجموعه ده، چې ترمنځ يې د اړيکو داسې يوه مشترکه رابطه موجوده وي، چې له کبله يې دوی داسې په ګډه زنده ګي تيروي، چې ژوند يې د دوی ترمنځ په منل شويو (پېژندل شويو) منظمو اړيکو کې تنظيمېږي. ( المبارک، د نشر کال نه لري،ص:۷).

**د اړيکې تعريف**: د اړيکې عمليه دا د يو فرد يا د افرادو د مجموعې د بل فرد يا د افرادو د مجموعې ترمنځ د تعامل داسې يوه پروسه ده، چې هدف يې په داسې تجربه کې برخه اخيستل وي، چې پايله يې د دې اشخاصو چلند بدلوي (علي، ۲۰۰۹م، ص. ۱٦).

**د ټولنيزو اړيکو تعريف:** د ټولنې د افرادو ترمنځ ټولنيز تعامل او د نظرياتو او تجربوبو تبادله ده؛ ترڅو داسې يوه ټولنه رامنځته شي، چې د افرادو له لوري پياوړې، همغږې او قوي ووسي او په داسې اساساتو ولاړه وي، چې له قرآن کريم او سنتو څخه په لاس راغلې وي؛ تر څو د ددنيا او اخرت نيکمرغی او ښېګڼې ترلاسه شي (أحمد،۲۰۱۴م، ص. ۱۹).

**د ټولنيزو اړيکو اهميت:** په دې کې هيڅ شک نشته ،چې ټولنيزې اړيکې جوړول د انسان په ژوند کې خورا زيات اهميت لري؛ ځکه انسان يو ټولنيز مخلوق دی يوازې نه شي کولای، چې د ژوند ټېرولو ټول وسائل د ځان لپاره تهيه کړي؛ بلکې په دې لار کې يې نورو خلکو ته اړتيا هرومرو پېښېږي؛ ترڅو سوکاله او ارام ژوند وکړي او په همدې شکل نور بيا ده ته اړتيا لري، چې له مهارتونو يې ګټه پورته کړي.

او انسان په يوازې توګه هيڅ شی نه دی؛ خو د ټولنې په پر مټ او همکارۍ ډېر څه دی، خپله کمزوری دی؛ خو په دوستانو غښتلی دی، له ټولنې پرته يو مسلمان په نشت حساب دی؛ مګر دا چې ټولنه يې لاس ونيسي او مرسته يې وکړي؛ نو د ټولنې له افرادو سره بايد په اړيکه کې شي او هغوی له ده سره روابط

ولري؛ ترڅو ټاکل شوې موخې او هيلې ترلاسه کړي، کومې چې په انفرادي ډول ممکنې نه دي (هندي،۱۴۳۱ ل، ص. ۸۵).

**د کورنۍ له افرادو سره اړيکې:** ښې اړيکې په اسلام کې د عسکرۍ، سياست، د کار او کورنۍ تر ډګره محدودې نه دي؛ بلکې دا يې د ژوند اسلوب او طريقه ده، چې کوچنيان د لويانو سره ښې اړيکې ولري او لويان به د کوچنيانو څخه پوښتنه کوي او هر يو به د بل خبره اوري، خير خواهي به يې لټوي، ښې اړيکې به ورسره ساتي او کوښښ به کوي؛ تر څو يوې مشترکې رايې ته ورسيږي؛ خو په دې ټولو اړيکو کې يې اړينې د کورنۍ اړيکې دي؛ ځکه دا د ټولو خارجي اړيکو د اساس ډبره ده.

بلکې د کورنۍ يووالی د حلقو څخه جوړ ځنځير ته ورته دی، چې هر فرد يې د دغه ځنځير د يوې حلقې په څېر دی، چې ددغو حلقو له يو ځای کېدو څخه د کورنۍ يووالی او وحدت مينځته راځي. (الموري، د نشر کال نه لري، ص. ۲۸).

نو د کورنۍ افراد چې کله د خپلو اعضاوو د اهدافو د تر لاسه کولو لپاره هلې ځلې کوي؛ نو بيا دغه چاره د کورنۍ د قوت، يو والي او انسجام لامل کيږي، چې ددې څخه د هدف په يووالي سره تعبير کيږي( عبد الله زيادة، ۲۰۰۵م، ص. ۱۵۴).

**۱- د مور او پلار سره اړيکې**: د مور او پلار سره نيکي او د هغوی سره ښې اړيکې ساتل د بنده ګانو په حقو قو کې ترټولو ستر حق دی او د شريعت له لوري وربانديې ډېر ټينګار شوی دی، په دې کې هيڅ شک نشته، چې اسلام د مور او پلار مقام داسې مرتبې ته لوړ کړی دی، چې انسانيت په هيڅ ډول په نورو اديانو کې هغه نه دی پيژندلی؛ تر دې چې الله تعالی د مور او پلار سره نيکي او د هغوی سره ښې اړيکې ساتل د خپل حق (عبادت او توحيد) سره يوځای ذکر کړی دی، الله تعالی فرمايي:**{ وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا... }**( قرآن کريم، النساء،ايت: ۳۶ ).

**ژباړه:** او تاسو ټول د الله تعالی بنده ګي وکړئ او له هغه سره هيڅ شی شريک مه نيسئ او له مور او پلار سره ښېګڼه کوئ.

په همدې ډول که نبوي سنتو ته نظر واچوو؛ نو وبه ګورو، چې د مور او پلار سره ښو اړيکو ساتلو ته يې خلک هڅولي دي او د هغوی د نافرمانۍ څخه يې خلک ډارولي دي، چې په دې لړ کې امام بخاري (رحمه الله) د صحيح البخاري په کتاب الأدب کې باب ايښی دی (**باب عقوق الوالدين من الكبائر**) (البخاري، ۱۴۲۲ ل، جلد:اتم ،ص. ۴).په دې معنا، چې د مور او پلار نافرماني د کبيره ګناهونو څخه ده او په دې لړکې يې لاندې حديث ذکرکړی دی: (**عن انس بن مالک رضي الله عنه قال**: **ذَكَرَ رَسولُ اللَّهِ**

**صَلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ الكَبَائِرَ –أوْ سُئِلَ عَنِ الكَبَائِرِ– فَقالَ: الشِّرْكُ باللَّهِ، وقَتْلُ النَّفْسِ، وعُقُوقُ الوَالِدَيْنِ)** (البخاري، ۱۴۲۲ ل، جلد:اتم ،ص. ۴).

**ژباړه:** د انس بن مالک (رضي الله عنه) نه روایت دی هغه، فرمایي: چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) لوی گناهونه ذکرکړل او یا ترېنه د لویو گناهونو اړوند پوښتنه وشوه؛ نو ویې فرمایل: د الله تعالی سره شریک پیداکول، د نفس وژنه (په ناحقه) او د مور او پلار نافرماني کول.

په پورته حدیث کې مسلمان د مور او پلار د نافرمانۍ څخه ویرول شوی دی او د سترو گناهونو په کتار کې یې ذکر کړي ده؛ خو بل طرف ته که وگور د فرمانبرداره اولاد لپاره یې لوی اجر ذکر کړی او د مور او پلار سره ښې اړیکې او ښېگڼه یې د غوره اعمالو څخه شمیرلې ده: **(عَنْ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: أَفْضَلُ الْأَعْمَالِ – أَوِ الْعَمَلِ – الصَّلَاةُ لِوَقْتِهَا وَبِرُّ الْوَالِدَيْنِ** .(النیسابوري، د نشر کال نه لري، جلد: اول، ص. ۹۰ ).

**ژباړه:** د عبد الله (رضي الله عنه) نه روایت دی، چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: غوره له اعمالو څخه- یا غوره عمل لمونځ په خپل وخت کې ترسره کول او د مور او پلار سره نیکي کول دي.

**۲- د کور ودانۍ(ښځې) سره اړیکې**: نکاح (زواج) د زړه اطمئنان ، د ضمیر استقرار او ارامښت دی، چې له امله یې د ښځې او خاوند ترمنځ صمیمي اړیکې پیدا کیږي، کومې چې په مینه، محبت، تسامح او ترحم باندې ولاړې وي.

دا چې د زوجیت رابطه د ښو اړیکو رابطه ده؛ نو په دې کې لازم دا ده، چې هر طرف یې بل طرف په عمیق او ژوره توگه د خبرو، پوښتنې او مناقشې له لارې درک کړي ( محمد بشیر، د نشر کال نه لري، ص. ۲۸).

اسلامي شریعت خپل پیروان دېته هڅولي دي، چې له خپلې کور ودانۍ سره په نیکه طریقه چلند وکړي، په دې اړه الله تعالی فرمایي:{...**وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا** }.( قرآن کریم، النساء، ایت. ۱۹)

**ژباړه:** له هغو (ښځو) سره په ښه چلند ژوند تېر کړئ، که ستاسې هغوی نه خوښېږي؛ نو کېدای شي چې تاسې به یو شی نه خوښوئ؛ خو الله تعالی به په هغې کې ښېگڼې ایښې وي.

په همدې ډول رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (**استوصُوا بالنِّساءِ خيرًا**). (النیسابوي، د نشر کال نه لري، جلد: دویم،ص. ۱۰۹۱).

ژباړه: د ښځو اړوند یو بل ته د غوره معاملې توصیه وکړئ.

**۳- د بچیانو سره اړیکې**: بچیان د مور او پلار د ژوند داسې ثمره ده، چې ژوند یې بې له دوی نیمګړی او د دوی له راحت پرته یې زنده ګي بې مزې وي، والدین د بچو په ماشومتوب کې شپې د دوی د رعایت لپاره رڼوي او کله چې ستر شي د تعلیم هڅې یې کوي؛ بلکې په ټولو حالاتو کې د دوی د ګټو لپاره هلې ځلې کوي؛ نو له دې کبله د پلرونو ښې اړیکې د بچیانو سره واجب دي او د بچیانو ښې اړیکې د پلرونو سره حتمي او ضروري دي.

د کور په مشر لازم دي، چې د خپلو بچیانو سره د هغوی له کوچنیوالي څخه د اړیکو ساتلو اهمیت درک کړي؛ ځکه د ماشوم په تعلیم او د نورو خلکو سره د تعامل کولو په لارکې د کورنۍ ستر رول موجود دی، لکه څنګه چې یې د دوی د سلوک په بدلون کې مهمه ونډه ده(محمد بشیر،د نشر کال نه لري ،ص. ۸۹).

له دغه ځایه د مور او پلار او د کورنۍ رول راڅرګندیږي په دې معنا، چې همیشه باید د کورنۍ دنده دا وي، چې د ماشوم په ښه توګه تربیت وکړي؛ ځکه چې په کورنۍ کې ماشوم خپل هویت ته ترقي ورکوي او دا زده کوي، چې له نورو سره څه ډول تعامل وکړي(مؤمن، ۲۰۰۴م، ص. ۵).

په اسلامي شریعت کې د بچیانو سره ښې اړیکې ساتل ضروري ګڼل شوي، په دې معنا چې پلرونه باید د خپلو بچیانو مسؤولیت ته پاملرنه وکړي، په دې اړه د قرآنکریم لارښوونه په دې ډول ده، الله تعالی فرمايي: { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ.... }.(قرآن کریم، التحریم،ایت، ص. ٦).

**ژباړه**: اې مؤمنانو! خپل ځانونه، اولادونه او کورنۍ له هغه اور څخه وژغورئ، چې د سون مواد یې انسانان او تیږې دي.

بقاعي (رحمه الله) ددې ایت په تفسیر کې وایي: هر کله چې انسان د خپل کور د افرادو څارونکی (راعي) دی او د خپل رعیت څخه مسؤول دی؛ نو الله تعالی وفرمایل: {وَأَهْلِيكُمْ} چې مراد ترېنه ښځې او اولادونه دي. ( البقاعي،د نشر کال نه لري، جلد: شلم، ص. ۱۹۷).

**۴- د ورونو او خوېندو سره اړیکې**: د هغو سترو حقوقو څخه، چې اسلام پرې خلکو ته توصیه کړې ده هغه د خپلو وروڼو او خویندو سره د ښو اړیکو پالنه ده؛ ځکه په دې سره کورنۍ او اسلامي ټولنه غښتلې کیږي، په قرآنکریم کې په ډېری ایاتونو کې د خپلوۍ پاللو ته هڅول شوي او څرګنده ده، چې

ورور د انسان په ډېر نږدې خپلوانو کې راځي، الله تعالی فرمايي: {....وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا} .(قرآن کریم،النساء،ایت، ص. ١)

**ژباړه**: له هغه الله تعالی څخه وویرېږئ، چې په وسیله یې تاسې یو له بل څخه خپل حقوق غواړئ او د خپلولۍ او پیوندونو له غوڅولو څخه ډډه وکړئ، باور ولرئ، چې الله تعالی پر تاسې څارونکی دی.

د دغه سورت (**النساء**) پیل د الله تعالی څخه په ویرې او د هغه عبادت ته په هڅونه باندې پیل شوی دی، د دې ترڅنګ یې د خپلولۍ په پاللو ټینګار کړی دی، چې دغه (خپلولي پالل) یې د تقوی سره یوځای ذکر کړی دی او خلک یې د صله رحمۍ د پرېکون څخه منع کړي دي؛ ترڅو چې دغه حق په تأکیدي ډول ثابت شي؛ نو څرنګه چې د الله تعالی د حقوقو رعایت لازمي دی په همدې ډول د مخلوق حقوقو ته پاملرنه هم واجب ده او بیا په ځانګړي ډول نږدې خپلوان؛ بلکې د دوی حقوق ساتل د الله تعالی له هغه حق څخه دي، چې امر یې پرې کړی دی . (السعدي، ١٤٢٠ ل، ص. ١٦٣).

خو متأسفانه زمونږ په ټولنه کې ډېرې داسې ورونه او خویندې شته، چې کلونه د یو بل سره خفه وي او اړیکې یې ترینګلې وي، چې په دې اړه په سنتو کې ډېر سخت وعیدونه ذکر شوي دي.

**د نورو خپلوانو سره اړیکې**: په اسلام کې نیکي، احسان او ښې اړیکې د مور، پلار، ښځې او اولاد پورې ځانګړي نه دي؛ بلکې دغه چارې نورو خپلوانو ته هم غځېږي، چې په دې لار کې مسلمان باید دوی ته د ممکن حد پورې خیر ورسوي او د توان تر کچې ورڅخه شر او ضرر دفع کړي او په همدې توګه شریعت، چې کوم حقوق ورکړي دي هغې ته یې پاملرنه وکړي، الله تعالی فرمايي: { وَآتِ ذَا الْقُرْبَى حَقَّهُ وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا} (قرآن کریم ، الإسراء ، ایت، ص. ٢٦)

**ژباړه**: د خپلوانو، مسکینانو او مسافرو حق پوره ورکړئ او بې ځایه لګښت مکوه.

په همدې ډول په نبوي سنتو کې هم د خپلوانو سره د ښو اړیکو ساتلو ته پاملرنه شوې او دا یې د رزق د پراخوالي او د عمر د اوږدوالي لامل ګڼلی دی، چې په دې اړه په حدیث کې راغلي دي:(**عن أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلّى الله عَليهِ وسَلم قَالَ: مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ، وَيُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ، فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ**) .(البخاري، ١٤٢٢هـ، جلد: اتم، ص. ٥ ).

**ژباړه**:د انس بن مالک (رضي الله عنه) نه روایت دی، چې بېشکه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: څوک چې دا خوښه ګڼي چې رزق یې پراخه شي او اجل یې وروسته شي(عمر یې اوږد شي) نو (دخپلوانو سره دې) صله رحمي وپالي.

**د ګاونډي سره اړيکې**: اسلامي شريعت د ګاونډي سره ښو اړيکو ته خپل پيروان هڅولي دي؛ بلکې په دې اړه الله تعالی امر کړی دی چې له دوی سره د احسان معامله وکړئ، الله تعالی فرمايي: **{ وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ.... }**.( قرآن کريم، النساء، ايت، ص. ٣٦ ).

**ژباړه**: او تاسو ټول د الله تعالی بنده ګي وکړئ او له هغه سره هيڅ شی شريک مه نيسئ او له مور او پلار سره ښېګڼه کوئ، له خپلوانو، يتيمانو او مسکينانو سره نيک چلن وکړئ او له خپلوانو ګاونډيانو سره، پرديو ګاونډيانو سره، د څنګ له ملګري سره د احسان چلن وکړئ.

په همدې ډول رسول الله صلي الله وسلم هم د ګاونډي سره د ښو اړيکو ساتلو په اړه خپل امت ته ډېرې سپارښتنې کړې دي؛ نو له دې څخه معلو ميږي، چې په اسلامي شريعت کې ګاونډي ډېر حقوق لري، د دغو احاديثو له جملې څخه يو يې په دې ډول دی: (**عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلّى الله عَلَيهِ وسَلم: (مَا زَالَ جِبْرِيلُ يُوصِينِي بِالْجَارِ، حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُ)**. ( البخاري،۱۴۲۲ ل، جلد: اتم، ص. ١٠).

**ژباړه**: د ابن عمر (رضي الله عنهما) څخه روايت دی هغه فرمايي: چې رسول الله (صلی الله وسلم) فرمايلي دي: جبريل (عليه السلام) همېشه ماته د ګاونډي اړوند توصيه کوله، تر دې چې ما داسې ګومان وکړ، چې يو ګاونډي به د بل څخه ميراث يوسي.

**دوستانو سره اړيکې**: هيڅ يو انسان يوازې ژوند نه شي کولای؛ بلکې ټولنيز طبعيت لري؛ نو له دې کبله مسلمان د خپل ژوند د هوسا تېرولو لپاره نېکو او متقيانو دوستانو ته اړتيا لري؛ نو په دې لړ کې صالح او همدرد دوست هغه څوک دی، چې په سخت وخت کې د خپل دوست ترڅنګ ودريږي، مرسته يې وکړي، خيرخواښې يې ولټوي، ،په وعده ورسره وفا وکړي، نېکيو او د خير چارو ته يې راوبلي؛ نو بايد دغه اړيکه د ټولو مادي موخو څخه لرې وي او د ايمان په اساساتو او په تقوی ولاړه وي؛ ځکه دغه ډول دوستي د اسلام له نظره په مرګ سره پای ته نه رسيږي، په دې اړه الله تعالی فرمايي: **{ الْأَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا الْمُتَّقِينَ}** ( قرآن کريم، الزخرف، ايت، ص. ٦٧).

**ژباړه:** ياران (دوستان د کفر او معصيت) په دغه ورځ (د قيامت کې) ځينې د دوی به له ځينو نورو دښمنان وي؛ مګر د متقيانو (دوستي به پاتې وي).

نو د متقيانو دوستي همېشه پاتې کيږي؛ ځکه سرچينه يې له ثابت ځای (ايمان) څخه اخيستي؛ نو په مرګ سره پای ته نه رسيږي؛ بلکې د اخرت ژوند ته هم غځيږي.

**د علماوو سره اړیکې**: که د اسلامي شریعت په لارښوونو کې ژور نظر واچول شي؛ نو جوتیږي چې علماء داسې مرتبه لري، چې نور خلک ورڅخه برخمن نه دي او په دې لړ کې یې دوی ته لوړه درجه ورکړې ده او دوی یې د خلکو لپاره د الله تعالی د احکامو لارښوونکي ګرځولي دي ( اللویحق، ۱۴۱۵ ل، ص. ۲۳ ).

الله تعالی فرمایي: **{....قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُوا الْأَلْبَابِ}** (قرآن کریم، الزمر ،ایت، ص. ۹).

**ژباړه**: ورته ووایه! ایا پوهیدونکي او نه پوهیدونکي په یو ځیر کېدای شي؟ نصیحت خو د پوهې خاوندان مني.

له دې کبله د علماوو سره ښې اړیکې او رابطه ساتل جنت ته د داخلېدو ذریعه ده؛ ځکه دوی د پیغمبرانو وارثان دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: **(إِنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ)** ( الترمذي،۱۹۹۶م، جلد: ۴، ص. ۴۱۴).

**ژباړه**: بیشکه علماء د انبیاوو (علیهم السلام) وارثان دي.

نو څوک چې د انبیاو وارث وي د هغې سره ښې اړیکې ساتل به څومره د خیر او برکت څخه ډکې وي، په همدې ډول رسول الله صلی الله علیه وسلم د علم لار تعقیبول جنت ته د داخلېدو لامل ګرځولې، چې په دې اړه یې داسې ارشاد فرمایلی دی: **(مَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللهُ لَهُ بِهِ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ)**. (النیسابوري،د نشر کال نه لري ،جلد:څلورم، ص. ۲۰۷۴).

**ژباړه**: چا چې داسې یوه لاره تعقیب کړه، چې په هغې کې یې د علم طلب کولو په دې سره به الله تعالی ورته جنت لار اسانه کړي.

او ظاهره خبره ده، چې علم له علماوو څخه ترلاسه کیږي؛ نو په دې لار کې باید د هغوی احترام او درناوی وشي او غوره اړیکې ورسره جوړې شي.

**عامو مسلمانانو سره اړیکې**: د اسلامي ټولنې له څرګندو صفاتو څخه یو دا دی، چې باید وګړي یې له یو بل سره پرته له مادي ګټو په فعال ډول سپېڅلې اړیکې اومحبت ولري؛ ځکه مسلمانان خپلو کې سره ورونه دي، الله تعالی فرمایي: **{ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ}** ( قرآن کریم، الحجرات، ایت ، ص. ۱۰).

**ژباړه**: بېشکه مؤمنان د یو بل سره ورونه دي؛ نو د خپلو ورونو ترمنځ صلحه کوئ، د الله تعالی څخه وویرېږئ کیدای شي، چې په تاسو رحم وشي.

مکي بن أبي طالب (رحمه الله) وايي: مؤمنان په دين کې سره ورونه دي( مکي بن أبي طالب، ۱۴۲۹هـ ، جلد: يوولسم، ص. ۷۰۰۱).

سمعاني (رحمه الله) وايي: په دوستی، ترحم او مرسته کې سره ورونه دي( السمعاني،۱۹۹۷م، جلد: پنځم، ص. ۲۲۰).

د سمعاني (رحمه الله) له وينا څخه داسې ښکاري، چې ورورولي په ښو اړيکو، ترحم او مرسته باندې ولاړه ده، چې اساس يې دين دی.

او نبي صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: **(مثلُ المؤمنين في تَوادِّهم، وتَرَاحُمِهِم، وتعاطُفِهِمْ، مثلُ الجسَدِ إذا اشتكَى منْهُ عضوٌ تدَاعَى لَهُ سائِرُ الجسَدِ بالسَّهَرِ والْحُمَّى)** ( النيسابوري، د نشر تاريخ نه لري، جلد: څلورم،ص. ۱۹۹۹).

**ژباړه:** مؤمنان په مينه، مهربانۍ او شفقت کې د يو بدن په څېر دي، چې کله يې يو غړی نا ارامه (وردديږي) شي؛ نو ټول بدن يې د شوګير (شبګير) او تبې له امله نا ارامه وي.

نو په همدې بناء د عامو مسلمانانو سره اړيکې بايد په همکارۍ او د ورورولۍ په فضاء کې وي.

### ځانګړو اړمنو کسانو سره اړيکې

**۱- د بنديانو سره اړيکې:** اسلامي شريعت خپلو پيروانو ته د بنديانو سره د ښو اړيکو يو نمونيي شکل وړاندې کړی دی، په داسې توګه، چې مسلمانانو ته يې امر کړی دی، چې له دوی سره انساني او د رحم نه ډکه معامله وکړئ، احسان او نېکي ورسره وکړئ او هغه کسان يې ستايلي دي، چې له دوی سره نيک چلن کوي او خوراک ورته ورکوي، الله تعالی فرمايي: **{ وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَى حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا * إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنْكُمْ جَزَاءً وَلَا شُكُورًا}** ( قرآن کريم، الإنسان، ايت، ص. ۸-۹ ).

**ژباړ**: او د الله تعالی په مينه کې مسکين، يتيم او بندي ته خواړه ورکوي (او هغو ته وايي، چې)موږ تاسې ته يوازې د الله تعالی په خاطر خواړه درکوو، موږ ستاسې څخه نه څه بدله غواړو او نه مننه.

رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د بنديانو سره نرمي کوونکی ؤ د هغوی انسانيت ته يې هيڅ زيان نه رسوه؛ بلکې د انسانيت تاريخ بل داسې شخص نه پېژني، چې د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په څېر

یې د بندیانو سره د نرمۍ معامله کړې وي، هغه صلی الله وسلم صحابو ته د بندیانو د غوره معاملې توصیه کوله( أبو زهرة، ۱۴۲۵ ل، جلد: دویم، ص. ۵۲۴ ).

تردې چې د بندیانو د ازادولو لپاره یې لارښوونې کړې دي، په دې رابطه أبو موسی الأشعري (رض) د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه روایت کوي، چې هغه صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: **(فُكُّوا العانِيَ، يَعْنِي: الأسِيرَ، وأَطْعِمُوا الجائِعَ، وعُودُوا المَرِيضَ.)**. (البخاري،۱۴۲۲ ل، جلد: څلورم، ص. ٦٩).

**ژباړه**: بندي ازاد کړئ، وږي ته خواړه ورکړئ او د ناروغ پوښتنه وکړئ.

**۲- د شهداو له کورنیو سره اړیکې**: دا چې په اسلام کې د شهید ډېره لوړه مرتبه ده؛ نو لازمه ده، چې له کورنۍ سره یې ښې اړیکې وپالل شي، تعزیت او د صبر تلقین ورته وشي، په همدې ډول مالي مرستې ته یې هم ملا وتړل شي، په دې اړه که د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنتو ته نظر وکړو؛ نو وبه ګورو، چې د شهداوو د کورنیو سره یې په مرسته، لاسنیوي او ښو اړیکو باندې ډېر ټینګار کړی دی او دا هغه حقوق دي، چې دوی( شهداو) ته د تقدیر او منڼې په توګه ورکول کیږي؛ څکه دوی د اسلامي بیرغ د لوړ ساتلو لپاره قرباني ورکړې دي؛ نو د دوی له شهادت وروسته به د دوی له اهل او عیال سره لاس نیوی کیږي؛ تر څو د غم او خفګان کچه یې راکمه شي، چې د دغو ښو اړیکو او همکاریو یوه نمونه د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هغه کړنه ده کومه یې، چې د جعفر بن أبي طالب (رضي الله عنه) د شهادت وروسته د هغه له کورنۍ سره ترسره کړه او په دې اړه یې وفرمایل: **(اصْنَعُوا لِآلِ جَعْفَرٍ طَعَامًا، فَإِنَّهُ قَدْ أَتَاهُمْ أَمْرٌ شَغَلَهُمْ)** (السجستاني، د نشر تاریخ نه لري، جلد: دریم، ص. ۱۹۵).

**ژباړه**: د جعفر (رضي الله عنه) د کورنۍ لپاره خوراک تیار کړئ، بېشکه دوی ته داسې چاره پېښه شوې، چې دوی یې مصروف کړي دي.

**۳- د یتیمانو سره اړیکې**: اسلامي شریعت خلک د یتیمانو سره ښو اړیکو، اکرام او نېکۍ کولو ته هڅولي دي او دوی ته یې له قهر او رټنې څخه منع کړې ده، په دې اړه الله تعالی فرمايي: **{ فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ }** ( قرآن کریم، الضحی، ایت: ۹).

**ژباړه**: هر چې یتیم دی، هغه ته قهر مه کوه.

په همدې ډول نبوي سنتو هم د یتیمانو سره ښو اړیکو ته خلک هڅولي دي، په دې لار کې یې د یتیم پالونکي لپاره ډېره لویه بدله ښودلې ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ( **أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ فِي الْجَنَّةِ هَكَذَا"**: **وَقَالَ بِإِصْبَعَيْهِ: السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى**). (البخاري،۱۴۲۲هـ، جلد:اتم، ص. ۹ )

**ژباړه:** زه او د یتیم پالونکی به په جنت کې د دې دواړو (ګوتو) په څېر یو او په مسواکي او منځنۍ ګوتو یې اشاره وکړه.

دغه له یتیمانو سره د اړیکو اړوند د شریعت لارښوونې دي؛ خو باید دغه اړیکې یوازې تر خوړو او لباس ورکولو پورې محدودې نه وي؛ بلکې د دې ترڅنګ دې یتیم پالونکی د دوی نفسي او تربیوي اړخ ته هم جدي پاملرنه وکړي او ټولو نېکو چارو ته دې رهبري کړي او د دوی د ګټو او مصالحو اړوند دې داسې تعامل وکړي لکه خپل اولاد.

۴- **ناروغانو سره اړیکې**: مسلمان باید د ناروغانو سره ښې اړیکې ولري، چې د دوی باید پوښتنه وکړي او د اړتیاوو پرمهال یې لاس نیوی وکړي؛ ځکه اسلام مریض ته له دې نظره ګوري، چې نوموړی داسې یو انسان دی، چې په تکلیف کې واقع دی؛ نو له دې کبله داسې چا ته اړ دی، چې لاسنیوی یې وکړي، معنویات یې لوړ کړي او د دردونو په کمولو کې ورسره مرسته وکړي، له همدې کبله رسول الله (صلی الله علیه) وسلم خپل امت ته د ناروغ د پوښتنې سپارښتنه کړې ده، په دې اړه یې فرمایلې دي: (**فُكُّوا العانِيَ، يَعْنِي: الأسِيرَ، وأَطْعِمُوا الجائِعَ، وعُودُوا المَرِيضَ**) ( البخاري،۱۴۲۲ ل، جلد:څلورم، ص. ۶۹).

**ژباړه**: بندي ازاد کړئ، وږي ته خواړه ورکړئ او د ناروغ پوښتنه وکړئ.

۵- **د معذور (معلول) سره اړیکې**: کوم کسان، چې معلول او معذور دي او نه شي کولای، چې د ژوند چارې په عادي ډول پر مخ یوسي، لکه: ړوند، کوڼ، ګونګ او هغه څوک، چې د زیات عمر له امله ډېر ضعیف شوی وي، عقلي اختلال لرونکی او یا نورې داسې مزمنې ناروغۍ ولري، چې له کبله یې نوموړي اشخاص کسب او کار نشي کولای، که هغه جسدي معلولیتونه وي او که عقلي، د دغه ډول اشخاصو رعایت لومړی په خپلو خپلوانو لازم دی، په دویم قدم کې اسلامي دولت هم باید د دوی د هوساینې او بهبود لپاره هلې ځلې وکړي او له دوې وروسته په دریيم قدم کې یې باید ټوله ټولنه د مشکلاتو په هوارولو کې ونډه واخلي، چې په دې لار کې مذکور مراجع معلول او معذور ته د ترحم او عاطفې احساس ورکوي او په هغو چارو یې بوخت کړي، چې کوم د دوی په وس او توان کې وي، په دې اړه باید اسلامي دولت د دوی د پاملرنې او تعلیم اړوند لویه ونډه پر غاړه واخلي او دوی ته هغه هنري ټرېننګونه دایر کړي، چې

دوی یې توان لري؛ بلکې دا ټول هغه څه دي، چې اسلام ورته د ترحم او نیکۍ ته د دعوت لاندې خلک رابللي دي.(عواجي، ۲۰۰٦م ، جلد: دویم، ص. ۱۳۰۳ ).

همدارنګه اسلام د دوی حالت ته په کتو له دوی سره ځانګړی تعامل کړی دی، الله ج فرمایي: **{ لَيْسَ عَلَى الْأَعْمَى حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْمَرِيضِ حَرَجٌ }** ( قرآن کریم، النور ، ایت، ص. ٦١ ).

**ژباړه:** هیڅ مشقت او حرج نشته په ړوند، ،ګوډ او ناروغ باندې.

کابلې تفسیر ددې ایت په تفسیر کې لیکي: یعنې د هغو کارونو له کولو څخه دغه معلول (اهل الابتلاء) کسان معاف دي، چې په کې تکلیف وي. ( مجموعة من العلماء،۱۴۱۴ ل، جلد: دویم، ص. ۳۳۷).

**د ټولنیزو اړیکو اساسات**: په اسلامي شریعت کې د ټولنیزو اړیکو د پیاوړتیا اړین اساسات په لاندې ډول دي:

**۱- د اصلاح اراده لرل:** د خلکو ترمنځ د اصلاح اراده لرل د ټولنیزو اړیکو له اړینو اساساتو څخه ګڼل کیږي، څوک چې بریالۍ ټولنیزې اړیکې جوړول غواړي؛ نو د هغه لپاره اړینه ده، چې نیت یې صفا او مقاصد یې ډېر لوړ وي او په دې کې هیڅ شک نشته دی، چې د خلکو ترمنځ د اصلاح هڅې کول او په دې لار کې په راپېښېدونکو ستونزو صبر کول د اسلامي شریعت له نظره ډېر د اجر او ثواب کړنه بلل کیږي، چې په دې اړه الله تعالی فرمایي:**{ لَا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِنْ نَجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاةِ اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا }** ( قرآن کریم، النساء، ایت، ص. ۱۱۴ ) .

**ژباړه:** د خلکو په پټو مجلسونو کې زیاتره څه ښېګڼه نه وي؛ خو که څوک په پټه توګه د صدقې او خیرات لارښوونه وکړي یا د کوم ښه کار لپاره یا د خلکو په چارو کې د اصلاح کولو لپاره چاته څه ووایي؛ نو البته دا ښه خبره ده او څوک چې د الله تعالی د خوشحالولو لپاره داسې وکړي هغه ته به موږ لوی ثواب ورپه برخه کړو.

په همدې توګه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هم په ډېرو احادیثو کې د خلکو ترمینځ اصلاح او خیر خواهي غوره عمل ګڼلی دی، تر دې چې سوله کوونکی یې د سولې په موخه د خبرو په انتقال کې دروغجن نه دی ګڼلی، چې په دې اړه فرمایي:( **ليسَ الْكَذَّابُ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ فَيَنْمِي خَيْرًا أَوْ يَقُولُ خَيْرًا**). ( البخاري،۱۴۲۲ ل، جلد:۳ ، ص. ۱۸۳).

**ژباړه**: هغه څوک دروغجن نه دی، چې د خلکو ترمینځ اصلاح لټوي؛ نو یا خیر نقلوي او یا د خیر خبره کوي.

**۲- د خبرو په انتقال کې د رښتیاو او امانتدارۍ څخه کار اخیستل:** په دې شک نشته دی، چې په ټولنیزو اړیکو کې خلک یو تربله سره خبرې نقلوي، اسلامي شریعت په دې اړه داسې اساسات وضع

کړي دي، چې دغه اړیکې ورسره غښتلې کیږي؛ نو خلک یې رښتیاو او د خبرو د انتقا ل پرمهال یې امانتدارۍ ته هڅولي دي؛ بلکې الله تعالی د دوی لپاره ښښنه او لوی اجر تیار کړی دی، الله تعالی فرمايي:{....وَالصَّادِقِينَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِينَ وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِينَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا} ( قرآن کریم، الأحزاب، ایت، ص. ۳۵ ).

**ژباړه**: ریښتیني نارینه او ریښتینې زنانه، صبر کوونکي نارینه او صبر کوونکې ښځې، د الله په وړاندې سر ټیټوونکي نارینه او سرټیټوونکې زنانه، خیرات ورکوونکي نارینه او خیرات ورکوونکې زنانه، روژه نیوونکي نارینه او روژه نیوونکې زنانه، پاک لمني نارینه او پاک لمنې زنانه او د الله تعالی ډېر ډېر یادوونکي نارینه او د الله تعالی یادوونکې زنانه، دا (لس واړه ډوله) هغه کسان دي، چې الله تعالی د هغو لپاره ښښنه او لوی اجر تیار کړی دی.

په همدې ډول رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمايي :( **إنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إلى البِرِّ، وإنَّ البِرَّ يَهْدِي إلى الجَنَّةِ، وإنَّ الرَّجُلَ لَيَصْدُقُ حتَّى يَكونَ صِدِّيقًا. وإنَّ الكَذِبَ يَهْدِي إلى الفُجُورِ، وإنَّ الفُجُورَ يَهْدِي إلى النَّارِ، وإنَّ الرَّجُلَ لَيَكْذِبُ حتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللَّهِ كَذَّابًا).** ( البخاري،۱۴۲۲ ل، جلد: اتم، ص: ۲۵).

**ژباړه:** بېشکه رښتیا ویل نېکۍ ته لارښوونه کوي او پرته له شکه نېکي جنت ته لارښوونه کوي، په تحقیق سره یو سړی، چې (همیشه )رښتیا وايي، تردې چې (د الله تعالی سره ) رښتونی وګڼل شي او بیشکه دروغ ګناه ته لارښوونه کوي او پرته له شکه ګناه اور ته لار ښوونه کوي او په تحقیق سره یو سړی چې(همېشه )دروغ وايي، تردې چې د الله تعالی سره دروغجن ولیکل شي.

**۳- ښه خبره کول:** اسلام په دې ټینګار کړی دی، چې خلک دې په خپل مینځ کې په ښو او غوره کلماتو سره تعامل وکړي، چې دا د اړیکو په غښتلتیا، د محبت په دوام، د زړونو او روحونو په یوځای والي کې مهم رول لري؛ نو اسلام دغه مفهوم ثابت کړی دی او د مسلمانانو ترمینځ یې په ټولنیز او انفرادي ډول د عباراتو (کلمو )په سپېڅلتیا ټینګار کړی دی، په دې لار کې یې خلک د ښو الفاظو استعمال ته هڅولي دي، چې دوی باید (د اړیکې پرمهال ) ښه الفاظ انتخاب کړي او د بدو الفاظو له استعمال څخه ځان وساتي ( هندي، ۲۰۱۰ م، ص. ۳۴ ) .

الله تعالی فرمايي :{... **وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا...}** ( قرآن کریم، البقرة، ایت، ص. ۸۳) .

**ژباړه:** او خلکو ته ښې خبرې کوئ.

او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هم خلک د ښو ویناوو پر لوري هڅولي دي او دوی یې له بدو ویناوو څخه منع کړي دي، چې په دې اړه دغه حدیث د یو مثال په توګه وړاندې کیږي: (**عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِطَعَّانٍ، وَلَا بِلَعَّانٍ، وَلَا الْفَاحِشِ الْبَذِيءِ**) ( ابن حنبل،۱۴۲۰هـ، جلد: شپږم، ص. ۳۹۰ ).

**ژباړه** : د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی فرمایي، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: مؤمن زیات عیب لګوونکی، زیات لعنت ویوونکی، بدکار او بد ژبان نه وي.

**۴- خلکو ته د هغوی د پوهې په کچه خطاب کول**: ټولنیزې اړیکې هلته پیاوړې کیږي، چې خلک د هغوی د فهم، ادراک او پوهې مطابق مخاطب شي، په دې معنی چې داسې څه ورته ووایي، چې هغوی پرې پوهیږي.
بلکې د الله تعالی لوري ته دعوت باید په حکمت، پند او نصیحت سره وي او دا حکمت هغه مهال راڅرګندیږي، چې د هر ټولي خلکو لپاره د هغوی د دعوت مناسب اسلوب وپیژندل شي او حکیم داعي ټولو هغو خلکو ته، چې هغه یې پېژني ټول هغه څه نه وایي، چې زده یې وي؛ بلکې نوموړي د (خلکو) عقلونو سره سم د هغوی د توان تر کچې تعامل کوي، نه د خپل توان په اندازه، چې په دې لار کې پر دوی داسې څه نه باروي، چې توان یې نه لري ( سعید،۱۴۲۵ ل، ص. ۵۳).
په دې اړه موږ خطا یو که داسې فکر کوو، چې یوه طریقه د ټولو خلکو لپاره مناسبه ده؛ ځکه د خلکو ټولي مختلف دي د عقل او پوهې کچه یې هم سره توپیر لري، امام بخاري(رحمه الله) په معلق ډول له علي (رضي الله عنه) څخه یو روایت رانقل کړی دی، چې هغه ویلي دي: **(حَدِّثُوا النَّاسَ بما يَعْرِفُونَ أَتُحِبُّونَ أنْ يُكَذَّبَ اللَّهُ ورَسولُهُ)**. ( البخاري،۱۴۲۲ ل، جلد: اول، ص. ۳۷).
**ژباړه**: خلکو ته په هغه اندازه خبرې وکړئ، چې پرې پوهیږي،آیا دا خوښه ګڼئ، چې الله تعالی او د هغه رسول دروغجن وګڼل شي؟
امام مسلم (رحمه الله) د صحیح مسلم په مقدمه کې د عبد الله بن مسعود (رضي الله عنه) څخه یو اثر رانقل کړی دی:**( ما أنت بمحَدِّثٍ قَومًا حديثًا لا تبلُغُه عُقولُهم إلَّا كان لبَعضِهم فِتنةً)**. ( النیسابوري، د نشر تاریخ نه لري، جلد: ۱، ص. ۱۱) .
**ژباړه:** ته به یو قوم ته داسې یوه خبره نه کوې، چې د هغوی عقلونه ورته نه رسیږي؛ کنه نو د ځینو لپاره به یې فتنه وګرځي.

**۵- د تکلیف په برداشت باندې صبر کول**: د ټولنیزو اړیکو د پیاوړتیا د اساساتو نه یو دا هم ده، چې یو مسلمان د ځینوګاونډیانو، ځینو خپلوانو او یا نور د ټولنې له خلکو څخه په تکلیف او مشقت کې ولوېږي او کله هم داسې وي، چې خبره د ظلم تر کچې ورسېږي، سره لدېنه چې نوموړي سره د شریعت له لوري د دعا (بد دعایی) د قبلېدو وعده شوې ده؛ خو بیا هم صبر کوي او د الله تعالی نه یې اجر غواړي او د سمون لپاره یې دعا وغواړي په دې کې دده لپاره ډېر لوی خیر دی؛ ځکه کله داسې وشي، چې د ظالم حالت تغیر شي او توبه وباسي؛ نو لوی خیر مینځته راشي، چې په دې سره یې اړیکې د ترینګلتیا پر ځای لا هم غښتلې شي؛ بلکې د ټولنې د خلکو په بد چلن صبر په قرآنکریم کې د سترو اړینو چارو څخه

ګټل شوی دی، په دې اړه الله تعالی فرمايي: { وَلَمَنْ صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ} . (قرآن کريم، الشورى، ايت، ص. ۴۳).

**ژباړه**: البته څوك، چې له صبر څخه كار واخلي او بښنه وكړي؛ نو دا ډېر د لوړې ارادې له چارو څخه دی.

په همدې ډول نبوي سنتو کې هم خلک صبر ته هڅول شوي دي، چې په دې اړه ابن عمر رضي الله عنهما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي: **( المُؤْمِنُ الَّذِي يُخَالِطُ النَّاسَ وَيَصْبِرُ عَلَى أَذَاهُمْ خَيْرٌ مِنَ الَّذِي لَا يُخَالِطُ النَّاسَ وَلَا يَصْبِرُ عَلَى أَذَاهُمْ)** (البخاري، ۱۴۰۹ ل، ص. ۲۰۰)

**ژباړه**: هغه مؤمن چې خلکو سره شریک ژوند کوي او د هغوی په تکليفونو (چې ده ته يې رسوي) صبر کوي، دی له هغه کس څخه غوره دی، چې د خلکو سره شریک ژوند نه کوي او د هغوی په تکليفونو صبر هم نه کوي.

**٦- د حقيقت پلټنه او تحقیق کول:** د مسلمان لپاره پکار دي، چې د يو خبر د اوريدو په صورت کې د هغې د حقيقت پلټنه او تحقيق وکړي،که د پلټنې وروسته ورته حقيقت جوت شو؛ نو بيا وروسته د هغې په هکله اقدام وکړي او یا يې هم تر نورو ورسوي او په ځانګړي ډول هغه څوک چې د معلوماتو د نقلولو په ډګر کې ټولنيزو رسنيو او يا هم په ټولنيزو شبکو کې فعاله ونډه لري ورته پکار دي، چې ډېر محتاط ووسي او پوره له تحقيق څخه کار واخلي؛ ځکه غير واقعي معلومات ترلاسه كول او يا نورو ته رسول په ټولنيزو اړيکو خورا منفي اغېزې لري؛ خو که چیرې له تحقیق څخه کار واخیستل شي؛ نو ټولنيزې اړيکې ورسره پیاوړې او غښتلې کېږي، د معلوماتو په نقلولو او د خلکو سره د اړيکو اړوند د اسلام دريځ هم په همدې ډول دی، چې په دې لار کې یې خلک د خبر اړوند تحقيق او پلټنې ته هڅولي دي، الله تعالی فرمايي: **{ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ }** (قرآن کريم، الحجرات، ايت، ص. ٦).

**ژباړه**: اې مؤمنانو! که کوم فاسق تاسي ته له کوم خبر سره راشي؛ نو تاسې (د خبر په اړه) پلټنه او تحقيق وکړئ، هسې نه چې کومې ډلې ته په ناپوهی سره ضرر ورسوئ او بيا په خپلو کړو پښېمانه شئ.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: **(كَفَى بالمرءِ كذِبًا أن يحدِّثَ بِكُلِّ ما سمِعَ )** (النيسابوري، د نشر تاريخ نه لري، جلد:۱، ص. ۱۰).

**ژباړه**: د يو سړي لپاره دا دروغ بس دي، چې څه اوري هغه تر نورو رسوي.

**۷- د خلکو سره نرمي کول:** دې کې شک نشته، چې نرمي د خلکو ترمنځ د محبت او پياوړو اړيکو له اسبابو څخه ده؛ ځکه خلک هغه څوک خوښوي، چې له دوی سره لطف او نرمي کوي او یا هم دوی په نرمۍ سره خير ته رابلي؛ نو نصيحت او د خير خبره يې مني، په خلاف د بې ځايه سخت دريزې؛ ځکه

زياته سختي کول د خلکو تر منځ اړيکې ترېنګلې کوي او د يو بل څخه يې د نفرت لامل جوړيږي، اسلامي شريعت هم خلک نرمۍ کولو ته رابللي دي، چې په دې اړه الله تعالى فرمايي: **{ وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ ابْتِغَاءَ رَحْمَةٍ مِنْ رَبِّكَ تَرْجُوهَا فَقُلْ لَهُمْ قَوْلًا مَيْسُورًا }** (قرآن کريم، الإسراء، ايت، ص. ۲۸).

**ژباړه:** که ته له هغو څخه څنګ وکړې، په دې اساس، چې تر اوسه د الله تعالى د رحمت په لټه کې يې، چې ته يې هيله من يې؛ نو هغو ته نرم ځواب ورکړه.

حسن بصري (رحمه الله) وايي: د { **فَقُلْ لَهُمْ قَوْلًا مَيْسُورًا**} نه مراد دا دی، چې دوی ته نرمه او اسانه خبره وکړه.

او عکرمه (رحمه الله) وايي: چې نرمي ترېنه مراد ده. (الطبري،۲۰۰۰م، جلد: اوولسم، ص. ۴۳۰).

په همدې ډول رسول الله (صلى الله عليه وسلم) عايشې (رضي الله عنها) ته د نرمي اړوند داسې خطاب کړی: **عليك بالرِّفقِ؛ فإنَّهُ لا يكونُ في شَيءٍ إلاَّ زانَهُ ، ولا يُنزَعُ مِن شيءٍ إلَّا شانَهُ**) (البخاري، ۱۴۰۹ ل، ص. ۱٦٦).

**ژباړه:** نرمي اختيار کړه؛ ځکه نرمي په هيڅ شي کې موجوده نه ده ؛ مګر هغه ته يې ښکلا وربخښلې ده او له هيڅ شي څخه نه ده وېستل شوې؛ مګر هغه يې عيبجن او بدرنګ کړی دی.

**۸- د کړنو مطابقت د ويناو سره:** په ټولنيز نظام کې د ستونزو د رامنځته کېدو يو لامل دا هم دی، چې زمونږ کړنې له ويناوو سره برابرې نه دي؛ ځکه دغه چاره په ټولنيزه او انفرادي توګه يو لړ منفي پايلې لري او په ځانګړي ډول په اسلامي داعيانو کې؛ ځکه که چېرته دوی اسلامي غوښتنې پر خپلو ځانونو پلي نه کړي؛ نو لرې نه ده، چې د دوی او د خلکو تر منځ ټولنيزې اړيکې زيانمنې شي، له دې کبله په مسلمانانو او په ځانګړي ډول په داعيانو باندې لازم دي، چې په خپل کړي علم عمل وکړي؛ تر څو د دوی ټاکل شوي اهداف، چې د ټولنې په خير دي ترلاسه شي، په همدې توګه که چېرته کړنې د ويناوو مطابق نه وي وينا خپل اعتبار له لاسه ورکوي او کېدای شي ويناوال د خلکو د توندو نيوکو لاندې راشي، چې په دې سره اړيکې لمينځه ځي، اسلامي شريعت هم د خپلو پيروانو غوښتي دي، چې دوی څه وايي بايد په ځان يې پلي کړي او د مخالفت په صورت کې د دوی دغه چاره د غضب وړ حرکت ګڼلی دی، الله تعالى فرمايي:**{ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ *كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللَّهِ أَنْ تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ }** (قرآن کريم، الصف، ايت، ص. ۲-۳).

**ژباړه:** اې مؤمنانو، تاسې ولې هغه څه واياست، چې کوئ يې نه! د الله تعالى پر وړاندې دا ډېر د غضب وړ حرکت دی، چې تاسې هغه څه واياست، چې نه يې کوئ.

په همدې ډول الله تعالى د اهل کتابو د غندنې اړوند په خپل کتاب کې فرمايي **: { أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ أَنْفُسَكُمْ وَأَنْتُمْ تَتْلُونَ الْكِتَابَ أَفَلَا تَعْقِلُونَ}** (قرآن کريم: البقرة، ايت، ص. ۴۴).

**ژباړه:** آیا تاسې خو نورو ته د ښې لارې غوره کولو لپاره امر کوئ؟ مګر خپل ځانونه هېروئ! په داسي حال کې چي تاسې کتاب لولئ، آیا تاسې له پوهې څخه هیڅ کار نه اخلئ؟.

**پایله**

له پورته څېړنې څخه لاندې پایلې په لاس راځي:

۱: د شریعت په نصوصو کې د ټولنیز ژوند تیرولو لپاره ځینې اساسات راغلي دي؛ نو د ټولنې د وګړو لپاره پکار ده، چې هغه اساسات په نظر کې ونیسي؛ ترڅو يې ژوند له نیکبختیو څخه ډک او خوشحاله وي.

۲: اسلامي شریعت د ټولنیز ژوند تیرولو کیفیت او څرنګوالی واضح کړی دی او د ټولنې له هر ډول افرادو سره د اړیکو ټینګولو په چارو يې پراخ بحث کړی دی.

۳: د اسلامي شریعت له نصوصو څخه داسې معلومیږي، چې ټولنیزې اړیکې باید په خیرخواهی، شفقت، اخلاص او نیکیو ته په لارښوونه ولاړې وي.

۴: ښې اړیکې په اسلام کې د عسکري، سیاسي، د کار او کورنۍ تر ډګره محدودې نه دي؛ بلکې دا يې د ژوند اسلوب او طریقه ده.

۵ : په اړیکو کې تر ټولو اړینې يې د کورنۍ د افرادو ترمینځ اړیکې دي؛ ځکه دا د ټولو خارجي اړیکو د اساس ډبره ده، له دې کبله شریعت پرې ځانګړی اهتمام کړی دی.

۶: په ټولنیزو اړیکو کې باید د اسلامي شریعت له مخالفت څخه مسلمانان لرې ووسي او ټولې ټولنیزې اړیکې باید د اسلامي شریعت په رڼا کې تنظیم شي.

۱- والدینو ته مې دا وړاندیز دی، چې باید د خپلو اولادونو سالمه روزنه وکړي؛ ترڅو د ټولنې د وګړو سره د قرآن کریم او نبوي سنتو په رڼا کې تعامل وکړي.

**وړاندیزونه**

۲- د پوهنتونونو استادانو ته مې دا وړاندیز دی، چې باید محصلین د ټولنیز نظام د مسایلو ترڅنګ د ټولنیزو اړیکو د پیاوړتیا په اساساتو د اسلامي شریعت په رڼا کې آګاه کړي.

۳- د مساجدو امامانو ته مې دا وړاندیز دی، چې عوام د اسلامي شریعت په رڼا کې د ټولنیزو اړیکو په اهمیت، کیفیت او د څرنګوالي اړوند وپوهوي.

۴- د اسلامي ټولنې له ټولو مسلمانانو څخه مې دا وړاندیز دی، چې خپلې ټولې اړیکې د دین د اصولو په رڼا کې تنظیم کړي؛ ترڅو یوه نمونیي مثالي ټولنه مینځته راشي.

**مأخذونه**

قرآن كريم.

ابن حنبل، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل. (١٤٢٠هـ). مسندا أحمد بن حنبل. ط:٢. مؤسسة الرسالة .

أبو زهرة، محمد بن أحمد بن مصطفى بن أحمد. (١٤٢٥هـ). خاتم النبيين. ط :١. القاهرة: دار الفكر العربي.

أحمد، محمد تحسين. (٢٠١۴م). التواصل العائلي الاجتماعي في السنة النبوية، رسالة الماجستير، غزة: الجامعة الإسلامية.

البخاري، أبو عبدالله محمد بن اسماعيل البخاري الجعفي. (١۴٠٩هـ). الأدب المفرد. ط:٣. بيروت: دار البشائر الإسلامية.

البخاري، أبو عبدالله محمد بن اسماعيل البخاري الجعفي. (١۴٢٢هـ). صحيح البخاري. ط:١. دار طوق النجاة.

البقاعي، إبراهيم بن عمر .(ب ت) نظم الدرر في تناسب الآيات والسور. القاهرة: دار الكتاب الإسلامي.

الترمذي، أبو عيسى محمد بن عيسى.(١٩٩٦م)سنن الترمذي.ط:١.بيروت: دار الغرب الإسلامي.

السجستاني، أبو داود سليمان بن الأشعث.(ب ت)سنن أبي داود. صيداء- بيروت: المكتبة العصرية.

السعدي، عبد الرحمن بن ناصر بن عبد الله.( ١۴٢٠هـ). تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان.ط:١. مؤسسة الرسالة.

سعيد، همام. ( ١۴٢۵هـ-٢٠٠۵م). قواعد الدعوة إلى الله. ط:١. دار الفرقان.

السمعاني، أبو المظفر منصور بن محمد بن عبد الجبار. (١٩٩٧م). تفسير القرآن. الرياض- السعودية: دار الوطن.

الطبري، محمد بن جرير. (٢٠٠٠م). جامع البيان في تأويل القرآن. ط:١. بيروت-لبنان: مؤسسة الرسالة.

عبد الله زيادة، مصطفى عبدالقادر وآخرون. (٢٠٠٢م ). فصول في اجتماعات التربية. ط:١. مكتبة الرشد.

علي، تاعوينات. (٢٠٠٩م). التواصل والتفاعل في الوسط المدرسي. شارع اولاد سيدي الشيخ- الحراش-الجزائر :المعهد الوطني لتكوين مستخدمي التربية وتحسين مستواهم،.

عواجي، غالب بن علي. (٢٠٠٦). المذاهب الفكرية المعاصرة و دورها في المجتمعات وموقف المسلم منها. ط:١. جدة: المكتبة العصرية الذهبية.

اللويحق، عبد الرحمن بن معلا. (١٤١٥هـ _١٩٩٤م ). قواعد في التعامل مع العلما. ط:١ . دار الوراق.

المبارک، محمد. (ب ت). المجتمع الإسلامي المعاصر. ط:١. دار النهضة للنشر والتوزيع.

مجموعة من العلماء. (١٤١٤هـ) القرآن الكريم و ترجمة معانيه تفسيره إلي اللغة البشتو. (كابلى تفسير). المدينة المنورة: مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف.

محمد بشير، إقبال محمد بشير وآخرون. (ب ت). ديناميكية العلاقات الأسرية. ط:١. المكتب الجامعي الحديث.

مكي بن أبي طالب، أبو محمد حَمّوش بن محمد بن مختار. (١٤٢٩ هـ). الهداية إلى بلوغ النهاية. ط:١. مجموعة بحوث الكتاب والسنة - كلية الشريعة والدراسات الإسلامية - جامعة الشارقة.

الموري، ماري آن ميک، سلسلة تطوير القيم، التواصل، ترجمة: رقية محمد الزغاري. ط:١. دار الثقافة.

مؤمن، داليا. (٢٠٠٤م). الأسرة والعلاج الأسري. ط :١. دار السحاب للنشر والتوزيع.

النيسابوري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري(ب ت). صحيح مسلم، بيروت: دار إحياء التراث العربي.

هندي، عادل. (١٤٣١هـ-٢٠١٠م ). فن التواصل الدعوي الناجح. ط:١. مؤسسة اقرأ.

# په عربي ژبه کې د جملې د اجزاوو ځای (رتبه)

پوهنیار مسعود قائد، شیخ زاید پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، عربي څانګه.
**برېښنالیک**: masuodqaeid@gmail.com

**لنډیز**

رتبه د جملې د اجزاوو ترتیب ته ویل کېږي چې د مخکېوالي او وروسته والي له مخې په څه ډول یو له بل سره رابطه لري، د دې مو ضوع په څېړلو سره به لوستونکي د جملې د اجزاوو له ترتیب سره بلد شي، همدارنګه به پوه شي چې د جملې د اجزاوو تر منځ کوم ډول ترتیب شته، د دې څېړنې عمده موخه د جملې د اجزاوو اصلي او فرعي ځای یا هم ثابت او متغیر (نا ثابت ) ځای پېژندل دي چې په اسمیه او فعلیه جملو کې په کوم ډول د یو له بل سره اړیکه لري، په یاده څېړنه کې مې له کتابخانه یي مېتود څخه کار اخیستی، پدې برخه کې مې مختلف کتابونه مطالعه کړي او د یادې مو ضوع اړوند معلومات مې راټول کړي، چې په دوه ډوله رتبه مې تر لاسه کړه، یوې ته ثابته او بلې ته نا ثابته(متغیره) رتبه ویل کېږي، پدې ډول به لوستونکو ته جوته شي چې په عربي ژبه کې ځینې کلمې خپل ځایونه ثابت ساتي او ځینې نور یې تغیروي، همدارنګه به پوه شي چې په کومو وختونو کې نوموړی ځای بدلوي او یا یې نه بدلوي.

**کلیدي کلمې:** اجزاوې ، ځای (رتبه)، ثابت ، جمله ، غیر ثابت ، نحوی

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحيم ! الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين وعلى اله واصحابه اجمعين.**

**أما بعد:**

عربي ژبه په نړۍ کې یوه لویه او بډایه ژبه ده، چې د زیات فصاحت او بلاغت له امله الله (ج) د خپل کلام مجید لپاره هم غوره کړه، په عربي ژبه کې دوه ډوله جملې موجودې دي: اسمیه جمله او فعلیه جمله، اسمیه جمله معمولا هغې جملې ته ویل کېږي چې په اسم باندې پیل شوې وي، لکه: سالم طالب مجتهد. یعنې(سالم یو تکړه زده کوونکی دی) په دې جمله کې (سالم) چې اسم یا نوم دی د جملې په سر کې راغلی دی، چې په همدې وجه ورته اسمیه جمله ویل کېږي، اسمیه جمله دوې عمده برخې لري، چې یوې ته یې مبتدا او بلې هغې ته یې خبر ویل کېږي، نو ویلی شو چې په تېره جمله کې (سالم) مبتدا او (طالب) یې خبر دی.

فعليه جمله هغې جملې ته ويل کېږي چې په فعل باندې پيل شـوې وي، لکه: اجتهد طالب فی الدرس. يعنې(زده کوونکي په درس کې کوشــش وکړ) په دې جمله کې (اجتهد) چې فعل نوم دی د جملې په سر کې راغلی، چې په همدې وجه ورته فعليه جمله ويل کېږي او فعليه جمله دوې عمده برخې لري، چې يوې ته يې (فعل) او بلې هغې ته يې (فاعل) ويـل کېږي، نو ويلی شــو چې پـه تېره جمله کې (اجتهد) فعل او (طالب) يې فاعل دی، خو کله چې فعل متعدي وي(هغه فعل چې د فاعل د سربېره مفعول به هم غواړي)، نو هغه جملې درې برخې لري: فعل ، فاعل او مفعول به، لکه: فتحَ الطالبُ الکراسـةَ. يعنې شـاګرد کتابچه خلاصــه کړه. په دې جمله کې (فتح) فعل، (الطالب) فاعل او(الکراسـة) مفعول به دی.

په اصــل کې دا دوه ډوله جملې همدغه پورتنی ترتيب لري، د هرې برخې ځای په جمله کې مشــخص شــوی، خو ډېر ځله داســې پېښــېږي چې خبر له مبتدا څخه د مخه راغلی وي، يا هم مفعول به له فعل څخه د مخه راغلی وي، چې دې ډول برخې ته غير محفوظه يا ناثابته رتبه ويـل کېږي، د جملې هغه اجزاوې چې خپل ځای ثابت ساتي او همېشه په خپل ځای راځي، هغه ډول رتبې ته بيا ثابته يا محفوظه رتبه ويل کېږي.

دا مو ضوع په عربي ژبه کې خورا مهمه او پراخه ده، ځکه په حقيقت کې ټولې خبرې له جملو او ټولې جملې له همدې مو ضوع سره تړاو لري، او کوم کسـان چې ښـه جمله بندي يې زده وي په حقيقت کې هغه په ســم ډول خبرې کولی شي او په ښــه ډول مطلب تر نورو رســولی شي، پاتې دې نه وي چې په عربي ژبه کې د جملې د برخو مخکېوالی او وروســته والی خپل ســبب او علت لري او ځينې وخت د جملې په معنا کې هم تغيير راوستلی شي.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې موخې په لاندې کرښو کې خلاصه کولی شو:

۱. په عربي ژبه کې د جملې ډولونه
۲. د اسميه او فعليه جملو تر منځ توپير او اجزاوې يې
۳. د جملو اصلي او فرعي برخې
۴. د جملې د اصلي برخو د رتبې ډولونه

## د څېړنې تګلاره او توکي

زما دغه څېړنه کتابتوني استقرائي ده او د مختلفو علماوو د نظرياتو راټولولو يوه نتيجه ده.

## د څېړنې اهميت

په عربي ژبه کې د نحوې علم او خاصتا د جملې د اجزاوو ترتيب خورا ډېر اهميت لري، ځکه په عربي کې هېڅ داسې جمله نشته چې له کلمو دې نه وي ترکيب شوې او د دې موضوع اړوند زيات مراجع او مأخذونه شته چې د جملې په ډولونو، اجزاوو او حتی د اجزاوو په ترتيب باندې يې خبرې کړې وي، په عربي ژبه کې دا (رتبه) اصطلاح د لمړي ځل لپاره عبد القاهر جرجاني د (ترتيب) په نامه وکاروله، هغه چې علما ورته (رتبه) وايي سره لدې چې زياته توجه يې ورته نه وه کړې، او له ده څخه د مخه د نحوې نورو علماوو ورته (تقديم او تاخير) ويل.

تمام حسان هغه کس دی چې دې اصطلاح ته يې پراخوالی ورکړ او په دوه برخو يې ووېشله: ثابته او غير ثابته رتبه، په همدې ترتيب نورو متخصصينو هم دا مو ضوع څېړلې لکه عالم(عزام محمد ذيب ) چې بيا په دې مو ضوع باندې کتاب هم وليکل، خو که څه هم د دې مو ضوع لپاره ډېر کتابونه نه دي خاص شوي، خو په ډېرو کتابونو کې د کتاب د يوې برخې په شکل دا موضوع زياته څېړل شوې ده او تر ټولو مهمه دا چې په پښتو ژبه کې دا مو ضوع هېڅ نده څېړل شوې، نو ومې غوښتل چې دا مو ضوع په خلص ډول وڅېړم تر څو د پوهنتونو او مدارسو له شاګردانو د جملې په جوړونه او کره والي کې او په عموم کې له هغه کسانو سره چې له عربي ژبې سره زياته بلدتيا نه لري له دې مو ضوع څخه مستفيد شي.

## د مقالې اصلی متن يا منځپانګه

## د رتبې تعريف

کولی شو ووايو چې رتبه په لغت کې : ثبات، ځای، ترتيب، استقرار او مقام ته ويل کېږي.

او په اصطلاح کې: په جمله کې دکلمې ځای، او د نوموړې کلمې د نحوي وظيفې مطابق د هغې اعرابي موقعيت ته رتبه ويل کېږي.

مثلا: د مبتدا ځای له خبر څخه د مخه او د خبر ځای له مبتدا څخه وروسته دی او د فعل ځای له فاعل څخه مخکې دی او دفاعل ځای له مفعول څخه مخکې دی.

**د رتبې ډولونه**

په عربي ژبه کې رتبه دوه ډولونه لري: (محفوظه يا ثابته رتبه او غير محفوظه يا نا ثابته رتبه) باندې وېشل شوې ده، چې په دواړو برخو به يې مفصله رڼا واچوم او په دې برخه کې دوه مطلبه شامل دي.

**۱. محفوظ (ثابت) ځای يا رتبه**

دا هغې رتبې ته ويل کېږي  چې يوه کلمه همېشه خپل ځای ثابت وساتي او مخکېوالی او وروسته والی نه مني، يا دا په ترکيب کې د کلمې ثابت موقعيت دی ، لکه د موصـــوف وړاندېوالی په صـــفت باندې، ځکه که دغه ترتيب ګډوډ شـــو نو د جملې ټول نظام به مختل او ګډوډ شي، او دا ډول ترتيب يوه قرينه (دليل) ده چې په مراعاتولو سره يې معنا مشـــخصـــه کېږي، او که يې ځای يا ترتيب بدل شي نو همدغه دلالت به يې هم له منځه لاړ شي، نو معمولا د هغو معناوو يا اجزاوو ترتيب ثابت دی چې د جملې په معنا باندې تاثير کوي، نو له دې وجهې نه هر هغه کلمه چې د جملې معنا تغييروي او يا د هغې په منځپانګه اغيزه کوي، که څه هم حرف وي ترتيب يې ثابت او په سر کې واقع کېږي، لکه: د نفي، اسـتفهام او تنبيه حروف، او إن او أخواتها(أمثال) يې، او کوم چې افعال قلوب او افعال ناقصـه دي، هغه سره له دې چې د جملې په منځپانګه اغيزه کوي، خو بيا هم ضرور نده چې حتما د جملې په سر کې راشي، ځکه چې دا ډول فعلونه هم له نورو ټولو افعالو سره ورته والی لري(سيوطي، ۱۹۸۳م، ص۲۶۵).
او هر هغه څه چې دجملې وظيفه تغييروي رتبه يې مخکېوالی دی، او دا چې د حروفو مانا په نورو کلمو کې مشخصيږي، نو رتبه يې ثابته ده، خو افعال سره له دې چې دجملو مانا تغييروي خو پدې خاطر چې مستقله مانا لري نو کولی شي چې خپل ځای تغيير کړي.
نو دلته د جملې هغه اجزا يادوم چې رتبه يې ثابته يا محفوظه ده:
**اول:** هغه معاني چې ځای يې وروسته دی.

۱. صله له موصول څخه وروسته راځي.
۲. توابع الاسماء له اسمونو څخه
۳. مضاف اليه تر مضاف وروسته
۴. فاعل له فعل څخه وروسته
۵. او تمييز هم له مميز څخه وروسته راځي(ابن سراج، ۱۹۸۵م، ص. ۲۲۶).

**دویم:** هغه شیان چې مخکې راځي په لاندې ډول دي.

١. غیر متصرفه افعال
٢. صفت مشبه
٣. هغه کلمات چې په اسمونو کې عمل کوي
۴. او هغه حروف چې د کلام په سر کې راځي
۵. ظاهر اسم له ضمیر څخه
٦. افعال شرط له جواب شرط څخه د مخه راځي.

له پورته احصایې څخه جوتېږي چې هر هغه کلمه چې په اساسي ترکیبونو کې ا ضافه وظیفه هم سرته رسوي رتبه یې ثابته ده، ځکه هر هغه نظام چې پر جزئیاتو ولاړ وي د اجزاوو ځایونو ته یې تغییر نشو ورکولی، لکه جار او مجرور، صفت او موصوف، تابع او متبوع او صله او موصول، ځکه چې دغه ډول ترکیبونه د یوې کلیمې حیثیت لري.

**٢. غیر محفوظ (نا ثابت) ځای**

دا هغه ډول رتبې ته ویل کېږي، چې د جملې په چوکاټ کې یې ځای مشـخص دی، خو کولی شي چې مخکې یا هم ورسته راشي او خپل ځای ته تغییر ورکړي، چې پخوانیو علماوو ورته (تقدیم او تاخیر) یا مخکېوالی او وروسته والی ویلی، چې وروسته بیا په (غیر محفوظه) رتبه ونومول شوه، او په پښتو ژبه کې ورته د بېدودې لفظ استعمال شوی دی، پدې ډول رتبه کې ممکن ځینې کلمې پداسې ډول خپل ځای تغییر کړي چې دویم ځای یې ثابته رتبه وګرځي، په هغه صورت کې چې کله د جملې ضرورت دغه خبره ایجاب کړي، لکه د ( ک ) ر تبه په (أَکْرَمَکَ اللهُ) جمله کې، پداسې ډول چې (ک) په دې جمله کې مفعول به دی او د مفعول به رتبه له فاعل څخه وروسته ده، خو په دې جمله کې نه تنها (ک) خپله رتبه تغییر کړې بلکه هېڅ جواز نلري چې له فاعل څخه وروسته راشي، چې اوس یې رتبه په وجوبي ډول را مخکې شوې ده (تمام حسان، **١٩٩٣**م، ص. ٢٢٧).

د یادونې وړ ده چې ژبني ترکیبونه د خپلو اجزاوو د ترتیب په تغییرېدو نه ګډوډ کېږي او د اجزاوو مخکېوالی او وروسته والی یې په دې معنی ندی چې ګویا موږ له ګرامري قواعدو بهر شوو، بلکه د ځینو اجزاوو ترتیب مراعاتول اجباري او د ځینو نورو بیا د یوې مشخصې وظیفې په خاطر اختیاري دي او د ژبې متخصصین په دې نظر دي چې ژبې د ترکیب له نظره د دریو اساسي طریقو پیروي کوي:

۱.فاعل (مبتدا)+ فعل+ مفعول به
۲.فاعل (مبتدا)+ مفعول به+ فعل
۳. فعل +فاعل+ مفعول به (مدکور، ۱۹۸٦م، ص. ۲۰۵- ۲۰٦).

که مخکینیو طریقو ته ځیر شو نو دې نتیجې ته رسېږو چې عربي ژبه د درېیمې طریقې پیروي کوي، او که د ژبې علماوو ته ځیر شــو متوجه به شــو چې د (ثابت او ناثابت ترتیب) یا رتبې په څېړنه کې یې زیاتې هڅې کړې تر څو یې په دقیق ډول وڅېړي، سره له دې چې دوی دا مو ضوع د نحوي کتابونو په مختلفو بابونو کې راوړې ده مګر بیا هم په خپل وصف کې ډېر دقیق دي، تر څو دې نتیجې ته ورسېدل چې مخکېوالی او ورسته والی (تقدیم او تاخیر) جواز لري، چې لدې جملې څخه د مبتدا او خبر، فاعل او مفعول به ضمیر او مرجع یې او مفعول به او فعل رتبه یادولی شو (الفهري، ص. ۱۰۵).

او بایـد یادونه وکړو چې دا کوم تغییر چې د جملې د اجزاوو تر منځ رامنځ ته کېږي، دا د یادې ژبې نظام دی، ځکه د دې معنا دا نه ده چې د نوموړې ژبې له نظام او قوانینو څخه ووتلو.

**لمړی. په فعلیه جمله کې**

فعلیه جمله له فعل او فاعل څخه تشــکیلېږي، خو دلته ما مفعول به – چې د فعل له متعلقاتو څخه دی ـ هم راوړ ځکه چې له فعل او فاعل سره قوي ارتباط لري.

په فعلیه جمله کې اصــل دا دی چې فعل (مســند) او یا هغه څه چې د فعل په څېر عمل سرته رســوي د جملې په سر کې راځي او مسـند الیه (فاعل او یا نائب الفاعل) له هغه وروســته راځي، بیا ورســته د فعل متعلقات راځي.

الف. **د فاعل او فعل تر منځ ترتیب**

د نحویونو تر مینځ د فاعل په تقدیم یا مخکېوالي کې اختلاف شتون لری ، ځینو یې جواز ورکړی دی لکه د کوفې علماء او هغه ګرامر پوهـان چې د بهرنی ګرامر پوهانو تیوریو لخوا اغیزمن شــوي، دوی داسې وایي:(علي جاء)، یعنې: علي راغی. او علي پدې جمله کې فاعل ښیي ، خو د بصرې علماء جواز نـه ورکوي ، دوی وایي چې پـدې جمله کې (علي) مبتدا او (جاء) یې خبر دی(الغلاییني ،١٤١٤ ل، ۱۹۹۳ م، ص. ۲۹٦).

انباري نحوي عالم بیا وایي چې د فاعل مخکېوالی په فعل باندې ځکه جواز نلري، چې فاعل د فعل د یوې برخې په شان دی او د دې خبرې د ثبوت لپاره یې لاندې دلیلونه راوړي دي:

۱. کله چې له فعل سره د فاعل ضمير يو ځای شي نو د فعل (لام) حرف سـکون اخلي، تر څو څلور متحرک حروف پيوست رانشي.

۲. ( الف، يا او واو) په (تفعلان، تفعلين او تفعلون) کې د فاعل ضميرونه دي او له فعل سره يو ځای راغلي دي.

۳. په (قامت هند) جمله کې (قام) د تانيث (ت) اخلي پداسې حال کې چې د تانيث علامه په اسـم کې راځي.

۴. د (حبذا) کلمه يو ځای ويل کېږي سره لدې چې (حب) فعل او (ذا) فاعل دی.

۵. په عربي ژبه کې (قفا) اسـتعمالېږي. يعنې : ودرېږئ! چې کله مخاطبين دوه وي، سره لدې چې معنا يې (قف قف) ده (الأنباري، ۱٤۲۰ه – ۱۹۹۹م ، ص. ۲۵).

د يادونې وړ ده چې په پورتنيو جملو کې د (فاعل) رامخکې کول خپلې موخې لري، چې يو څو يې په لاندې ډول دي:

۱. د مسند اليه منحصـــــرول (ځانګړي کول) په خبر باندې، لکه (محمد سعی فی مساعدتک) يعنې : يوازې محمد ستا د کمک لپاره هڅه وکړه.

۲. د خوشحالۍ په وخت کې د يو شي لپاره رغبت (شوق) ښودل، لکه (البرکه حلت) يعنې: برکت راغی.

۳. کله چې (مسند اليه) يو عجيبه خبره وي، لکه (المقعد مشی) يعنې: چوکۍ لاړه.

۴. د يوه کار لويي بيانول، لکه (الملک أعطاني الجائزه)، يعنې : پادشـاه جايزه راکړه (فا ضل صـالح السامرائي، ۲۰۰۳ م، ص. (٤۱/۲).

د ګرامر پوهانو تر منځ د فاعل په تقديم (مخکېوالي) کې هېڅ اختلاف نشـته، بلکه اختلاف د مبتدا يا فاعل په اعراب کې دی، چې ځينې ورته (وروسته له تقديم څخه) فاعل او ځينې نور بيا ورته مبتدا وايي، او که لږ څه ورته ځير شـو نو پوه به شـو چې حق د بصـــــرې له علماوو سره دی، ځکه چې د فاعل مخکېوالی فعليه جمله په اسـميه جمله بدلوي، سر بېره پر دې چې د معمول مخکېوالی پر عامل باندې جواز نلري.

**ب. د فاعل او مفعول به تر منځ ترتيب**

اصـل دا دی چې په يوه جمله کې اول فاعل او بيا مفعول به راشي، او دغه تقديم (مخکېوالی) په لاندې څلورو ځايونو کې لازمي دی:

۱. کله چې فاعل او مفعول به دواړه متصل ضميرونه وي، لکه (أکرمتک)، يعنې: عزت مې درکړ.

۲. کله چې فاعل ضمیر او له فعل سره پیوست راغلی وي، لکه(قرات الکتاب) یعنې: کتاب مې ولوست.
۳. کله چې مفعول به د (إلا) پواسـطه منحصرـ راغلی وي، لکه(ما یسـاعد خالد إلا عمر) یعنې: خالد یوازې له عمر سره مرسته کوي(عبد علي حسین صالح، ۲۰۰۹م، ص. ۹۲).
۴. کله چې د فاعل او مفعول به تر منځ التباس (گډوالی) راځي او دا نه جوتېږي چې کوم یې فاعل او کوم یې مفعول به دی، او داسې هغه وخت پېښېدلی شي چې کله اعرابمقدر (پټ) شي او داسې کومه قرینه هم نه وي چې فاعل له مفعول به څخه جلا کړي، لکه( رای موسی عیسی)، یعنې: موسی عیسی ولید.

خو ځینې وخت د فاعل رتبه نه تنها وروسـته ده، بلکه دا جواز هم نلري چې تر مفعول به د مخه راشي، لکه په لاندې حالتونو کې:

۱. کله چې مفعول به ضمیر وي او له فعل سره متصل راشي او فاعل ظاهر اسم وي، لکه(أقامني خالد) یعنې: خالد را جگ کړم، په تېره جمله کې (أقام) فعل، (ني) متصل ضمیر او له فعل(أقام) سره پیوست راغلی دی او (خالد) چې فاعل او ظاهر اسم دی.
۲. کله چې له فاعل سره داسې یو ضمیر وصل شي چې مفعول به ته راجع شوی وي، لکه پدې آیت کې:﴿...لا یَنْفَعُ الظَّالمِینَ مَعْذِرَتُهُم... ﴾ (غافر، ص. ۵۲).

**ج. د مفعول به او فعل تر منځ ترتیب**

په اصـل کې مفعول به تر فاعل وروسـته او فاعل تر فعل وروسـته راځي، خو ځینې وخت مفعول به تر فعل او فاعل دواړو د مخه راځي، لکه په لاندې مواردو کې:

۱. کله چې مفعول به داسې کلمه وي چې په جمله کې د صـدارت یا مخکښوالي حق لري، مثلا د شرط او استفهام توري لکه پدې آیت شریف کې: ﴿ فَأَيَّ آيَاتِ اللَّهِ تُنْكِرُونَ﴾ غافر: ۸۱. (أَيَّ) د استفهام په معنا راغلی دی.
۲. کله چې مفعول به وروسـته د جزا له (فا) څخه د شرطیه (أَما) په ځواب کې واقع شي لکه پدې آیت شریف کې: ﴿ فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ﴾ (الضحی، ص. ۹).
۳. کله چې مفعول به منفصـل (ناتړلی) ضمیر وي، پداسـې ډول چې که له خپل عامل څخه وروسـته راشي نو تړلی راځي، لکه پدې آیت شریف کې:﴿ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾ سورة الفاتحة:۵ .

او ځینې وخت د مفعول به مخکېوالی د بلاغي اغراضو پخاطر باندې وي، لکه اهتمام او توجه، لکه چې وواېي:(أعطى الأميرَ خالد). یعنې: خالد امیر ته یو څه ورکړل، په پورتنۍ جمله کې (امیر)را مخکې شوی که څه هم مفعول به دی، او دا د اهتمام او توجه له وجې (الجرجاني، ۱۹۸۲، ص/۳۳۰).

**دویم. په اسمیه جمله کې**

په اصل کې لمړی مبتدا او ورپسې خبر راځي، او مبتدا یو مرفوع اسم دی چې له لفظي عواملو څخه خالي دی، او خبر هم یو مرفوع اسم دی چې له مبتدا سره یوه اسمیه جمله جوړوي.

**الف.د مبتدا مخکېوالی په خبر باندې**

مبتدا په لاندې حالاتو کې له خبر څخه د مخه راځي:

۱. کله چې خبر فعلیه جمله وي، فاعل یې مستتر (پټ) ضمیر وي او مبتدا ته راجع شوی وي، لکه(خالد یکتب) یعنې: خالد لیکنه کوي، که مبتدا وروسته راشي نو له فاعل سره به یې التباس راشي.

۲. کله چې مبتدا داسې څه وي چې د صدارت(مخکېوالي) حق ولري، لکه اسم شرط ، استفهام توري، (ما) تعجبیه او خبري(کم)، لکه(ما أَجمل القمر) یعنې : سپوږمۍ څومره ښایسته ده! (الغلاییني، ۱۴۱۴ه -۱۹۹۳م، ص۳۱٦-۳۱۷).

۳. کله چې خبر منحصر وي، لکه(ما سالم إلا قائم) یعنې: سالم یوازې ولاړ دی.

پورته هغه ځایونه وو چې لازمه ده لمړی مبتدا او بیا خبر راشي، اوس به هغه ځایونه یاد کړو چې خبر تر مبتدا د مخه راځي.

**الف.د خبر مخکېوالی په مبتدا باندې**

په لاندې ځایونو کې خبر له مبتدا څخه مخکې راځي:

۱. کله چې خبر د هغو الفاظو له جملې څخه وي چې په جمله کې د صـــدارت(مخکېوالي) حق لري. لکه( أين سالم؟) یعنې : سالم چېرته دی؟

۲. کله چې خبر ظرف او یا جار او مجرور او یا هم جمله وي او مبتدا نکره وي، لکه (عندک أدب)، یعنې: ته ادب لرې.

۳. کله چې له مبتدا سره داسې یو ضمیر پیوست شي چې خبر ته راجع شوی وي، لکه پدې آیت کې: ﴿ أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا ﴾ (محمد، ص. ٢٤). (أَقْفَالُهَا) مبتدا مؤخره ده او (على قلوب) شبه جمله مقدم

خبر دی او تاخیر یې جواز نه‌لري ځکه چې ضمیر مؤخر ته راجع نشـــي (عبده الراجحي ۱۹۹۹ م، ص ۱۰۸ – ۱۰۹).

۴. جې په داســې یوه معنا دلالت وکړي چې له مخکېوالي یې پیدا کېږي او له تاخیر څخه یې جوته نشي، لکه (لله درک) یعنې: نوش جان د شه! که چېرې خبر وروسته راشي هغه معنا نه ورکوي کومه یې چې په مخکېوالي کې ورکوله.

په دې ډول ځینې وخت خبر له مبتدا څخه د مخه راځي خو کله نا کله دغه مخکېوالی د بلاغي اغراضو په سبب وي لکه ځینې وخت د دې پخاطر مخکې کېږي چې په تعجب کې مبابغه یا زیاتوالی کوي او په زیات اهتمام دلالت وکړي، لکه پدې آیت شریف کې: ﴿... أَرَاغِبٌ أَنْتَ عَنْ آلِهَتِيْ يَا إِبْرَاهِيمُ... ﴾ (مریم، ص. 46).

او کله بیا د افتخار او ویاړ لپاره مخکې کېږي، لکه یو کس چې ووایي(أَفغاني أَنا) یعنې: زه افغانی یم، او دا په خپل قوم او ځان باندې افتخار دی.

کله بیا د تشاؤم(بـد پال) او یا هم د تفاؤل (نېک پال) لپاره خبر له مبتدا څخه د مخه راځي، لکه (ناجح خالد) یعنې خالد کامیاب دی. یا (مقتول سـالم) یعنې: سـالم وژل شـوی دی(عبده الراجحي ،۱۹۹۹م، ص. ۱۰۸ – ۱۰۹).

خو په دې خــاطر چې خبر په معنا کې د مبتدا لپاره صفت دی نو مبتدا د مخکېوالي حق لري. علاوه له دې چې د خبر په واسطه په مبتدا باندې حکم شوی دی، نو بهتره دا وه چې مبتدا مخکې راغلې وی او خبر وروسته اګر که داسې حالتونه هم وي چې د خبر مخکېوالي ته یې جواز ورکولی.

**پایله**

تېر بحث ته په کتو دا جوته شوه چې په عربي ژبه کې دوه ډوله جملې شته: فعلیه او اسمیه جملې، چې معمولا اسمیه جمله په اسم او فعلیه جمله په فعل باندې پیلېږي.

اسمیه جمله دوه اساسي ارکان لري چې مبتدا او خبر دي او فعلیه جمله بیا درې ارکان لري چې عبارت دي له: فعل، فاعل او مفعول به څخه، البته په فعلیه جمله کې مفعول به د جملې اساسي رکن نه دی بلکه کله چې فعل لازمي وي بیا مفعول به ته هېڅ ضرورت نشـــته، په دې ډول په جمله کې د هر جز(برخې) رتبه یا ځای معلوم دی .

خو دغه رتبه په ټولو اجزاوو کې ثابته نه ده، بلکه په ځینو هغو کې خپل ځای یا د نحوي او یا هم د بلاغي موخو په خاطر بدلولی رابدلولی شي، لکه مخکې مو چې اشــاره وکړه، مثلا: په فعلیه جمله کې

فعل له فاعل او مفعول به څخه د مخه نه راځي، او که احيانا فاعل له فعل څخه دمخه ذکر شي بيا نو هغه ته فاعل نه بلکه مبتدا ويل کېږي.

او د جملو نور اجزا لکه: مبتدا، خبر ، فاعل او مفعول به بيا خپل ځای (رتبه ) ثابته نشي ــ ساتلی بلکه د نحوي قواعدو مطابق مخکې او وروسته راتللی شي، او دا مخکيوالي او وروستهوالي د بې نظمۍ په مانا بلکه دا هر څه د نحوي او بلاغي قواعدو په رڼا کې مخکې ځي.

## نتيجه گيري

په عربي ژبه کې رتبه دوه ډولونه لري: (محفوظه يا ثابته رتبه او غير محفوظه يا نا ثابته رتبه).محفوظه رتبه هغې رتبې ته ويل کېږي چې يوه کلمه همېشه د جملې اجزاء خپل ځای ثابت وساتي او مخکېوالی او وروسته والی نه مني، يا دا په ترکيب کې د کلمې ثابت موقعيت دی ، لکه د موصوف وړاندېوالی په صفت باندې، ځکه که دغه ترتيب گډوډ شو نو جملې ټول نظام به مختل او گډوډ شي، او دا ډول ترتيب يوه قرينه(دليل) ده چې په مراعاتولو سره يې معنا مشخصه کېږي او غير محفوظه يا ناثابته رتبه هغه ډول رتبې ته ويل کېږي، چې د جملې په چوکاټ کې يې ځای مشخص دی، خو کولی شي چې مخکې يا هو ورسته راشي او خپل ځای ته تغيير ورکړي.

## وړانديز

راتلونکو څېړونکو ته مې وړانديز دا دی چې د جملې د فرعي برخو رتبه (ځای) هم په مفصل ډول وڅېړي، کوم چې د مقالې د ډېروالي او حجم د زياتېدو په خاطر ما دغه کار ونهشو کولی او له نورو باحثينو او څېړونکو نه هيله کوم چې په خپلو څېړنو او بحثونو کې د جملې د فرعي برخو رتبه هم په مفصل ډول د نحوي او بلاغي گرامر په رڼا کې وڅېړي.

## مصادر او مراجع

القران الکريم

ابن سراج ،(١٤٠٥هـ، ١٩٨٥م ) الأصول في النحو ، تحقيق عبدالحسين الفتلي، مؤسسة الرسالة ،بيروت، الطبعة الأولى.

الأنباري، عبدالرحمن بن محمد بن عبيدالله الأنصاري، أبوالبركات كمال الدين، المتوفى:(٥٧٧هـ)،( ١٤٢٠هـ – ١٩٩٩م )، أسرار العربية، الناشر: دار الأرقم بن أبي الأرقم، الطبعة الأولى ، عدد الأجزاء:١ .

الجرجاني، عبد القاهر، المقتصد في شرح الإيضاح، دار الرشيد، ۱۹۸۲، تحقيق د. كاظم بحر المرجان ، دار الرشيد.

الغلاييني (المتوفى:۱۳۱۴هـ)، (۱۴۱۴هـ –۱۹۹۳م) جامع الدروس العربية، الناشر : المكتبة العصرية، صيدا – بيروت، الطبعة ۲۸.

الفهري، عبدالقادر الفاسي، اللسانيات واللغه العربيه، دار الشؤون الثقافية، بغداد، دار توبقال للنشر، ط۱، ص۱۰۵.

تمام حسان ،(۱۹۹۳ م)البيان في روائع القرآن، القاهرة، عالم الكتب، ط ۱.

سيوطي، الأشباه والنظائر، دارالكتب العربي، بيروت، ط ۲، ج۱.

عبد علي حسين صالح،( ۲۰۰۹م)، النحو العربي، دارالفكر عمان، ط۲.

عبده الراجحي، (۱۹۹۹م)التطبيق النحوي ،مكتبة المعارف، ط ۱.

عبده الراجحي ،(۱۹۹۹م)التطبيق النحوي ،مكتبة المعارف، ط ۱.

فاضل صالح السامرائي،(۲۰۰۳م) معاني النحو، أردن، دارالفكر للطباعة والنشر، ط۲،عدد المجلدات ۴، ط۲.

مدكور عاطف، ۱۹۸۶م،علم اللغة بين القديم والحديث، الناشر: دار الثقافة والنشر والت

# په عامه اړیکو کې د مستند فلم Documentary استعمال

پوهنیار واحدالله زیار، شیخ زاید پوهنتون، ارتباطات او ژورنالیزم پوهنځی، عامه اړیکو څانګه.
**برېښنالیک:** wahidziarkst@gmail.com

**لنډيز**
د Documentary کلمه د لومړي ځل لپاره John Grierson په 1926م کال کې، سینما ته ورګډه کړه او د مستند فلم جوړونې سبک لپاره یې وکاروله. مستند فلم (Documentary) هغه فلم دی، چې د یوې خاصې موضوع، پېښې، توکي، شخص یا ځای په تړاو، د اسنادو په وړاندې کولو سره حقیقي، غیږیز او انځوریز راپور وړاندې کوي. داچې په افغانستان کې عامه اړیکې یوه نوې پدېده ده. له همدې وجې په دې برخه کې زیاتې څېړنې هم نه دي ترسره شوي. د اړونده مقالې له مخې به د عامه اړیکو کارمندان وکولی شي، څو مستند فلم (Documentary) د خپلې ادارې د عامه اړیکو لپاره د یوه ګټور تکتیک په توګه وکاروي. اړونده څېړنیره او معلوماتي مقاله د کتابتوني میتود له مخې له مختلفو معتبرو سرچینو څخه په ګټې اخیستنې لیکل شوې ده. د اړونده مقالې موندنې ښیي، چې د مستندو فلمونو په مرسته موږ کولی شو، خپله اداره، کارمندان، خدامات، تولیدات او... ټولنې ته په اغېزمن ډول وروپېژنو. موږ د عامه اړیکو د کارمندانو په توګه تل غواړو، چې پیغامونه په داسې توګه تر خلکو ورسوو، چې هغوی پرې پوه شي او د هر هغه څه ترسره کولو ته تیار شي، چې موږ یې ترې غواړو. د مقالې د موندونو له مخې مستند فلم هغه سبک دی، چې یاد هدف ته په رسېدو کې له موږ سره مرسته کولی شي. ځکه خلک هغه خبرې او کړنې ژر او اسانه مني، چې د شواهدو پر اساس وي. مستند فلمونه موضوعات، توکي او اشخاص د اسنادو له مخې په منطقي ډول د خلکو مخې ته داسې بږدي، چې د هغوی باور پرې حاصل شي.

**کلیدي ټکي:** مستند فلم، تکتیک، عامه اړیکې، شیخ زاید پوهنتون، لوړې زده کړې، لیدونکي عناصر، اسناد، شواهد.

**سریزه**

بِسْمِ اَللّٰهِ اَلرَّحْمٰنِ اَلرَّحِيمِ، الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین. په نننۍ نړۍ کې د نظامونو، دولتي او غیر دولتي ادارو، لویو او کوچنیو کمپنیو او... پایښت او بریا د اړونده ادرو د عامه اړیکو کارمندانو په لاس کې ده. یوه اداره که په هره اندزه ښه خدمات او تولیدات هم وړاندې کوي، خو چې له خلکو سره ښې اړیکې ونه لري؛ ددې اړیکو لپاره وړ وسیلې او وړ تکتیکونه ونه کاروي؛ په ښه ډول خپل اهداف نه شي ترلاسه کولی او د خپلو توکو لپاره د اړتیا وړ بازار موندنه نه شي کولی. عامه اړیکې هغه وخت ستاسو نظریه، شخصیت، تولید یا خدمت د باور حد ته رسوي، چې د ټولو معیارونو او اصولو په نظر کې نیولو سره، له اړونده اړیکو څخه پرځای پرلپسې ګټه واخیستل شي. د پورتنۍ موخې په پار تاسو کولی شئ، له بېلابېلو لارو او تکتیکونو څخه ګټه پورته کړئ

او مختلفې وسیلې وکاروئ. د عامه اړیکو د مختلفو تکتیکونو له کرښې، یو مهم، منونکی او د خلکو قانع کوونکی تکتیک د مستندو فلمونو (Documentaries) کارول دي، کوم چې ددغه مقالي د بحث اصلي موضوع ده. مستند فلم (Documentary) هغه فلم دی، چې د یوې خاصې موضوع، پیښې، توکي، شخص یا ځای په تړاو، د اسنادو په وړاندې کولو سره حقیقي، غړیز او انځوریز راپور وړاندې کوي.دغه فلمونه ستاسو کړنې او فعالیتونه له لېدونکو عناصرو څخه په استفادې، په مستند ډول د خلکو مخې ته ږدي. همدارنګه په خپله غېږ کې، له حقیقته لرې مسایلو، خیالي کیسو او دروغو ته ځای نه ورکوي؛ همدا وجه ده، چې د نړۍ په کچه زیات شمیر لېدونکي او مینوال لري. هغه ادارې چې غواړي د خلکو باور لاس ته راوړي؛ خپلو توکو ته وړ بازار ومومي؛ خلکو ته د خپلو کارکوونکو وړتیاوې وښيي؛ خپل تاریخ او لاس ته راوړنې ژوندۍ وساتي؛ خپلو کارکوونکو ته د کار انګیزه ورکړي؛ پیغامونه په اغیزمنه توګه تر مطلوبو وګړو ورسوي او له هم سیالو سیالي وګټي؛ د خپلو مخو لپاره په لویه کچه له مستندو فلمونو څخه ګټه اخلي. مستند فلمونه مختلفې بڼې لري، چې موضوع او حالاتو ته په کتو یې، له هرې یوې څخه مناسبه ګټه پورته کېدلی شي. په نننی عصري Digital ماحول کې، د یوې ادارې د عامه اړیکو کارمندانو لپاره مناسبه نه ده، چې یوازې د خبرو یا لیکنې له لارې، تولنې ته د خپلو خدماتو غوره والی او د تولیداتو ګټې بیانوي، ځکه موږ په عامه اړیکو کې داسې سبکونه لرو، چې د ادارې د باور او شهرت لپاره یې، ګټه له خبرو او لیکنې څخه څو برابره زیاته ده. فرض کړئ تاسو د موټرو د تولید یوه کمپنې لرئ؛ که خلکو ته د خپلو موټرو د زیات سرعت، کم مصرف او آرامه تګ په تړاو ساعتونه خبرې وکړئ، ممکن دومره باور به یې حاصل نه شي؛ خو که د خپلو تولیدي موټرو دغه ځانګړنې په عملي ډول راټولې کړئ او په یوه مستند فلم کې یې ټولنې ته وښیئ؛ زه باوري یم، چې خلک به ستاسو د موټرو له کیفیت څه ډاډمن شي او په راتلونکو کې به یې بیره وکړي. ځکه دلته تاسو یوازې ادعا نه کوئ بلکې خپلې ادعاوې د مستند فلم په ذریعه خلکو ته ثابتوئ هم. له همدې امله مستند فلمونه، د یوې ادارې د وړ او اغیزمنو عامه اړیکو لپاره ګټور تکتیک او لاره ده. د اړونده مقالې د لیکلو لپاره، د کتابتوني میتود پر اساس، له مختلفو سرچینو څخه استفاده شوې ده. مقاله د مستند فلم پر پېژندنې، ډولونو او عامه اړیکو کې د اړونده فلمونو د استفادې پر ساحو او موثریت بحث کوي. د یادې مقالې موندنې ښیي، چې مستند فلم د یوې ادارې د عامه اړیکو لپاره وړ او اغیزمن سبک دی، چې کولی شو د عامه اړیکو په برخه کې یې د مختلفو موخو لپاره، په مختلفو وختونو کې د یوه غوره تکتیک په توګه وکاروو.

موخې

- مستند فلم (**Documentary**) پېژندنه
- د مستند فلم (**Documentary**) پر مختلفو بڼو پوهېدنه
- په عامه اړیکو کې د یوه تکتیک په توګه، د مستند فلم (**Documentary**) د استعمال ارزښت او ساحو پېژندنه

**ارزښت**

افغانستان کې عامه اړیکې یوه نوې پدېده ده. دولتي او غیر دولتي ادارې په هغه کچه د عامه اړیکو پر ارزښت او استعمال نه پوهېږي، څه ډول چې د یوې ادارې د شهرت، باور او... لپاره په کار ده. ادرو کې د عامه اړیکو شته کارمندان، له خلکو سره د اړیکو لپاره له ډېرو ساده او برسیرنو تکتیکونو څخه استفاده کوي، چې خبرې او لیکنه یې لویې برخې تشکیلوي. ددې لپاره چې د عامه اړیکو کارمندان له لېدونکو عناصرو (Visual Elements) نه په استفادې له خلکو سره اغېزمنې، دقیقې او باوري اړیکې ونیسي، اړینه ده چې په عامه اړیکو کې د مستند فلم (Documentary) پر استعمال، ارزښت او ساحو بحث وشي. له بله اړخه د افغانستان پوهنتونونو د عامه اړیکو په کاریکولم کې تر اوسه د مستند فلم پېژندنې، جوړونې، ارزښت او په عامه اړیکو کې یې د استعمال په تړاو څه نه ترسرتګو کېږي. په دغه مقالې سره به له یوې خوا د مسؤلانو توجو راجلب شي او له بلې خوا به د عامه اړیکو د محصلانو لپاره، په عامه اړیکو کې د مستند فلم د استعمال اړوند مفردات چمتو شي.

کړنلاره

دغه څېړنیزه او معلوماتي مقاله د کتابتوني میتود پر اساس، د دویم لاس معلوماتو (Secondary Data) څخه په استفادې لیکل کېږي. لیکوال د مقالې په اوږدو کې له مختلفو نړیوالو او ملي معتبرو سرچینو لکه کتابونو، مقالو، مستندو فلمونو او... څخه کار اخلي. لیکوال اړونده څېړنیزه او معلوماتي لیکنه د مستند فلم پر پېژندنې پیل، په عامه اړیکو کې د اړونده فلمونو پر ارزښت او استعمال پای ته رسوي. لیکوال هڅه کوي، یاده موضوع په داسې انداز وڅېړي، چې لوستونکي په اړونده برخه کې نورو لیکنو او مقالو لوستلو ته اړ نه شي. د لیکنې لپاره عموما ساده والی، روانوالی او روڼوالی په نظر کې نیول کېږي، څو لوستونکي یې د لوستلو او مطالعې پر وخت له ستونزو سره مخ نه شي.

**د مستند فلم (Documentary) پېژندنه**

د Documentary کلمه له Document څخه اخیستل شوې ده، چې Document د لاتیني ژبې له Documentum کلمې څخه سرچینه اخلي. یاده اصطلاح په لاتیني ژبه کې د حقیقي شیانو، مسایلو او ثبوت په معنی وه. همدارنګه په انګلیسي ژبه کې د لیکل شویو، ثبت شویو او مستند شویو موادو، چارو او کړنو لپاره کارول کېده. د Documentary کلمې لپاره په پښتو ژبه کې د مستند فلم کلمې کارونه دود ده. دغه کلمه د لومړي ځل لپاره John Grierson په 1926م کال کې، سینما ته ور داخله کړه او د مستند فلم جوړونې سبک لپاره یې وکاروله. John Grierson همغه وخت د مستند فلم (Documentary) کلمه داسې تعریف کړه: "Documentary is the creative treatment of a c t u a l i t y که په لنډ ډول ووایو، نوموړی د حقیقت تخلیقي درملنې او په نوښتګره توګه د حقیقت وړاندې کولو ته مستند فلم (Documentary) وایي. که پورتني تعریف ته ځیر شو، نو پوه به شو چې مستند فلم جوړونکي، د مستند فلم په زریعه تیت او پرک حقیقتونه راټولوي؛ تېرې شوې پېښې او مسئلې

له سره په ویډیویي بڼه ترکیبوي او په نوښتګره توګه یې، ټولنې ته وړاندې کوي. ددې لپاره چې پر مستند فلم (Documentary) باندې ښه وپوهېږو، ځینو نورو تعریفونو ته هم تم کېږو. مستند فلم هغه خوځنده تصویرونه دي چې، د پوهې او ساعتیرۍ په پار حقیقتونه تفسیروي. (Encyclopedia Britannica) هغه حقیقي فلم ده، چې ریښتوني پیښې او ریښتوني اشخاص انځوروي. (The Film Encyclopedia) هغه خوځنده انځورنه یا ټلویزوني برنامه ده، چې یوه واقعه، د وخت موده، د ژوند کیسه او... له سره داسې ترکیبوي، چې خیالي عناصر ونه لري. (The Random house Dictionary) مستند فلم یوازې حقیقت نه ده، بلکې په یو پیچلي تاریخي دور کې، د حقیقت اسناد او شواهد هم دي. (Erik Barnouw) مستند فلم په زیاته یا کمه هنري بڼه، د نړۍ د تاریخي پیښو بیا جوړونه او وړاندې کوونه ده. (Michael Renov) مستند فلم د واقیعتونو په اړه هغه فلم دی، چې هدف یې د لیدونکو پوهاوی او قانع کول دي. (Nichols Bill) مستند فلم د سینما له لارې د حقایقو د څرګندولو او بیا ژوندي کولو پروسه ده. (**Philip Rosen**). پورته تعریفونو ته په کتو مستند فلم (Documentary) په لاندې ډول تعریفوو: مستند فلم (Documentary) هغه فلم ده، چې یوې خاصې موضوع، پیښې، توکي، شخص یا ځای په تړاو، د اسنادو په وړاندې کولو سره حقیقي، غږیز او انځوریز راپور وړاندې کوي.(Hawkins, 2023)

**د مستند فلم (Documentary) ډولونه**

امریکایي فلم کره کتوونکي Bill Nichols مستند فلمونه په شپږو ډولونو ویشلي دي، چې په لاندې ډول پرې بحث کوو:

**1- تشریحي مستند فلم (Expository Documentaries)**

دادې مستندو فلمونو ترټولو عام او دودیز ډول دی، چې پیښې او موضوعات په تشریحي بڼه وړاندې کوي. تاسو چې په ورځیني ډول کوم مستند فلمونه ګورئ، تر ډېره یې تشریحي مستند فلمونه (Expository Documentaries) دي. تشریحي مستند فلمونه هغه فلمونه دي، چې د بېلابېلو موضوعاتو او کړنو په تړاو دلایل، اسناد او لارښوونې وړاندې کوي؛ څو لیدونکو ته له جذباتو څخه لرې په منطقي توګه احساس ورکړي. یادو فلمونه کې فلم جوړونکي هڅه کوي، چې د مختلفو مسایلو په تړاو خلکو ته حقیقي معلومات وړاندې کړي او هغوی وپوهوي؛ په همدې موخه په فلم کې د ویډیو او انځورونو سره په خوا کې، په زیاته کچه د فلم جوړوونکي خبرې (Narration) موجودې وي.

تشریحي مستند فلمونه (Expository Documentaries) پر حقیقتونو او تشریحاتو تمرکز کوي، څو مسایل په واضح او معلوماتي ډول مخاطبانو وړاندې کړي. په دغه فلمونو کې تر ډېره له ارشیفي توکو، مرکو، ګرافیکونو او لېدونکو شواهدو څخه استفاده کېږي. اړتیا ته په کتو د اسنادو او انځورونو د لا روښانتیا په موخه له متنیز ټایټل (Text Title) څخه هم کار اخلي. د تشریحي مستندو فلمونو ډېری برخې د فلم جوړوونکي له غږ (Narration) سره مل وي؛ دغه غږ په فلم کې د ځای شویو ویډیوګانو،

اسنادو او انځورونو د تشریح او توضیح په پار کارول کېږي. اړونده مستند فلمونه موضوعات په منظم ډول د پیل، منځ او پای په درلودلو سره داسې وړاندې کوي، چې مخاطبان په اسانۍ سره پرې وپوهېږي. د تشریحي مستندو فلمونو د لا کره والي په موخه غوره ده، چې موضوعاتو ته په کتو له ارقامو او احصایوو څخه هم کار واخلو. *the Civil War*، *The Blue Planet* او *March of the Penguins (2005)* د تشریحي مستندو فلمونه غوره بیلګې دي.

**2- شاعرانه مستند فلم (Poetic Documentary)**

د پورتني مستند فلم له نوم څخه ښکاري، چې د موضوعاتو په تړاو یوه ځانګړې فضاء جوړوي او مخاطبانو ته یو جلا احساس ورکوي. شاعرانه مستند فلمونه (Poetic Documentaries) مختلف موضوعات، پېښې، ځایونه او اشخاص په خپلواکه احساساتي بڼه د لېدونکو مخې ته ږدي. په دغه مستندو فلمونو کې د ساده کیسو پر ځای، له هېښنده ویډیوګانو، تفصیلي او فکر پاروونکو انځورونو او نورو لیدونکو عناصرو څخه استفاده کېږي؛ څو د موضوعاتو په تړاو د مخاطبانو فکرونه وهڅوي او احساسات یې راوپاروي. که څه هم د مستندو فلمونو لپاره د ډاکومنټرۍ (Documentary) کلمه په 1926م کال کې وکارول شوه؛ خو د شاعرانه مستند فلم (Poetic Documentary) لفظ اوږده موده وروسته په 2001م کال کې رامنځ ته شو. شاعرانه مستند فلمونه (Poetic Documentaries) په هنري طریقه داسې جوړېږي، چې د کیسو د بیان او روایتونو پر ځای خلکو کې د احساس او مزاج په رامنځ ته کولو تمرکز وکړي. ددې لپاره چې اړونده مستندو فلمونو ته کافي هنري رنګ او ښکلا ور په برخه شي، جوړونکي یې د فلم جوړونې له آزادو تخنیکونو څخه استفاده کوي؛ څو په مستقیم او ساده ډول د مطالبو د وړاندې کولو پرځای لېدونکو ته، د موضوعاتو په تړاو فکر ورکړي او په نوښتګره بڼه یې احساسات وهڅوي. *Skyscraper*، *Symphony* او *Get out of car* د شاعرانه مستندو فلمونو ښې بیلګې دي.

**3- مشاهدتي مستند فلم (Observational Documentary)**

مشاهدتي مستند فلمونه (Observational Documentaries) هغه فلمونه دي، چې لېدونکو ته د مسایلو او کړنو د طبیعي بهیر د مشاهدې فرصت برابروي؛ د ژوند چارې او حقیقتونه په هغه ډول چې دي، را اخلي او مخاطبانو ته یې وړاندې کوي. یاد مستند فلمونه پېښې او موضوعات پرته له دې چې، د فلم جوړونکي نظر او لاس وهنه پکې شتون ولري، کټ مټ په طبیعي ډول د خلکو مخې ته ږدي. په دې کار سره د لېدونکو او د اړونده بهیرونو ترمنځ فاصله له منځه وړي. مشاهدتي مستند فلمونه مخاطبانو ته اجازه ورکوي، څو د اړونده پېښو، موضوعاتو، مسایلو په صحنو کې ځان احساس کړي او په بې طرفه توګه د ژوند حقیقتونو مشاهده ترسره کړي.

په مشاهدتي مستندو فلمونو (Observational Documentaries) کې پېښې څه ډول چې پېښېږي، په همغه ډول عکاسي کېږي؛ داسې چې هیڅ ډول ترتیب شوې صحنې پکې شتون ونه لري. د مستندو فلمونو په دغه ډول کې له کامرې څخه په عادي او ساده توګه ګټه اخیستل کېږي. پرته له دې چې پیښې د کامرې په ذریعه لوړې او ټیټې وښودل شي، د پېښېدو له بهیر سره سمې په طبیعي ډول د کامرې له لینز څخه تیرېږي او ثبتېږي. د پورتنیو مستندو فلمونو لپاره تر ډېره له غیر ایجادي فوټوګرافۍ څخه کار اخیستل کېږي؛ د پیښو او چارو ګډونکوونکي په خپل طبیعي حالت کې داسې عکاسي کېږي، چې د کامرې په وړاندې عمل ته ځانګړې اماده ګي ونه نیسي. په اړونده مستندو فلمونو کې تر ډېره، د پیښو له طبیعي غږونو Natural Sound څخه هم استفاده کېږي.

د مشاهدتي مستندو فلمونو موخه داده، څو لېدونکي د یوې موضوع یا پېښې بې پرې او مستقیمه مشاهده وکړي. پرته له دې چې د فلم جوړونکي خبرې یا نظر پرې اغېزه وکړي، باید ده چې په خپله د مربوطه موضوع په تړاو یو نظر ولري، یوې پایلې ته ورسېږي او قضاوت وکړي. Salesman, Grey garden او Young Plato د مستندو فلمونو ددغه بڼې بېلګې یادولی شو.

**4- اجرایي مستند فلمونه (Performative Documentary)**

اجرایي مستند فلم (Performative Documentary) د فلم جوړوونکي د شخصي تجربې او د موضوع د ساحې تر منځ د پل رول لوبوي. دغه فلم د مختلفو مستندو فلمونو یو ترکیب ده، چې د موضوعاتو او پیښو په تړاو لېدونکو ته د فلم جوړونکي دید او نظر وړاندې کوي. په پورتنیو مستندو فلمونو کې داسې انځورونه، ویډیوګانې او اسناد هم راوړل کېږي، چې د موضوع او فلم جوړونکي ترمنځ اړیکه څرګندوي. د بېلګې په ډول، یو فلم جوړونکی چې کالونه یې د کرکټ لوبه کړې، کولی شي د کرکټ د لوبې په تړاو ښه اجرایي مستند فلم (Performative Documentary) جوړ کړي. یا هغه ژورنالیست چې د خپل مسلک سربیره یې د نړۍ په سیاسي مسایلو کې ماسټري ترلاسه کړې وي، په ښه شان سره د منځني ختیځ په اوسني وضیعت پورتنۍ ډوله مستند فلم جوړولی شي او د همدغه فلم په ذریعه د منځني ختیځ په تړاو خپل فکر، تعبیر او دید له خلکو سره شریکولی شي. په دې معنی چې دغه مستند فلمومونه د موضوعاتو په تړاو د معلوماتو وړاندې کولو سربیره، د فلم جوړوونکي شخصي تجربې، تفسیر او احساسات هم د موضوع د بیان برخه ګرځوي.

پورتني مستند فلمونه د مشاهدتي مستندو فلمونو په څیر پر بې طرفه مشاهدې تمرکز نه کوي؛ بلکې د فلم جوړوونکي پر نظر راڅرخي او د هغه دید ته اولیت ورکوي. د موضوع د لا روښانتیا په موخه ددغه مستندو فلمونو ځینو مشهورو بېلګو ته تم کېږو.

- **Supersize Me**: په دې مستند فلم کې، فلم جوړوونکی مورګن سپورلاک د مکډونالډ نومي هوټل خواړه خوري او ددغه خوراک ټولې روغتیایي اغېزې څېړي. دا مستند فلم، د مورګن پر شخصي تجربې او نظر راڅرخي.

- **Aileen Wuornos: The Selling of a Serial Killer**: دا مستند د اېلین ویورنوس پر ژوند او جرمونو باندې بحث کوي. په فلم کې د اېلین په مشهورېدو کې د رسنیو رول ته هم پام شوی. ددغه مستند فلم په اوږدو کې، فلم جوړونکی د شخصي تجربې او نظر څخه د اېلین پر ژوند رڼا اچوي.

**5- انعکاسي مستند فلم (Reflexive Documentary)**

دا هغه مستند فلمونه دي، چې د فلم جوړولو د طرز او طریقې پر ښودلو تمرکز کوي. د نورو مستندو فلمونو په څیر د بهرنیو پېښو، موضوعاتو او کړنو په ځانګړو داستانونو پسې نه ګرځي؛ بلکې د کامرې شا او خوا پېښې، دفلم د تولید سفر او د فلم جوړونې مختلفې مرحلې بیانوي.

انعکاسي مستند فلمونه (Reflexive Documentaries) د فلم جوړولو پروسه د فلم موضوع ګرځوي. دا واضح کوي، چې فلم جوړوونکی څه ډول مستند فلم جوړوي. د بېلګې په توګه: د مستند فلم لپاره اماده ګي نیول؛ مطلوبې ساحې ته د تګ لپاره د موټر چلانول؛ ساحې کې د کامرې نصبول؛ انځورونه، ویډیوګانې مرکې اخیستل؛ د کار پر وخت له مختلفو ستونزو سره مخ کېدنه او فلم پورې مربوطې نورې چارې ترسره کول د انعکاسي مستند فلم برخې بللی شو. د انعکاسي مستندو فلمونو (Reflexive Documentaries) یوه مشهوره بېلګه Man with a camera ده. داد 1929م کال خاموش او انعکاسي فلم دی، چې کومه خاصه موضوع او اِکټر (Actor) نه لري. یاد فلم Dizga Vertov روسي په ذریعه جوړ شوی ؤ، چې په 1920مو کالونو کې یې د شوروي ټولنې د وګړو د ژوند عادي بهیر ښوده. ددغه مستندو فلمونو یوه بله بېلګه The Act of killing ده، چې موږ کولی شو یادونه ترې وکړو.

**6- مشارکتي مستند فلم (Participatory Documentaries)**

مشارکتي مستند فلمونه Participatory Documentaries ساده او نسبتاً طبیعي مستند فلمونه دي. دغه فلمونه د کم تجربه او نویو فلم جوړوونکو لپاره د کار د شروع یوه غوره لار ده. د اړونده فلمونو د جوړولو لپاره، فلم جوړونکی د فلم په موضوع او کیسې کې ځان داخلوي او د مستند فلم برخه ګرځي. د یادو فلمونو په جریان کې فلم جوړوونکي (Documentary Maker) د نورو خلکو ترمنځ پاتې کېږي؛ د موضوع په تړاو پوهه او تجربه ترلاسه کوي. د فلم لپاره د نورو عکاسي کېدونکو اشخاصو په توګه فلم جوړوونکی هم، د فلم د یوې برخې په توګه عکاسي کېږي.

د مستندو فلمونو په دغه ډول کې، د فلم ګډونوال (هغه خلک چې فلم پرې جوړېږي) فعاله ونډه اخلي. په دې معنی چې دوی هم له فلم جوړوونکي سره د فلم په جوړولو کې مرسته کوي. دغه مستند فلمونه د فلم جوړونکي او د فلم ګډونوالو ترمنځ شته کرښه له منځه وړي (Sharma, 2018).

**په عامه اړیکو کې د مستند فلم استعمال**

مختلف دولتي او غیر دولتي شرکتونه او ادارې ټولنې ته د خپلو مفکورو، خدماتو او تولیداتو ورپېژندنې لپاره مختلفې وسیلې او تکتیکونه کاروي. لکه مطبوعاتي اعلامیې، مطبوعاتي کنفرانسونه، مرکې، بېلابېل چاپي توکي، مستند فلمونه او... لیکوال په دغه مقاله کې، د عامه اړیکو لپاره مختلفو کارېدونکو تکتیکونو له منځه، په مستند فلم (Documentary) باندې تمرکز کوي او ددغه مقالې د بحث موضوع یې ګرځوي. په عامه اړیکو کې د مستندو فلمونو (Documentary) په ارزښت سترګې نه شي پټېدلی.

مستند فلمونه (Documentary) هغه څه دي، چې له بل هر تکتیک څخه په ښه شان د یوه شرکت د عامه اړیکو لپاره کارېدلی شي؛ ځکه دغه فلمونه په پراخه کچه علاقمندان لري؛ خلک یې خوښوي او له لیدلو څخه یې خوند اخلي. هغه څه چې فلم کې په مستند ډول وړاندې کېږي، لیدونکي یې بې له شکه مني او قناعت یې پرې حاصلېږي. د مستند فلمونو په وسیله خلک د مختلفو شرکتونو او ادارو د خدماتو او تولیداتو له کیفیت څخه ډاډمن کېږي او په اړونده ادارو باندې یې باور زیاتېږي. مستند فلمونه د عامه اړیکو د کارمندانو لپاره یوه غوره لار ده، څو په ذریعه یې ټولنې ته د خپلو کړنو حقیقي اړخونه وښیي او د هغوی باورونه لاس ته راوړي. خلک ټولې هغه خبرې او کړنې په اسانه مني، چې د اسنادو پر اساس وي. مستند فلمونه له دې وجې د نړۍ په کچه پراخه مخاطبان لري، چې پر اسنادو او حقایقو ولاړ وي؛ داسې چې خیالي کیسو او دروغو ته په خپله غېږ کې هېڅ ځای نه ورکوي.

موږ د عامه اړیکو د کارمندانو په توګه اړ نه یو، چې خلکو ته یوازې د خبرو یا لیکنې له لارې د خپلو خدماتو غوره والی او د تولیداتو ګټې بیان کړو؛ ځکه موږ په عامه اړیکو کې داسې سبکونه لرو، چې د ادارې د باور او شهرت لپاره یې ګټه له خبرو او لیکنې څخه څو برابره زیاته ده. فرض کړئ تاسو د موټرو د تولید یوه کمپنۍ لرئ؛ که خلکو ته د خپلو موټرو د تېز رفتار، کم مصرف او آرامه تګ په تړاو ساعتونه خبرې وکړئ، ممکن دومره باور به یې حاصل نه شي؛ خو که د خپلو تولیدي موټرو دغه ځانګړنې په عملي ډول راټولې کړئ او په یوه مستند فلم کې یې، ټولنې ته وښیئ، زه باوري یم، چې خلک به ستاسو د موټرو له کیفیت څه ډاډمن شي او په راتیولو کې به یې بیړه وکړي. ځکه دلته تاسو یوازې ادعا نه کوئ بلکې خپلې ادعاوې د مستند فلم په ذریعه خلکو ته ثابتوئ هم.

خلک د پوهو، ځیرکو او ماهرو خلکو کړنې، خبرې او توکي خوښوي. ځکه دوی په اړونده برخه کې ددغه کسانو له مهارت، تجربې او پوهې څخه ډاډمن وي. مستند فلمونه له دې وجې هم، په عامه اړیکو کې د ارزښت وړ دي، چې په مرسته یې موږ د خپلو کارکوونکو مهارتونه، تجربې او تخصصونه ټولنې ته په مستند ډول وړاندې کولی شو. په دې کار سره مطلوب وګړي د ادارې یا شرکت د کارکوونکو وړتیاوو څخه باوري کېږي؛ د دوی خبرې مني؛ له خدماتو څخه یې ګټه اخلي او د دوی په لاس او مدیریت جوړ شوي تولیدات کاروي(Reid & Sanders, 2021).

مستند فلمونه (Documentary) په ټولنه کې د باور د جوړولو، په مستند ډول خلکو ته د خپلو مهمو پیغامونو د لېږلو او له مطلوبو وګړو سره د نیږدې پاتې کېدلو، د عامو خلکو د فکرونو د بیدارولو او بدلون

لپاره یوه غوره او اغیزمنه لار ده. مستند فلمونه کیسې په داسې ډول وړاندې کوي، چې خلکو کې د څه د منلو یا د څه ترسره کولو انګیزه پیداکوي او ددوی د ژور درک وړ وګرځي. ورځو په عامه اړیکو کې د مستندو فلمونو (Documentaries) د کارولو پر ساحو او ګټو بحث کوو.

1- مثبت انځور جوړونه (Creating a positive image): مختلفې ادارې او سازمانونه کولی شي، چې د مستندو فلمونو په ذریعه د خپلې ادارې مثبت انځور د عامو خلکو ترمنځ نشر او تیت کړي. په دې ډول چې د مستندو فلمونو له لارې خلکو ته د خپلو کارکونکو هڅې، د سازمان کړنې، خدمات، تولیدات او د ټولنې لپاره د هغوی ګټې روښانه کړي. موږ کولی شو چې مستند فلمونه د خپلې ادارې د لرلید، ماموریت، ارزښتونو په رښتینو کیسو او مثبتو اړخونو راوڅرخوو؛ څو خلک د هر هغه څه له کارولو څخه ډاډه شي، چې موږ یې د یوې ادارې/سازمان په توګه دوی ته وړاندې کوو. که څه هم په عامه اذهانو کې د یوې ادارې، شخص، خدمت یا تولید مثبته انځورونه خورا سخت کار دی؛ ولې موږ کولی شو، چې له بېلابېلو لارو او تکتیکونو څخه په استفادې، دا کار ممکن او ترسره کړو. یو هم له هغوی څخه د ادارې، کارمندان، خدماتو او تولیداتو په اړه د مستندو فلمونو جوړول دي. مستند فلمونه هغه تکتیک ده، چې هرڅه د اسنادو پر اساس وړاندې کوي؛ خلک مستندې خبرې او کارونه مني؛ همدا وجه ده، چې د مستندو فلمونو په مرسته موږ له بلې هرې لارې څخه زر، په ټولنې کې د خپلې ادارې د مثبتې انځورونې موخې ته رسیدلی شو. د بېلګې په ډول: فرض کړئ تاسو د درملو کمپني لرئ؛ د مستند فلم له لارې د خپلو درملو روغتیایي ګټې خلکو ته ښیئ؛ هغه کسان هم فلم کې ځایوئ، چې ستاسو د درملو له استعمال څخه وروسته یې صحت ښه شوی.

2- ټولنیز کمپاینونه او د عامه پوهاوي پروګرامونه (Social Campaigns and Awareness Programs): ټولنې وخت ناوخت داسې ستونزو کې ورغورځي، چې یاده ستونزه د ټولنې لویه اندزه وګړي اغېزمنولی شي. دا ممکن ساري ناروغی، طبیعي یا غیرطبیعي آفتونه وي. په داسې حالاتو کې حکومتونه او په اړونده ټولنو کې دولتي او غیر دولتي ادارې مسؤلې دي، چې خلکو ته د ټولنیزو کمپاینونو له لارې پوهه ورکړي؛ څو له یوې خوا د اړونده آفتونو مخه ونیول شي او له بلې خوا خلک د ستونزو پر وخت، له داسې اړینو او ګټورو لارو چارو څخه استفاده وکړي، چې شته ستونزې یې مال او ځان ته تاوان وروانه ړوي. مستند فلمونه کولی شي، په دغه ډول کمپاینونو کې له موږ سره بشپړه مرسته وکړي. له دې لارې به موږ په اسانه خلک د شته یا راروانو طبیعي او غیر طبیعي ستونزو پر تاوانونو، د ستونزو د مخنیوي پر لارو چارو او له ستونزو سره د مبارزې پر تکتیکونو وپوهوو. د مستندو فلمونو له لارې د ټولنیزو ستونزو په تړاو عامه پوهاوی ډېرېږي او خلک له اړونده ستونزو سره وړ برخورد کولو ته چمتو کېږي. د بېلګې په توګه: فرض کړئ هیواد کې د تمباکو کارول ورځ تر بلې زیاتېږي. د عامې روغتیا وزرات کولی شي، د یوه مستند فلم له لارې د تمباکو زیانونه خلکو ته وښیي؛ کولی شي هغه کسان چې پر تمباکو معتاد ؤ، له همدې لارې یې مال او ځان زیان لېدلی، هم په خپل مستند فلم کې ځای کړي. همدارنګه دوی کولی شي، چې د پاک چاپیریال ګټې د مستند فلم له لارې ټولنې ته وښیي،

څو خلک د چاپېریال د پاک ستلو لپاره لاس په کار شي. ددې سربېره د کوچنیانو د واکسین کولو روغتیايي ګټې، د عامه پوهاوي په برخه کې د مستند فلم لپاره، یوه بله وړ موضوع ده.

3- د خلکو باور ترلاسه کول (Gaining people's trust): باور هغه څه دی، چې په سخته ترلاسه او په اسانه له منځه تللی شي. کله چې یوه اداره یا شخص د خلکو ترمنځ د باور حد ته رسېږي، رښتیا هم ډېر وخت او کار ته اړتیا لري. د عامه اړیکو د کارمندانو دنده ده، چې خپل تولیدات او خدمات د خلکو د باور وړ وګرځوي. د یادې موخې په پار کولی شي، چې د نورو لارو ترڅنګ له مستندو فلمونو څخه هم ګټه پورته کړي. له دې لارې به خلک ستاسو د تولیداتو او خدماتو په تړاو رښتوني کیسې وګوري او واوري، چې په دې کار سره به خلکو ته پرېکړه او پر تاسو باور اسانه شي.

4- د بحران مدیریت (Crisis Management): مختلې ادارې د بحرانونو پر وخت له مستندو فلمونو څخه کار اخلي. په دې ډول په خلکو کې ستاسو د کړنو او تولیداتو په تړاو شته غلط فهمي له منځه تللی شي. ادارې کولی شي، د بحرانونو پر وخت خپل دریځ روښانه او ټولنې ته دقیق حقایق ووایي. وخت نا وخت ممکن ستاسو د شرکت له لورې، په تېروتنې سره بې کیفیته تولیدات بازار ته وړاندې شي. د خلکو له لورې د یادو تولیداتو په رانیولو او استفادې سره طبیعي خبره ده، چې په اړونده تولیداتو او شرکت یې باور کمېږي او په وړاندې یې خوله په خوله یا د ټولنیزو رسنیو له لارې منفي تبلیغات پیل کوي. په داسې وختونو کې باید د عامه اړیکو کارمندان، د خپلې غلطۍ د جبران او د توکو د کیفیت د کنټرول او بیرته رغولو په تړاو مستند فلمونه جوړ او خلکو ته وړاندې کړي؛ څو خلک پوه شي چې، دا یوه تېروتنه وه او بیرته ژر د اصلاح په حالت کې ده. ځیني وختونه ممکن ځینې کړۍ ستاسو د کړنو او فعالیتونو په تړاو غلط او منفي معلومات تیت کړي، د یادو معلوماتو د مخنیوي او خلکو ته یې پر ځای د سمو معلوماتو رسولو لپاره مستند فلمونه غوره لاره ده.

**5- د رسنیو لپاره د محتوا برابرول** (Content for Media): حکومتونه، ادارې او اشخاص کولی شي د خپلو کړنو، تولیداتو، نوښتونو او لاس ته راوړنو په تړاو مفصل مستند فلمونه جوړ کړي. یاده چاره له دې امله هم د ارزښت وړ ده، چې اړوند مستند فلمونه د ډلېيزو او ټولنیزو رسنیو مسؤلان ترلاسه کوي او ګوري یې. ستاسو د مستند فلم هغه معلومات، چې د ټولنې لپاره اهم او د دوی د پام وړ وګرځي، د خپلو ډلېيزو او ټولنیزو وسیلو لپاره یې د محتوا برخه ګرځوي او نشر ته یې سپاري. که غواړئ چې ستاسو مستند فلمونه په لویه کچه، د ډلېيزو او ټولنیزو رسنیو د مسؤلانو توجه راجلب کړي، نو خپلو فلمونو کې هغه څه ځای پر ځای کړئ، چې عامو خلکو یعني ټولنې ته یې ګټه رسېږي او د ټولنیز پرمختګ باعث ګرځي. د بیلګې په ډول: فرض کړئ تاسو د کاغذونو د تولید کمپني لرئ. ددې لپاره چې د خپلو تولیداتو مستند فلم مو له نورو رسنیو څخه نشر ته وسپارل شي، د فرد او ټولنې لپاره د بې سوادۍ پر زیانونو مستند جوړ کړئ. له یوې خوا به خلک کتاب او کتابچې ته مخه کړي، ستاسو خرڅلاو به زیات شي او له بلې خوا به ټولنه د بې سوادۍ له زیانونو وژغورل شي.

**6- د خدماتو او تولیداتو معرفي کول (Introducing services and products)**: موږ کولی شو د مستندو فلمونو په مرسته خپل خدمات او تولیدات خلکو ته معرفي او وښیو. د خدماتو او تولیدتو ځانګړتیاوې، ګټې او د تولید پروسه ټول هغه څه دي، چې په لېدلو سره یې خلک پر موږ باور کوي؛ خدمات مو استفاده کوي او تولیدات مو رانیسي. د بیلګې په ډول: تاسو د خوراکي توکو د تولید کمپني لرئ؛ د مستند فلم له لارې ټول هغه مواد خلکو ته ښيئ، چې کار ترې اخلئ؛ ددې سربیره دا هم روښانه کوئ، چې ستاسو کارکوونکي د کار پر وخت په بشړه توګه پاکوالي ته پام کوي؛ همدارنګه په مستند فلم کې خلکو ته روښانه کوئ، چې ستاسو د کمپنۍ داخل، شا او خوا، ماشینونه، د کارکوونکو لباس او... پاک او منظم دي. په دې ډول سره به تاسو وتوانېږئ، چې خپل تولیدات په هغه ډول ټولنې ته وروپېژنئ، څه ډول چې ستاسو کمپني ورته اړتیا لري.

**7- ټولنیز مسؤلیت (Corporate Social Responsibility – CSR)**: په عام ډول خلک هغه اداري او شخاص خوښوي، چې د ټولنې په درد دردېږي؛ د ټولنې د پرمختګ لپاره دوامدارې هڅې کوي؛ د بې کارۍ ختمول، د تعلیم عامول، د بیوزلۍ کمول، د چاپیریال پاک او سمسور ساتل او... نورې چارې ترسره کوي. عام خلک تل داسې اشخاص او اداري ځانونو ته نېږدې بولي؛ ددوی پر کړنو باور لري؛ خبرې یې په ځیرتیا سره اوري او غوښتنې یې پر ځای کوي. موږ د یوې دولتي یا غیر دولتي ادارې په توګه کولی شو، خلکو ته د مستندو فلمونو له لارې وښیو چې ټولنیز پرمختګ، زموږ له اساسي موخو څخه ده؛ په خپلو ټولو چارو کې د ټولنې بهبود او ګټه راته اولیت لري؛ کولی شئ خلکو ته ثابته کړئ، چې تاسو د بې وزله خلکو لاس نیوی کوئ؛ د چاپیریال د سمسورلو لپاره هڅې کوئ او د خلکو روغتیا ته پام کوئ. دداسې مستندو فلمونو په لېدلو سره به پر تاسو د خلکو باور پوخ شي او ډاډه به شي، چې تاسو ټولنیزو مسؤلیتونو ته ژمن شخص یا ادره یئ.

**8- د کارمندانو روزنه او انګېزه ورکول (Training and motivating employees)**: هره اداره غواړي چې داسې مسلکي، په کار پوه او ژمن کارمندان ولري، چې د ادرې د لرلید او موخو لپاره نه ستړې کېدونکي هڅې ترسره کوي. طبیعي خبره ده، چې کارمندان په لومړیو وختونو کې، ستاسو له اصولو، موخو، ارزښتونو او... سره بلد نه وي. خو د وخت په تیرېدو سره یاده چاره ترسره کېدی شي. ددې لپاره چې کارمندان مو وفادار، ژمن، ځیرک او د کار ښه انګیزه ولري، کولی شئ له مستندو فلمونو څخه استفاده وکړئ. تاسو کولی شئ د خپلې ادارې ارزښتونه، موخې او هغوی ته د رسېدو لارو په تړاو مستند فلمونه جوړ کړئ؛ په دې سره به له یوې خوا ستاسو کارمندان روزنه ترلاسه کړي او له بلې خوا به د کار لپاره انګیزه پیدا کړي. د بیلګي په ډول: تاسو کولی شئ خپلو کارمندانو د ادارې د بریاوو هغه مستندونه وښیئ، چې د همدغه کامندانو په مرسته ترلاسه شوي دي. په دې کار سره به د کارمندانو مورال لوړ شي او د کار کلو علاقه او انګیزه به یې لا زیاته شي.

**9- د پیغامونو اغیزمنه رسونه (Effective delivery of messages)**: د پیغام اغېزمنه رسونه په عامه اړیکو کې له بل هرڅه مهمه او اړینه ده. د پیغام اغیزمنه رسونه په دې معنی چې ستاسو د پیغام پر هدف خلک پوه شي؛ ستاسو خبره ومني او هغه څه چې تاسو يې ترې غواړئ ترسره کړي. که څير شو نو پوه به شو، چې د عامه اړیکو کارمندانو دنده په بشپړ ډول پیغام لېږل او له نورو سره اړیکې نیول دي. دوی باید یوازې د پیغامونو په سم جوړښت او ترتیب فکر ونه کړي؛ بلکې پر هغه تکتیکونو او وسیلو هم فکر وکړي، چې په زریعه یې کولی شو ټولنې ته پیغامونه په داسې ډول وړاندې کړو، چې اغیزمنه رسونه ترسره شي. یادې موخې ته د رسېدو په پار کولی شو، د مستند فلمونو یادونه وکړو. مستند فلمونه زموږ پیغامونه ددې جوګه کوي، چې خلک پرې پوه شي او ويې ومني. ځکه مستند فلمونه د پیغام رسولو ځواکمنه او اغیزمنه طریقه ده. د ټیکنالوژۍ او انټرنټ په دې دوران کې، له یوې خوا زموږ پیغامونه د مستند فلم په زریعه ډېرو خلکو ته رسېږي او له بلې خوا اړوند فلم کې د معلوماتو تنظیم او لیدونکي عناصر Visual Elements زموږ پیغام لا ګټور، د پوهېدو وړ او اغیزمن کوي. د بیلګې په توګه: که موږ د خپلې ادارې ځینې پیغامونه په لیکنیز ډول خلکو ته وړاندې کوو، ممکن دا به دومره اغیزمن نه وي، لکه څه ډول چې د مستند فلم په چوکاټ کې په لېدونکي ډول وړاندې شي.

**10- د تاریخي ارزښتونو ساتنه (Preservation of History and Heritage)**: د هر دولت، ادارې او ټولنې لپاره د دوی تیرې لاس ته راوړنې، نوښتونه، ارزښتونه، او طی شوې لاره خورا مهمه وي. هېڅ اداره نه غواړي چې پر اخیستل شویو قدمونو یې خاورې واړول شي. همدارنګه هر حکومت پر خپلو پخوانیو اتلانو ویاړي او هڅه کوي، چې یاد یې ژوندی پاتې شي. د هېڅ ټولنې لپاره به دا اسانه نه وي، چې د نیکونو کلتور، فرهنګ او دودونه یې له منځه لاړ شي. که موږ غواړو چې، د خپلې ادارې تاریخ او لاس ته راوړنې ژوندۍ وساتو؛ که موږ غواړو چې د یوه حکومت په توګه خپل اتلان هېر نه کړو؛ که موږ غواړو چې له نیکونو څخه راپاتې شوی کلتور او راوجونه ورک نه کړو؛ ددې هر څه لپاره مستند فلمونه اسانه او اغېزمنه لاره ده. مستند فلمونه زموږ د ادارې، ټولنې او حکومت په تړاو لېدونکی تاریخ دی، چې راتلونکو نسلونو ته زموږ تاریخ، لاس ته راوړنې،کلتور، اتلان او... انتقالوي. د بیلګې په توګه: د باډې جوړونې یو کلب د خپل شاګرد په تړاو چې د اسیا په کچه یې اتلولي او میډال ګټلی، مستند فلم جوړوي. په دې سره به له یوې خوا د ځان لپاره ښه کمپاین وکړي او له بلې خوا به دغه کلب خپله دغه لاسته راوړنه ژوندۍ وساتي. یا هم د یوې تاریخي سیمي په اړه مستند کولی شي، ددغه سیمې تاریخي ارزښت وساتي.

**پایله**

مختلفې دولتي او غیر دولتي ادارې له خلکو سره د اغېزمنو اړیکو نیولو لپاره مختلفې لارې او تکتیکونه کاروي. ددې لپاره چې ادارې ټولنې ته دقیق، ربښتیني، مدلل، له لېدونکو عناصرو څخه په استفادې داسې معلومات وړاندې کړي، چې د هغوی لپاره پرته له ځنډه د منلو او باور وړ وي، د نورو ټولو تکتیکونو له

منځه له مستند فلم (Documentary) څخه استفاده کوي. مستند فلمونه د ټلویزوني ژورنالېزم هغه سبک دی، چې ټولنې ته په مستند ډول د پېښو، کړنو او موضوعاتو د وړاندې کولو لپاره کارول کېږي. عامه اړیکي له دغه سبک څخه، د خپلو خدماتو او تولیداتو د پېژندلو، د خلکو د باور ترلاسه کولو، خلکو ته د خپلو فعالیتونو د ښودلو، رسنیو ته د منځپانګې د برابرولو، د خپلې ادارې د مثبت انځور جوړولو او... موخو لپاره د یو تکتیک په توګه استفاده کوي. د مستند کلمه د اسنادو له لفظ څخه راوتلې ده، چې هیڅ قدم او خبره یې له اسنادو پرته نه شي ترسره کېدی. همدا لامل ده، چې یاد سبک په پراخه کچه لېدونکي او مینوال لري. مستند فلم (Documentary) په مختلفو ډولونو باندې ویشل شوی دی، چې وخت او موضوعاتو ته په کتو یې، موږ له هر ډول څخه د ادارې د عامه اړیکو لپاره مناسبه ګټه پورته کولی شو.

د مناسبو او اغېزمنو عامه اړیکو لپاره موږ باید تل په داسې وسیلو او تکتیکونو پسې وګرځو، چې کولی شو پر مټ یې پیغامونه په اغیزمنه توګه مخاطبانو ته ورسوو؛ داسې چې مخاطبان زموږ پیغام واوري او وګوري؛ زموږ پر پیغام پوه شي؛ زموږ پیغام ومني او هغه څه ترسره کولو ته غاړه کېږدي، چې موږ یې ترې غواړو. یادې موخې ته د رسېدو لپاره مستند فلمونه (Documentaries) په بشپړ ډول زموږ همکاري کولی شي. ځکه مستند فلمونه د رښتینو کیسو او حقیقتونو د انعکاس له وجې خلک په پراخه کچه ګوري او اوري. هغه څه چې فلم کې په مستند ډول د خلکو له سترګو تېرېږي، تر ډېره د خلکو لپاره په اسانه د منلو او باور وړ وي. همدا وجه ده چې موږ د یوې ادارې د عامه اړیکو د کارمندانو په توګه، باید کله هم په عامه اړیکو کې د مستند فلم په ارزښت سترګې پټې نه کړو او استعمال یې له پامه ونه غورځوو. مستند فلمونه په عامه اړیکو کې زموږ لپاره هغه څه ترسره کوي، چې نور سبکونه او تکتیکونه یې په ډېر کم امکان او خراب کیفیت ترسره کولی شي.

موږ د ادارې لپاره د عامه اړیکو په برخه کې، د مستند فلم په ذریعه یوازې ادعاوې نه کوو؛ بلکې د وړ او مناسبو اسنادو په ذریعه یې ثابتوو هم. ددې سربېره، که تاسو یوازې د لیکنې یا خبرو له لارې خلکو ته یو پیغام ولېږئ، دا به دومره اغېزمن او د منلو وړ نه وي؛ خو که همدغه پیغام په څو رسنیز شکل د مستند فلم په چوکاټ کې ځای کړئ او خلکو ته یې وړاندې کړئ، خلک به یې له لېدلو خوند واخلي او وه به یې منې. همدا وجه ده، چې مستند فلمونو د هرې ادارې د عامه اړیکو لپاره د وړ او پرځای تکتیک په توګه کارول کېدی شي.

**وړاندیزونه**

1. لوړزده کړو وزارت دې، د عامه اړیکو په کاریکولم کې د مستند فلم (**Documentary**) تر عنوان لاندې، دوه کرېډټه مضمون اضافه کړي.
2. مسؤلان دې په عامه اړیکو کې د مستند فلم (**Documentary**) د ارزښت په توګه، د مختلفو دولتي او غیر دولتي ادارو لپاره ناستې او کنفرانسونه دائیر کړي، څو اړونده ادرې د

مستند فلم په ارزښت وپوهېږي او له خلکو سره د اړيکو نيولو لپاره يې، د يوه اغېزمن تکتيک په توګه وکاروي.

۳. لوړو زده کړو وزارت او پوهنتونونه دې، د دوی د عامه اړيکو آمريتونو ته لارښوونه وکړي، څو له ټولنې سره په اړيکو کې، مستندو فلمونو څخه کار واخلي. په دې سره به لوړو زده کړو وزارت او پوهنتونونه د خلکو ترمنځ د لا باور وړ وګرځي.

۴. په پوهنتونونو کې د ارتباطاتو او ژورناليزم پوهنځيو استادان دې، د خپلو پوهنتونونو د عامه اړيکو له کارمندانو سره مرسته وکړي، څو په چارو کې د نورو لارو ترڅنګ له مستندو فلمونو څخه هم په سمه توګه ګټه پورته کړي.

۵. په پوهنتونو کې د عامه اړيکو استادان دې، په عامه اړيکو کې د مستند فلم د کارونې په تړاو، څېړنې ترسره کړي؛ په اړونده برخه کې دې، ليکنې او مقالې خپرې کړي.

**مأخذونه**

Aufderheide, P. (2013). 1. Defining the Documentary. *Documentary Film*, 1ï 55. https://doi.org/10.1093/actrade/9780195182705.003.0001

Film, I. (n.d.). *Documentary and Archive Filmmaking Guide*. *1154030*.

Grierson, J. (1934). *" The creative treatment of actuality " John Grierson*.

Hawkins, K. (2023). What is a Documentary Film? In *WiseTour*. https://www.wisetour.com/what-is-a-documentary-film.htm

Murray, J. (2003). *1 "Documentary Films" An entry in the*. 1ï 24.

Nucci, L., Narvaez, D., & Krettenauer, T. (2014). Second Edition Second Edition. *Dairy Science & Technology, CRC Taylor & Francis Group, June*, 1ï 542.

Reid, D. R., & Sanders, B. (2021). *DOCUMENTARY For Digital Humanists*.

Sapino, R., & Hoenisch, M. (2011). TERM.PAPER.revised.What is a Documentary. *Education and Culture*, 1ï 19.

Sharma, A. (2018). Types and styles of The Documentary Genre documentaries Origins & Style Types and styles of documentaries. *Salisbury University*.

Winston, B. (2019). the Documentary Film Book. *The Documentary Film Book*, 1ï 400. https://doi.org/10.5117/necsus2015.1.bry2

Plantinga, C. (2005). What a documentary is, after all. *The Journal of aesthetics and art criticism*, *63*(2), 105-117.

Eitzen, D. (1995). When is a Documentary?: Documentary as a Mode of Reception. *Cinema Journal*, *35*(1), 81-102.

Rotha, P. (1935). *Documentary*. London, UK: Faber & Faber.

Plantinga, C. (2008). Documentary. In *The Routledge companion to philosophy and film* (pp. 494-504). Routledge.

Richter, H. (2017). The film essay: a new type of documentary film. In *Essays on the Essay Film* (pp. 89-92). Columbia University Press.

Bohnsack, R. (2014). Documentary method. *The SAGE handbook of qualitative data analysis*, 217-233.

Xifra, J., & Girona, R. (2012). Frank Capra's Why We Fight and film documentary discourse in public relations. *Public Relations Review*, *38*(1), 40-45.

Mercey, A. A. (1938). Documentary Film Studyï A Supplementary Aid to Public Relations. *Journal of the Society of Motion Picture Engineers*, *31*(1), 82-86.

(Reid & Sanders, 2021)(Nucci et al., 2014)(Aufderheide, 2013)(Grierson, 1934)(Winston, 2019)(Sharma, 2018)(Film, n.d.)(Murray, 2003)(Sapino & Hoenisch, 2011)

## Usage of Documentary in Public Relations

Teching Asistant Wahidullah Ziar, Sheikh Zayed University, Faculty of Communication and Journalism, Department of Public Relations.
**Email:** wahidziarkst@gmail.com

**Abstract**

The term *Documentary* was first included in cinema by John Grierson in 1926 and he used this term for a style of documentary filmmaking. A documentary is a film that presents an authentic, auditory, and visual report about a specific topic, event, object, person, or place based on evidence. Public Relations is almost a new phenomenon in Afghanistan. Therefore, limited research articles have been conducted in this field. According to this study, PR practitioners will be able to use documentaries as a beneficial and effective tactic for their organization's PR activities. The article has been written Based on the library method to utilize secondary data from various credible sources. The findings of the article shows that through documentaries, we can introduce our organization, employees, services, products, and more to the community in an impactful way. As PR practitioners, we always aim to deliver messages to the audience in a way that they understand and are willing to take the desired actions. The finding of this article shows that documentary is an effective medium that can help us to achieve this goal. Because people easily accept all the things that are based on evidence. Documentaries present topics, objects, and individuals logically and evidentially, in a way that gains the trust of the audience.

**Keywords**: Documentary, Tactic, Public Relations, Shaikh Zayed University, Higher Education, Visual Elements, Evidence, Proof.

# Position (rank) of sentence components in Arabic

Teaching assistant Masoud Qaeid, Shaikh Zayed University, Languages and Literature Faculty, Arabic Department.
**Email Add**: masuodqaeid@gmail.com

**Abstract**
Rank is the order of the components of the sentence, how they are related to each other in terms of precedence and posteriority. What kind of order is there between the components of the sentence, the main purpose of this research is to know the main and sub-place of the components of the sentence or fixed and variable (unfixed) place, in which way they are different from each other in nominal and adverbial sentences, In this research, I used the library method, I studied different books and collected information related to this topic, which I got two types of ratings, one is stable and the other is unstable. Variable) is called rank. In this way, the readers will know that some words in the Arabic language keep their places fixed and some others change, and they will also know when they change their place or not

**Key words**: components, place (rank), fixed, non-fixed, syntax.

# Social Relations in the Light of Islamic Shariah and the Foundations of its Strengthening

Teaching Assistant Muhammad Ishaq Shahzad Department of Islamic Culture
Faculty of Education Paktika Higher Education Institute
**Email**: ishaqshahzad821@gmail.com

**Abstract**

In this article, the quality and characteristics of social relationships in the light of Islamic Shariah are explained, and how to maintain appropriate relationships with everyone is clarified. It is clear that these relationships should be based on love, kindness, cooperation, mutual respect, trust, and other important virtues, which are the cause of happiness and prosperity for individuals in society. Similarly, important foundations for the strength of these relationships are presented in the light of Shariah, such as having the intention to reform, truthfulness and trustworthiness in communication, addressing people according to their understanding, patience in bearing difficulties, seeking truth and investigation, gentleness with people, and consistency in actions and words. It is emphasized that neglecting these foundations and living separately from society or not paying attention to these principles leads to problems and difficulties. Therefore, a successful society is one that understands the principles and rules of relationships with people and follows the Islamic Shariah in its dealings with everyone.

**Key words**: Islamic Shariah, Foundations, Relations, Society,Social, Strengthening, Factors.

# Types of Subject-Predicate Relationship in Rhetoric

Senior Teaching Assistant Abdul Samad Rokhan, Shaikh Zayed University, Faculty of Languages and Literature, Pashto Department
**Email**: abuhanifaroshan@gmail.com

**Abstract**

The purpose of communication is to effectively convey meaning during interaction with others. Clear and eloquent speech relies heavily on rhetoric. Al-Jurjani stated that rhetoric as the knowledge that teaches a speaker how to speak appropriately based on the context and the audience's situation. This learning is achieved through Syntactical and rhetorical rules. The objective of this article is to acquaint Pashto speakers with the secrets of the Qur'an and Hadith, understand the connection between predicate and Subject recognize the transfer of literal and metaphorical meanings, and distinguish between them. Ultimately, it aims to ease the study of literary works. This article utilizes credible scholarly sources and thoroughly explains concepts related to rhetoric, including the identification of Subject-Predicate Relationship, Predicate and subject. The conclusion is that a literate and eloquent person can truly appreciate the beauty of literary works when they precisely understand the relationship between the subject and the predicate. Additionally, they must have a deep comprehension of the subtleties found in the Quran, Hadith, and other literary masterpieces.

**Keywords:** Subject-Predicate Relationship, types of Subject-Predicate Relationship, Rhetoric, Literal and Metaphorical, predicate and subject.

# Investigating the Effects of High Bride Price in Khost Province

T.T. Assit: Amir Muhammad Sabir*, S.T. Assit: Qudratullah Saddiqi, T.T.Assit: Hafeezullah Bakhtar, Shaikh Zayed University, Department of Sociology and Philosophy.

**Email Add**: amirmsabir@gmail.com

## Abstract

Marriage is not only a source of physical and mental suffering for the third world countries like Afghanistan, but its impacts are so deep that it affects the local communities and provinces such as Khost. Women are sold and used to resolve conflicts, and inhumane treatment is practiced in the name of marriage. Throughout history, bride price has existed in various forms, not only in Afghanistan, but also in the world and in the countries of the region. This evil culture and un-Islamic customs and traditions are the cause and reason of many social problems for the youth in Khost society, which in turn have become the cause of thousands of other social problems and problems. Taking a high-level bride price is not a tradition or custom in Pashtun society as a whole and especially in Knost; rather, it is a bad phenomenon that has many bad consequences. The findings of the study revealed that high bride price is a major and serious problem for the youth of Khost, which also gives rise to other problems such as: increased domestic violence, hostility, disrespect for women's human dignity, elopement, traveling, moral corruption, and an increased tendency to divorce. It affects the stability of marriage and has a negative impact on every aspect of the future social life of young people. This study concluded that high bride price has a negative impact on the stability of family life and marriages in Khost. The aim of this study was to prevent this problem formally and informally; to save our young people from misfortunes. Therefore, this study highlights the need to reform high bride price customs to ensure basic marital rights for Afghan women. Parents, the government (Directorate of Enjoining Good and Forbidding Evil), religious and charitable institutions of the community, the media, and elite members of society can play an important role in preventing high bride price in Khost. Data of this research was collected through questionnaire.

**Keywords:** Economic Problems, High Bride Price, Khost, Social Problems, Youth.

# The impact of climate change on precipitation in Khost Province

Senior Teaching Assistant Asmatullah ziar[1],T. Assit Nazir Gul sidiqi[2] & Senior Teaching Assistant Saifullah Gharwal[3], Shikh Zayed University, Faculty of Social Sciences, Department of History and Geography.
Asmatullah.Ziar@gmail.com

**Abstract**

Climate change is the natural study of weather changes that take place on monthly basis. Even though, Afghanistan emits very little greenhouse gases, however, it is highly vulnerable to climate change. It is due to the fact that the earth has the same atmosphere, through which climate change crosses political borders.

As the climate change affects every aspects of human life and the environment, that is why we felt the need that a thorough research should be conducted in this regard.

A mixed method was used in collecting the data for this study, that is, the important concepts were gained from several written sources and the precipitation data was acquired from the NASA website. The date was then analyzed through excel and the decimal formula.

The data from 2015 to 2023 is presented in six tables in the article. The first table identifies the years with the lowest rainfall during, which Khost witnessed severe drought.

The second, third, fourth, fifth, and sixth tables show the years with the highest rainfall, respectively.

This study indicates that Khost province witnessed severe drought in 1997, 1999, 2000, 2001 and in 2003. The study shows that 2007, 2009, 2013, 2017, and 2018 are the years with rainfall ranging from 423.64 to 526.62 millimeters.

**Keywords**: Climate Change, Climate impacts, Khost Province, Precipitation, Precipitation Rate

# Importance of Strategic Communication in modern era

Senior Teaching Assistant, Farooq Jan Mangal, School of Communication and Public Relations, Public Relations Department
Email: f.jmangal@gmail.com

**Abstract**

Strategic communications have emerged as a critical framework and channel in the 21st century, enabling countries, political entities, politicians, organizations, and public relations professionals to effectively achieve their strategic objectives. This approach serves as a comprehensive methodology for promoting brands, whether for individuals or organizations, while simultaneously fostering and maintaining meaningful relationships. Strategic communications play a pivotal role across various domains, including management, marketing, public relations, political communications, and information campaigns.

In the Pashto language, limited resources and literature exist on the concept and nature of strategic communications, leaving a significant gap in understanding. To address this shortfall, extensive research was conducted, encompassing the review of numerous works and documents through a thorough library-based study. The result is a content-rich article designed to meet the needs of readers seeking deeper insights into this field. The findings provide valuable and contemporary knowledge tailored to the needs of public relations specialists, strategic communications practitioners, and general audiences alike.

This article aspires to inspire further research, writing, and innovation in the field of strategic communications. It not only contributes theoretical insights but also offers practical guidance that can be applied effectively in real-world scenarios. By bridging the knowledge gap, this work aims to advance understanding and encourage further scholarly and professional efforts in this vital area.

**Keywords:** Communication, modern era, public relations, strategic Communication, strategy

# Mental Imagery in the Poetry of Kazim Khan Shaida

Senior Teaching Assistant Said Marjan Sarwari, Shaikh Zayed University, Faculty of Languages and Literature, Department of Pashto.
Email: saidmarjansarwari@gmail.com

**Abstract**

This research begins with a brief discussion on imagery, emphasizing the value and significance of imagery in poetry or literary prose. It provides a concise yet informative explanation of the concept of imagery in poetry, making it clear for the reader. The distinction between imagery and pictures has also been highlighted, ensuring that the reader understands the differences between the two. There are various types of imagery in poetry, but this paper focuses specifically on mental imagery, particularly in some examples from the poetry of Kazim Khan Shaida. In poetry, images convey a thought, a goal, or an aspiration through emotional language, which is why imagery is considered a fundamental principle in the work of poets. According to literary critics, one of the benefits of imagery in literature and art is that it delivers the message to the reader or listener in an enjoyable way. Imagery plays a crucial role in beautifying a speech or text. To uncover the meaning in the poetry of Kazim Khan Shaida requires considerable thought, as he, through the power of imagination, has given imagery to every topic within poetic compositions.

**Keywords**: Words, Poetry, Imagery, Imagination, Mental, Visual.

# Artistic Compositions in the Poems of Parto Nadri

Senior Teaching Assistant: Mir Subhan Mujadadi, Department of Dari, Faculty of Languages and Literature
**Email:** mujadadi22@gmail.com

## Abstract

Composition is one of the most important areas in which poets have ventured to innovate language and create artistic expressions. This article aims to examine the process of composition and artistic combinations in the poetry of Parto Naderi, analyzing the types of combinations and their artistic construction. By establishing connections between words and meanings that are seemingly distant, Naderi has created artistic ambiguity and introduced fresh, profound, and striking meanings. The novelty in the axis of combination through innovative structures, along with grammatical elements in compositions and their usage, has made her poetic language distinctive. The artistic combinations in her poetry possess aesthetic values, contributing to linguistic development and semantic deviation. Consequently, this has led to the creation of original and fresh combinations that embed new meanings into the words involved in the compositions.

**Keywords:** Artistic combinations, aesthetics, Parto Naderi's poetry, imagery, literary devices.

# Historical Geography of Topdara Stupa in Parwan Province

Mullajan Rahmani, Senior Teaching Assistant of Geography Department, Social Science Faculty, Parwan university.
Email address and contact number: 0764064032/0784050808/0744401060
mullajan.rahmani@gmail.com

## Abstract
Stopah Topdara is one of the historical and ancient areas of Parwan province that has not existed in the country, which has a brilliant historical past, whose historical stature dates back more than 1800 years to the rule of the Kushan Empire, especially the Great Kaneshka, which was the center of worship and belief in Kaneshaka where the remains of Buddha's body were found According to the Kushani Buddhist beliefs, here is the largest monastery and erection which means "stack" in Sanskrit Stope, which is both a high and high area and close to the Kushan Summer Center. Various investigations have been carried out on this historical and ancient area and valuable historical monuments and precious statues have been obtained. In 2022 he was awarded the UNESCO Award of Merit. The purpose of this study is to investigate the historical geography of Topedara of Parwan province, which is one of the important ancient and historical areas of the country. The importance of research is that it is understood by such researches to introduce the historical geography and ancient areas of the country and the next generation will gain more and better familiarity with this geography. The research method is library and internet form and the result of the research is information and knowledge about historical geography and situation of Topdara Parvan.

**Keywords**: Survey, Geographical Historical, Stupa, Topdareh and Parwan.

# Kazim Khan Shaida's wandering life and its influence on style

Senior Teaching Assistant Faridullah Farid, Sheikh Zayed University, Faculty of Languages and Literature, Pashto Department
**Email**: faridullahfarid123@gmail.com

**Abstract**
Kazim Khan Shaida's personal life and lineage are controversial ،but most Pashtun writers and literary scholars believe that Kazim Khan Shaida is the son of Afzal Khan Khattak ،the grandson of Ashraf Khan Hijri and the grandson of Khushal Khan Khattak. Its life span is estimated to be between 1135 BC and 1194 BC. The poet has spent a lot of time in India ،which is why he is known as the Hindu poet. I don't think anyone has ever thought about the way they lived their lives and how they lived their lives ،but I didn't think they would be able to do that. Poetry and poetry can be found in the context of poetry and poetry.
My writing method is descriptive and descriptive. I have written excerpts from books and articles written in this section and then I have explained each part in appropriate and appropriate words so that it can be easily understood by everyone.
Many readers don't know why there is so much pain and suffering in Kazim Khan's poetry ،but it is clear from this study that Shaida had traveled to India from her old age and the region where she lived a life full of sorrow and sorrow.
His life has had a profound impact on his life ،style and style. He has spent most of his life traveling ،traveling and traveling. This turbulent and unstable life had a profound impact on Shaida's poetry and literary style. In this article, Shaida's thoughts and poems stem from her turbulent life. This article also shows that Shaida uses the artistic principles of classical Pashto poetry in her own unique literary style ،but she still gives a special color and originality to her poems due to the difficulties and restlessness of her life. It is important to note that Kazim Khan's life not only influenced his poetry and style ،but also provided him with an example of deep mysticism and inner feelings.
**Keywords:** Kazim Khan Shaida, wandering, Poetry, Style, Influence.

# The Role of Folk Poetry in Shaping Social Thoughts.

Senior Teaching assistant Mushfiqe Osuli, sheikh Zayed University, faculty of language and literature, Pashto Department.
Email: Mushfiqeosuli@gmail.com

**Abstract**

This research shoes the role of folk poetry in shaping social thoughts and attitudes. It reveals how and why our local people are influenced by folk poetry, how they act upon its teachings and advice, and incorporate them into their lives. In this study, some poets from Khost province are highlighted, whose verses are commonly recited by the people and are used in large gatherings and celebrations as a source of wisdom and moral lessons. This is a field study involving interviews about the influence of folk poetry, gathering insights on how it affects people and to what extent they are impacted by it. This research is qualitative, using sampling methods to collect data.

**Key words:** Folk Poetry, Folk Poets, Impact of Poetry, Public Mindset, , Social Thoughts

# The factors influencing the validity and reliability of the exam

Senior Teaching Assistant Sayed Shah Gul Weyar, Sheikh Zayed University, Faculty of Education, Department of General Education.
**Email add**: weyar.khostay@gmail.com

## Abstract
Reliability is an important measure of the quality and effectiveness of an exam, which has three aspects: content validity, validity of a standard, and construct validity. Content validity refers to the creation of questions from all areas. Validity of a standard compares the exam scores with other reliable criteria. Concurrent validity of a standard refers to the alignment with existing criteria, while predictive criterion validity shows the correlation of the exam scores with future performance. Construct validity measures theoretical concepts and structures. Reliability indicates the consistency of exam results and has three types: internal consistency, temporal consistency, and split-half reliability. Internal consistency points to the coordination among different sections, temporal consistency evaluates the consistency of results over different time periods, and split-half reliability compares the scores of various sections of the exam. The relationship between validity and reliability is that validity can only be achieved when reliability is present. The ratio of content, the level of question structure, the agreement among evaluators, the clarity of exam objectives, the testing conditions and environment, the sample size, and the conditions of repetition are factors that influence the validity and reliability of the exam. The article prepared on the issues related to the validity and reliability of the exam aims to identify these matters, and its information has been gathered using library methods.

**Key words**: Content, Reliability, Standard, Test, Validity.

# Study of types of violence and their causes in Khost central primary schools

Senior Teaching Assistant Dr. Ehsanullah Ehsan, Sheikh Zayed University, Faculty of Education.
**Email**: ehsan.af.1988@gmail.com
Senior Teaching Assistant. Syed Shah Gul Wayar, Sheikh Zayed University, Faculty of Education.
**Email**: weyar.khostay@gmail.com

**Abstract**:
Violence is an act that is intended to harm oneself or another person. Accordingly, the purpose of this study is to investigate the causes of the types of violence in Khost central primary schools, whether there is violence in schools? In how many ways does it occur? And what are the causes? This is a field study, which has been conducted in a mixed method with (quantitative and qualitative) dimensions. To test the hypotheses, 305 students (186 males and (119) females) were randomly selected using Morgan's table. Thus, first, using observation, interview, and questionnaire methods, relevant information was collected, which investigated the relationship between teachers and students, the relationship between students, the classroom environment during lessons, the interaction between teachers and school leadership with students, and especially the causes that cause violence and have a negative impact on students and the learning process. After analysis and analysis, the results showed that there are various forms of violence in schools and some necessary information was obtained that helps to strengthen a desired learning process. The results of this study can greatly help education and training staff in identifying problems.

**Key words**: Violence, Education, Teachers, Students

# Marks of the wrath of Allah, wrath and the ways to get rid

Senior Teaching Assistant: Naqibullah Mushfiq, Department of Fiqa and Law, Faculty of Sharia, Shaikh Zayed University.
**E-mail**: Mushfiqkhosti@gmail.com

**Abstract:**

Allah has bestowed innumerable blessings on human beings, but if one disobeys God's commands; Therefore, I am deprived of the blessings of Allah and the wrath of God is coming, so I consider it necessary to explain to my Muslim brothers the signs of divine wrath and the way out of it. To refrain from causing divine wrath.

Wrath is one of the praise of Allah and it has been verified in such a way that is appropriate with his dignity. There are many signs of God's wrath such as: committing sins, being bad in people eyes. , involved in diversity and not repenting. Considering friendship bad with believers, and living far from the Sharia. Considering the Almighty Allah alone, obedience to the Prophet (PBUH), doing the rights and preventing the wrong, prayer, letting anger, thanks, almas and piety are the ways to get rid from the wrath of Allah. This research is a library, so I have used Holy Quran, hadith and fiqa in gathering information and I have used Kabuli Tafsir. To get rid from the wrath of Allah is necessary to consider the Almighty Allah alone, obedience to the Prophet (PBUH) and to and piety.

**Key words**: wrath, marks of wrath, the ways to get rid from the Allah wrath, obedience, Considering alone.

# The Use of Symbols by Several Poets in The Second Era of Pashto Literature

Assistant Professor Dr. Subhanullah Shahab, Shaikh Zayed University, Faculty of Languages and Literature, Pashto Department
Email: subhanullah.shahab1364@gmail.com

**Abstract**

A **sy**mbol is a mark or sign that represents something else, conveying the meaning of another object, concept, or phenomenon beyond itself. In language, literature, and especially poetry, it is a word that, instead of conveying its original and literal meaning, adopts another meaning. For example, the white dove symbolizes peace. The sun symbolizes clarity on a subject, while the lion represents bravery and strength. The purpose of these explanations is to clarify that a symbol is a sign that represents a conceptual idea in poetry. When we encounter it within a word, we interpret it based on the meanings that the word or concept has been designated to symbolize. In this way, we see that the symbol completes poetic imagery, which is why poets use symbols. For this reason, poets have utilized symbols, as observed in the poetry of several poets from the second era. They incorporated symbols into their poems. The purpose of this article is to identify the use of symbols in the second era of Pashto literature. This research employs a descriptive method and is bibliographic in nature. Upon completing this study, it was concluded that symbols were indeed utilized by poets in the second era of Pashto literature within their poetry.

**Key words**: Literature, Symbol, Poet, poem, Second Era

# History of Afghanistan in the Mughals (Mongolian) era of India, Critic and Investigation of the book

Associate Professor: Zarwali Sediqi, Shaikh Zayed University, Faculty of Social Sciences, Department of History and Geography.
**Email**: zarwalisedeqi@gmail.com

## Abstract

Critiquing scientific works is one of the scientific topics that are seen to be extremely vital and important since it is essential to distinguish between the thinking and abilities of a few people and that of one person. The purpose of correction appears, and according to it, the writing of an author and its related merits and demerits are revealed. A crucial aspect in this context is that criticism should not be interpreted solely negatively, as is customary in our culture; rather, it can have multiple meanings and is methodically crafted by researchers to enhance and improve an article's effectiveness. Unfortunately, our society, writers, and researchers are still unaware of the benefits of this scientific beauty, and when someone looks at someone's writing from a critical point of view, they do not consider the other side to be good, that if we know the benefits and profit of criticism, then each writer will submit his writing and scientific work to the critic and will be grateful to the critic, a distinguished and well-known historian, researcher, writer, poet, and outstanding teacher, the late Habibi writing (History of Afghanistan in the era of Mughals of India), has taken the book under criticism and in this, the process will become a good example for respected young writers.

**Key Words**: Afghanistan, Habibi, India, Mughals (Mongolian), Timur.

# Effective Factors in Determining Criminal Responsibility

Associate Professor Abdurahman Rahimi, Lecturer of Law Department, Faculty of Law and Political Science
**Email**: Abdurahmanrahimi97@gmail.com

**Abstract**
The existence or non-existence of criminal responsibility, the severity and mitigating factors of a crime, and the determination of criminal responsibility is governed by the Islamic Sharia and criminal code. All cases and standards are governed by law. The committing a crime under certain circumstances, such as aggravating conditions or the plurality of crimes, can lead to a high level of criminal responsibility. On the other hand, committing a crime under circumstances like legal excuses and judicially extenuating conditions can result in a lower level of criminal responsibility. Both of these factors are stipulated in the laws to ensure justice, fair punishment, combat criminality, rehabilitate criminals, and safeguard social interests.

**Key words**: criminal responsibility, plurality of crimes, recidivism, legal excuses, judicially extenuating conditions, aggravating conditions, mitigating circumstances

# Courtesies, principles and Impact of Press Conferences in Public Relations

Associate professor Mohammad khan niazi lecturer of Communication and Journalism Faculty, Department of Public Relations.
**Email:** address:belalahmad2020@gmail.com

## Abstract

A press conference is composed of various forms of media and holds supreme significance in the field of news and information. It is conducted by the responsible officials of innovative service and production organizations or creative individuals. A press conference not only saves time but also carries distinct journalistic value, principles, and courtesies. Different organizations and politicians hold press conferences to communicate their political stances and events to the public. These events are organized with the presence of professional political figures, experienced journalists, and foreign ambassadors. Through this platform, they convey their positions, innovations, and demands to the public and the International Community via various forms of media. The purpose of this article is to emphasize the importance of administrative officials utilizing press conferences to publicize their activities. Officials often undertake significant tasks and introduce innovations; however, due to a lack of attention, their efforts do not reach the public. It is essential that national initiatives, which have a profound impact on society, are effectively communicated to the people. This ensures that the public becomes aware of and gains confidence in the actions and achievements of these institutions. My question raises a critical issue: why do important actions undertaken by organizations often remain unknown to the public and, at times, even to internal stakeholders? Is the problem a lack of communication skills, or is it simply a failure to understand the process?
Methodology: The method of this article is based on a bibliographic approach or secondary data approach, as I have utilized the works of various professional scholars. Findings suggest that if organizations hold press conferences about significant matters, any doubts or misunderstandings among internal and external audiences can be eliminated. Research findings show that organizations and professionals who are skilled and innovative in their work, management, and leadership tend to utilize press conferences at the right time to inform others of their activities. On the other hand, those who lack planning and strategy neither understand their own responsibilities fully nor effectively communicate

their impact to others. Conclusion: If officials, leaders, and administrative managers establish strong relationships with the media, utilize media platforms for their activities, and organize their communication efforts effectively, they can successfully convey their intended messages to society. This practice not only builds trust but also ensures that the organization's contributions and achievements are recognized and appreciated by all stakeholders. Conclusion: If organizational officials master the structure and organization of press conferences and possess eloquence and clarity in their speech, they can effectively inform and influence people about their innovations and actions. When the public is made aware of their achievements, they become inspired and positively impacted.

**Key Words**
Courtesies, Value, Impact, Structure, Conclusion, Innovation, Press Conference.

# The Reasons for the Progress and Backwardness of a Language

Associate Professor Mia Wali Shah Miakhel, Shaikh Zayed University, Faculty of Languages and Literature, Pashto Department
**Email**: miawalishah@gmail.com.

**Abstract**

Language, throughout history, has facilitated the transfer of scientific advancements and achievements from one society to another and serves as a foundation for the scientific progress of future generations The people who live on the surface of the Earth speak various languages. In today's world, there are around 7,000 languages, of which only a handful have developed significantly due to certain factors. By reading this article, we can now understand the reasons behind the progress and backwardness of a language. This research is library based, and the materials and tools used include credible, reliable, and newly published books and electronic sources. If the speakers of a language excel in certain areas, such as: The integration of the language with technology, Innovations in sciences by its speaker, A strong economy, Advanced technology, Adherence to religious and cultural principles, Public support, Political influence, Communication, Literature, Trade, then this can contribute to the progress of the language The article under the title Reasons for language development and backwardness discusses the recognition of the value of language, as well as the reasons for language development and backwardness under a number of headings, such as: (Language relationship with technology, new discoveries in the linguistic sciences, strong economy, advanced technology, having religious and cultural laws, public support, politics, communication, texts, business...). Additionally, the article examines all the factors that have contributed to the development of language and the reasons why a language may not progress.

**Keywords:** Relationship, language, language development, backwardness, causes

# Compensation and Restoration of dignity

Associate professors Amanullah Zadran Law and political science Faculty،Department of political science at Sheikh Zayed University
**Email**: amanullah.zadran@gmail.com

**Abstract**
If the dignity honor and status of a person are harmed the affected person can request the restoration of status from the judicial bodies in order to restore his dignity and status. This is commonly known as restoration of status. From the point of view of the laws of Afghanistan the term compensation is used especially moral compensation and when a person commits a crime, he is deprived of some rights and loses the ability to execute some cases; Therefore, in addition to serving the punishment for the crime committed, the period stipulated in the laws will also be completed, which is called the restoration of criminal status.
In order to better research this topic, I have also researched compensation, its types, methods of compensation, and then in the research of status restoration, the types of status restoration and I have come to this conclusion, when a person is spiritual harmed by another person. This is also known as restoration of status (spiritual compensation) and when a person commits a crime and injures his status by himself, in addition to serving the punishment, the period prescribed by the law is completed, a person can, In order to carry out the affairs, he has lost any capacity or he has been deprived of the benefit of some rights, to get them back, which is called restoration of status according to our laws.

**Key words**: compensation for damages, Restoration of status, Legal restoration of status, judicial restoration of status

# Principlels Governing Residence

Associate Professors: Mohammad Shafiq Mandozai Administration and Diplomacy
Department Faculty of Law and Political Science Sheikh Zayed University
**Email**: shafiqmandozy@gmail.com

## Abstract

Residence is one of the most important topics of discussion in international private law. In international private law, many issues and topics, especially personal situations, are resolved on the basis of residence. Intention and intention are related, because a person who is in that place and intends to live in that place forever; therefore, this place is known as a person's residence, and this idea has become acceptable by different countries and is not used in practice. In addition, the person's relationship with his/her country is considered regardless of the place of residence. And on this occasion, the residence is associated with a certain place with the permission of the government, in which case an indirect relationship with the government is apparent. In this research paper, we will study the governing principles of residence.

The purpose of this research is to know the place of residence and the principles governing it, and the readers will understand that the relationship of real and sovereign persons with a state and territories is very important. And it enjoys the protection of that place and the applicable laws of its territory are applied to it, as it is clear that the states, based on their special principles and standards, which include their national interests, allow real and sovereign persons to reside. gives place

This is a bibliographic research article and the sources are used in it, which are considered reliable at the international and domestic level. And another is that my writing is in Pashto language; Therefore, all literature of Pashto language has been taken into consideration and in this writing, simple language has been used.

**Key Words**: Domicile, principles, hardships, Guardian, Executor

# Shaikh Zayed

**Quarterly Academic and Research Journal 2024, No: 36**

## Editorial Board

- **Assot. Prof. Mohammad Shafiq Mandozai/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Abdulkhlil Afghani / Faculty of Agriculture**
- **Assot. Prof. Zarwali Sadiqi / Faculty of Social Science**
- **Assot. Prof. Mohammadullah Mondozay/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Salih Khan Salih/ Faculty of Computer Science**
- **Assot. Prof. Abdul Tawab Azizi/ Faculty of Education**
- **Assot. Prof. Amanullah Zadran/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Shafigul Shafiqi/ Faculty of Agriculture**
- **Assis. Prof. Dr Subhanullah Shahab / Faculty of Languages and Literature**
- **Assist. Prof. Said Kamal Shah Bannuri/ Faculty of Sharia**
- **Assist. Prof. Ghazi jan Mohammadi/ Faculty of Education**
- **Assist. Prof. Naqibullah Atish/ Faculty of Journalism**
- **S. T. A. Gawhar Shah Gawhari/ Faculty of Computer Science**